# سیګار

د افغانستان د بیا رغونې لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

30 جنوري
2015

## د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنۍ رپوټ



## د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د 2008 (.P.L) مالي کال د ملي دفاع واکمنۍ (P.L. 110-181) لایحې لخوا تاسیس شو.

د سیګار د څار ماموریت، لکه څنګه چې په قانون کې تعریف شوی دی د افغانستان بیارغونې لپاره مختص شوي

- یا په بله چمتو کړی شوي مقدارونو سره د تمویل شوي پروګرامونو او عملیاتو پورې اړوند خپلواک تحقیقات او د پلټنو پرمخ وړل دی.
- د دا ډول پروګرامونو او عملیاتو مشري او همغږي، او وړاندیزونه، د اقتصادي ودې، کفایت او مؤثریت ته د دا ډول پروګرامونو او عملیاتو ادارو کې رامنځته کول او د درغلۍ، ضیاع او اختلاس کشف او مخنیوی کول.
- د دا ډول پروګرامونو او عملیاتو اداره کولو پورې اړوند ستونزو او ضعفونو څخه د دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو بشپړ او په وخت سره خبرول او د عملیاتو اهمیت او سمون کړنو پرمختګ یې.

د افغانستان بیارغونه کې شامل هرډول لوی قرارداد، مرسته، تړون یا نور د تمویل میکانیزمونه چې د متحده ایالاتو کوم وزارت یا ادارې لخوا وي چې د افغانستان بیارغونې لپاره مختص شوي یا چمتو کړی شوي مقدارونه پکې دخیل وي.

سرچینه: P.L. 110-181، "د مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنۍ لایحه،" 1/28/2008.

(د دې راپور د کانګریس منل شوي منځپانګو لیست لپاره، برخه 3 وګورئ.)

**د پوښ عکس:**

د متحده ایالاتو مرین (بحري ځواکونه) او د مرین ایکسپیډیاشنري لیوا بیړۍ وان په باستیون کیمپ کې یوې ټرانسپورتي الوتکې ته په 2014 د اکتوبر په 26 د افغانستان په هلمند ولایت کې د دوی د ماموریت بشپړولو وروسته خیژي. لدغې مودې راهیسې افغان ملي اردو د مرین باستیون او لیترنیک کمپونو واک په غاړه اخیستی. (د اردو بریدمل جان جیکسن لخوا د متحده ایالاتو مرین سرتیرو عکس)



جوزجان
بلخ
کندوز
تخار
بدخشان
فارياب
سمنګان
بغلان
سر پل
بادغيس
پنجشير
نورستان
پروان
کاپيسا
کنړ
باميان
کابل
لغمان
هرات
وردګ
ننګرهار
غور
لوګر
دايکندي
پکتيا
غزني
خوست
ارزګان
فراه
پکتيکا
زابل
نيمروز
هلمند
کندهار
د سيګار اوسني دفترونه
هغه ولايتونه چېرته چې سيګار د آډيټ، تفتيش، او
څېړني کار ترسره کړی دی

**د افغانستان بیا رغونې ځانګړی عمومي مفتش** لپاره

زه خوښ یم چې کانګریس، د بهرنیو چارو او دفاع وزیرانو ته په افغانستان کې د متحده ایالاتو بیارغونې هڅې دریځونو باندې د سیګار 26ام درې میاشتنی راپور وړاندې کوم.

ناټو په افغانستان کې د خپل 13 کلن محاربوي ماموریت پای ته رسیدو سره سم پدې ربع کې خپل بیرغ رسما راکوز کړ او نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک (ISAF) د قاطع یا هوډمن ملاتړ ماموریت ته خپل ځای پریښود. دا د ناټو خورا کوچنی ماموریت دی چې افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) ته به روزنه، مشوره او مرسته برابروي. د دسمبر په میاشت کې په لندن کانفرانس کې متحده ایالاتو او نورو ډونر ملتونو پدې تاکید وکړ چې که څه هم محاربه پای ته رسیدلې، خو بیا رغونه به د "بدلون لسیزه" (2015–2024) کې دوام ولري. هغوی خپله ژمنه تازه کړه چې د 2015 په اوږدو کې به لږترلږه 16 ملیارد ډالر چمتو کوي او تر 2017 پورې به د تیرې لسیزې تر کچې ملاتړ ساتي.

د تیر په څیر، دې کال کې به هم د متحده ایالاتو د ملاتړ لویه برخه د ANSF جوړونې او ساتلو لپاره مصرف شي. په تیرو شپږو کلونو کې، سیګار د افغان اردو او پولیسو پر اغیزمنتیا هرو درې میاشتو کې د راپور ورکولو په واسطه کانګریس او خلک په ANSF د متحده ایالاتو 65 ملیارد ډالرو پانګونې په اړه خبر کړي.

په تیرې ربع کې، آیساف د یوه راپور اجرایوي لنډیز محرم کړ چې سیګار د ANSF د ظرفیت په اړه د معلوماتو لومړنۍ سرچینې په توګه کارولی و. پدې ربع کې د هوډمن ملاتړ نوی ماموریت پرمخ ولاړ، هغه معلومات یې محرم کړل چې تراوسه پورې سیګار د عامه راپورونو لپاره کارول، په دې کې د نورو شیانو تر منځ د ANSF شمیر، کمزورتیا، تجهیزات، د پرسونل پیاوړتیا، زیربنا او روزنه په بیله بیا د افغان هوای ځواک او ځانګړي ماموریت وزر وړتیاوې او د فاع (MOD) او کورنیو چارو (MOI) وزارتونو کې د فساد ضد نوښتونه شامل دي. (د هغه څه په اړه چې محرم شوي، خورا توضیحي شرح یې د دې راپور دریمې برخې د امنیت څپرکي کې موندلی شئ.) د دې راپور نوې هـ ضمیمه کې سیګار د هوډمن ملاتړ ماموریت ته د پوښتنو یو لیست خپور کړی، مګر ځوابونه به یې نور په کوم عام راپور کې څرګند نه کړی شي. لکه څنګه چې سیګار ته د قانون له مخې واک ورکړل شوی لدې وروسته به سیګار دغه پوښتنو ته د ځوابونو محرمه ارزونه کانګریس، دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو ته په یوې محرمه ضمیمه کې وړاندې کړي. په ی (ایف) ضمیمه کې سیګار هغه یادونه وړاندې کړې چې د هوډمن ملاتړ قوماندان جنرال جان ایف کمپبیل د دې موادو د محرم کولو پریکړې د بیانولو لپاره لیکلې.

د ډیرې مودې ځنډ وروسته، د افغانستان ملي یووالي دولت پدې ربع کې نوې کابینه اعلان کړه. د کابینې نوماندان چې د پارلمان تصویب ته اړتیا لري د ډیری ننګونو سره مخ دي. نوي دولت او نورو شریکانو سره د بیارغونې د اهدافو ترلاسه کولو کې مرستې لپاره، سیګار په دسمبر کې د لوړ خطر یو لیست خپور کړچې د برنامې سیمو او د متحده ایالاتو تمویل شوي بیارغونې هڅې عناصرو ته پام واړوي کوم چې د پام وړ ضیاع، درغلۍ او ناوړه ګټه پورته کوونې له پلوه په ځانګړي توګه زیان لیدونکي دي.

سیګار پدې ربع کې د هغه د نوي درسونو زده کړې پروګرام (LLP) رامنځته کول هم اعلان کړل. LLP به له 2001 راهیسې تر نن پورې په افغانستان کې د بیارغونې 107.5 ملیارد ډالرو پراخه څیړنې په لاره واچوي ترڅو د سیستماتیک مسلو په نښه کولو کې د مرستې لپاره غوره فعالیتونه او درسونه وپیژني. د دې درې میاشتني راپور په لومړۍ برخه کې افغانستان ته د مرستې همغږي کولو ستونزو باندې یوه مقاله ځینې مسایل رابرسیره کوي چې LLP به یې د خپل لومړي محصول په توګه په پراخه کچه په ګوته کړي، او تمه کیږي چې د 2015 نیمایی کې یې خپور کړي.

د سیګار پلټونکو یوه استثنایی ګټوره ربع درلوده، چې د متحده ایالاتو حکومت لپاره یې له هرکله ډیر 53.7 ملیون ډالر بیرته ترلاسه او پردې برسیره نور 12 ملیون ډالر د متحده ایالاتو بیارغونې پیسو کې وسپمول. د سیګار له روانو تحقیقونو څخه، جرمي جریمې، بیرته تادیات، ضبطونې، مدني جوړ جاړی، او د متحده ایالاتو حکومت ته د لګښتونو سپماوي څخه تر نن نیټې پورې له 570 ملیون ډالرو څخه ډیر مقدار سپمولی. د سیګار د تعلیق او مخنیوي برنامې پدې ربع کې په درغلۍ کې ښکیلتیا یا د بیارغونې قراردادونو پراساس فعالیت کې پاتې راتلو تورونو پراساس 12 افراد او پنځه شرکتونه د تعلیق او مخنیوي لپاره راجع کړي.

سیګار د بیارغونې هڅې د ارزولو 17 د فعالیت پلټنې، مالي پلټنې، د خبرتیا لیکونه او نور راپورونه هم خپاره کړي.

د فعالیت یوه پلټنه د متحده ایالاتو لپاره یوې کلیدي بهرنۍ پالیسۍ باندې راپور شوې: د افغان ښځو د دریځ لوړول. پلټنې موندلې چې که څه هم د امریکا دفاع وزارت (DOD) او بهرنیو چارو وزارت، او د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو ادارې (USAID) له 2011 تر 2013 مالي کلونو کې د افغان ښځو دریځ کې لاسته راوړنې او پرمختګونه راپور کړي، خو هیڅ ډول جامع ارزونې شتون نه درلود چې له مخې یې تایید شي چې دغه لاسته راوړنې د متحده ایالاتو ځانګړي هڅو مستقیم پایله وه.

د فعالیت دوهمې پلټنې موندلي چې د افغان ملي پولیسو (ANP) معاشاتو لپاره د متحده ایالاتو حکومت کلني تمویل کې له 300 ملیون ډالرو ډېر په برخه ای ډول تایید شوي یا منل شوي پرسونل او د معاشاتو حاضري د معلوماتو پراساس و. MOI کافي کنټرولونه نه لري چې ډاډ ورانديې کړي دا معلومات درست دي او دا چې د ANP پرسونل هغوی ته تاکل شوي معاشونه لاسته راوړي، دا د دې لامل کیږي چې د معاشاتو لپاره د متحده ایالاتو تمویل د ضیاع یا ناوړه ګټه پورته کوونې خطر لوړ کړي.

د فعالیت دریمې پلټنې په ګوته کړي چې د دفاع وزارت د سیګار له 209 وړاندیزونو څخه د 75% څخه ډېر په وخت سره، او په بریا سره پلي کړي، چې د متحده ایالاتو د بیارغونې بسپنو د ضیاع، درغلۍ او ناوړه ګټه اخیستنې خطر یې کم کړی.

د سیګار مالي پلټنو د راپور ورکولو دې دوره کې د داخلي کنټرول تشو او غیر اجابت مسلو له امله نږدې 23.6 ملیون ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه پیژندلي. تر نن نیټې پورې، د سیګار مالي پلټنو له 106.7 ملیون ډالرو ډېر تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه او 198,368 ډالر د فیدرال دمخه فنډونو نالیږل شوي ګټه کې پیژندلي، او ادارو د تر پوښتنې لاندې مقدارونو په برخه کې له 8.5 ملیون ډالرو څخه ډیرو پیسو د بیرته لاسته راوړو لپاره بیلونه تکثیر کړي.

پدې ربع کې زه باید یوځل بیا د متحده ایالاتو اردو د تعلیق او مخنیوي پروګرام پالیسیو په اړه خپلې اندیښنې بیان کړم. لکه څنګه چې ما زموږ تیرو اوه راپورونو کې په ګوته کړي، د دولتي قراردادونو لاسته راوړو څخه د ترهګرۍ ملاتړ کونکو د تعلیق یا مخنیوي لپاره د اردو ردول لدې کبله چې د دغه وړاندیزونو ملاتړي معلومات محرم دي، نه یوازې د قانون له پلوه غلط بلکه د سمې پالیسۍ او ملي امنیت ګټو سره په مخالفت کې دي.

په هرصورت، زه پدې حقیقت سره وهڅول شوم چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د اردو نوې رهبري د دې مسلې په اړه زموږ اندیښنې شریکوي. پدې ربع کې په افغانستان کې د سیګار لخوا د لنډیز په تعقیب، موږ پوهه ترلاسه کړه چې د تعلیق او مخنیوي لپاره د اردو نوي ګمارل شوی چارواکي د دې مسلې بیاکتل پیل کړي. زه امید لرم چې په پای کې به د اردو مخنیوي او تعلیق برنامې باندې صحیح قضاوت پلي شي ترڅو د دولتي قراردادونو ترلاسه کولو څخه د ترهګرۍ ملاتړو مخه ونیول شي.

د ائتلاف محاربوي سرتیرو او په عین وخت کې د متحده ایالاتو ملکي پرسونل د وتلو سره افغانستان یوه نوي دور ته ننوتلی. پدې شرایطو کې، د متحده ایالاتو تمویل شوې بیارغونه به له هرکله څخه لاډیر قوي څار ته اړتیا ولري، حتی که د دغه څار پرمخ وړل خورا ستونزمن او خطرناک هم شي. سیګار به د افغانستان بیاجوړولو دې تاریخي هڅه کې د متحده ایالاتو مالیه ورکونکو پانګوونې د خوندي کولو لپاره د متحده ایالاتو مصرفونو او عملیاتو څارلو ته دوام ورکړي.

په درناوې،

جان اف ساپکو
د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

**دا راپور له 1 اکتوبر څخه تر 31 دسمبر 2014 پورې موده کې د افغانستان بیارغنیزې هڅې درې لوی برخو کې پراختیا باندې د سیګار د څارنیز کار او تازه معلوماتو لنډیز دی. * پدې کې افغانستان ته د مرستو د همغږۍ کولو مبحث هم شامل دی. د راپور ورکوونې دې دورې په جریان کې، سیګار د افغان امنیتي ځواکونو جوړولو، حکومتدارۍ ودې، او د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا ګړندي کولو لپاره د متحده ایالاتو د هڅو ارزونکي 17 پلټنې، تفتیشونه، د خبرتیا لیکونه او نور راپورونه خپاره کړي. دغو راپورونو یو شمیر ستونزې، پشمول د حساب ورکولو، د پلان کولو او ساختماني چارو کمزورۍ، او د روغتیا او خوندیتوب پر وړاندې ګواښونه موندلي. سیګار د هغه د درسونو زده کړې نوي پروګرام رامنځته کول هم اعلان کړل او د لوړ خطر لومړی لیست یې خپور کړ. د سیګار د تحقیقاتو ریاست یوه استثنایي ربع ګټوره ربع درلوده، چې د جرمي جریمې، بیرته تادیات، ضبطونې، د قرارداد د پیسو محافظت او مدني جوړ جاړی څخه ټولټال تر 65.8 ملیون ډالرو پایلې درلودې. د سیګار تحقیقاتو د پنځه نیولو، شپږ تورونو، شپږ محکومیتونو، یوه مجازات او د متحده ایالاتو د اردو د یوه غړي منفک کیدو پایلې هم درلودې. په افغانستان کې، 10 افراد نظامي تاسیساتو ته د ننوتلو څخه منع کړی شوي ول. د سیګار د تعلیق او مخنیوي برنامې په درغلۍ کې ښکیلتیا یا د بیارغونې قراردادونو پراساس فعالیت کې د پاتې راتلو تورونو پراساس 12 افراد او پنځه شرکتونه د تعلیق او مخنیوي لپاره راجع کړي.**

# د سیګار عمومي کتنه

## پلټنې

سیګار یو د پلټنې خبرتیا لیک، درې د فعالیت پلټنې، شپږ مالي پلټنې، او دوه تفتیشونه تولید کړي.

د **خبرتیا مکتوب** پدې اړه و:

- د شبرغان – مزار طبیعي ګاز پایپ لاین په اړه اندیښنې چې یوه برخه یې د دفاع وزارت (DOD) د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) لخوا ترمیم شوې.

د **فعالیت پلټنو** موندلي:

- که څه هم د امریکا دفاع وزارت (DOD) او بهرنیو چارو وزارت، او د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو ادارې (USAID) له 2011 تر 2013 مالي کلونو کې د افغان ښځو دریځ کې لاسته راوړنې او پرمختګونه راپور کړي، خو هیڅ ډول جامع ارزونې شتون نه درلود چې له مخې یې تایید کړی شي چې دغه لاسته راوړنې د متحده ایالاتو ځانګړې هڅو مستقیم پایله وه.
- د افغان ملي پولیسو (ANP) معاشاتو لپاره د متحده ایالاتو حکومت کلنې تمویل کې له 300 ملیون ډالرو ډیر په برخه ای ډول تایید شوي یا منل شوي پرسونل او د معاشاتو حاضرۍ د معلوماتو پراساس و. MOI کافي کنټرولونه نه لرې چې ډاډ ورکړې کړي دا معلومات درست دي او دا چې د ANP پرسونل هغوی ته ټاکل شوي معاشونه لاسته راوړي، دا د دې لامل کیږي چې د معاشاتو لپاره د متحده ایالاتو تمویل د ضیاع یا ناوړه ګټه پورته کوونې خطر لوړ کړي.
- دفاع وزارت د سیګار له 209 وړاندیزونو څخه د 75% څخه ډیر په وخت سره، او په بریا سره پلي کړي، چې د افغانستان د بیارغونې بسپنو د ضیاع، درغلۍ او ناوړه ګټه اخیستنې خطر یې کم کړی.

**مالي پلټنو** د داخلي کنټرول تشو او غیر اجابت مسلو له امله نږدې 23.6 ملیون ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه پیژندلي. د نورو شیانو ترمنځ د تشو او غیر اجابت دې مسلو کې دا موارد شامل و: د قرارداد له مخې اړین لګښتونو او د قرارداد پروژې ساحو لپاره د GPS موقعیتونو چمتو کولو کې پاتې راتلل، د پیرودل شوي پانګو، پیښ شوي کرایی لګښتونو او د فعالیت دورې پای ته رسیدو وروسته رسید شوي لګښتونو محاسبه کولو او تعقیب کې پاتې راتلل، د تدارکاتو سیالیز طرزلعملونو په تعقیب کې پاتې راتلل، د شرکت پیرودل شوي وسایطو شخصي کاروونه، د متحده ایالاتو حکومت باندې غلطو مالیو رسیدونه، د پیسو د تبادلې په ناسم ډول محاسبه کول، غیرمجاز اضافه کاري ورکړه، د پرسونل ورک مهالویشونه، د غیرمصرفي تجهیزاتو ناسم دفع کول، د پیښ شوي لګښتونو د ملاتړ لپاره د اسنادو نه شتون، د فرعي قرارداد لپاره تصویب شوي مقدارونو څخه د فرعي قرارداد لوړ لګښتونه، او د نه منلو وړ ساتیرۍ مخارج.

د متحده ایالاتو تمویل شوي ودانیو **تفتیشي راپورونو** وموندل:

- د ANA کمانډو کیمپ کې، جنریټرونه ترتیب شوي نه و او کولی شو چې د پلان شوي محصول یوازې 25% بریښنا چمتو کړي؛ د سونګ توکو ځای کې د سونګ توکو پمپونه نه و کارول شوي؛ او د خواړو خونه د 280 افغان سرتیرو لپاره جوړه شوې وه خو 1,600 سرتیرو ترې ګټه پورته کوله.
- د متحده ایالاتو حکومت نږدې نیم میلیون ډالرو په ارزښت د وچ اور آسانتیا جوړه شوې وه خو د قراردادي ضعیف فعالیت او د دولت د نظارت نه شتون له امله د ساختماني چارو بشپړیدو څلور میاشتې وروسته له منځه ولاړ.

* د Per قانون، تر د خپرولو نیټې پورې سیګار ممکن د 31 دسمبر 2014 څخه وروسته پیښیدونکي محصولاتو او پیښو باندې هم راپور ورکړي.

## نوي پلټنې او تفتيشونه

پدې ربع کې سيګار، د فعاليت څلور نوې پلټنې پيل کړي ترڅو د ANA تخنيکي تجهيزاتو د ساتنې پروګرام (A-TEMP) لپاره د دفاع وزارت ملاتړ، په FY 2011 کې د افغانستان زيربنا فنډ (AIF) د بشپړيدونکي پروژو کې د دفاع وزارت او بهرنيو چارو وزارت لخوا رامنځته شوی پرمختګ، په خپلو ثبات برنامو کې د اداري پرمختګ ارزولو ته د ثبات نوښتونو د اغيزې ارزولو (MISTI) قرارداد د USAID استعمال، او په افغانستان کې کيفيت لرونکي ابتدايي او مينځنې تعليم ته د لاسرسي لپاره د متحده ایالاتو حکومت هڅې وارزوي. سيګار د شبرغان د ښوونکو روزنې وداني، د ګرديز روغتون، او د افغان هوای ځواک پوهنتون درې نوې تفتيشونه هم پيل کړي.

## ځانګړې پروژې

د راپور ورکووني دې دورې په جريان کې، د ځانګړې پروژو دفتر د لاندې مواردو په نښه کولو لپاره څلور د معلوماتو ليکونه تکثير کړي:

- د سيګار اصلي معلوماتو ليک ته د USAID ځواب، چې د سيګار ډيرى مالي پلټنو کې په نښه شوي تر پوښتنې لاندې لګښتونو بيرته لاسته راوړو په اړه دی
- د دفاع وزارت د سپک هوای ملاتړ (LAS) الوتکو برنامه
- د بهرنيو چارو وزارت د عامه ديپلوماسی د بلاعوضه مرستو برنامه
- د TFBSO د ستونزمن سوداګری فعاليتونه

## څېړنې

سيګار د مدني جوړجاړي تړون د تادياتو له لارې د متحده ایالاتو حکومت ته له هرکله ډير 53.7 مليون ډالر بيرته لاسته راوړي، او د خپل تحقيقاتي کار له لارې يې د حکومت نور 12 مليون ډالر سپمولي. جنايی تحقيقاتو د پنځه نيول کيدو، شپږ تورونو، شپږ محکوميتونو، يوه مجازاتو، د متحده ایالاتو د اردو يوه غړي منفک کيدو او په جريمو، جبران او بيرته تادياتو کې د 105,000 ډالرو پايلې درلودې. په افغانستان کې، 10 افراد د نظامي تاسيساتو ته ننوتلو څخه منع کړی شوي. سيګار 38 نوې تحقيقات پيل او 34 يې تړلې دي، چې پدې سره د روانو تحقيقونو شمير 328 ته رسيږي. د سيګار تعليق او مخنيوي برنامې 12 افراد او پنځه شرکتونه د تعليق يا مخنيوي لپاره راجع کړي.

**د تحقيقاتو په عمده ټکو کې دغه موارد شامل** دي:

- د درې مدني جوړجاړي تړون د تادياتو څخه د متحده ایالاتو حکومت ته ټولټال 53.7 مليون ډالرو بيرته لاسته راوړل
- دوه تحقيقاتو د متحده ایالاتو حکومت لپاره د 1.2 مليون ډالرو بيرته لاسته راوړو پايله درلوده
- پټ عمليات چې د متحده ایالاتو د حکومت ملکيت د 800,000 ډالرو غلا طرحې خنثی کولو کې مرسته وکړه
- د متحده ایالاتو په افغانستان کې د دندې پرمهال د الکولو د پلورلو او توزيع لپاره د اردو يو بريدمل و ايستل شو
- د متحده ایالاتو د اردو پخوانی مسلکي د تيلو غلا طرح کې په جرم اقرار وکړ
- د متحده ایالاتو اردو درې غړو د اختلاس طرح کې په جرم اقرار وکړ
- دوه سوداګر د بډو لپاره په انګلستان کې ونيول شول
- د متحده ایالاتو اردو يوه پخواني بريدمل د بډو طرح کې په جرم اقرار وکړ
- يو تحقيق د متحده ایالاتو حکومت لپاره د 10 مليون ډالرو لګښت د سپمولو پايله درلوده
- د بډو لپاره د متحده ایالاتو يوه قراردادي مجازات کول، د درغلی لپاره د بل يوه تورن کيدل، او د متحده ایالاتو د حکومت د ملکيت غلا کولو لپاره د دريم په جرم اقرار کول
- د متحده ایالاتو د اردو بريدمل انګلستان ته د نقدو پيسو قاچاق، غلط بياناتو، د حکومت ملکيت غلا کولو او اجناسو قاچاق کولو او تار درغلی لپاره ونيول شو او تورن وپيژندل شو
- يو قراردادي نظامي تاسيساتو ته له ننوتلو څخه منع کړی شو
- د 103,000 ډالرو په ارزښت د زره پيک اپ موټر بيرته لاسته راوړل

# منځپانګو لست

## برخه 1




**1 د مرستي همغږي کول: یو غولونکی هدف**

3 د مرستي همغږي کول: یو غولونکی هدف
5 نړیواله مرسته څنګه همغږي شوې؟
7 د همغږي نه شتون لګښت لري
8 نو ولې ډونران ډېره همغږي نه کوي؟
9 وجهی صندوقونه مرسته کوي، مګر ځار ته اړتیا لري
11 د متحده ایالاتو هڅو کولی شو همغږي ته وده ورکړي
12 د سیګار نوې پروژه به د همغږی بیاکتنه وکړي ترڅو درسونه او غوره تګلارې په ګوته کړي


## برخه 2




**15 د سیګار څارنیز فعالیتونه**

19 پلټنې
38 تفتیشات
43 ځانګړې پروژې
45 زده شوي درسونه
48 تحقیقات
54 د ربع مهمي برخي: د سیګار پټو عملیاتو مرسته وکړه چي د اور وژني موټر او د متحده ایالاتو د حکومت نور ملکیت د غلا کولو طرح خنثی کړي چي لګښت یې څه دبره 800,000 ډالر و
62 د سیګار نور څارنیز فعالیتونه
67 د سیګار بودیجه
67 د سیګار کارکونکي


## برخه 3




**69 د بیا رغوني نوي معلومات**

70 د بیا رغوني نوي معلومات
74 د افغانستان بیارغوني لپاره فنډ ورکول
77 د فنډونو وضعیت
91 امنیت
119 حکومتداري
147 اقتصادي او ټولنیزه پراختیا

# منځپانګو لست



## برخه 4


173 د نورو ادارو نظارت
176 د څار بشپړ شوي فعالیتونه
183 د څار روان فعالیتونه




## ضمیمې او پایلیکونه


194 ضمیمه الف: قانوني اړتیاو ته د راپور متقابل راجع کول
198 ضمیمه ب: د متحده ایالاتو فنډونه د افغانستاندبیارغوني لپاره
200 ضمیمه ج: د سیګار لیکل شوي محصولات
205 ضمیمه د: د سیګار تحقیقات او هاټلاین
211 ضمیمه هـ: د سیګار د معلوماتو غوښتني هغه پوښتني چي ځوابونه یې محرم و یا په بیله بیا عام وګړو سره شریکول یې منع دي
217 ضمیمه ی: د ANSF د معلوماتو د محرمیت په اړه د هوډمن ملاتړ قوماندان یادونه
219 ضمیمه ر: لنډیزونه
225 پایلیکونه

"له ډېرې مودې راهيسې څېړونکو او د مرستې نورو متخصصينو په ګوته کړې چې په بهرنۍ مرسته کې دخيل د متحده اياﻻتو دوه درجن يا دې ته ورته وزارتونو او ادارو ترمنځ د همغږۍ نه شتون د متحده اياﻻتو مرستې جوړښت کې د بې کفايتۍ او تناقص سرچينې سربيره د نورو ډونرانو سره د همغږۍ پروړاندې يو خنډ دی."

*ـ د کانګريس څېړنيز سازمان*

سرچينه: *بهرنۍ مرسته: د پراختيا مرستې د نړيوال ډونر همغږي*، 15 اپريل 2010.

# 1

# د مرستې همغږي کول:
# يو غولونکی هدف



# د مقالې منځپانګې


نړیواله مرسته څنګه همغږې شوې؟ 5

د همغږۍ نه شتون لګښت لري 7

نو ولې ډونران ډیره همغږي نه کوي؟ 8

وجهي صندوقونه مرسته کوي،
مګر څار ته اړتیا لري 9

د امریکې هڅو کولی شو همغږۍ ته وده ورکړي 11

د سیګار نوی پروژه به د
همغږۍ بیاکتنه وکړي ترڅو درسونه
او غوره تګلارې په ګوته کړي 12


**انځور په تیره پاڼه کې**
افغان ولسمشر اشرف غني د افغانستان او انګلستان په ګډ کوربه توب د دسمبر 2014 لندن کنفرانس ته وینا کوي، چیرې چې نړیوالو ډونرانو افغانستان ته د دوی د مرستو د دوام تکل له سره تایید کړ. (د انګلستان د بهرنۍ او کامنویلت دفتر عکس د پټریک سوی لخوا)

# د مرستې همغږي کول: یو غولونکی هدف


**کابل، افغانستان**، د کوڅې صحنه. (د کریستوفر کیلالیه لخوا د ویکي میډیا کامنز عکس)

د یوې لسیزې څخه ډېرې مودې د څو اړخیزه هڅو سربیره، افغانستان ته د مرستو اغیزمنه همغږي ترلاسه کول د متحده ایالاتو، نورو ډونرانو او افغان دولت لپاره د یوه غولونکي هدف په توګه په ځای پاتې دی.

د مرستې د لیږد دواړه اړخونو ته داو خورا لوړ دی. تجربه او څېړنه ښیي چې ښه همغږي شوي مرسته د لیږد لګښتونه راکموي او د امنیت، پراختیا، او بشردوستانه اوضاع لپاره د مرستې مؤثریت ډېروي. د مرستې مؤثریت ډېرول په افغانستان کې په ځانګړي توګه مهم دی، چیرې چې لا هم باید ډېر څه لاسته راوړل شي پداسې حال کې چې سرچینې په کمیدو دي.

نړیوال بانک تش لاسی، په پراخه کچه سواد نه لرونکی او جګړه ځپلی افغانستان د خپل لږ تر لږه 50% ناخالص ملي عاید لپاره په بهرنی مرسته تکیه کولو کې د "سخت پرت" په توګه توصیف کوي. [1] په دسمبر 2014 کې د لندن کنفرانس لپاره چمتو شوي یوه مقاله کې افغان دولت ویلي چې "افغانستان په اقتصاد او اصلاحاتو برخه کې د لیږد سره د تمه کیدونکي څخه لاډیر درانده اقتصادي بحران سره مخ دی. د خصوصي سیکتور ډاډ رکود کړی او مالي بحران په لاره کې دی." [2]

د افغان دولت مقالې واضح کړې چې "تمه کیدله د [بهرني] فعالیتونو سمدستي درولو تولنیزې او اقتصادي اغیزې به حاشیه یې وي، مګر اوس دا خبره روښانه ده چې دغه غلطه محاسبه وه او د [متحده ایالاتو په رهبری ائتلاف] وتلو اقتصادي اغیزې درلودې او دا به سختیدو ته دوام ورکړي، چې دا په افغان اقتصاد کې د پام وړ مالي تشه رامنځته کوي." [3]

د لندن کنفرانس څخه یوه اونۍ وروسته، د افغان خزانې مشر رویټرز نیوز ته وویل چې هیواد یې د ملکي کارمندانو، ښوونکو او نورو کارمندانو د معاشاتو ورکولو لپاره د نغدو پیسو نه درلودو سره مخ دی او پدې برخه کې له ډونرانو څخه سمدستي مرستې ته اړتیا لري. [4]

په ټوله کې، 2015 کال — د نوي افغان اداري او د هیواد د "بدلون لسیزې" لپاره بشپړ لومړی کال — د افغان دولت لپاره د یولړ بیرونکي موانع سره پیلیږي:

- مګر د متحده ایالاتو د تروریزم سره مبارزې کوچنې ځواک، د بهرني سرتیرو محاربوي ماموریتونو لپاره پای ته رسیدلی چې د امنیت مسؤلیت افغان ملي امنیتي ځواکونه (ANSF) په اوږدو پریږدي، پداسې حال کې چې د تاوتریخوالي پیښې او افغان مرګ ژوبله لوړه شوې.
- ډونران د مرستې پراخولو ته هیڅ لیوالتیا نه ښیي، او د ترهګرۍ سره مبارزې موده، افغان دولت ضعفونه، او د نړۍ په نورو سیمو کې تروریستي یا جیو سیاسي ګواښونه د افغانستان ستونزو سره مرستې ته دوام ورکولو لپاره "ډونران ستړي" کوي.

- د اصلاحاتو او عایداتو په حرکت کې راوړو هڅو سربیره، افغان دولت خبرداری ورکوي چې "تمه کېږي تر 2025 اوږدو پورې پراخه مالي تشه شتون ولري او افغانستان به د ډونر په لویه کچه بلاعوضه مرستو ته اړتیا ولري." [5]
- افغان اقتصاد ضعیفیږي، دولتي عواید د هدف پوره کولو ته کم دي، او د مالي تشې ډکولو لپاره بهرنی مرستې ته اړتیا د ودې په حال کې ده. مګر افغان مالیه وزارت راپور ورکړی چې تر دوبی 2014 پورې، د افغان مالي کال لومړیو 10 میاشتو لپاره بهرنی مرستې د تیر کال ورته دورې په پرتله 6.5% ټیټې وې. [6]

په 2002 کې د طالبانو څخه وروسته رامنځته شوي دولت راهیسې متحده ایالات افغانستان ته مرسته برابرونکو کې تر ټولو مخکښ ډونر و، مګر د اقتصادي همکارۍ او پراختیا سازمان (OECD)خورا اخرني لنډيز په وینا، نورو ډونرانو د 2011–2012 په جریان کې دی هیواد ته د پراختیا ټولټال رسمي مرستې له نیمایی ډیره برخه چمتو کړې،[7] چې پدې کې په افغانستان کې د دوی خپلو نظامي عملیاتو لګښتونه ندي محاسبه شوي. [8] د متحده ایالاتو نه علاوه په مخکښو ډونرانو کې د آسټرالیا، کاناډا، ډنمارک، فرانسې، آلمان، جاپان، ناروی او انګلستان حکومتونه او نړیوال نهادونه لکه د آسیا پراختیایی بانک شامل دي. غیر دولتي نهادونو یا موسسو (NGOs) لکه د آغا خان بنسټ، آکسفام، او بي پولو ډاکټرانو هم افغانستان ته د پام وړ مرسته چمتو کړې.

د 2002 (FY) مالي کال راهیسې کانګریس په مجموعي ډول 107.5 ملیارد ډالر د افغانستان بیارغوني لپاره مختص کړي چې ډیری برخه یې د ANSF جوړولو او ساتلو کې مصرف شوي او لږ خو د پام وړ مقدار یې بیارغوني او پراختیا ته ورکړل شوی. د توضیحاتو لپاره د دې راپور د فنډونو دریځ او ب ضمیمه وګورئ.

د 60 ملتونو په ګډون لندن کنفرانس کې متحده ایالاتو او نورو ډونرانو خپلې ژمنې بیا تایید کړې چې له مخې به یې د 2015 په اوږدو کې افغانستان ته نوره 16 ملیارد ډالرو مرسته چمتو کوي او مرستو ته به د "2017 په اوږدو کې داسې دوام ورکوي چې د تیرې لسیزې سره تناسب ولري." [9] که دولتي وي، څو اړخیزه یا NGO، ډونرانو ملیاردونه ډالر پانګونه کړې او افغانستان سره د مرستې ژمنه یې کړې. په خواشینی سره، ډیری مرسته د ډونرانو لخوا یو اړخیزه مشخص شوی او د لاسته راوړونکو، نورو ډونرانو یا حتی د یووستوي ډونرانو ادارو ترمنځ ناهمغږي شوي، پداسې حال کې چې د همغږۍ لوړولو لپاره ټاکل شوي څو اړخیزه نهادونه او وجهی صندوقونه د پیژندل شوي مرستو او په مدیریت او حساب ورکوونه کې د دوی خپل پاتې راتلو په واسطه نګښت شي.

د ډونرانو او افغانستان لپاره د هیواد اوسنی سفري وضعیت او نامطمیین راتلونکی مهال بحراني کوي چې وپوښتل شي د نړیوالي مرستې څرنګه همغږي کولی شي لګښتونه کم او مؤثریت لوړ کړي.

## نړیواله مرسته څنګه همغږې شوې؟

د پاریس په اقتصاد ښوونځي او بلجیم په نمور پوهنتون کې د پراختیا اقتصاد پوهان وایی "د مرستې همغږي یو خورا مطلوب هدف دی،" "ځکه چې دا د مرستې د محول کولو او نظارت (د لیږد لګښت اغیز) لګښتونه راکموي او د تش لاسی تر هدف لاندې نیولو ته وده ورکوي (د اداره کولو اغیز). ... په هرصورت، په عمل کې د مرستې خورا لږه دا ډول همغږي تر سترګو کیږي." [10]

د همغږۍ ستونزې — که د معلوماتو شریکول وي، په اهدافو موافقت، د لومړیتوبونو انتخاب، د کار تقسیمول، د نوښتونو پرله پسې کول، د پرمختګ په حال کې هیوادونو د نهادونو او سهم لرونکو سره کار کول یا د همکارۍ ژمنو نور اړخونه وي — د ځو ملیتي او ملیتي مسلو حدود د یوه یووستوي هیواد عملیاتو کې اداري او پروګراماتیک تشې پرمخ وړي. په افغانستان کې د همغږۍ ستونزې د نړیوالو اندیښنو پراخه ترتیب کې د ستونزو نه تمه کیدونکي عرصه کې یوه برخه ده.

د مرستې همغږي او مؤثریت یې د نړیوالې مرستندویه ټولنې اوږدمهاله اندیښنې دي، چې په ټرونونو لکه د مرستې همآهنګ کولو باندې د 2003 کال روم اعلامیه کې منعکس شوي. لدې سمدستي وروسته، د نړیوالې مرستې ډونرانو یوه کانفرانس پشمول د متحده ایالاتو په 2005 کې د مرستې مؤثریت باندې د پاریس اعلامیه تکثیر کړه. د پاریس اعلامیې د (1) غربت کمولو، نهادي پرمختګ او فساد ضد هڅو له لارې د لاسته راوړونکي هیواد "ملکیت" ته وده ورکولو او نظارت کولو؛ (2) د ځایی اهدافو سره د ډونر "په لیکه کیدو"؛ (3) د ډونر هیوادونو د همغږۍ، طرزالعمل اسانولو او معلوماتو شریکولو له لارې "همآهنګۍ"؛ (4) په پرمختیا کې د سنجش وړ لاسته راوړنو باندې د "پایلو" متمرکز کولو؛ او (5) د ډونرانو او ملګرو ترمنځ د پایلو لپاره "دوه اړخیزه حساب ورکوونې" په واسطه د مرستې د مؤثریت ډیرولو غوښتنه وکړه. [11] نورو کانفرانسونو دغه اهداف تکرار او بیا تایید کړي دي.

پایلې یې مخلوط دي. د کانګریس څیړنیز سازمان (CRS) یادونه کوي چې همغږي د ډونر د ټرونونو "لویه موضوع" ده او د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ یو په ګوته شوی هدف دی. "سره لدې هم" CRS راپور ورکوي چې "ډونرانو په اوسط ډول او متحده ایالاتو په ځانګړي توګه د دوی لپاره د همغږۍ ټاکل شوي اهدافو کې محدود لاسته راوړنې درلودې." [12] په ستونزو کې د امریکا بین الحکومتي تشې شامل دي: "له ډیرې مودې راهیسې څیړونکو او د مرستې نورو متخصصینو په ګوته کړي چې په بهرنۍ مرسته کې دخیل د متحده ایالاتو دوه درجن یا دې ته ورته وزارتونو او ادارو ترمنځ د همغږي نه شتون د نورو ډونرانو سره د همغږۍ پروړاندې یو خنډ دی، سربیره پردې چې د متحده ایالاتو مرستې جوړښت کې د بې کفایتۍ او تناقص سرچینه ده." [13] د اروپایي څیړونکو د ډلو لخوا لږترلږه درې احسایوي مطالعو همدا ډول موندلي چې د پاریس کنفرانس د ژمنو سربیره ډیری نړیواله مرسته خپره او بې همغږۍ پاتې ده. [14]

د خپورتیا او همغږۍ نه درلودو په اړه اندیښنه نوې نده. د متحده ایالاتو په رهبرۍ د طالبانو د رژیم راپرزیدو سمدستي وروسته په نومبر 2001 کې د نړیوال بانک یوې مقالې یادونه کړې چې که څه هم متحده ایالات او اروپایی اتحادیه افغانستان ته د څو اړخیزه مرستو ترټولو لوی ډونران و خو د مرستې ډیری برخه د NGOs په واسطه ورکول کیده. بانک د همغږۍ یوڅه پرمختګونه په ګوته کړي، مګر اضافه کړي یې دي چې "د مرستې ورکول په لویه کچه خپاره پاتې دي. د تکثیر، په تقابل اهدافو کار کولو، او د ډونر غوښتنو ته په ځواب کې د دواړه ملګرو ملتونو او NGOs په برخه کې د ,ګنې ګونې، قضیې شتون لري." [15]

"چیرې چې ممکن وي، خورا مهم دي چې په دې مواردو ګډ کار وشي: سرچینې ته نږدې څیړنې؛ ګډې ارزونې؛ شریکې ستراتیژیانې؛ او د سیاسي ښکیلتیا همغږي. عملي نوښتونه کولی شي د ګډ ډونر دفترونو بڼه غوره کړي، د ډونرانو ترمنځ د کار تقسیم، د لیږل شوې مرستې ترتیبات، د څو ډونر وجهی صندوق او عامه راپور ورکول او مالي اړتیاوې. هرکله چې ممکن وي، نړیوال لوبغاړي باید د ننګونو او لومړیتوبونو شریکو څیړنو ته وده ورکولو لپاره د /[لاسته راوړونکي هیواد] دولت کې ملي اصلاح غوښتونکو او مدني ټولنې سره په ګډه کار وکړي."

*— د اقتصادي مرستې او پراختیا لپاره سازمان، "په ضعیف دولتونو او اوضاع کې د غوره نړیوالې ښکیلتیا لپاره مقررات،" د پالیسي لنډیز، توک 8، 4/2007.*

# د مرستې همغږۍ کول

په ورته توګه، د هایډلبرګ پوهنتون د سویلي آسیا انستیتیوټ ډاکټر سیګفرید ولف د 2001 څخه وروسته مداخلو او په افغانستان کې راتلونکې سناریوګانو په یوه بیاکتنه کې یادونه کوې چې "د پراختیا ډیری پروژې د افغان چارواکو سره همغږي شوي نه وې. سربیره پردې، بهرني لوبغاړو (دولتي او غیر دولتي نهادونه) د حکومتي پروژو سره په موازي توګه د پریکړو کولو لپاره د دوی خپل جوړښتونه رامنځته او پروژې یې پلي کړې." لیکونکی جمع بندي کوي چې غیر همغږي افغان رژیم تر پوښتنې لاندې راوستلی او "د شډو حکومتدارۍ، فساد او د سیاسي نهادونو ضعیفولو کې یې لا نوره مرسته کړې." [16]

افغانستان ته د مرستو د همغږي کولو یوې لسیزې څو سربیره ستونزې په ځای پاتې دي. په څو کې د 2001 دمخه د ډونرانو د افغان ملاتړ ګروپ؛ په واشینګټن DC کې په لاره اچول شوي د 2001 نومبر کې د افغانستان بیارغونې ته مرستې باندې د مشر چارواکو غونډه؛ د مرستې د تشو د څیړلو لپاره د 2001 په وروستیو کې د ملګرو ملتونو (UN)، نړیوال بانک، او آسیا پراختیایي بانک غونډې؛ په توکیو کې په لاره اچول شوی په 2002 جنوري کې د افغانستان بیارغونې ته مرستې باندې نړیوال کنفرانس؛ او په 2002 کې د کابل حکومت د افغان مرستې همغږي چارواکي او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت (UNAMA) رامنځته کول شامل دي. [17] په تعقیب یې نورې غونډې او کانفرانسونه هم شوي چې خورا اخرنی یې د لندن ناسته وه.

په افغانستان کې د امریکا د څو ملیارد ډالرو پراختیایي مرسته چې په لویه کچه د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري لخوا پلي شوې، په همغږۍ کې پاتې راتلو ته د پام اړولو لپاره ادامه ورکړه حتی د متحده ایالاتو د نهادونو ترمنځ. د CRS د 2009 یو راپور وایي، "د پراخه اندازې بهرني مرستندویه فعالیتونو د همغږي کولو یا ارزولو لپاره هیڅ میکانیزم ندی کارول شوی." [18] په 2012، د حکومت د حساب ورکولو دفتر (GAO) د افغانستان شپږ ولسوالیو کې د متحده ایالاتو پراختیایي فعالیتونه وڅیړل او 28 احتمالي تکثیرونه یې پکې وموندل – "احتمالي" د دې لپاره چې د ډیټا تشو او محدودیتونو شتون درلود، پشمول د شریک ډیټابیس نه شتون، دې هرڅه د GAO مخه ونیوله چې قاطع پایله وموميي. [19]

د افغان مالي سیکتور ته وده ورکولو لپاره د متحده ایالاتو د برنامو د سیګار 2011 یوې پلټنې وموندل چې د نورو شیانو ترمنځ "د متحده ایالاتو ادارو د دوی د څو پلي کول په بشپړ ډول ندي همغږي کړي." پلټنې راپور ورکړی چې د ادارو ترمنځ یوه کلیدي کاري ګروپ کې د متحده ایالاتو ټولې هغه اداري شامل ندي چې د سیکتور پروګرام پلي کولو کې دخیل دي، او دا چې د دفاع وزارت (DOD) او کورني امنیت وزارت (داخلي) چارواکو د دوی کار نه و همغږی کړی کله چې دوی د ورته سوداګریز بانکونو سره معاملات ترسره کول. سیګار مشاهده کړي چې "د ادارو ترمنځ محدود همغږي د متحده ایالاتو اداري په متقابل اهدافو د کار خطر سره مخ کوي یا لړترلږه د شته اړیکو او برنامو په لاره اچولو فرصتونه له لاسه ورکوي." [20]

د دولتي چارو شنونکی، پخوانی افغاني چارواکی او د افغانستان امریکایي پوهنتون کې استاد تمیم عسایي په یوه وروستي کالم کې د *بهرنی پالیسي* لپاره لیکلي: "د ډونر همغږي اوس هم په افغانستان کې د یوې لوی ننګونې په توګه پاتې ده؛ هر ډونر د دوی خپلو ادارو، موسسو او قراردادیانو له لارې د یوځه راپور ورکولو یا افغان دولت ته د شفافیت سره د دوی خپل ټاکل شوي اهداف او لومړیتوبونه تعقیبوي." [21]

## د همغږۍ نه شتون لګښت لري

په پراختیایي مرسته کې د همغږي غوښتل د پروګراماتیک ډیزاین یا د مفهومي خالصیت لپاره لټون تجربي څخه ډیر څه دي. د مؤثره همغږۍ په پلي کولو کې پاتې راتلل کولی شي ډونرانو او د مرستې لاسته راوړونکو باندې لوی لګښتونه تحمیل کړي.

د اقتصادي مرستې او پراختیا لپاره د آلمان فدرالي وزارت په ګوته کړي چې د څواړخیزه ډونرانو، بنسټونو، وجهي صندوقونو او څو ملیتي نهادونو د اخرني کلونو ډیروالی چې په پراختیایي مرسته کې بوخت دي "د پراخه سیاسي او مالي پوتانسیل وړاندیز کوي." په ورته وخت کې، پراخیدونکي مرستې نړۍ خپورتیا ته وده ورکوي، د لیږد ټولټال لګښتونه ډیروي، د اداري جوړښتونو ناکافي تکثیر رامنځته کوي، او "په ملګري هیوادونو کې اداري ظرفیتونه مقید او ډیری وختونه یې اضافي کار ته اړباسي، په ځانګړي توګه لړ پرمختللي او نازک دولتونو کې." [22] په یاد ولرئ چې دا جانبي عوارض د مرسته کونکي ډونرانو د شمیرو *ساده پایلې دي. لکه څنګه چې وروستي شواهدو په ګوته کړي که ډونران پخپله* هم د پام وړ همغږي ونه لري — نو د همغږۍ نه درلودو لګښت وراضافه کیږي یا شاید حتی په څو برخو کې د ضعیف همغږي طریقې مستقیم، غیر مستقیم او فرصت لګښتونه څو چنده ډیر کړي.

لکه د نورو ضعیف دولتونو په څیر افغانستان هم باید د ډیری ډونرانو سره کار وکړي. په 2013 کې د نړیوال بانک خپلواک ارزوني ګروپ لپاره چمتو شوي یوه مقاله کې د پراختیا مرستې (د بشر دوستانه یا امنیت په توپیر سره) چمتو کونکي 50 هیوادونه او سازمانونه شمیرل شوي، چې پدې کې د ټولټال مرستې 42% متحده ایالات او 10 مخکښ ډونران 85% چمتو کوي. په ډونرانو کې د OECD غړي چې دوه اړخیزه عمل کوي، څو اړخیزه سازمانونه لکه UN او "غیر سنتي" ډونران لکه ایران او ترکي شامل دي. [23]

د دومره ډیرو ډونرانو سره کار کول لګښت لري. د 2014 نومبر پورې، افغان مالیه وزارت د دوه اړخیز ډونرانو سره د دې وزارت د کلني ډیالوګ ناستو څخه 19 یې ترسره کړي — د آسیا پراختیایي بانک، کاناډا، اروپایي اتحادیه، فنلنډ، سویلي کوریا، سویزرلینډ او نړیوال بانک او نور — او 17 نور د ملګرو ملتونو ادارو سره. وزارت وویل چې نوموړي پروسه "په وخت د ډونرانو د ډیټا نه شتون، د ډونر لخوا بیا مهالویش کیدل، امنیتي دلایل، او /[د] ډونرانو د زیات شمیر" پشمول. . .دلایلو له امله د پلان شوي مودې څخه ډیر وخت نیسي. [24]

د افغانستان په څیر غریب هیوادونو باندې د سفري اړتیاو، امنیت، د ژباړې خدماتو، او لیدونکو لپاره نورو اړتیاو اړولو سربیره، د پراختیا نا همغږۍ شوي او خپره مرسته هم د ترتیب شوي راپورونو، غیر معیاري ډیټا او ځانګړي فارمیتونو لپاره غوښتنو باندې اداري دروندوالی تحمیلوي. دا ډول د وخت او پیسو لګښتونه که څه هم د ډونرانو لخوا په لویه کچه د لیدو وړ ندي، د غیر همغږۍ د لګښت یوه برخه جوړوي.

## نو ولې ډونران ډېره همغږي نه کوي؟

که چیرې غوره همغږي دواړه د ډونرانو او مرستې لاسته راوړونکو لپاره لګښتونه کمولی شي او مرسته لا نوره اغیزمنه کوي نو ولې موږ يې ډېره نه ترسترګو کوو؟ نهادي معلولیت، بیوروکراتیک جبر یا د غوره فعالیتونو پلي کولو کې پاتې راتلل شاید د ځواب برخه اوسي، مګر معقول او عملي ملاحظات هم شتون لري چې نه وي روښانه شوي او کولی شي د همغږۍ ځینې ناکامۍ روښانه کړي.

د یوه ټکي په توګه، د آلمان په بون ښار کې میشته د پراختیا انسټیټیوټ یادونه کوي "هیڅ کوم داسې عام موافقت شتون نه لري چې د همغږۍ سمه کچه څه ده یا څه باید وی." نور، "د ډونر د همغږۍ سیاسي اقتصاد پیچلی دی؛ د لانورې همغږۍ پروړاندې قوي هڅې کار کوي (لکه د /[ډونر ټولنې]) د غږي هیوادونو ګټې." [25]

لکه څنګه چې CRS مشاهده کړي، د سوداګرۍ د پرمختګ هڅې لکه "امریکایی توکو پلورلو" قوانین د مرستې په چمتو کولو کې د همغږۍ مخه نیسي، پداسې حال کې چې "داسې هیوادونه شتون لري چیرې چې متحده ایالات د پراختیایي لاسته راوړنو پرځای ستراتیژیک امنیتي ګټو پورې اړوند دلایلو لپاره د فعال ډونر په توګه پاتې دی." CRS اضافه کوي چې که د ښوونځیو جوړولو په څیر فعالیتونه د هغه کمپاین یوه برخه وي چې افغانان متحده ایالاتو ته په لانوره ښه سترګه وګوري، دا ډول ستراتیژیک اهداف "د متحده ایالاتو او ډیری ډونر هیوادونو چارواکو لپاره ستونزې پیدا کوي چې د لاسرسي او اغیزې له لاسه ورکولو لپاره د دوی واک نورو ډونرانو ته ولیږي چې دا ډیری وختونه د مرستې لپاره د اړیکې ځای ناستي کول ملاحظه کیږي." [26]

برسیره پردې، ډونران ممکن د دوی د پالیسي ترجیحاتو لپاره د دوی د مرستې همغږي کولو مخه ونیسي، لکه د حکومتي اصلاحاتو ته ارزش ورکولو پرځای د غربت کمولو ته ارزښت ورکړي، یا امنیت ته په بشري حقونو کې پرمختګ باندې لومړیتوب ورکړي. [27] د سویډن ګوتنبرګ پوهنتون کې د څیړونکو په وینا په نورو ملاحظاتو کې چې همغږي پروړاندې ولاړ دي، کوچني اداري ته تمایلات، د خپلواکۍ ساتل یا د سیاسي اغیز هڅول او د اداري کنټرول ثابتول شامل وي، "په ځانګړي توګه که چیرې مرسته ضعیف او فاسد هیوادونو ته ورکول کیږي." [28] لیکونکي جمع بندي کوي، "روښانه ده چې ډونران کولی شو د مرستې خپورتیا راکمولو په واسطه د سرچینو د پام وړ مقدار خوندي کړي، مګر دا حقیقت چې دوی داسې ندي کړي ممکن په نښه کړي چې دوی د سیاسي لګښتونو برابرول خورا لوړ ملاحظه کوي." [29]



**په کابل کې** د افغان ښوونځي ماشومان. (د روبرټ رومانو لخوا د دفاع وزارت عکس، د متحده ایالاتو اردو)

## وجهی صندوقونه مرسته کوي، مګر څار ته اړتيا لري

ډونرانو ته د بيا ډاډ چمتو کولو په حالت کي او لاسته راوړونکو لپاره د ژوند اسانه کولو کي د مرستي همغږي کولو پوتانسيال سره يو ميکانيزم څوارخيزه وجهی صندوق دی ــ يو اداري نهاد چې مرستي راټولولو او مصرف کوي يي، او لاسته راوړونکي هيواد لپاره د مستقيم بوديجه تمويل او د اړيکي ټاکلي نقطه چمتو کوي.

د آلمان، کاناډا او انګلستان حکومتونو په همکارۍ د ناروی حکومت لخوا تمويل شوي يوې مطالعي په وينا د څو ډونرانو وجهی صندوق "د بحران وروسته تمويل غوره فعاليت وړاندي کوي" او "خورا مهم همغږي، همآهنګی او په ليکه کولو وسيله" ده. مطالعه وايي دا ډول وجهی صندوقونه د بيارغوني سمدستي اړتيا سره مخ هيوادونو لپاره ډير ښه دي، چيرې چې حکومتداري او ظرفيت ضعيف وي او چيرې چې خطر، بي ثباتي او معلومات لوړ لګښتونه ولري. [30]

د افغانستان لپاره د دا ډول ميکانيزمونو غوښتنه مخکي شوي وه. په 2002 کي، د افغانستان لپاره د نړيوال بانک د هغه وخت رييس ثبت کړي چي "په /[افغان] دولت د اداري اړتياو ډيرولو څخه مخنيوي لپاره او د بسپنو په کارولو کي د شفافيت او حساب ورکووني چمتو کولو لپاره، د دواړه بيا جاري او پراختيا بوديجه تمويل ته د څو ډونرانو وجهی صندوق وړانديز شوی و." [31] په ورته ډول، د نړيوال بانک لخوا اداره کيدونکی د افغانستان بيارغوني وجهی صندوق (ARTF) د 2002 کال په میی کي په کار پيل وکړ.

په افغانانو متمرکز د پراختيا نور څو ډونره وجهی صندوقونه د دې په تعقيب و. پدې برخه کي وس دا موارد شامل دي:

- ARTF په 2002 کي د افغان بوديجه ملاتړ او ملي پانګوني پروژو ته لومړيتوب لپاره رامنځته کړی شو. ترټولو لوی سرچيني فنډ. د نړيوال بانک لخوا اداره او د 34 ډونرانو لخوا ملاتړ شوی. د متحده ايالاتو ټولټال مرسته، FY 2002–FY 2015: 2.4 مليارد ډالر.
- د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهی صندوق (LOTFA) په 2002 کال کي د قانون پلي کولو لپاره رامنځته کړی شو، پشمول د معاشاتو، روزنه او زيربنا. دا د ملګرو ملتونو د پراختيا پروګرام (UNDP) لخوا اداره او 15 ډونرانو لخوا ملاتړ شوی. د متحده ايالاتو ټولټال مرسته، FY 2002–FY 2015: 1.5 مليارد ډالر.
- د افغانستان زيربنا وجهی صندوق (AITF) په 2010 کال کي د آسيا پراختيايی بانک لخوا د زيربنا پروژو او د خصوصي سيکټور او ډونرانو څخه نورو ځيني پانګونو ګډ تمويل ته د بلاعوضه مرستو چمتو کولو لپاره رامنځته کړی شو.  دا د درې ډونرانو لخوا ملاتړ کيږي. د متحده ايالاتو ټولټال مرسته، FY 2002–FY 2015: 105 مليون ډالر
- د سولي او بيرته يوځای کولو وجهی صندوق (PRTF) په 2010 کال کي د سولي او بياپخلايني پروسو او پخواني جنګياليو بيرته راستنولو ملاتړ لپاره رامنځته کړی شوی. د UNDP لخوا اداره او د اوه ډونرانو لخوا ملاتړ شوی (متحده ايالات يي ډونر ندی). د فنډ فعاليتونو د ټولني بيرته موندلو اړخ ته ټولټال مرستي، FY 2002–FY 2015: 121 مليون ډالر.
- د ناټو افغان ملي اردو (ANA) وجهی صندوق په 2007 کال کي د امنيت نړيوال مرستندويه ځواک (آيساف) ملتونو لخوا رامنځته شو مګر د نړيوالي ټولني مرستي يي هم ترلاسه کولي، چي د ANA لپاره تجهيزات، خدمات او روزني ته بسپني چمتو کوي. دې فنډ په مرسته کي 971 مليون ډالر ترلاسه کړي.

متحده ایالاتو خپلو فنډونو، د افغان امینتي ځواکونو صندق (ASFF) ته هم مرستې ورکړې، چې ټولټال تمویل یې 60.7 ملیارد ډالرو ته رسیږي او د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) ته چې ټولټال تمویل یې 17.7 ملیارد ډالرو ته رسیږي. د دې فنډونو شرحي او د هر یوه په اړه معلوماتو لپاره کانګریس ته د سیګار دې او نورو درې میاشتنې راپورونو کې د فنډونو د درېځ برخه وګورئ.

نړیوال بانک د وجهي صندوق طریقې یو قوي ملاتړ کونکی دی. په 2001 کال کې، بانک وویل چې "د /[افغان] بیارغونې لپاره د نړیوال تمویل حساسې برخه اړتیا لرې په ناټاکل شوي اساس د یوه ښه ډیزاین شوي وجهي صندوق له لارې جاري شي. دغه وجهي صندوق باید د یوه معتبر نهاد لخوا اداره شي، د سرچینو د ټاکلو او حساب ورکوونې لپاره د سم میکانیزمونو سره. د بیارغونې لپاره ستراتیژۍ کې د تمویل او برنامو په لیکه کولو ځخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره ناټاکل شوي او خلاص تمویل لازمي دی." [32]

په هرصورت د همغږۍ یا د مرستې مؤثریت لپاره وجهي صندوقونه کومه جادویي مرمۍ نده. نړیوال بانک د دې د وجهي صندوق پورټفولیو 2011 یوه بیاکتنه کې په نښه کړې چې د وجهي صندوق د سرچینې پریکړې: [33]

- ټل د پاریس اعلامیې اصولو سره مطابقت ونلري
- ممکن د ډونرانو، اداره کونکو او لاسته راوړونکو ترمنځ انشعابي لیدونه او ګټې منعکس کړي
- ممکن مناسب همغږي یا د لاسته راوړنکي هیواد ملکیت ترلاسه نه کړي
- ممکن د لاسته راوړونکي هیواد برنامو یا د مرستې نورو سرچینو سره په لیکه کې نه وي
- ممکن مؤثریت یې د ډیزاین په واسطه اغیزمن شوی وي، لکه د روښانه اهدافو او مدیریت نه شتون

افغانستان ته د مرستې د نړیوال بانک د 2013 زده کړل شوي درسونو بیاکتنه د LOTFA قانون حاکمیت فنډ پورې اړوند وجهي صندوق ستونزو یوه بیلګه وړاندیز کوي کوم چې دا وايي "په دوامداره توګه د تمویل کمبود او بې ثباتي زغمې،" په بیله بیا "د فنډونو د کسر په اړه اندیښنې" او د افغان پولیسو د ریښتونې مؤثریت په اړه چې ملاتړ یې کوي. [34]

سیګار د څو اړخیزه وجهي صندوق مدیریت، شفافیت او حساب ورکوونې په اړه په مکرر ډول خپلې اندیښنې بیان کړې. په 2014 سپتمبر کې سیګار د ARTF او LOTFA مسلو په اړه د پوښتنو لیکونه تکثیر کړل. د ARTF په اړه لیک یادونه کړې چې د ARTF په فنډ جوړ شوي یوه ښوونځي رالویدو تر 32 پورې افغان زده کونکي او یو ښوونکی ټپي کړي، او له USAID او د دې فنډ اداره کونکي نړیوال بانک څخه یې وپوښتل چې ولې ښوونځی رالویدلی او د حساب ورکوونې د تحمیل لپاره څه سرته رسیدلي. [35]

د LOTFA په اړه د سیګار یوه لیک د وجهي صندوق او د UNDP لخوا د دې د نظارت په اړه ډیری اندیښنې بیان کړې. لیک د افغان کورنیو چارو وزارت لخوا د LOTFA پرووړاندې ناملاتړ شوي مالي لګښتونو کې د 23 ملیون ډالرو یادونه کړې، څه دبره 15 ملیون ډالر په غلط کوډ شوي او غیرقانوني لګښتونو کې، د افغان پرسونل ممکن له حده زیات جبران، د افغان وزارت د پروسو د پلټنې او تحقیق د واک نه شتون، او د معتبر مدیریت پرمخ وړو ته د UNDP روښانه بې میلي. ځانګړي عمومي مفتش جان سوپکو لیکلي"که چیرې UNDP او LOTFA د تمویل پرمخ وړونکي نه وي،" نو "بیا د نظارت لپاره لانوره قوي لاره دې تضمین شي." [36]

پە تعقیب یې د UNDP/LOTFA د 16 مخونو ځواب د وجهی صندوق مدیریت او حساب ورکوونې تە وده ورکولو لپاره رامنځته شوي یا تر کار لاندې بدلونونه شرح کوي. په ځواب کې یو مورد د سیګار اندیښنو لپاره دلیل روښانه کوي: د 2013 په وروستیو او د 2014 په لومړۍ نیمایی کې د درې پیژند پاڼو (ID) بیاکتنه مشخص کوي چې د افغان بشري سرچینو د معلوماتو مدیریت سیستم "شاوخوا 50,000 باطل پیژند پاڼې لرې." ځواب اضافه کړي، " LOTFA پوهیږي چې سم یا اعتبار لرونکي پیژند پاڼې د دې ډاډ لپاره مهم عنصر دی چې یوازې فعال ځواک ته پرداخت کیږي، او /[د] معاشاتو حاضری سیستم کې اختلالاتو مخه ونیسي." [37]

سیګار پوهیږي چې UNDP په LOTFA کې اصلاحات راوستلي، مګر پدې باور دی چې له اوږدې مودې راپاتې ستونزې ناحل شوي پاتې دي، او دا چې د پام وړ ودې ته اړتیا ده ترڅو ډاډه شو چې د افغان ملي پولیسو ملاتړ ته مختص شوی فنډ په حقیقت کې د ټاکلي هدف لپاره کارول کیږي. د مثال په توګه د سیګار د جنوري 2015 یوې پلټنې موندلي چې "د ANP پرسونل یا د معاشاتو حاضری ډیټا لپاره نه خو CSTC-A /[د متحده ایالاتو په مشری د امنیت لیږد ګډه قوماندانی - افغانستان" او نه هم UNDP مسؤلیت په غاړه اخیستی. پلټنې یادونه کړې چې دواړه نهادونه د درست ډیټا ترلاسه کولو د اهمیت خبرتیا ورکوي، مګر "چاروکې د دې مسؤلیت په اړه یو بل سره مخالفت لري" چې څوک باید دا کار وکړي. [38]

د LOTFA سره رضایت نه درلودل ډونرانو ته محدود ندي. په دسمبر 2014 کې *نیویارک ټایمز* راپور ورکړ چې د افغانستان نوی ټاکل شوی ولسمشر اشرف غني له ملګرو ملتونو غوارې چې د شپږو میاشتو په موده کې د LOTFA مسؤلیت افغانستان ته وسپاري. [39] د سیګار او نورو څارنیزو ادارو د کار پر بنسټ د ورته بدلون تمه باید وشي، ترڅو د افغان وزارت کارمندانو لخوا حتی د پیسو د کارولو لړ لید او مخارجو د ټیټ کیفیت پلې او تایید پایله ولري.



**د افغان ملي** پولیسو ګمارل شوی پرسونل ګردیز ته څېرمه د ANP لپاره سیمه ایز روزنې مرکز ته نږدې ښنه ویشتنې ساحه کې د AK-47 ډزو کولو دمخه ښوونکو ته غوږ دي. (د اردو بریدمل میشل براکن لخوا د دفاع وزارت عکس، د متحده ایالاتو اردو)

## د متحده ایالاتو هڅو کولی شو همغږي ته وده ورکړي

افغانستان او د پرمختګ په حال کې نورو هیوادونو سره پراختیایی مرسته د ډیری دلایلو له امله د بشپړ او مؤثر همغږي مخه نیسي. مګر حتی د سیالیز انګیزو او عملي ستونزو سوړ او ریالیستیک لید په پام کې نیولو وروسته هم، د ودې لارې شتون لري چې دواړه ډونران او لاسته راوړونکي ترې ګټه پورته کولی شي.

د بهرنیو چارو وزارت راتلونکي څلور کلنه ډیپلوماسي او د پراختیا بیاکتنه (QDDR) د ودې لپاره ښه وسیله چمتو کولی شي. په بهرنیو چارو وزارت کې د QDDR دفتر سیګار ته وویل چې د 2010 لومړۍ ګڼې ته راتلونکي برخه باید د 2015 فبرورۍ کې خپره شي. د QDDR د همغږۍ نوې چلند مخکښ ممکن د 2014 جون کې څرګند شوی وي، کله چې د USAID اداره کونکي راجیو شاه د نوې QDDR لپاره په یوه غونډه کې د بهرنیو چارو وزیر جان کیري او ځانګړې پلاوي توماس پیریلو سره ګډون وکړ. شاه وویل د نوې QDDR یو کلیدي لاربښود دا دی چې "موږ باید په کلکه په مختلف بڼه د شیانو پرمخ وړو ته لیوالتیا ولرو، په دوامداره توګه وده وکړو، مدرن یې کړو، د نورو سره ملګرتیا وکړو، زموږ له اړیکو ډیره ګټه پورته کړو، او د کانګریس او په ټوله نړۍ کې د ملګرو سره په فعاله توګه بوخت شو." [40]

د امریکا مرستندویه برنامو او فرصتونو په اړه بشپړ حکومتي لید پدې پریکړې کې کاریدلی شي چې آیا ځیني برنامې مدغم یا پای ته رسیدی شي، او آیا د ډیرې فنډونو مخه د دوه اړخیز دورځو څخه څو اړخیز ته واړول شي لکه بیلابیل وجهی صندوقونه. دا کړنه بې له شکه د جیو سیاسي او داخلي سیاستونو د ګټو څخه د پراختیایي ګټو جلا کولو ته اړتیا لري. لکه څنګه چې د متحده ایالاتو په افغانستان کې پخواني سفیر رونالډ ای. نیومن په ګوته کړي، "همغږي شوي ستراتیژیاني په اهدافو کې سازش ته اړتیا لري، چې ځیني یې باید زموږ له اړخه وي." یوازې موږ نه بلکه نور هم ممکن اړتیا ولري له ځیني طرحو تیر شي چې موږ هڅه کوو له لرې یې تحمیل کړو "ترڅو په ساحه کې غوره پلي کیدل وده وکړي. [41]

مخکې وړاندیز شوي دلایل، د متحده ایالاتو ډیرې مرسته څوارخیز وجهی صندوقونو ته ورګرځول، او نور ډونران هڅول چې ورته کار وکړي ـ کولی شي د دواړه لګښت سپمولو او غوره پایلو لاسته راوړني د همغږۍ او اغیزمنتیا له لارې ولري، پداسې حال کې چې د افغانستان مستقیم بودیجې ته د متحده ایالاتو او نورو ډونرانو لخوا لېږترلږه 50% مرستې ورکولو ژمنه کې هم پرمختګ کوي.

لکه څنګه چې د ARTF او LOTFA وجهی صندوقونو د مدیریت په اړه د سیګار اندیښني په ګوته کوي، متحده ایالات اړتیا لري ډاډ ترلاسه کړي چې د دا ډول لارو د مالیه ورکونکو پیسې تعقیب او ارزول کیدی شي، او دا چې اداري ناکامي یا غلط کار کشف او سمیدلی شي. د وجهي صندوقونو د عملیاتي ګټو په نه پام کې نیولو پرته د دې کار کول به یوه لوی او اوږد مهال ننګونه وي.

که چیرې وجهی صندوقونه په حقیقت کې د همغږۍ د ودې ترټولو غوره لار وي، او که چیرې د متحده ایالاتو پالیسي جوړونکي جمع بندي وکړي چې د مرستې همغږي کولو لپاره نور ګامونه اخیستل له سیاسي پلوه د منلو وړ دي، نو روښانه ده چې د افغانستان "د بدلون لسیزه" یو قوي پیل دی. مات اقتصاد او مشخص ترهګري په شتون کې اړتیا ده چې د مرستې هر ډالر (د احتمال له مخې کمیدونکي) باید غوره اغیز په نښه کړي. د سیګار نوې پروژه کولی شي هغه طریقه په ګوته کړي چې افغانستان ته د بیارغونې مرستې ډونران او لاسته راوړونکو لپاره ګټوره وي.

## د سیګار نوې پروژه به د درسونو او غوره کړنو د پیژندلو لپاره همغږۍ بیاکتنه وکړي

د سیګار د زده کړل شوي درسونو نوې برنامې د مرستې مؤثر همغږۍ او لاسته راوړونکي هیوادونو کې په ساحه کې د مرستې مؤثریت ته وده ورکولو لپاره د مرستې د همغږي پوتانسیال د ننګونو یوه مطالعه په لاره اچولې.

نوموړې پروژه افغانستان ته د پراختیا مرستې په اداره کولو کې د بهرني ملګرو سره د متحده ایالاتو د همغږۍ مؤثریت باندې تمرکز کوي. دا پروژه به د 2001 بون کنفرانس څخه چې د طالبانو د رژیم رالویدو او نوي افغان دولت ته یې لاره هواره کړه تر په 2014 کې د لندن کانفرانس پورې موده کې، افغانستان ته مرستې وارزوي چې په څومره مؤثر ډول پلان شوي، همغږي شوي، څارل شوي او لومړیتوب ورکړل شوی. ارزونه به دواړه نړیوال معیار او د متحده ایالاتو اهداف او ټاکل شوي پایلې په پام کې ونیسي.

پروژې دمخه پراخه څېړنه سرته رسولې. تعقیبي کار کې به یې د لوی شمیر افغان، امریکایی او نړیوال حکومتي چارواکو او نورو باخبره سرچینو سره مرکې شامل وي.

ټاکل شوې ده چې بشپړه پروژه به د نورو ډونرانو او افغان دولت سره د متحده ایالاتو د همغږۍ مؤثریت بیاکتلو لپاره د سیګار قانوني اړتیاو سره سمون ولري. په پروسه کې به دا پروژه داسې درسونه راوسپړي او غوره کړنې به وپیژني چې له مخې یې وکولی شي دواړه، په راتلونکي کې په افغانستان کې او احتمالي چاپیریالونو کې چې تراوسه پکې ښکیلتیا شتون نلري پایلو ته وده ورکړي. د مثال په توګه، د اصلي حل عملیاتو ملاتړ لاندې متحده ایالات او ملګري ملتونه پشمول د ناټو غړي او منځني ختیځ دولتونه په سوریه او عراق کې د ISIL وسله والو عناصرو، او د عراق او سوریه اسلامي دولت پرورېدې هوای بریدونه کوي. [42]

د 2014 کال دسمبر په 17، د دفاع وزارت عمومي مفتش د اصلي حل عملیاتو لپاره د مشري کونکي عمومي مفتش په توګه ټاکل شوی و او د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا لپاره اداري عمومي مفتیشینو سره په ګډه په کار ګمارل شوی و ترڅو د پولو بهر دې عملیاتو لپاره څار همغږۍ، پلان او چمتو کړي. [43] سیګار پلان جوړ کړ چې د نوي زده کړل شوي درسونو برنامې په اړه خبرو لپاره د اصلي حل ملاتړ لپاره عمومي مفتش سره لیدنه ترسره کړي. که چیرې په افغانستان کې د ISIL په واسطه اغیزمنې شوي سیمو او وګړو لپاره د نظامي عملیاتو پیلي برخه د بیارغونې او پراختیا نړیوال تمویل شوي برنامې سره تعقیب شي، نو د دې مرستې همغږي کول به د ډونر ټولنې لپاره بله ننګونه وړاندې کړي.



**نوروز ("نوې ورځ")** د نوي کال لمانځنه په مزار شریف کې. (د پیریټز پارټنسکي لخوا د ویکي میډیا کامنز عکس)

"د پراختیایی فنډونو د مصرف کولو لپاره وزارتي ظرفیت به په راتلونکي کلونو کې د پام وړ ننګونې په توګه شتون ولري، او متحده ایالات نه باید د مستقیم بودیجې مرستې برابرولو کې خپل ځانریز معیارونه راټیټ کړي."

*— د متحده ایالاتو د سنا د بهرنیو اړیکو کمیټه، د اکثریت کارمندانو راپور*

سرچینه: *افغانستان په لیږد کې: د متحده ایالاتو د 2014 وروسته ملکي شتون او مرسته*، د 2014 اکتوبر 27.

# 2
## سیگار
## ثارنه



# د سيګار د څارنې مينځپانګې

| | |
|---|---|
| پلټنې | 19 |
| تفتيشات | 38 |
| ځانګړې پروژې | 43 |
| زده کړل شوي درسونه | 45 |
| تحقيقات | 48 |
| د سيګار پېتو عملياتو مرسته وکړه چې د اور وژنې موټر او د متحده اياالاتو د حکومت نور ملکيت د غلا کولو طرح خنثی کړي چې لګښت يې څه دبره 800,000 ډالر و | 54 |
| د سيګار نور څارنيز فعاليتونه | 62 |
| د سيګار بوديجه | 67 |
| د سيګار کارکونکي | 67 |

**انځور په تيره پاڼه کې**
د وردګو ولايت کې د افغان پوليسو لپاره متحده اياالاتو ماليه ورکونکو نږدې 500,000 ډالر د يوې وچ اور روزنيزې آسانتيا جوړولو لپاره ورکړي، يا دا چې ګرم مهمات پکې ونه کارول شي. دا آسانتيا بيرته د جوړيدو په حال کې ده ځکه چې اصلي يې د پای ته رسيدو څلور مياشتې وروسته له منځه ولاړه. (د ملي پوليسو د روزنې مرکز)

# د سیګار د ښارنې په برخه کې فعالیتونه

پدې ربع کې سیګار 17 پلټنې، تفتیشونه، د خبرتیا لیکونه او نور راپورونه تکثیر کړي. سیګار د مدني جوړجاړي ترون د تادیاتو له لارې د متحده ایالاتو حکومت ته له هرکله ډیر 53.7 ملیون ډالر بیرته لاسته راوړي، او د خپل تحقیقاتي کار له لارې یې د حکومت نور 12 ملیون ډالر سپمولي. پدې ربع کې سیګار خپل د لوړ خطر لومړی لیست هم خپور او د هغه د زده کړل شوي درسونو پروګرام (LLP) رامنځته کول یې اعلان کړل ترڅو د متحده ایالاتو د بیارغونې فنډونو نظارت پراخه کړي.

پدې ربع کې د سیګار د پلټنې کار کې، د فعالیت یوې پلټنې وموندل چې که څه هم د امریکا دفاع وزارت (د امریکا دفاع وزارت) او بهرنیو چارو وزارت د متحده ایالاتو اداري (USAID) له 2011 تر 2013 مالي کلونو کې د افغان ښځو دریځ کې لاسته راوړنې او پرمختګونه راپور کړې، خو هیڅ ډول جامع ارزونې شتون نه درلود چې له مخې یې تایید کړی شي چې دغه لاسته راوړنې د متحده ایالاتو ځانګړې هڅو مستقیم پایله وه.

د فعالیت دوهمې پلټنې موندلي چې د افغان ملي پولیسو (ANP) معاشاتو لپاره د متحده ایالاتو حکومت کلني تمویل کې له 300 ملیون ډالرو ډیر د یو څه تایید شوي یا منل شوي پرسونل او د معاشاتو حاضري د معلوماتو پراساس و. MOI کافي کنټرولونه نه لري چې ډاډ ورانډې کړي دا معلومات درست دي او دا چې د ANP پرسونل هغوی ته تاکل شوي معاشونه لاسته راوړي، دا د دې لامل کیږي چې د معاشاتو لپاره د متحده ایالاتو تمویل ته د ضیاع یا ناوړه ګټه پورته کوونې خطر لوړ کړي.

د فعالیت دریمې پلټنې په ګوته کړي چې د امریکا دفاع وزارت د سیګار له 209 وړاندیزونو څخه د 75% څخه ډیر په وخت سره، او په بریا سره پلي کړي، چې د افغانستان د بیارغونې بسپنو د ضیاع، درغلۍ او ناوړه ګټه اخیستنې خطر یې کم کړی.

پدې ربع کې د سیګار مالي پلټنو د داخلي کنټرول تشو او غیر اجابت مسلو له امله نږدې 23.6 ملیون ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه پیژندلي. تر نن نیټې پورې، د سیګار مالي پلټنو له 106.7 ملیون ډالرو ډیر تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه او 198,368 ډالر د فیدرال دمخه فنډونو نالیږل شوي ګټه کې پیژندلي. ادارو د 21 بشپړ شوي پلټنو تر پوښتنې لاندې مقدارونو په برخه کې له 8.5 ملیون ډالرو څخه ډیرو پیسو د بیرته لاسته راوړو لپاره بیلونه تکثیر کړي.

سیګار د افغان ملي اردو (ANA) کمانډو کیمپ مرحله II باندې یو تفتیشي راپور خپور کړ، چې موندلي یې دي جنریټرونه ترتیب شوي نه و او کولی شو چې د پلان شوي محصول یوازې 25% بریښنا چمتو کړي؛ د سونګ توکو ځای کې د سونګ توکو پمپونه نه و کارول شوي؛ او د خواړو خونه د 280 افغان سرتیرو لپاره جوړه شوې وه خو 1,600 سرتیرو ترې ګټه پورته کوله. پدغه راپور کې سیګار اندیښنه بیانوي چې د متحده ایالاتو حکومت یو نوی قرارداد ورکړی چې پکې 2.1 ملیون ډالر د

## د پلټنې خبرتیا لیک

- د سیګار پلټنې خبرتیا 14-15-AL: د TFBSO پایپ لاین

## د فعالیت بشپړې شوې پلټنې

- پلټنه 15-24-AR: د افغان ښځو په ګټه برنامې کې پرمختګونه
- پلټنه 15-26-AR: افغان ملي پولیسو ته د معاشاتو ورکول
- پلټنه 15-29-AR: د امریکا دفاع وزارت ته د سیګار وړاندیزونو دریځ

## بشپړې شوې مالي پلټنې

- مالي پلټنه 15-13-FA: د سید مجیدي ساختماني چارو او ډیزاین لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه
- مالي پلټنه 15-16-FA: په ګډه کار کونکي خصوصي ادارو، شرکتونو لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه.
- مالي پلټنه 15-19-FA: د سیټینا ګروپ لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه
- مالي پلټنه 15-20-FA: د نړیوالې سرچینې ګروپ لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه
- مالي پلټنه 15-22-FA: د پاسیفیک آرشیټیکس او انجینرز شرکت لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه.
- مالي پلټنه 15-28-FA: د ARD شرکت لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه.

## بشپړ شوي تفتیشات

- تفتیش 15-25-IP: د ANA کمانډو کیمپ مرحله II
- تفتیش 15-27-IP: د وچ اور اندازه (حد)

## د ځانګړې پروژې بشپړ شوي محصولات

- ځانګړې پروژه 15-17-SP: د USAID تر پوښتنې لاندې لګښتونو ځواب ته ځواب
- ځانګړې پروژه 15-18-SP: د سپړ هوای ملاتړ الوتکې برنامه
- ځانګړې پروژه 15-21-SP: د بهرنیو چارو وزارت د عامه چارو برخې بلاعوضه مرستې
- ځانګړې پروژه 15-23-SP: د TFBSO عملیات

بريښنا توليد سيستم ترميم لپاره شامل دي، پشمول د يوه اصلي ماسټر کنټرول پينل بدلول، چې د متحده ايالاتو د انجينرۍ قل اردو په وينا هغه مهال تخريب شو کله چې ANA يو ټرانسفرمر ته ناسم او غير مجاز اتصال (کونيکشن) وکړ، او د موازي کار لپاره د جنريټرونو ترميم او ترتيب — دا ټول د مرحله II پيلي کار و. سربيره پردې، حتی که څه هم د سونګ توکو ځای په مرحله II کې د 332,000 ډالرو په لګښت جوړ شوی و، هيڅ کله د هدف سره سم بشپړ ندی کارول شوی، يو دوهم د سونګ توکو لوی ځای د نوي قراردادي لخوا په مرحله III کې د شاوخوا 1 مليون ډالرو په لګښت جوړ شوی و.
دوهم تفتيشي راپور وموندل د متحده ايالاتو حکومت نږدې نيم ميليون ډالرو په ارزښت د وچ اور اندازه جوړه شوی وه خو د قراردادي ضعيف فعاليت او د دولت د نظارت نه شتون له امله د ساختماني چارو بشپړيدو څلور مياشتې وروسته له منځه ولاړ.

د سيګار د څانګړي پروژو دفتر USAID، د امريکا دفاع وزارت او د بهرنيو چارو وزارت ته د هغه پريکړو په اړه انديښنې بيانولو لپاره د معلوماتو غوښتنې ليکونه وليکل چې په کومو کې ترپوښتنې لاندې لګښتونه په بشپړ ډول نه و بيرته لاسته راغلي، د سپک هوای ملاتړ الوتکو برنامې پورې اړوند روزنې او ساتنې ستونزو لپاره پوتانسيال، د بهرنيو چارو وزارت عامه چارو بلاعوضه مرستو کې ډراماتيک ډيروالی، او په TFBSO کې د نا روا مصرف او غلط مديريت تورونه. د څانګړي پروژې معلوماتو غوښتنې ته ځواب کې د DynCorp نړيوال اوږدې ناکامۍ له امله سيګار پدې ربع کې يوه احضاريه تکثير کړه. په تعقيب يې، DynCorp غوښتل شوي اسناد توليد او د دوامداره مرستې ژمنه يې وکړه.

سيګار پدې د نوي درسونو زده کړې پروګرام (LLP) رامنځته کول هم اعلان کړل. LLP به له 2001 راهيسې تر نن پورې په افغانستان کې د بيارغونې پراخه څيړنې په لاره واچوي ترڅو په افغانستان کې د متحده ايالاتو بيارغونې هڅو پروړاندې د سيستماتيک مسلو په نښه کولو کې د مرستې لپاره غوره فعاليتونه او درسونه وپيژني. LLP د لاندې مواردو په اړه د امريکا دفاع او بهرنيو چارو وزيرانو خبرولو لپاره د سيګار د قانوني واک مرکزي برخه ده: (1) بيارغونې پورې اړوند ستونزې او تشې، او (2) د سمون فعاليتونو لپاره اړتيا. دا د متحده ايالاتو بيارغونې هڅې پروړاندې سيستماتيک ستونزو په نښه کولو لپاره د سهم لرونکو سره مرستې ته د وړانديزونو او کومک چمتو کولو لپاره د سيګار 2014–2016 ستراتيژيک پلان بشپړونکی هم دی.

سيګار پدې ربع کې په افغانستان کې د متحده ايالاتو تمويل شوي بيارغونې هڅې د عناصرو او برنامې ساحې ته د پام اړولو لپاره د لوړ خطر يو ليست خپور کړ چې دا برخې په څانګړي توګه د پام وړ ضياع، درغلۍ او ناوړه ګټه پورته کوونې زيان سره مخ دي.

د راپور ورکوونې دورې په جريان کې، سيګار د مدني جوړجاړي ټرون د تادياتو څخه د متحده ايالاتو حکومت لپاره 53.7 مليون ډالر ترلاسه کړل. د سيګار تحقيقاتو د متحده ايالاتو حکومت لپاره نور 12 مليون ډالر وسپمول. جنايي تحقيقاتو د پنځه نيول کيدو، شپږ تورنو، شپږ محکوميتونو، يو مجازات کيدو، د متحده ايالاتو اردو يوه غړي منفک کيدل او په جريمو، جبرانونو او بيرته تادياتو کې 105,000 ډالرو پايلې درلودې. په افغانستان کې، 10 افراد د نظامي تاسيساتو ته ننوتلو څخه منع کړی شوي. سيګار 38 نوي تحقيقات پيل او 34 يې تړلي دي، چې پدې سره د روانو تحقيقونو شمير 328 ته رسيږي. د سيګار له تحقيقونو څخه تر اوسه ټول سپماوي له 570 ميليون امريکايي ډالرو څخه زياتې دي. د سيګار تعليق او مخنيوي برنامې 12 افراد او پنځه شرکتونه د تعليق يا مخنيوي لپاره

**د فعاليت پلټنې:** د وضع شويو معيارونو سره برابر، د پوره او مناسبو شواهدو ارزولو په اساس، ډاډ او پايلې برابرې کړي. د فعاليت پلټنې عيني تحليل وړاندې کوي تر څو اړونده اداره او مسول کسان د نتايجو څخه يې د خپل پروګرام د کړنو په وده او د لګښتونو په کمولو کې استفاده وکړي، او مسولو کسانو ته د اصلاحي ګام پورته کول اسانه کوي تر څو د عامه حساب ورکونې جوګه شي. د فعاليت پلټنې عموماً د حکومت د پلټنې منل شويو ستندردونو (GAGAS) او د اعتبار او اغيز عمومي مفتشينو شورا (CIGIE) د عمومي مفتش د فيدرال دفترونو کيفيت ستندردونو په اساس ترسره کيږي.

**تفتيشونه:** د ډيزاين، تطبيقولو ،او/يا د اداري عملياتو پايلې، پروګرامونو، يا پاليسيو، سيستماتيک او خپلواکه ارزونه ده. سيګار د تفتيش او ارزونې لپاره د CIGIE کيفيت معيارونو سره په مطابقت کې تفتيشونه پرمخ وړي، ترڅو په ټول افغانستان کې د ودانيو او زيربنا ساختماني چارو باندې کانګريس او خلکو ته معلومات چمتو کړي؛ او په مجموع کې يوه ارزونه چمتو کړي چې وټاکي ايا ودانۍ د قرارداد سره سمې جوړې، نومول شوي مقصد لپاره کارول کيږي او ايا ساتل کيږي.

**مالي پلټنې:** پدې اړه خپلواک ارزونه وړاندې کوي او مناسب ډاډ چې ايا د نهاد راپور ورکړ شوي وضعيت، پايلې او د سرچينو کارول د پيژندل شوي معيار سره په مطابقت کې وړاندې شوي که نه. سيګار د GAGAS په اساس پلټنې ترسره کوي، چې پدې کې د پلټنې د ستندرد په اړه د تجربه لرونکو عامه محاسبينو امريکايي انسټيټوټ راپورونه او په GAGAS نورې برابرې شوي اړتياوې شامل دي. سيګار د خپلواکو عامه محاسبينو (IPA) مالي پلټنو ارزونه هم کوي. کله چې يو IPA کومه مالي پلټنه ترسره کوي، سيګار د منطقي کړنلارو په مرسته د هغې موافقه له GAGAS سره ارزوي، البته دا کار د IPA د کار څخه د استفادې د حدودو او دا چې سيګار نومورې ادارې ته څومره مسوليت سپارلې دی، په نظر کې نيولو سره ترسره کيږي.

راجع کړي. لدغو افرادو څخه اوه يې په افغانستان کې د بيارغوني قراردونو پورې اړوند غلط کار يا تر اغيزې لاندې راوستو لپاره د دوی پروړاندې دوسيه شوي جنايي تورونو پراساس تعليق ته راجع شول. پدې ارجاعاتو کې د 2008 راهيسې سيګار لخوا راجع شوي افرادو او شرکتونو شمير 564 ته رسيږي چې 304 يې افراد او 260 يې تر نن نيټې پورې شرکتونه دي.

## پلټنې

سيګار د افغانستان د بيارغوني اړوند پروګرامونو او پروژو د فعاليت پلټنې، تفتيشونه او مالي پلټنې ترسره کوي. کانګريس ته د خپل وروستي راپور راهيسې، سيګار درې د فعاليت پلټنې، دوه تفتيشونه، شپږ مالي پلټنې راپورونه، او يو د پلټنې د خبرتيا ليک تکثير کړي. پدې ربع کې سيګار څلور د فعاليت نوې پلټنې هم پيل کړې چې د روانو فعاليت پلټنو ټولټال شمير 13 ته رسوي. د فعاليت پلټنې خپاره شوي راپورونو د افغان ښځو ملاتړ لپاره د تمويل او هڅو پلي کولو کې د دفاع وزارت، بهرنيو چارو وزارت او USAID پرمختګ؛ د ANP معاشاتو لپاره د متحده ايالاتو کلني تادياتو 300 مليون ډالرو پورې اړوند خطرات؛ او امريکا دفاع وزارت ته د سيګار د وړانديزونو دريځ ارزولی. د فعاليت پلټنو ټولټال اته وړانديزونه کړي؛ تفتيشونو شپږ وړانديزونه کړي. مالي پلټنو د داخلي کنټرول تشو او غير اجابت ستونزو د پاملې په توګه شاوخوا 23.6 مليون ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونو کې پيژندلي.

## د خبرتيا مکتوبونه

افغانستان د ليږد په منځ کې، د متحده ايالاتو اردو او ملکي چارواکو له سيګار څخه غوښتنې چې بې له ځنډ معلومات ورته چمتو کړي ترڅو له ضياع مخنيوی وشي او د متحده ايالاتو د بيارغونيزو پروګرامونو مؤثريت ډير شي. د سيګار له اصلي اهدافو يو يې د پلي کونکو ادارو او کانګريس ته د تعقيب وړ معلوماتو چمتو کول دي پداسې حال کې چې د توپير راوستو لپاره اوس هم وخت شتون لري. د دغه هدف لاسته راوړو لپاره، سيګار بې له ځنډ څخه د انديښنو په نښه کولو ته د خبرداري ليکونه استوي پداسې حال کې چې پلي کونکي اداري اوس هم د عمل کولو وړتيا لري. د راپور ورکووني دې دورې په جريان کې، سيګار د طبيعي ګاز پايپ لاين په اړه يو دخبرتيا ليک استولی چې ځينې برخې يې د TFBSO لخوا ترميم شوي وې.

> **د پلټنې خبرتيا ليک**
>
> - د سيګار پلټنې خبرتيا 14-15-AL: د TFBSO پايپ لاين

### د سيګار پلټنې خبرتيا 15-15-AL: د TFBSO پايپ لاين

د نومبر په 3 نيټه سيګار دفاع وزارت ته د افغانستان شمال کې موجود طبيعي ګاز پايپ لاين خونديتوب په اړه وليکل چې د TFBSO په مرسته رغول شوی. د افغانستان استخراجي صنعت پراختيا ته د متحده ايالاتو هڅو څخه د سيګار د پلټنې په جريان کې سيګار خبر کړی شو چې د شبرغان – مزار پايپ لاين له کلونو راهيسي زنګ وهلی او سوليدلی دی او 2004 او 2011 کلونو ترمنځ په ټيټ فشار فعاليت درلود. له 2011 راهيسي، د TFBSO 89.1 کلوميټر پايپ لاين رغولو يوه نوښت کې ښکيل و، مګر نوموړې پروژه تر هغه وخت پورې نه وه بشپړه شوې چې TFBSO په 21 نومبر 2014 افغانستان کې خپل کار بند کړ.



**د مزار** – شبرغان پایپ لاین د TFBSO په مرسته رغول شوی و. (د GIROA عکس)

د فرانسي میشته انجینری شرکت، سوفریګاز چې طبیعي ګاز کې تخصص لري، لخوا د جون 2004 یوه راپور د افغانستان ګاز لیږد او توزیع زیربنا په اړه د خپلې څېړنې پایلې وړاندې کړې. د سوفریګاز راپور د "زنګ، سولیدو، ضعیف ډیزاین، ټیټ کیفیت ویلډینګ او د پایپ سم ملاتړ نه شتون" له امله شبرغان – مزار پایپ لاین کې ډیری لیک (سوري ) په ګوته کړي. د سوفریګاز په وینا، دې تشو د خورا ناوړه ناکامۍ لپاره اوضاع برابر کړي، که څه هم راپور یادونه کړې چې دا خطر د پایپ لاین ټیټ فشار عملیاتو په واسطه کم شوی دی. سوفریګاز د شبرغان – مزار پایپ لاین د یوې ارزونې وړاندیز کړی ترڅو د لیک کچه او د پایپ لاین وضعیت مشخص شي، په بیله بیا د ترمیم پالیسۍ رامنځته کول او د درانده اغیزمنې شوي برخو بدلون په ګوته کولو لپاره.

TFBSO د پایپ لاین د زنګ او سولیدو د پراخوالي معلوملو لپاره د افغان ګاز شرکت (AGE) انجینرانو لخوا راټول شوې ډیټا وڅېړله. پداسې حال کې چې TFBSO مشخص کړه احتمالي بدلون تضمین شوی و، دوی یوازې د 15 کلومیتر پایپ برابرول انتخاب کړل چې AGE به یې بدل کړي. په هرصورت، AGE د TFBSO په ساحه کې کار بندولو دمخه د 15 کلومیتر څخه یوازې 12 کلو میتر وصل کړی.

د USAID او د امریکا سفارت د ماموریت د مشرۍ (COM) پرسونل د کابل سفارت د بیارغونې پروژې په اړه اندیښنې بیان کړي، د دې په ګوته کولو چې د پایپ لاین یوازې کوچنې شمیر برخې د زنګ لپاره ازمول شوې وې. علاوه لدې، اندیښنه شتون لري چې AGE د پاتې 3 کلو میتر بدلون بشپړولو لپاره ظرفیت نه لري، د لیک او سورو چیک کولو لپاره فشار ډیروي، او د مداوم ملاتړ او لاربښود پرته راتلونکی ساتنه ترسره وي، دا اندیښنې د سیګار لخوا یادول شوې.

د دې اندیښنو په اړه د TFBSO ځواب په وینا، 12 کلومیتر پایپ لاین چې دې بدل کړی د لیک او سورو اکثریت لپاره محاسبه شوی، او TFBSO یادونه کوي چې AGE سره یې په بریا مرسته کړې ترڅو د پایپ لاین دوه برخې وتړي او پاتې پنځه څخه څلور یې AGE په مستقل ډول وتړي. په هرصورت، اخرنۍ برخه یې لا تړلو ته د امنیتي اندیښنو او له سیمې د امنیتي ځواکونو د وتلو له امله پاتې ده. که څه هم د TFBSO ځواب د بیلابیل ظرفیت جوړونې هڅو توضیحات وړاندې کوي، د پایپ لاین په سمه توګه سروی لپاره د AGE وړتیا په اړه سیګار اندیښمن پاتې دی. TFBSO په خپل ځواب کې په نښه کوي چې "ټول 89.1 کلومیتر پایپ لاین د مستقیم ارزونې میتود له لارې د AGE په واسطه د لیک او سورو لپاره سروی شوی." په هرصورت، د TFBSO ځواب په ګوته کوي چې داسې ناامن سیمې شتون لري چې د لیک او سورو سروی پرمخ وړو لپاره د AGE مخه نیسي. د دې سربیره، TFBSO د AGE څخه تمه لري چې "که اړین وي او امنیتي اوضاع اجازه ورکړي" پایپ لاین سروی کړي. د دلیل په پام کې نیول پرته، د پایپ لاین بشپړ تفتیش لپاره د AGE وړتیا نه درلودل د اندیښنې لامل دی.

## د فعالیت پلټنې راپورونه خپاره شول

پدې ربع کې سیګار د فعالیت درې پلټنې خپرې کړې چې د افغان ښځو ملاتړ لپاره د تمویل او هڅو پلې کولو کې د دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID پرمختګ؛ د ANP معاشاتو لپاره د متحده ایالاتو کلنې تادیاتو 300 ملیون ډالرو پورې اړوند خطرات؛ او د امریکا دفاع وزارت ته د سیګار د وړاندیزونو دریځ ارزولی دی.

### د فعالیت بشپړې شوې پلټنې

- پلټنه 15-24-AR: افغان ښځې: د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID پرمختګ مشخص کولو او سنجولو لپاره جامع ارزونو ته اړتیا ده
- پلټنه 15-26-AR: افغان ملي پولیس: د متحده ایالاتو تمویل شوي معاشاتو ورکړې په کال کې له 300 ملیون ډالرو ډیر یې د یوڅه تایید شوي یا تلفیق شوي ډیټا پراساس دي
- پلټنه 15-29-AR: د امریکا دفاع وزارت: د سیګار د پلټنې او تفتیش راپورونو د ټولو وړاندیزونو له 75% ډیر یې پلي شوي.

**پلټنه 15-24-AR: افغان ښځې**

**د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID پرمختګ مشخص کولو او سنجولو لپاره جامع ارزونو ته اړتیا ده**

له 2001 راهیسې، د متحده ایالاتو حکومت د افغان ښځو او انجونو د ژوند ښه کولو لپاره د لومړیتوب په توګه هڅې کړي او خپلې ژمنې یې د کابل سفارت جیندر ستراتیژۍ؛ د افغان ښځو لپاره ډیزاین شوي تمویل؛ او د دې زیان لیدونکي قشر ملاتړ ته برنامو له لارې پرمخ وړي. په هرصورت، د افغان ښځو لپاره اوضاع کې د پرمختګ راپورونو ورکولو برسیره، د متحده ایالاتو ادارو، کانګریس، غیر دولتي سازمانونو، او د افغان مدني ټولنې غړو اندیښنې بیان کړي چې افغان ښځې اوس هم ننګونو سره مخ دي او د 2001 راهیسې ترلاسه شوي لاسته راوړنو ساتل ممکن ستونزمن وي.

دا پلټنه افغان ښځو لپاره د متحده ایالاتو ډیزاین شوي تمویل باندې د سیګار 2010 راپور تعقیب دی. د دې پلټنې اهداف د دې ارزول و چې (1) تر کومې کچې د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت، او USAID کولی شي د 2011 څخه تر 2013 مالي کلونو اوږدو پورې د افغان ښځو ملاتړ لپاره د متحده ایالاتو پلي شوي تمویل او هڅې په نښه او تعقیب یې کړي؛ (2) وټاکي چې د سیګار 2010 راپور راهیسې د متحده ایالاتو ادارو هڅې تر کوم حد پورې وده کړې؛ او (3) و ارزوي چې د افغان ښځو ملاتړ لپاره د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID د دوی د هڅو بشپړ اغیز تر کومې کچې ارزولی، او چمتو دي چې ورته کار د اوسني او راتلونکي ننګونو په پام کې نیولو سره له 2014 وروسته پرمخ وېسي.

که څه هم له 2011 څخه تر 2013 مالي کلونو په اوږدو کې د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID د افغان ښځو حالاتو کې لاسته راوړنو او پرمختګونو راپور ورکړی، سیګار موندلي چې هیڅ داسې جامع ارزونې شتون نه درلود ترڅو له مخې یې وارزول شي دا لاسته راوړنې د متحده ایالاتو ځانګړي هڅو مستقیم پایله وه. علاوه لدې، که څه هم ادارې په برنامه او د پروژې په کچه د دوی ډیرې انفرادي هڅې نظارت او څیړي، هیڅ یوې ادارې د یوې ادارې ترکچې د دې هڅو د اغیز ارزولو ته دا معلومات ندي راټول کړي چې د افغان ښځو پر ژوند یې درلود، د دولتي برنامو اداره کولو او ارزولو کې د غوره فعالیتونو سره په مطابقت کې، او لکه څنګه چې د ښځو، سولې او امنیت لپاره د متحده ایالاتو ملي عمل پلان 2011 کې ویل شوي، او د متحده ایالاتو د کابل سفارت د 2012 کال د جیندر ستراتیژۍ.

په ګډه د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID د 2011 څخه تر 2013 مالي کلونو اوږدو پورې د افغان ښځو ملاتړ لپاره 652 پروژو، برنامو او نوښتونو کې د لږترلږه 64.8 ملیون ډالرو مصرف راپور ورکړی. په هرصورت، سیګار موندلي چې د افغان ښځو ملاتړ لپاره د ادارو بشپړ حد روښانه نه و. د مثال په توګه، د بهرنیو چارو وزارت او USAID په 17 پروژو د اضافي 850.5 ملیون ډالرو د مصرف راپور ورکړی، مګر نشي کولی د هغه پروژو ځانګړی مقدار په ګوته کړي چې مستقیم افغان ښځې یې ملاتړ کولې. د حساب ورکولو نه شتون اساسا د هغه حقیقت له امله دی چې د درې واړو ادارو څخه یوې یې هم د دې پروژو پورې اړوند تمویل د تعقیب لپاره مؤثر میکانیزمونه نه درلودل.

سیګار دا هم موندلي چې د افغان ځواکونو په ګټه پروژو او برنامو لپاره د اداري مسؤلیت ویشل شوی و. د مثال په توګه، افغان ځواکونو پورې اړوند د وزارتونو ځینو پلي کولو، تعقیب او راپور ورکولو لپاره د امریکا دفاع وزارت ډېرې قوماندې، د بهرنیو چارو دفترونه او بیورو ګاني مسؤلیت لري. د یوې پایلې په توګه، د امریکا دفاع وزارت یا بهرنیو چارو وزارت هیڅ یو دفتر ور نه و چې افغان ځواکونو ملاتړ لپاره د دوی د وزارت هڅو بشپړ حد په چوپړتیا سره مشخص کړي. برسیره پردې، د USAID چارواکو سیګار ته وویل چې که څه هم د جینډر مساوات او د ښځو واکمنولو پالیسي اهداف د دوی ټولو برنامو کې مدغم شوي، د دې امکان شتون نه درلود چې د اداري مالي مدیریت سیستم کې د جینډر تمویل تعقیب شي، او پلي کونکي ملګري یې د جینډر په واسطه تمویل نه جلا کوي. د هغه برنامو او اړوند تمویل د برخې پیژندلو وړتیا نه درلودل چې په ځانګړي توګه د افغان ښځو ملاتړ کوي، کولی شي د اداري د هڅو ناسم راپور ورکولو لامل شي.

د افغان ښځو ملاتړ لپاره د متحده ایالاتو ټاکل شوي تمویل باندې د سیګار 2010 راپور راهیسې، د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID پدې سیمه کې د دوی د هڅو همغږۍ پرمختګ لپاره ګامونه پورته کړي. د 2010 په وروستیو کې رامنځته شوي د ادارو ترمنځ جینډر کاري ګروپ او د افغانستان د جینډر کاري ځواک دواړه، د متحده ایالاتو لپاره لومړني میکانیزمونه دي چې په افغانستان کې معلومات رد و بدل او هڅې همغږې کړي. درې واړه اداري په افغانستان کې خپلې هڅې د ائتلاف ملګرو، افغان وزارتونو او نړیوال او غیر دولتي سازمانونو سره هم همغږې کوي، که څه هم د دې کار کولو لپاره میکانیزمونه د میتود او تکرار له پلوه مختلف دي. د درې واړه ادارو څخه چارواکو راپور ورکړی چې که څه هم د افغان ښځو ګټو لپاره ځانګړو ټاکل شویو پروژو، برنامو او نوښتونو شمیر به د 2014 وروسته یو کړی شي، د افغان ښځو په ملاتړ د دوی هڅې به دوام ولري او په ځینې حالتونو کې به د دې هڅو تمویل ډېر کړی شي. په هرصورت، تر نن نیټې پورې د دې هڅو د اغیز د اداري په کچه ارزونو نه شتون، د افغان ښځو ملاتړ ته د هڅو پلي کولو کې روانو ننګونو سره په ګډه، او فعالیتونو باندې د متحده ایالاتو د څار کمیدل به دا د ادارو مشرانو او کانګریس لپاره ستونزمن کړي چې د افغان ښځو ملاتړ کې راتلونکي برنامو او تمویل په اړه پوه ترلاسه او پریکړې وکړي.

سیګار وړاندیز کوي چې د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزیران او د USAID اداره کونکی ګامونه پورته کړي او په 90 ورځو کې بیرته سیګار ته راپور ورکړي، ترڅو (1) د هغه پروژو، برنامو او نوښتونو دواړه مکلف شوي او مصرف شوي تمویل او شمیر د تعقیب لپاره د اداري په کچه تعقیب میکانیزمونه رامنځته او پلي کړي چې په بشپړ ډول یا یوځه برخه یې د افغان ښځو ملاتړ لپاره وي؛ (2) د برنامې د کچې شته نظارت او ارزونې ډېټا او راپورونه وکاروي او د افغان ښځو ملاتړ لپاره د هرې اداري د هڅو د اداري په کچه ارزونه پرمخ ویسي، ترڅو د راتلونکي برنامو او ارزونو لپاره معیار په توګه وکارول شي؛ او (3) په دوامدار توګه د افغان ښځو ملاتړ لپاره د هرې اداري هڅو د ارزونو لپاره یو پلان او زماني چوکاټونه رامنځته کړي چې په افغانستان کې د عملیاتي چاپیریال بدلون لپاره وکتل شي او د پلان پر مخ تګ پلي کړي. د دې راپور پیښ لیک باندې نظر ورکولو کې، د امریکا دفاع وزارت تر یوې برخې پورې د سیګار وړاندیزونو سره موافقت وکړ، او په ګوته یې کړل چې نوموړی وزارت پلان لري افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) کې ښځو باندې راتلونکی مصرف تعقیب کړي او دا چې د پرمختګ موجود راپورونه یې په افغانستان کې د ښځو بشپړه ارزونه چمتو کوي.



**د سیګار پرسونل د ANP معاشاتو حاضرۍ ډیټا او پروسو د یوې پلټنې برخې په توګه د ANP پیژند کارتونه** او حاضري تاییدوي. (د میتیو میلر لخوا د سیګار عکس)

### پلټنه 15-26-AR: افغان ملي پولیس

**د متحده ایالاتو تمویل شوي معاشاتو ورکړې په کال کې له 300 ملیون ډالرو ډیر یې د یوځه تایید شوي یا تلفیق شوي ډیټا پراساس دي**

له 2002 راهیسې، متحده ایالاتو د ANP روزلو، تجهیز، او ساتلو لپاره له 15 ملیارد ډالرو ډیر چمتو کړي. په 2002 کې، د ANP معاشاتو او نور لګښتونو تمویل لپاره متحده ایالاتو او نورو نړیوالو ډونرانو د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA) رامنځته کړ چې د ملګرو ملتونو پراختیا برنامې (UNDP) لخوا اداره شوی. د 2014 جولای پورې، نړیوالي ټولني دغه فنډ ته 3.6 ملیارد ډالر مرسته ورکړې چې د ټولې مرستې 1.3 ملیارد ډالر یې متحده ایالاتو برابر کړي.

د 2014 مارچ کې، د امنیت لیږد ګډه قوماندانۍ—افغانستان (CSTC-A) راپور ورکړ چې ANP ګمارل شوي 152,678 پرسونل درلودل، چې د خواک منل شوي 157,000 شمیر 97% برخه جوړوي. که څه هم MOI او ANP د پرسونل او معاشاتو حاضرۍ ډیټا راټولوي، CSTC-A او UNDP د دې ډیټا تصدیق ته اړتیا لري. درست ډیټا د افغان دولت لپاره لازمي ده ترڅو د هیواد امنیت او ثبات څخه ډاډمن شي — د مثال په توګه د پولیسو د معاشاتو بشپړ او سمه ورکړه — او د متحده ایالاتو او نورو لپاره د تمویل کچو او لیږد ستراتیژۍ ټاکلو ته څکه چې د 2014 پای کې د ANSF د افغانستان امنیت په غاړه اخلي.

د 13 کالو او ANP لپاره افغان دولت ته معاشاتو مرسته کې د ډیرې ملیارد ډالرو سربیره اوس هم هیڅ ډاډ شتون نلري چې د پرسونل او معاشاتو حاضرۍ ډیټا سمه وي. له 2006 راهیسې، د متحده ایالاتو پلټنې ادارو د تناقص پرته د ANP پرسونل او معاشاتو حاضرۍ ډیټا تعقیب او راپور ورکولو کې ستونزې موندلې. که څه هم ټول دخیل نهادونه — د متحده ایالاتو او افغان دولتونه او په بیله بیا نړیواله ټولنه کار کوي ترڅو د ANP پرسونل او معاشاتو حاضرۍ مؤثره پروسې رامنځته کړي، پدې پروسو کې پراخه داخلي کنټرول تشې دوام لري. د ANP معاشاتو حاضرۍ پروسې د 2011 یوې پلټنه کې سیګار ډیرې ضعفونه وموندل — لکه ناسازګار او نا تایید ډیټا، د ډیټا د سازګارۍ او تایید طرزالعملونو نه شتون، او د بریښنایي سیستمونو پلې کولو کې ستونزې د CSTC-A، UNDP، LOTFA، او MOI او MOF پروړاندې ننګونو ته دوام ورکوي.

CSTC-A او UNDP د پرسونل او معاشاتو حاضرۍ ډیټا راټولولو او په درستۍ راپور ورکولو لپاره MOI او ANP باندې تکیه کوي. په هرصورت، د حاضرۍ ډیټا راټولولو لپاره د ANP پروسه کوم چې د ANP ټول پرسونل او معاشاتو حاضرۍ اساس دی، ضعیف کنټرول او محدود څار لري. د ANP څارنیز چارواکي په مجموع کې د قطعو په کچه هغه افسرانو سره یوځای ندي چې د حاضرۍ ډیټا راټولولو مسؤل دي. علاوه لدې، نه د CSTC-A او نه هم د UNDP چارواکي د ډیټا راټولولو نظارت لپاره حاضر ندي او پروسه باندې محدود پوهه او اغیز یې راپور کړی. د راپورونو له مخې د حاضرۍ ثبتولو لپاره د راتګ او تلو ورځنۍ سیسټم یوازې د افسرانو لخوا کارول شوی او پرسونل پکې لیست شوي ندي، نو هیڅ اسناد شتون نلري چې د قطعې قوماندانان د دوی د مادون پرسونل د حاضرۍ په درستۍ سره راپور ورکوي. دا ټول فاکتورونه د دې لامل کیږي چې پرسونل ته د هغه ورځو په بدل کې معاش ورکړل شي چې کار یې ندی کړی، حتی د نظارتي پرسونل د پوهې سره سم یا د هغه په ناپوهۍ کې.

سیګار موندلي چې د ANP پرسونل او معاشاتو حاضرۍ ډیټا لپاره کارول کیدونکي دوه اصلي برېښنایی سیستمونه — د افغان بشري سرچینو د معلوماتو مدیریت سیستم (AHRIMS) او د معاشاتو حاضرۍ برېښنایی سیستم (EPS) په بشپړه توګه کار نه کوي، د یوبل سره مستقیم ارتباط نشي نیولی، او د ټول پرسونل او معاشاتو ډیټا پروسې یوبل سره نه اړوي راړوي. دا اوضاع شتون لري، ځکه چې د ANP پیژند کارتونه او پیژند شمیرې چې MOI تکثیر کړي د دې لپاره دي چې دواړه سیستمونو ته د پلین کار ورکړي، ولې دا د ورځنۍ حاضرۍ لپاره سم او په مؤثره توګه نه کارول کیږي او د ANP ځیني پرسونل تراوسه د پیژند دغه کارتونه ندي اخیستي. برسیره پردې، دواړه سیستمونه د پیژند غلط او ورک شمیرو سره د زرهاو پرسونل ثبتونه لري. د پایلې په توګه، کنټرولونه لکه د ډیټا اوتومات لیږد، د سیستمونو ترمنځ د پرسونل سازګار کولو ظرفیت، او په لاس لیکلي راپورونو باندي راکمه شوي تکیه، ندي کارول شوي، او د ANP پرسونل او معاشاتو ورکړې د بې وخته، ناسم او غلط ډیټا باندې تکیه کولو خطرات پرځای پاتې دي.

حتی که AHRIMS او EPS په بشپړ ډول یو کړی شوي و سیګار وموندل چې سیستمونو به بیا هم د داخلي کنټرول ضعفونه درلودی. (1) AHRIMS وړ نه و چې د فعال او غیر فعال پرسونل ترمنځ توپیر وکړي، چې د CSTC-A لپاره ستونزمن کوي په سیستم کې د ANP پرسونل څو سلنه فعال ثبت دي؛ او (2) تراوسه داسې ډیټا نلري چې د ANP فعال پرسونل د منل شوي بست سره اندازه کړي چې هر نفر ډکول. په ورته توګه، (1) EPS په ټولو ولایتي قوماندانیو کې په بشپړ ډول فعال نه و، چې لامله یې د ANP پرسونل نیمایی دبره ثبتونه لاسي ډیټا ته اړباسي؛ (2) د ولایت په کچه مجاز پرسونل څخه ډیر تادیاتو مخه نه نیسي؛ او (3) نشي کولی چې محاسبه کړي یا تایید کړي ایا تشویقي تادیات یا د معاشاتو کمول درست و که نه.

سیګار وموندل چې د ANP نږدې 20% پرسونل د دوی بشپړ معاش نه ترلاسه کولو خطر کې دي ځکه چې دوی ته د MOI لخوا ګمارل شوي مامور په لاس نغد معاش ورکول کیږي، داسې یوه پروسه چې اسناد او حساب ورکول پکې شتون نلري. د CSTC-A او UNDP چارواکو سیګار ته وویل چې د کورنیو چارو وزارت لخوا ټاکل شوي مامورینو باندې محدود څار شتون لري او لوړ خطر چې دغه فنډونو کې ممکن اختلاس وشي. علاوه لدې، CSTC-A راپور ورکړی چې د معاشاتو ورکړې سیستم د دغه مامورینو لخوا له فساد ډکې کړنې "کولی شي د یوه پولیس د معاش تر 50 /[سلنه] واخلي."

CSTC-A، UNDP او MOI هریو د ANP پرسونل او معاشاتو حاضرۍ ډیټا د تاییدولو لپاره مسؤل دي. د دې نهادونو لخوا ترسره شوی تاییدونه عمومیت لرونکي نه و او همغږي شوي نه و، او هیڅ یوه د ANP پرسونل او معاشاتو حاضرۍ ټولو پروسو پوښلو لپاره جامع تایید په لاره ندی اچولی. CSTC-A ونه شو کولی سیګار ته لیکلي طرزالعملونه چمتو کړي چې څنګه دا د ANP پرسونل ټولټال ته اعتبار ورکوي او چارواکو تایید کړي چې په تیر کال کې دوی پرته له پوښتنې د MOI لخوا چمتو شوي ټول پرسونل ټولټال منلی دی. ځکه چې CSTC-A د سازګارۍ اړین فعالیتونه پرمخ نه وړي، قومانده د دې وړ نده چې په خپلواک توګه تایید کړي چې د ANP پرسونل سمه شمیره راپور کیږي او دا چې دوی ورته پرسونل دي څوک چې د متحده ایالاتو او نورو ډونرانو تمویل شوي معاشاتو تادیات لاسته راوړي. CSTC-A یادونه کړی چې د کارمندانو محدودیت د دې د معیاري عملیاتي طرزالعملونو له مخې اړین د پلټنې بشپړې برنامې پلي کولو مخه نیولې. د CSTC-A په 2013 کې د ANP معاشاتو

حاضرۍ ډیټا یوازینۍ پلټنې جدي تشې په نښه کړې، پشمول د معاشاتو ناسم کمول او ناوخته تادیاتو.
د CSTC-A چارواکو دا راپور هم ورکړی چې افغان دولت اړین میاشتني مالي او ډیټا راپورونه ندي چمتو کړي او CSTC-A د کارمندانو کمښت له امله دغه اسناد ندي غوښتلي.

UNDP د ANP معاشاتو حاضرۍ ډیټا او د LOTFA مخارجو د منظم تایید لپاره یو خپلواک څارنیز مامور سره قرارداد کړی. سیګار موندلي چې د پرسونل فزیکي تایید لپاره د مامور بیلګه اخیستني میتودولوژي په کافي توګه روښانه نه وه او د دې په نظارتي پلان یا راپور ورکولو کې مستند شوې، او په متناقص ډول پلي شوې. دې متناقص طریقې ممکن په مصنوعي توګه په بریا سره تایید شوي پرسونل سلنه له 59% څخه خورا لوړ 84% ته پورته کړې وي.

لکه څنګه چې د 2014 پای کې متحده ایالاتو او ائتلاف ځواکونه وتلو ته دوام ورکوي او امنیتي مسؤلیت افغان دولت ته لیږدوي، نو متحده ایالاتو حکومت به د ANP ډیټا ټولولو پروسو باندې ډیریدونکی محدود سره څار ولري. د پایلې په توګه، د متحده ایالاتو حکومت به د پرسونل ډیټا درستۍ د تاییدلو لپاره لانور د MOI په وړتیا تکیه ولري، په بیله بیا د LOTFA په فنډونو د UNDP نظارت هم. غیر لدې چې MOI د ANP پرسونل او معاشاتو ډیټا د درستۍ تایید څخه ډاډ ترلاسه کولو لپاره ظرفیت رامنځته کړي، یو لوی خطر شتون لري چې د ANP معاشاتو لپاره په کلني ډول د متحده ایالاتو حکومت له 300 ملیون څخه ډیرو ډالرو تمویل لویه برخه ضایع او ناوړه ګټه ترې پورته شي.

سیګار د متحده ایالاتو ځواکونه — افغانستان (USFOR-A) قوماندانانو ته د MOI، UNDP او نورو ډونرانو سره په همغږۍ کې وړاندیز کوي چې د ANP پرسونل او معاشاتو حاضرۍ ډیټا راټولولو پروسو د نظارت ښه کولو لپاره پنځه ګامونه پلي کړي؛ ډاډ ترلاسه کړي چې د ANP تشویقي تادیات او معاشات درست دي؛ او د ANP لپاره د LOTFA له لارې د متحده ایالاتو او نورو چمتو شوي تمویل نظارت ته وده ورکړي. پدې ګامونو کې شامل دي: د ټول ANP پرسونل او معاشاتو حاضرۍ ډیټا د تعقیب او راپور لپاره د بشپړ کاري او مدغم بریښنایي سیسټمونو رامنځته کول؛ د داسې پروسې پلي کول چې تایید کړي د ANP پرسونل چې د مامور له لارې معاش ترلاسه کوي پوره او درست تادیات دي؛ او ډاډ ترلاسه کړي د LOTFA نظارتي استازی د کار وړ میتودولوژي رامنځته او مستند کړي او په سازګار ډول یې پلي کړي کله چې د پرسونل فزیکي تایید ترسره کوي.

**پلټنه 15-29-AR: د امریکا دفاع وزارت**
**د سیګار د پلټنې او تفتیش راپورونو د ټولو وړاندیزونو**
**له 75% ډیر یې پلي شوي.**

سیګار دا بیاکتنه پیل کړې چې (1) د امریکا دفاع وزارت ته په ټولو فعالیت پلټنو، مالي پلټنو، او تفتیشونو کې د سیګار شوي وړاندیزونو دریځ په نښه او ارزونه یې وکړي؛ او (2) د خلاصو وړاندیزونو په نښه کولو لپاره د امریکا دفاع وزارت لخوا اخیستل شوي یا پلان شوي ګامونو بیاکتنه وکړي.

د دې اهدافو پوره کولو لپاره، سیګار له جنوري 2008 څخه تر جون 2014 پورې د امریکا دفاع وزارت ته کړي ټول 209 وړاندیزونه وارزول، او د خلاصو، تړل شوي او پلي شوي، او تړل شوي مګر پلي شوي ندي وړاندیزونو د شمیر مشخص کولو لپاره یې څیړنې ترسره کړې.

په څیړنه کې سیګار هر وړاندیز د سیکتور پراختیا، وړاندیز شوي عمل او ټاکل شوي هدف له مخې کتګوري کړل. په نهایت کې، سیګار د امریکا دفاع وزارت لخوا چمتو شوي اسناد وارزول ترڅو د لګښتونو سپمولو یا فنډونو بیرته ترلاسه کولو بڼه کې د سنجش وړ مالي ګټې مشخص کړي.

سیګار په جنوري 2008 کې تر جون 2014 پورې د سیګار له تفتیش څخه د امریکا دفاع وزارت ته 209 وړاندیزونه کړي. د 196 تړل شوي وړاندیزونو څخه د امریکا دفاع وزارت تر نن نیټې پورې 161 یې پلي کړي. سیګار د دغه 161 وړاندیزونو درې جلا څیرنې په لاره واچولې او وې موندل:

- یوسل پنځه وړاندیزونه د ANSF جوړولو هڅو کې مرستې او د متحده ایالاتو پرسونل او بیارغونې ساحو د امنیت څخه ډاډ ترلاسه کولو لپاره ډیزاین شوي و.
- څلور اتیا وړاندیزونه د حساب ورکوونې ډاډ او د قرارداد فنډونو نظارت هدف لپاره ټاکل شوي و یا دا چې ودانۍ او تسهیلاتو په خوندي توګه جوړولو او د ټاکل شوي هدف لپاره کارېدو ډاډ ترلاسه کړي.
- نهه اتیا یې د امریکا دفاع وزارت ته د ټاکل شوي اهدافو ترلاسه کولو وړاندیزونه و (1) ارزونې او بیاکتنې پرمخ ویسي یا وده ورکړي ورته: (2) طرزالعملونه، پالیسي یا نورې لارښوونې رامنځته او وده ورته ورکړي یا شته یې تعقیب کړي؛ یا (3) د سیګار لخوا د تسهیلاتو جوړولو پیژندل شوي اندیښنې په نښه کړي.

د امریکا دفاع وزارت لخوا د دې وړاندیزونو پلي کیدو په افغانستان کې بیارغونې فعالیتونو باندې د متحده ایالاتو مصرف شوي فنډونو حساب ورکوونې ته وده ورکړه. د مثال په توګه، د اوه پلټنو وړاندیزونو تر 1.1 ملیارد ډالرو پورې سپمولو یا د فنډونو غوره استعمال پایله درلوده. په یوه برخه کې سیګار وموندل چې د امریکا دفاع وزارت د ANSF لپاره د میشته کولو جامع پلان نلري چې په راتلونکي کې د پرسونل کمښت ملاحظه کوي. د سیګار د وړاندیز یوې پایلې په توګه، د امریکا دفاع وزارت CSTC-A د ټولو 101 پروژو یا ځینې برخو ساختماني چارې پرې کړې، چې تر 800 ملیون ډالرو پورې سپمولو لاسته راوړنه یې درلوده. برسیره پردې، له دوه پلټنو څخه وړاندیزونو د تر پوښتنې لاندې لګښتونو یا نور احتمالي بیرته ترلاسه کیدونکي فنډونو له 11.1 ملیون ډالرو ډیرو د بیرته لاسته راوړو پایله درلوده. په ځانګړې توګه، د متحده ایالاتو د انجینرانو قل اردو (USACE) د دفاع بیس قانون د بیمې برنامې یوې پلټنې 58.5 ملیون ډالر د احتمالي بیرته ترلاسه کیدونکي فنډونو په

توکه وپیژندل. د سیګار وړاندیزونو ته په ځواب کې، USACE د متحده ایالاتو حکومت یا قراردادیانو ته 9.9 ملیون ډالر پور په نښه او راټول کړی.

سیګار اضافي 35 وړاندیزونه وتړل چې د ډیری دلایلو له امله ندي پلي شوي:

- پنځلس وړاندیزونه د دې لامله وتړل شو چې د امریکا دفاع وزارت یې د پلي کولو کافي شواهد وړاندي نه کړل.
- اوه وړاندیزونه د دې لپاره وتړل شو چې یا خو د امریکا دفاع وزارت ورسره موافقت نه درلود او/یا د پلي کولو لپاره یې ګام نه و اخیستی، او سیګار باور لري چې نور ګامونه به پدې اړه وانه اخیستل شي.
- اوه وړاندیزونه د دې لپاره وتړل شو چې د امریکا دفاع وزارت په وخت سره پرې عمل نه و کړی، چې د وړاندیز بحث یې اړولی.
- شپږ وړاندیزونه د دې لپاره وتړل شو چې د پلټنې پلان شوی کار دغه وړاندیزونه لغوه کول.

د خلاص پاتې 13 وړاندیزونو څخه نهه یې د متحده ایالاتو مرکزي قوماندې (CENTCOM) مادون قوماندو، یو د امنیت نړیوال مرستندویه ځواک، یو USACE، یو د اردو قرارداد کولو قوماندې، او یو د امریکا دفاع وزیر دفتر ته شوي و. سیګار خلاص وړاندیزونه څارې ترڅو په ګوته کړي چې د امریکا دفاع وزارت د دغه وړاندیزونو پلي کولو لپاره مناسب ګامونه پورته کوي که نه. پدې راپور کې هیڅ نوي وړاندیزونه شتون نلري.

## پدې ربع کې د فعالیت نوې پلټنې اعلان شوې

پدې ربع کې سیګار څلور د فعالیت پلټنې پیل کړې. دا پلټنې به د ANA تخنیکي تجهیزاتو ساتنې برنامې (A-TEMP) ته د دفاع وزارت ملاتړ؛ د FY 2011 افغانستان زیربنا صندوق (AIF) پروژو بشپړولو کې د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو پرمختګونه؛ د USAID د ثبات نوښتونو اغیزو سنجولو (MISTI) قرارداد کارول ترڅو خپلو د ثبات برنامو کې د نوموړي اداري پرمختګ په ګوته کړي؛ او په افغانستان کې لومړني او منځني تعلیم کیفیت ښه کولو او ورته لاسرسي ډیرولو لپاره د متحده ایالاتو حکومت هڅې وارزوي.

### د ANA وسایطو ساتنې او ظرفیت جوړونې لپاره د افغانستان د تخنیکي تجهیزاتو ساتنې برنامه (A-TEMP)

د 2010 سپتمبر کې، د افغان یو کړی شوي ملاتړ خدماتو JV (AISS) ته د ANA د A-TEMP ملاتړ لپاره د ساتنې او ظرفیت جوړونې ټاکلي مقدار نږدې 30 ملیون ډالرو قرارداد ورکړل شو. تر 2014 اکتوبر 8 پورې، قرارداد 46 ځله اصلاح او ارزښت یې تر 303 ملیون ډالرو پورې لوړ کړل شو. په 2013 دسمبر کې، سیګار مایر هاف مین مککین .P.C سره د AISS لخوا په قرارداد کې پیښ شوي لګښتونو 31,886,195 ډالرو پلټنې لپاره قرارداد وکړ. مایر هاف مین مککین د داخلي کنټرول تشو څلور موارد او د قرارداد مقرراتو یا نافذه قوانینو سره د اجابت نه درلودو پنځه موارد راپور کړل، دې کار پلټونکي وهڅول چې ټولټال 2,651,664 ډالرو په اړه د ناملاتړ شوي لګښتونو په توګه پوښتنه وکړي. په 2014 اپریل کې د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړ چې د پام وړ پرمختګ برسیره، ANSF د راپور ورکوونې دورې پرمهال ډیری ننګونو سره مخ کیدو ته دوام ورکړ. په ځانګړي توګه، یادونه یې کړې چې د ANSF لوژستیکي او پیاوړتیا ظرفیتونه د پرمختګ په حال کې پاتې دي.

**د نویو فعالیتونو پلټنې**

- د ANA وسایطو ساتنې او ظرفیت جوړونې لپاره د افغانستان د تخنیکي تجهیزاتو ساتنې برنامه (A-TEMP)
- د افغانستان د زیربنا وجهي صندوق (AIF) تعقیب
- د USAID د ثبات نوښتونو برنامې (MISTI) د اغیزو سنجول
- د متحده ایالاتو د افغانستان لومړني او منځنې تعلیم سیستمونو ته وده ورکولو لپاره هڅې

دا پلټنه به د ANA د A-TEMP سره د امریکا دفاع وزارت ملاتړ بیاکتنه وکړي. په ځانګړي توګه سیګار پلان لري چې مشخص کړي (1) تر کوم حد پورې د ANA A-TEMP خپل اهداف ترلاسه کوي، او (2) ایا د ANA A-TEMP د قرارداد کلي اړتیاوې پوره کیږي او که نه پوره کیږي نو دلایل یې وارزول شي چې ولې.

### د افغانستان د زیربنا وجهی صندوق (AIF) تعقیب

په تیره لسیزه کې، د نورو شیانو ترمنځ د برېښنا تولید، لیږد، او توزیع؛ بندونو پرمختګ؛ او ټرانسپورټیشن پرمختګونو لپاره په افغانستان کې د کلیدي زیربنا جوړولو یا بیارغولو په تکل د متحده ایالاتو حکومت ملیاردونه ډالر مصرف کړل. د دې هڅو د برخې په توګه، کانګریس AIF ته له 2011 راهیسې 1.3 ملیارد ډالر مختص کړي، او د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو ته یې واک ورکړی چې په ګډه د ورته ډول لوی زیربنایی پروژې رامنځته، تصویب او پلې یې کړي. USAID د بهرنیو چارو وزارت لپاره AIF پروژې پلې کوي، او USFOR-A د USACE له لارې د امریکا دفاع وزارت لپاره د AIF پروژې پلې کوي.

د FY 2011 لپاره د ملي دفاع واکمنی قانون غوښتنه کوي چې د AIF پروژې باید په ګډه د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارت لخوا رامنځته او تصویب شي، مګر د امریکا دفاع وزارت سره په همغږی د بهرنیو چارو وزارت لخوا پلې شوي. په هرصورت، د بهرنیو چارو او د امریکا دفاع وزارت ممکن په ګډه وټاکي چې د امریکا دفاع وزارت باید یوه پروژه پلې کړي. د FY 2011 لپاره، د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو اوه پروژې په ګوته کړي چې باید د AIF تمویل لاسته راوړي: پنځه پروژې د برېښنا سیکتور ته وده ورکولو لپاره، یوه د سړک پروژه او یوه پروژه د ولایتي محکمو یا قضایی مرکزونو جوړول یا پرمختللي کول.

په 2012 جولای کې، سیګار دې پروژې پورې اړوند اندېښنې په ګوته کړې او د ګامونو اخیستو وړاندیز یې وکړ ترڅو د دې ډاډ ترلاسه کولو کې مرسته وکړي چې د AIF پروژې د ترهګرۍ ضد اهداف لاسته راوړي. سیګار د دې پروژو اوږد مهال ثبات په اړه هم اندیښنې بیان کړي دي. د مثال په توګه، پلټنې ناکافي ټینګښت یا لیږد پلانونه موندلي، د ترهګرۍ ضد پیژندل شوي یا ارزول شوي ګټو نه شتون، او د پروژو بشپړیدو کې روان ځنډونه د حکومت ټولو هڅو باندې احتمالي منفي اغیز درلود.

د سیګار تیر کار په پام کې نیولو سره، د دې پلټنې بشپړ هدف د FY 2011 AIF پروژو بشپړولو کې شوي پرمختګ ارزول دي. په ځانګړي توګه، سیګار پلان لري چې مشخص کړي ترکوم حد پورې د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو (1) د FY 2011 AIF پروژو بشپړولو کې پرمختګ کړی او اغیز یې ارزولی چې د پروژې بشپړیدو د متحده ایالاتو نورو زیربنایی لومړیتوبونو باندې درلود؛ (2) د ترهګرۍ ضد پلان شوي اهداف یې کتلي، سنجولي او لاسته راوړي؛ او (3) د پروژې د ثبات لګښتونه یې رامنځته کړي او د ثبات نورې ننګونې یې په نښه کړي.

### د USAID د ثبات نوښتونو برنامې (MISTI) د اغیزو سنجول

USAID د افغانستان لپاره د اداري برنامو د نظارت او ارزولو ته د خپلواک او دریمې ډلې قراردادیانو کارولو پشمول څو ردیفه نظارتي او ارزوني ستراتیژي لري. په 2012 مارچ کې، USAID د MISTI پلې کولو لپاره د مدیریت سیستم نړیوال شرکت ته یو کاري امر وسپاره. د USAID اسناد MISTI د دریمې ډلې نظارتي او ارزونې برنامې په توګه شرح کوي چې د امنیت، قانون حاکمیت او اقتصادي فعالیتونو په څېر برخو کې د ثبات تمایل او اغیز سنجولو لپاره ډیزاین

شوی؛ د افغان بیارغوني برنامو کلک نظارت او ارزوني لپاره یو لړ عملونه رامنځته کړي؛
او د افغان په مشری پیاوړي پراختیا لیږد لپاره زده کړل شوي درسونه سره شریک کړي.
MISTI دري اساسي اهداف لري:

- د USAID د ثبات برنامو خپلواک ارزونه او د اغیزې ارزیابي چمتو کړي.
- د ولسوالی، ولایت او سیمې په کچه ډېټا راټوله، ترکیب او تحلیل کړي ترڅو د لوړې درجې ثبات تمایلات تعقیب کړي او لیږد پورې اړوند د متحده ایالاتو او افغان حکومت پالیسي او فعالیتونه خبر کړي.
- د ترهګرۍ ضد حالت په پام کې نیولو سره د ثبات فعالیتونو ډیزاین، پلي کولو او ارزولو پورې اړوند غوره تجربو او زده کړل شوي درسونو باندې د پوهې ډېرېدلو کې مرسته وکړي.

دا پلټنه به د USAID د MISTI قرارداد کارول وارزوي ترڅو د ثبات برنامو کې د اداري پرمختګ وسنجوي. په ځانګړي توګه سیګار پلان لري چې (1) وارزوي ترکوم حد پورې د MISTI قراردادي د قرارداد شرایطو سره مطابقت کې د دریمې ډلې د نظارت خدمات چمتو کړي؛ (2) و ارزوي چې تر کوم حد پورې د ثبات برنامو پلان کولو او پلي کولو کې USAID د MISTI برنامې پایلې ملاحظه کوي؛ او (3) په MISTI کې ننګوني په ګوته کړي، که د ثبات بیارغوني برنامو ارزولو ته د USAID د دریمې ډلې نظارت کارولو کې شتون ولري، او تر کوم حد پورې USAID دغه ننګوني په ګوته کړي.

### د متحده ایالاتو د افغانستان لومړني او مینځني تعلیم سیستمونو ته وده ورکولو لپاره هڅې

د 2008–2013 لپاره د افغان دولت د افغانستان ملي پراختیا ستراتیژي (ANDS) د لومړني او مینځني تعلیم پرمختګ د پراختیا لومړیتوب کړ، او تعلیم ته لاسرسي ډیرولو لپاره یې اهداف وټاکل؛ د تعلیم د کیفیت ښه کول، پشمول د ښوونکو، ودانیو، او موادو؛ او ډاډ ترلاسه کول چې په تعلیمي سیستم کې هغه مهارتونه او پوهه چې زده کونکي یې ترلاسه کوي د نن ورځې اړتیاو سره تړاو لري. د 2010–2014 لپاره د افغانستان لپاره د ملي تعلیم ستراتیژیک پلان د عمومي تعلیم لپاره ANDS کې یاد شوي اهداف تکرار کړل ترڅو د ښوونځي عمر لرونکي ټولو ماشومانو ته کیفیت لرونکی تعلیم مساوي لاسرسی برابر کړي نو دوی ممکن د سالم انفرادي، کورني او ټولنیز ژوند لپاره اړیني وړتیاوې (لیاقت) ترلاسه کړي.



**ملیونونه افغان انجونې** اوس په ښوونځیو کې داخل شوي. سیګار د افغانستان لومړني او مینځني تعلیم سیستمونو ته وده ورکولو لپاره د USAID هڅو بیاکتنې لپاره یوه پلټنه پیل کړې. (د USAID عکس)

له 2002 راهیسې، د متحده ایالاتو حکومت په لومړني او مینځني تعلیمي سیستمونو کې د افغانستان پراختیایی اهدافو ملاتړ لپاره ډیر شمیر برنامې پلي کړي، لکه د ښوونځیو جوړول، د نصاب رامنځته کول او د درسي کتابونو ورکول. د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID د متحده ایالاتو کلیدي اداري دي چې پدې هڅو کې دخیلې دي. د مثال په توګه، د امریکا دفاع وزارت ابتدایی ښوونځي تعمیر او ترمیم کړي، د بهرنیو چارو وزارت مینځني ښوونځیو کې د انګلسي ژبې مهارتونو ته وده ورکولو لپاره برنامې تمویل کړي، او USAID د هیواد په کچه زده کونکو ته د ابتدایی ښوونځي درسي کتابونه چاپ او توزیع کړي.

دا پلټنه به په افغانستان کې د کیفیت لرونکي لومړني او مینځني کچې تعلیم ته لاسرسي لپاره د متحده ایالاتو حکومت هڅې وازموي. په ځانګړي توګه سیګار پلان لري چې (1) مشخص کړي تر کوم حد پورې د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID په افغانستان کې د لومړني او مینځني تعلیم ملاتړ لپاره ستراتیژیانې او اهداف تعریف کړي؛ (2) و ارزوي چې تر کوم حد پورې د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID په افغانستان کې د لومړني او مینځني تعلیم ملاتړ لپاره له 2002 راهیسې د متحده ایالاتو حکومت تمویل او هڅې پیژندلي او تعقیب کړي؛ (3) و ارزوي چې تر کوم حد پورې د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID په افغانستان کې د لومړني او مینځني تعلیم د پراختیا اهدافو ترلاسه کولو لپاره د متحده ایالاتو پرمختګ ارزولی دی.

## مالي پلټنې

سیګار په 2012 کې د مالي پلټنو پروګرام وروسته لدې پیل کړ کله چې کانګرس او د نظارت ټولنې د قراردادونو او نغدو پیسو چې د بهرنیو عملیاتو ملاتړ لپاره ورکول کیږي د نظارت د واټنونو او د تحمیل شوي لګښتونو پلټنې په اړه اندیښنه وښودله. سیګار په سیالی کې د محاسبې خپلواک شرکتونه غوره کړي ترڅو مالي پلټنې ترسره کړي او دا وګوري چې د پلټنې کار د امریکا حکومت ستندردونو په اساس ترسره شوي. مالي پلټنې د فدرال عمومي مفتش ټولنې سره همغږې شوي ترڅو د مالي پلټنې پوښښ ډیر او دوه ځلي هڅو مخنیوی وشي.

پدې ربع کې سیګار د افغانستان بیاجوړولو لپاره د متحده ایالاتو تمویل شوي قراردادونو شپږ مالي پلټنې بشپړې کړې. لکه څنګه چې جدول 2.1 کې ښودل شوي، د سیګار مالي پلټنو برنامې د پلټنې وړ لګښتونو نږدې 3.1 ملیارد ډالرو سره ټولټال 37 مالي پلټنې مکمل کړي او د پلټنې وړ لګښتونو کې له 2.4 ملیارد ډالرو څخه ډیرو سره نورې 30 روانې مالي پلټنې لري. دا پلټنې مرسته کوي چې د متحده ایالاتو حکومت او مالیه ورکونکي مناسب ډاډ ترلاسه کړي چې دې ګمارنو باندې مصرف شوي بسپنې د نومول شوي هدف لپاره کارول شوي. پلټنې هغه مخارج ترپوښتنې لاندې راولي چې د بررسۍ کیدو نه وي یا په قوي توګه جواز ونلري.

سیګار د هرې مالي پلټنې راپور هغه تمویل کونکي ادارې ته تکثیر کوي چې یاده ګمارنه (ګمارنې) یې کړې وي. تمویل کونکې اداره مسؤل ده چې د پلټنې موندنو راپور کې پیژندل شوي تر پوښتنې لاندې مقدارونو باندې نهایي پریکړه وکړي. د برنامې له پیل راهیسې، د سیګار مالي پلټنو له 106.7 ملیون ډالرو څخه ډیر د تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه او 198,368 ډالر دمخه ورکړل شوي فدرال فنډونو نه راګرځیدونکي ګټه کې پیژندلي. کله چې تمویل کونکې اداره وټاکي چې ترپوښتنې لاندې مقدار غیر مجاز دی نو نوموړې اداره یې د بیرته راټولولو لپاره رسید خپروي. تر نن نیټې پورې، ادارو تر پوښتنې لاندې لګښتونو پیسو له 8.5 ملیون ډالرو ډیر مقدار بیرته ترلاسه کولو ته د بشپړې شوي پلټنو څخه 21 لپاره بیلونه تکثیر کړي دي. د تمویل کونکو ادارو لپاره د پلټنې موندنو په دقت سره کتل وخت نیسي. د یوې پایلې په حیث، د سیګار ډیری خپرې شوي مالي پلټنو لپاره نهایي مشخصات پاتې دي. د سیګار مالي پلټنو پلټل کیدونکو او تمویل کونکو ادارو ته هم 159 د اجابت موندنې او 190 د داخلي کنټرول موندنې پیژندلي او خبرې یې پرې کړي.

جدول 2.1

| د سیګار د مالي پلټنې پوښښ (په ملیارد ډالر) | |
|---|---|
| 37 بشپړې شوې پلټنې | $3.1 |
| 30 روانې پلټنې | $2.4 |
| **ټولټال** | **$5.5** |

یادونه: شمیرې محاسبه شوي په پوښښ کې هغه د پلټنې وړ مصارف شامل دي چې په افغانستان کې د امریکا د بیارغونیزو قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او تعاوني موافقو له لارې مصرف شوي دي.

سرچینه: د سیګار د پلټنو او تفتیشونو ریاست.

د سیګار مالي پلټنې څلور ځانګړې موخې لري:

- پدې د اند بیانول چې ایا د ګمارنې لپاره د ځانګړي هدف مالي بیان په منصفانه ډول وړاندې کیږي، د ټولو موادو په پام کې نیولو سره، لاسته راغلي عواید، پېښ شوي لګښتونه، د متحده ایالاتو حکومت لخوا غیرمستقیم پیرودل شوي توکي، او د ګمارنې شرایطو سره په مطابقت کې د پلټل شوي دورې لپاره بیلانس او د محاسبې عموما منل شوي اصول یا د محاسبې نور جامع اساسات.
- تر پلټنې لاندې بنسټ د قرارداد په اړه د کورنیو کنټرولونو ارزونه ترسره شي او په پوره توګه پوهه ترلاسه شي؛ د کنرول خطر ارزونه وشي؛ د مهمو نیمګړتیاوو په اړه پشمول د موادو کورني کنترول نیمګړتیاوي وپیژندل شي او راپور ورکړ شي.
- آزموینې ترسره شي ترڅو دا وکتل شي چې آیا تر پلټنې لاندې بنسټ د موادو په اساس، د قرارداد اړتیاوو او اړوندو قوانینو او مقرراتو اطاعت کړی؛ او د قرارداد له شرطونو او اړوندو قوانینو او مقرراتو سره د موادو نه اطاعت وپیژندل شي او راپور ورکړ شي.
- وکتل شي او راپور ورکړ شي چې آیا تر پلټنې لاندې بنسټ په مناسبه توګه د سمون ګامونه اخیستي ترڅو د تیرو کاروونو موندنو او سپارښتنو لپاره د حل لار پیدا شي.

د دې درې میاشتنۍ راپور په ج ضمیمه کې د بشپړ شوي، نوي، او روانو مالي پلټنو لست موندلی شی.

## مالي پلټنې خپرې شوي

پدې ربع کې، سیګار د افغانستان بیاجوړولو لپاره د متحده ایالاتو تمویل شوي قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او همکارۍ تړونونو شپږ مالي پلټنې بشپړې کړې. دې مالي پلټنو د داخلي کنټرول تشو او غیر اجابت مسلو له امله نږدې 23.6 ملیون ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه په ګوته کړې. د نورو شیانو ترمنځ د تشو او غیر اجابت دې مسلو کې دا موارد شامل و: د قرارداد له مخې اړین لګښتونو او د قرارداد پروژې ساحو لپاره د GPS موقعیتونو چمتو کولو کې پاتې راتلل، د نا تصویب شوي تجهیزاتو پیرود، د پیرودل شوي پانګو، پیښ شوي کرایې لګښتونو او د فعالیت دورې پای ته رسیدو وروسته رسید شوي لګښتونو محاسبه کولو او تعقیب کې پاتې راتلل، د تدارکاتو سیالیز طرزالعملونو په تعقیب کې پاتې راتلل، د شرکت پیرودل شوي وسایطو شخصي کارونه، د متحده ایالاتو حکومت باندې غلطو مالیو رسیدونه، د پیسو د تبادلې په ناسم ډول محاسبه کول، غیرمجاز اضافه کاري ورکړه، د پرسونل ورک مهالویشونه، د غیرمصرفي تجهیزاتو ناسم دفع کول، د پیښ شوي لګښتونو د ملاتړ لپاره د اسنادو نه شتون، د فرعي قرارداد لپاره تصویب شوي مقدارونو څخه د فرعي قرارداد لوړ لګښتونه، او د نه منلو وړ ساتیرۍ مخارج.

**تر پوښتنې لاندې مقدارونه:** په وده شوي فدرالي فنډونو کې د احتمالا غیرمجاز ترپوښتنې لاندې لګښتونو او نالیږل شوي ګټو مجموعه.

**ترپوښتنې لاندې لګښتونه**: هغه لګښتونه چې غیرمجاز بیژندل شوی. د تر پوښتنې لاندې لګښتونو دوه ډولونه د نه منلو وړ لګښتونه (د قانون، مقرراتو، قرارداد، مرستې، همغږۍ تړون څخه سرغړونه وغیره یا د فنډونو غیر لازم او نامناسب مصرف) او ناملاتړ شوي لګښتونه (هغه چې د مناسب اسنادو په واسطه نه ملاتړ کیږي یا د پلټنې پرمهال سم تصدیقونه) دي.

**د راتلولو لپاره بیل:** یوه پوروړي ته د ټاکلي مقدار لپاره د لیک یا فارم لیږل، پشمول د کټې، اداري لګښتونو، او ځنډ جریمې که د پلې کیدو وړ وي.

**د ځانګړي هدف مالي بیان:** یو مالي بیان چې لاسته راوړل شوي ټول عواید، پیښ شوي لګښتونه، او کوم ډول پاتي بیلانس پکې د ورکړل شوي مودې په جریان کې د ورکړل شوي ګمارنې لپاره شامل وی.

### بشپړې شوې مالي پلټنې

- مالي پلټنه FA-15-13: په کابل، افغانستان کې د ملي میوزیم جوړولو او انجینرۍ ډیزاین لپاره د بهرنیو چارو وزارت پروژه: د سید مجیدي ساختماني چارو او ډیزاین لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه
- مالي پلټنه FA-15-16: د USAID په افغانستان کې د رسنیو پرمختیا برنامه: په ګډه کار کونکي خصوصي ادارو، شرکتونو لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه.
- مالي پلټنه FA-15-19: د بهرنیو چارو وزارت د افغان تلویزیون د منځپانګو تولید مدیریت پروژه او د هیواد په کچه د لویانو سواد زده کړې او تعلیم برنامه: د سیټینا ګروپ لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه
- مالي پلټنه FA-15-20: د USAID د افغانستان پاکې انرژۍ برنامه: د نړیوالې سرچینې ګروپ لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه
- مالي پلټنه FA-15-22: د بهرنیو چارو وزارت د افغانستان دعدلي سیکتور ملاتړ برنامه: د پاسیفیک آرشیټیکس او انجینرز شرکت لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه.
- مالي پلټنه FA-15-28: د USAID د افغان دوامداره اوبو رسونې او نظافت پروژه: د ARD شرکت لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه.

## مالي پلټنه FA-15-13: په کابل، افغانستان کې د ملي میوزیم جوړولو او انجینرۍ ډیزاین لپاره د بهرنیو چارو وزارت پروژه

**د سید مجیدي ساختماني چارو او ډیزاین لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه**

د 2011 جون په 12 نیټه، د بهرنیو چارو وزارت د 2.79 ملیون ډالرو په ارزښت یو د همکارۍ تړون د سید مجیدي ساختماني چارو او ډیزاین (SMAD) ته ورکړ. تړون په پیلي توګه د افغانستان په کابل ښار کې نوي ملي میوزیم جوړولو او انجینرۍ ډیزاین لپاره د پروژې مدیریت خدمات تمویل کړل. د پنځه اصلاحاتو له لارې چې د بهرني امنیت لوړلو پلان او جوړلو دوهمي پروژې اضافه کول پکې شامل و، د تړون ارزښت 6.35 ملیون ډالرو ته لوړ کړ. د مایر هاف مین مککین P.C. لخوا د سیگار ترسره شوې مالي پلټنه (MHM) د 2011 جولای 15 څخه تر 2014 فبروري 28 اوږدو پورې د همکارۍ تړون ته اوښتل شوي مصارفو 6.35 ملیون ډالرو بیاکتنه وکړه.

MHM د SMAD لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه کې د داخلي کنټرول تشو 10 موارد او د غیر اجابت څلور موارد وموندل. د مثال په توګه، د SMAD دوه رییسانو نا ملاتړ شوی پاداش ترلاسه کړی، کوم چې د 1.34 ملیون ډالرو د تر پوښتنې لاندې لګښتونو پایله درلوده. پروژې د اوه بشپړ وخت ورته (FTE) کارمندانو د معاشاتو ورکړې لپاره 3.39 ملیون ډالر بودیجه کړې. دغه دوه رییسانو په نښه کړي چې د سرچینو نه شتون له امله یې باید د اوه FTEs کار فشار د دوی ترمنځ ویشلی و. د پلټنې پرمهال سپارل شوې ټایم شیټونو د MHM بیاکتنې پراساس، د دواړه رییسانو لخوا حساب شوي کاري ساعتونه د 3.61 FTEs سره برابر و، یا د بودیجه شوي پوستونو 52%؛ په هرصورت، دواړه رییسانو ته ورکړل شوي معاشاتو ټولټال 2.69 ملیون ډالر و، یا د پرسونل او کارمندانو معاشاتو لپاره د پروژې د بودیجې 79%. اضافي دندې د رییسانو لخوا ترسره شوې — دې کار هم د دندو د جلا کولو نه شتون رامنځته کړی — چې د نا مناسب داخلي کنټرولونو پایله یې درلوده او دا په تړون کې د درغلي طرح یا څرګندوالی راپورته کوي.

د دې تشو او غیر اجابت مواردو پایلې په توګه، MHM د ترپوښتنې لاندې ټولټال لګښتونو په توګه 1,487,417 ډالر پیژندلي پشمول د 1,468,431 ډالر په ناملاتړ شوي لګښتونو کې — هغه لګښتونه چې د مناسب اسنادو لخوا نه ملاتړ کیږي یا دمخه تصویب ته اړتیا نلري — او 18,986 غیر جایز لګښتونو کې — هغه لګښتونه چې د تړون، نافذه قوانینو یا مقرراتو لخوا منع وي.

MHM د SMAD لخوا د سمون هغه اخیستل شوي ګامونو بیاکتنه کړې چې د دمخه بوختیاو یا داخلي پلټنو څخه موندنو او وړاندیزونو په ګوته کولو لپاره یې پورته کړي. پلټونکو د داخلي کنټرول تشو درې موارد موندلي چې د څانګړي هدف مالي بیان باندې د توکو اغیز درلود. پلټونکو په ګوته کړې چې د درې تشو څخه دوه مواردو باندې د سمون مناسب ګامونه اخیستل شوي. په هرصورت د دریمې تشې لپاره یې یادونه کړې چې د SMAD د ځینې پرسونل دوسیې تر اوس پورې مکمل او د وخت سره سمې نه وې. MHM تر پوښتنې لاندې لګښتونو کې نږدې 1.49 ملیون ډالرو له امله د SMAD څانګړي هدف مالي بیان باندې یو وړ اند وړاندې کړی، کوم چې د څانګړي هدف مالي بیان د توکي غلط بیان وړاندې کوي.

د پلټنې د پایلو په حیث، سیګار د بهرنیو چارو وزارت بلاعوضه مرستو افسر ته وړاندیز کوي چې:

1. که مناسب وي، په راپور کې د تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه پېژندل شوي 1,487,417 ډالرو جواز درلودل په نښه او بیرته یې ترلاسه کړي.
2. SMAD ته مشوره ورکړي چې د راپور د داخلي کنټرول تشو 10 موارد په نښه کړي.
3. SMAD ته مشوره ورکړي چې د راپور د غیر اجابت موندنو څلور موارد په نښه کړي.

## مالي پلټنه 15-16-FA: د USAID په افغانستان کې د رسنیو پرمختیا برنامه

**په ګډه کار کونکي خصوصي ادارو، شرکتونو لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه.**

د 2006 جولای په 27، USAID په پیلي توګه 6 ملیون ډالرو سره تمویل شوی د همکارۍ تړون د خصوصي ادارو ګډ کار کونکي شرکت ته ورکړ. په افغانستان کې د رسنیو پرمختیا برنامې لپاره (Pact). دا پروګرام د دې لپاره ډیزاین شوی و چې داډ ترلاسه شي افغانستان خپلواک، پلورالیستیک، او باوري رسنۍ لري چې په پراخه ځایی او ملي مسلو درست خبرونه او معلومات وړاندې کوي. برنامې دا هدف هم درلود چې د نوي رامنځته شوي رسنیز مرکزونو سره مرسته کولو په واسطه د افغانستان رسنیو باندې د USAID پانګوونه تقویت کړي ترڅو دغه رسنۍ تکامل ته ورسي او پیاوړي سوداګرۍ او سازمانونه شي. تړون ته وروستي اصلاحاتو تمویل 20,644,984 ډالرو ته لوړ کړ.

د کیرني او کمپنۍ P.C لخوا د سیګار ترسره شوې مالي پلټنه (کیرني)، د 2006 اګست 1 څخه تر 2011 سپتمبر 30 اوږدو پورې د همکارۍ تړون ته اوښتل شوي مصارفو 20,576,207 ډالرو بیاکتنه وکړه.

کیرني د Pact لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه کې د داخلي کنټرول تشو درې موارد او د غیر اجابت دوه موارد وموندل. Pact اسناد نه درلودل چې د سفر لګښتونه او فرعي قراردادونو لګښتونه یې ملاتړ کړی. په ځانګړي توګه، Pact په افغانستان کې د رسنیو پرمختیا برنامه کې پیښ شوي لګښتونو 59 مواردو کې د ملاتړ مناسب اسناد چمتو نه کړل. پدې مواردو کې د مناسب ملاتړي اسنادو نه شتون دا احتمال ډیروي چې د ناملاتړ شوي لګښتونو نور موارد هم شتون لري. د ثبتونو نه شتون د همکارۍ تړون څارنه پیچلې کوي او د پلي کیدو وړ ثبت ساتنې اړتیاو سره سازګار ندي.

د داخلي کنټرول تشو او غیر اجابت مواردو د پایلې په توګه، کیرني 250,155 ډالر د تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه پشمول د 247,826 ډالر ناملاتړ شوي لګښتونو کې او 2,329 ډالر غیر جایز لګښتونو کې پیژندلي. کیرني د Pact فرعي قراردادي، انټرنیوز تیرو پلټنو کې درې موندنې په نښه کړې چې کولی شو د Pact ځانګړي هدف مالي بیان باندې د توکو اغیز ولري. کیرني پایله کړې چې درې واړه موندنو باندې د سمون مناسب ګامونه اخیستل شوي و.

کیرني د Pact ځانګړي هدف مالي بیان باندې د اند یوه خبرتیا تکثیر کړه ځکه چې Pact په مالي بیان کې د فرعي مرستو لاین توکو برخې لپاره پیښ شوي لګښتونو اثبات ته د پلټنې کافي او مناسب شواهدو وړاندې کولو وړ نه و. لدې کبله چې د ټولټال پیښ شوي لګښتونو لوی برخه د دې لاین توکو ته د نسبت ورکیدو وړ وه، نو کیرني ونشو کولی چې په بشپړه توګه مالي بیان باندې اند وړاندې کړي.

د پلټنې د پایلو پر بنسټ، سیګار د USAID افغانستان ماموریت رییس ته وړاندیز کوي:

1. که مناسب وي، په راپور کې د تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه پېژندل شوي 250,155 ډالرو جواز درلودل په نښه او بیرته یې ترلاسه کړي.
2. Pact ته مشوره ورکړي چې د راپور د داخلي کنټرول تشو درې موارد په نښه کړي.
3. Pact ته مشوره ورکړي چې د راپور د غیر اجابت موندنو دوه موارد په نښه کړي.

### مالي پلټنه 15-19-FA: د بهرنیو چارو وزارت د افغان تلویزیون د منځپانګو تولید مدیریت پروژه او د هیواد په کچه د لویانو سواد زده کړې او تعلیم برنامه

**د سیټینا ګروپ لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه**

د 2010 سپتمبر په 26، د بهرنیو چارو وزارت د 4,931,600 ډالرو همکارۍ تړون سیټینا ګروپ (Cetena) ته ورکړ. د فعالیت لومړۍ دوره د 2010 اکتوبر 1 تر 2011 اکتوبر 1 پورې وه. تړون دوه ځلې اصلاح شو ترڅو د فعالیت دوره تر 2014 اپریل 30 پورې وغزوي. د پروژې هدف افغان تلویزیون، انټرنیټ او نورو رسنیو لپاره د منځپانګې رامنځته کول و. برسیره پردې، د 2011 فبرورۍ په 24 نیټه، د بهرنیو چارو وزارت Cetena ته د 2,402,800 ډالرو مرسته ورکړه. د فعالیت لومړۍ دوره د 2011 فبرورۍ 24 څخه تر 2012 فبرورۍ 19 پورې وه، مګر مرسته درې ځله اصلاح شوه، چې ټولټال ورکړې شوې مقدار یې 3,493,104 ډالرو پورې ډېر او د فعالیت دوره یې د 2012 جولای 31 پورې وغزوله. د مرستې هدف د هیواد په کچه د لویانو سواد زده کړې او تعلیم برنامې ملاتړ و. د MHM لخوا د سیګار ترسره شوې مالي پلټنې، له 2010 اکتوبر 1 څخه تر 2013 دسمبر 31 پورې موده کې د همکارۍ تړون او له 2011 فبرورۍ 24 څخه د 2012 جولای 31 پورې مرستې ته اړول شوي ګډو مصارفو کې د 7,215,420 ډالرو بیاکتنه کړې.

MHM د داخلي کنټرول ضعفونو اوه موارد او د همکارۍ تړون او مرستې شرایطو سره غیر اجابت درې موارد په ګوته کړي. په ځانګړې توګه، MHM موندلي چې د Cetena نوی مدیریت ډله نه وړاندې کوي چې د پیښ شوي لګښت اسناد په سمه ساتل شوي و کله چې په 2013 مارچ کې سیټینا کنسلټینسي Cetena کسب کړ. برسیره پردې، د Cetena تیر مدیریت ټیم د بهرنیو چارو وزارت دوه ګمارنو په واسطه د رسمي ثبتونو ساتنې اړینه پالیسي نه درلودله. Cetena ونشو کولی چې ثبتونه چمتو کړي یا ناکافي ثبتونه یې چمتو کړي، ترڅو د پرسونل، حاشیه ای ګټو، سفر، محولاتو تدارک، قراردادي لګښتونو او نور مستقیم لګښت کټګوریو لپاره لیږدوني ملاتړ کړي. د Cetena مدیریت ځواب په نښه کړي چې دا سازمان د موندنو سره موافق دی ځکه چې وې نشو کولی اسناد چمتو کړي ترڅو لګښتونه ملاتړ کړي چې مناسب و، جواز یې درلود او د تخصیص وړ و. د دې داخلي کنټرول ضعفونو او غیر اجابت مواردو پایلې په توګه، MHM ټولټال تر پوښتنې لاندې لګښتونو کې 4,799,768 ډالر، پشمول د 4,760,263 ډالر نا ملاتړ شوي لګښتونو کې او 39,505 ډالر غیر مجاز لګښتونو کې پېژندلي دي.



**پدې ربع کې** سیګار په افغانستان کې د لویانو سواد زده کړې برنامو پلې کولو باندې د مالي پلټنې یو راپور خپور کړ. (د یوناما عکس)

MHM د 132,266 ډالرو نا تصفیه شوي فنډ بیلانس هم په ګوته کړی. Cetena به دا نا تصفیه شوی فنډ بیلانس د هغه لګښتونو پوښلو لپاره وکاروي چې د همکارۍ تړون د فعالیت پاتې دورې په جریان کې باید پیښ شوي وی. MHM د Cetena ځانګړي هدف مالي بیان باندې د مستقیم او توکو اغیزو سره دمخه پلټنې راپور کومې موندنې ندي په ګوته کړي.

MHM د نږدې 4.8 ملیون ډالرو تر پوښتنې لاندې لګښتونو کې د توکو اغیزو له امله د Cetena ځانګړي هدف مالي بیان باندې وړ اند وړاندې کړ، کوم چې د ځانګړي هدف مالي بیان د توکو غلط بیان وړاندې کوي.

د پلټنې د پایلو پراساس، سیګار د بهرنیو چارو وزارت د تړون/مرستې افسر ته وړاندیز کوي:

1. که مناسب وي، په راپور کې د تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه پیژندل شوي 4,799,768 ډالرو جواز درلودل په نښه او بیرته یې ترلاسه کړي.
2. Cetena ته مشوره ورکړي چې د راپور د داخلي کنټرول تشو اوه موارد په نښه کړي.
3. Cetena ته مشوره ورکړي چې د راپور د غیر اجابت موندنو درې موارد په نښه کړي.

### مالي پلټنه 15-20-FA: د USAID د افغانستان پاکې انرژۍ برنامه

#### د نړیوالې سرچینې ګروپ لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه



USAID د ACEP په څیر پروژو له لارې په افغانستان کې د دلته د فوټو – ولتیک پینلو له لارې د بریښنا رسولو ملاتړ کوي، داسې یوه برنامه چې سیګار پرې پدې ربع کې د مالي پلټنې یو راپور خپور کړ. (د USAID عکس)

د 2009 سپتمبر په 8، د افغانستان تر هدف لاندې سیمو کې د اوږد مهاله بریښنا حلونو چمتو کولو لپاره USAID د 13.0 ملیون ډالرو کاري امر یو قرارداد د نړیوالې سرچینې ګروپ (IRG) ته ورکړ. د قرارداد کاري امر د افغان پاکې انرژۍ برنامه (ACEP) تمویل کړه، چې هدف یې لرې پرتو سیمو کې د بریښنا بیا نوي کیدونکي سیستمونو رامنځته کول، نصبول او رغول، او د انرژۍ بسیا کیدو هڅول و. د قرارداد کاري امر ته وروستي اصلاحاتو له لارې، د قرارداد ارزښت 23.9 ملیون ډالرو ته لوړ شو. د کراو هاوات (Crowe Horwath) LLP لخوا د سیګار ترسره شوي مالي پلټنې، د 2009 سپتمبر 8 څخه تر 2012 اپریل 30 پورې د ACEP قرارداد کاري امر ته اړول شوي مصارفو 23.9 ملیون ډالرو بیاکتنه وکړه.

Crowe Horwath د داخلي کنټرول ضعفونو شپږ موارد او د قرارداد کاري امر شرایطو سره غیر اجابت پنځه موارد وموندل. د مثال په توګه، د قرارداد کاري امر په نښه کړې چې قراردادي باید د ساختماني چارو میاشتنې مهالویشونه وسپاري او د ساختماني چارو ډیټابیس رامنځته کړي چې پکې د پروژې معلومات تعقیب شي. Crowe Horwath وموندل چې IRG په نا مناسب ډول د پروژې لګښتونه تعقیب کړي. په ځانګړي توګه، IRG ونه شو کولی چې د ساحې پراساس لګښت، د GPS موقعیت، یا د بشپړې بودیجې مخارج چمتو کړي. د ملاتړې اسنادو دې نه شتون د بشپړې شوې پروژې کار د تایید مخه نیولې، او Crowe Horwath یې اړ ایستلې چې د کار سرته رسیدو د تایید وړتیا نه درلودو له امله ساختماني کار تر پوښتنې لاندې راولي.

د داخلي کنټرول ضعفونو او غیر اجابت دې موارد و پایلې په توګه، Crowe Horwath په ټولټال تر پوښتنې لاندې لګښتونو کې 16,207,400 ډالر چې ټول یې ناملاتړ شوي لګښتونه دي، پیژندلي. Crowe Horwath کوم غیر مجاز لګښتونه ندي موندلي.

Crowe Horwath کومې داسې پلټنې، بیاکتنې، یا ارزونې ندي موندلي چې د IRG ځانګړي هدف مالي بیان باندې د توکو احتمالي اغیزو په تړاو موندنې ولري. Crowe Horwath د IRG

څانګړي هدف مالي بیان باندې د اند یوه خبرتیا تکثیر کړه، پدې معنی چې Crowe Horwath د بیان سم وړاندې کولو او یا دا چې د توکو غلط بیان څخه روغ و، په اړه د نظر بیانولو څخه منع کړی شوی و. د دې لپاره چې Crowe Horwath ونشو کولی مشخص کړي چې په بیان کې وړاندې شوي لګښتونه د پروژې اهدافو پوره کولو لپاره کارول شوي و. په بله وینا، Crowe Horwath وړ نه و چې مشخص کړي IRG دا 16,207,400 ډالر په څه شي مصرف کړي.

د پلټنې د پایلو پربنسټ، سیګار د USAID/افغانستان د ماموریت رییس ته وړاندیز کوي چې:

1. که مناسب وي، په راپور کې د تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه پېژندل شوي 16,207,400 ډالرو جواز درلودل په نښه او بیرته یې تر لاسه کړي.
2. IRG ته مشوره ورکړي چې د راپور د داخلي کنټرول تشو شپږ موارد په نښه کړي.
3. IRG ته مشوره ورکړي چې د راپور د غیر اجابت موندنو پنځه موارد په نښه کړي.



د بهرنیو چارو وزارت د عدلیه سیکتور **روزنې برنامه** پدې ربع کې د سیګار مالي پلټنې راپور موضوع وه. (د ایساف عکس)

## مالي پلټنه 15-22-FA: د بهرنیو چارو وزارت د افغانستان د عدلي سکتور ملاتړ برنامه

**د پاسیفیک آرشیتیکس او انجینرز شرکت لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه.**

د 2005 مارچ په 31 د بهرنیو چارو وزارت د 9.9 ملیون ډالرو یو کاري امر د پاسیفیک آرشیتیکس او انجینرز شرکت ته ورکړ. (PAE) د افغانستان د عدلي سیکتور ملاتړ برنامه (JSSP) پلي کوي. د برنامې هدف د هیواد اوسیدونکو ته عادلانه او مؤثره قضایی خدماتو وړاندې کولو لپاره د مسلکي کارمندانو وړتیا بنه کولو په واسطه په افغانستان کې د جنایی — قضا سیکتور نهادونو ظرفیت جوړول و. د JSSP فعالیتونو کې د قضایی چارواکو نظارت، د حقوقي روزنو رامنځته کول، او د جنایی — قضا نهادونو بیا بنه کول شامل و. د برنامې د فعالیت لومړنی دوري بشپړیدل د 2006 مارچ 30 نیټه اټکل شوي وه، مګر د 27 اصلاحاتو له امله، د برنامې تمویل له 100.7 ملیون ډالرو ډیر او د فعالیت دوره یې تر 2010 مبی 30 پورې وغزول شوه. د Crowe Horwath لخوا د سیګار ترسره شوي مالي پلټنې د 2005 مارچ 31 څخه تر 2010 مبی 30 پورې کاري امر ته اړول شوي مصارفو 65.1 ملیون ډالرو بیاکتنه وکړه.

Crowe Horwath په داخلي کنټرول کې اته د توکو ضعفونه او د پام وړ تشې، او د قوانینو، مقرراتو او کاري امر شرایطو او اوضاع سره د توکو غیر اجابت درې موارد موندلې. د مثال په توګه، Crowe Horwath داسې موارد وموندل په کومو کې چې PAE د کارمندانو د پیسو ورکړې ثبتونه نه درلودل — لکه ټایم شیټونه، د کار ثبتونه، او د لندیز راپورونه — او د معاشاتو حاضری ثبتونو کې یې ناسازګار توپیرونه درلودل. Crowe Horwath د JSSP پنځه کارمندانو لپاره د وړتیا اسنادو ورکیدو یادونه هم کړې.

د دې داخلي کنټرول تشو او غیر اجابت مواردو پایلې په توګه Crowe Horwath په ټولټال تر پوښتنې لاندې لګښتونو کې 506,866 ډالر پیژندلې چې ټول یې ناملاتړ شوي لګښتونه و. Crowe Horwath کوم غیر مجاز لګښتونه ندي موندلې. پلټونکي دا هم مشخص کړې چې د متحده ایالاتو حکومت 176 ډالر په ګټه کې له لاسه ورکړې ځکه چې PAE د سمدستي نغدي اړتیاو پوره کولو ته اړین فندونو څخه ډیر کارولي دي.

Crowe Horwath کومې داسې مخکینۍ بیاکتنې یا ارزونې ندي موندلي چې د PAE د JSSP پلې کولو په اړه وي یا د ځانګړي هدف مالي بیان ته توکي وي. Crowe Horwath د PAE ځانګړي هدف مالي بیان باندې نااصلاح شوی اند تکثیر کړی، او یادونه یې کړې چې دې ټول توکي، لاسته راغلي عواید، او بیلانس د پلټل شوې مودې لپاره روښانه وړاندې کړي.

د پلټنې د پایلو پراساس، سیګار د بهرنیو چارو وزارت قراردادي افسر ته وړاندیز کوي:

1. که مناسب وي، په راپور کې د تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه پیژندل شوي 506,866 ډالرو جواز درلودل په نښه او بیرته یې ترلاسه کړي.
2. وزارت ته د PAE څخه د ورکړې وړ ګټه کې 176 جمع کړي.
3. PAE ته مشوره ورکړي چې د راپور د داخلي کنټرول اته موندنې په نښه کړي.
4. PAE ته مشوره ورکړي چې د راپور د غیر اجابت موندنو درې موارد په نښه کړي.



پدې ربع کې سیګار د USAID دوامداره اوبو رسونې او نظافت پروژې پلې کولو باندې د مالي پلټنې یو راپور خپور کړ کومه چې د حفظ الصحه ښوونه هڅوي او نهادینه کوي یې. (د USAID عکس)

## مالي پلټنه 15-28-FA: د USAID د افغان دوامداره اوبو رسونې او نظافت پروژه

### د ARD شرکت لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه.

د 2009 سپتمبر په 29 نیټه، USAID د ARD شرکت ته د دوه انتخابي دورو پشمول د 51,863,898 ډالرو کاري امر ورکړ. (ARD) د افغان دوامداره اوبو رسونې او نظافت پروژه پلې کوي. د پروژې هدف د ښباک اوبو د برابرولو او نظارت خدماتو اوږد مهال ټینګښت ته وده ورکول، د حفظ الصحه ښوونیز کمپاین له لارې په افغانستان کې د غریب او زیان لیدونکي ولس حفظ الصحه چلند کې بدلون راوستل او د ځایي ټولنې د اوبو برابرولو ظرفیت پیاوړي کول و. ARD په پروژه 42,517,360 ډالر ولګول، چې د USAID کاري امر ته 13 اصلاحاتو او دواړه اختیاري دورو تجربه کولو وروسته پروژې له 2009 سپتمبر 30 څخه تر 2012 دسمبر 29 پورې دوام وکړ.

د Crowe Horwath لخوا د سیګار ترسره شوي مالي پلټنې له 2009 سپتمبر 30 څخه تر 2012 دسمبر 29 پورې کاري امر ته اړول شوي لګښتونو 42,517,360 ډالرو بیاکتنه ترسره کړې.

Crowe Horwath شپږ د توکو ضعفونه، په داخلي کنټرولونو کې یوه د پام وړ تشه او د کاري امر شرایطو او اوضاع او قوانینو او مقرراتو سره د غیر اجابت نهه موارد موندلي دي. د مثال په توګه، Crowe Horwath د غیر مجاز اضافه کاری او په اونۍ کې شپږ ورځې کار لګښتونه د ځایی ګمارل شوي قرارداد پرسونل لپاره او د معلوماتي ټیکنالوژۍ (IT) تجهیزاتو او سافټویر نا تصویب شوي پیرود موارد موندلي. د دې لپاره چې ARD تر پوښتنې لاندې اضافه کاري د نورو لګښتونو څخه نده جلا کړې او د IT تصویب سره مخ پیرود ځانګړتیاوې ندي برابر کړي، Crowe Horwath وړاندیز کړی چې ARD د اضافه کاری، په اونۍ کې شپږ ورځو پاداش، او د IT تجهیزاتو او سافټویر پیرود تصویب څیړنې پرمخ ویسي او USAID ته یې پایلې ورکړي.

د دې داخلي کنټرول تشو او غیر اجابت مواردو پایلې په توګه، Crowe Horwath د ټولټال تر پوښتنې لاندې لګښت په توګه 330,105 ډالر پیژندلي دي. په هرصورت، دا مقدار د ARD د اضافه کاری او IT تجهیزاتو پیرود څیړنو پر اساس بدلیدی شي. تر پوښتنې لاندې لګښتونو 330,105 ډالرو کې د ناملاتړ شوي لګښتونو 170,612 ډالر او د غیر مجاز لګښتونو 159,493 ډالر شامل دي. سربیره پردې، Crowe Horwath اټکل کړی چې د متحده ایالاتو حکومت 698 ډالر په ګټه کې له لاسه ورکړي ځکه چې ARD د وړتیا دمخه جبران ته لګښتونه سپارلي.

Crowe Horwath کوم داسې مخکيني بياکتنې يا ارزونې ندي په ګوته کړي چې د ARD د افغان اوبو برابرولو او نظافت پروژې پلې کولوپورې اړه ولري يا د ځانګړي هدف مالي بيان توکو پورې تړلي وي. Crowe Horwath د ARD ځانګړي هدف مالي بيان بانديې يو ناصلاح شوی اند تکثير کړ، او يادونه يې کړې چې دې ټول توکي، لاسته راغلي عوايد، او بيلانس د پلټل شوي مودې لپاره روښانه وړاندې کړي.

## تفتيشات

### د تفتيشاتو رپوټونه خپاره شول

پدې ربع کې سيګار دوه د تفتيش راپورونه خپاره کړل. يوه تفتيش د افغان ملي اردو کماندو کيمپ مرحله II شرح کړې، چې مونډلې يې دي جنريټرونه ترتيب شوي نه و او کولی شو چې د پلان شوي محصول يوازې 25% برېښنا چمتو کړي؛ د سونګ توکو ځای کې د سونګ توکو پمپونه نه و کارول شوي؛ او د خواړو خونه د 280 افغان سرتيرو لپاره جوړه شوې وه خو 1,600 سرتيرو ترې ګټه پورته کوله. دوهم تفتيشي راپور وموندل د متحده ايالاتو حکومت نږدې نيم ميليون ډالرو په ارزښت د وچ اور اندازه جوړه شوی وه خو د قراردادي ضعيف فعاليت او د دولت د نظارت نه شتون له امله د ساختماني چارو بشپړيدو څلور مياشتې وروسته له منځه ولاړ.

#### تفتيش IP-25-15: د ANA کماندو کيمپ مرحله II

**د برېښنا کار ځای او د سونګ توکو ځای د پروژې بشپړيدو نږدې دوه کاله وروسته په بشپړ ډول کار نه کوي**

د 2009 جولای په 1 نيټه، د امريکا دفاع وزارت افغانستان په کابل کې د ANA کماندو کيمپ ودانيو جوړولو او/يا نوي کولو لپاره د لومړي څلور قراردادونو څخه دوه ورکړل. دا څلور قراردادونه چې د مرحله I څخه تر مرحله IV پورې کار پکې شامل و — د پنځه کلونو په موده کې د ټولټال 57.1 مليون ډالرو سره د افغانستان امنيتي ځواکونو فنډ له لارې تمويل شو. د دې قراردادونو هدف د ANA ځانګړي عملياتي قوماندې د فرقې قوماندانيو، د کماندو عالي ښوونځي، د ځانګړي عملياتو 6 ام کنډک، د اردو د استخباراتو کنډک او د ګاريزون ملاتړ قطعې لپاره د يوه عملياتي بيس جوړولو کې مرسته وه.
د 2010 مارچ کې، USACE د مرحله II قرارداد د 15.1 مليون ډالرو په ارزښت فضل الله ساختماني او انجينرينګ شرکت/د متحده زيربنا پروژو ګډه تصدي، د افغان او متحده ايالاتو شرکتونو ته ورکړ. د اصلاحاتو او تعديلاتو لړيو په تعقيب، د قرارداد قيمت شاوخوا 18.7 مليون ډالرو ته لوړ شو. د مرحله II قرارداد، د نوي ساختماني چارو، موجود ودانيو له سره نوي کولو او د مرحله I پاتې کار بشپړولو ګډ قرارداد کې د برېښنا کار ځای او برېښنا توزيع سيسټم، د سونګ توکو ځای، د خواړو ودانی، بارکونه، سرکونه، د ساحې د اوبو ويستل، اوبه او فاضلاب ايستل/تصفيه کول او ارتباطي شبکې جوړول شامل و.

**بشپړ شوي تفتيشات**

- تفتيش IP-25-15: د ANA کماندو کيمپ مرحله II: د برېښنا کار ځای او د سونګ توکو ځای د پروژې بشپړيدو نږدې دوه کاله وروسته په بشپړ ډول کار نه کوي
- تفتيش IP-27-15: د افغان ځانګړي پوليسو د روزنې مرکز د وچ اور اندازه د قراردادي ضعيف فعاليت او د دولت ضعيف څارنه د پروژې د ناکامی لامل شو

تفتیش په مرحله II تمرکز کړی ځکه چې دا د 2014 فبروري 22 او اپریل 27 په نیټو د ساحې څخه د سیګار لیدنې په وخت کې خورا اخرني بشپړ شوي ودانیو کې دخیله مرحله وه. سیګار په درې ودانیو تمرکز کړی — د بریښنا کارځای، د سونګ توکو ځای او د خواړو ودانۍ — د لګښت او پیچلتیا پراساس، په بیله بیا د ساختماني چارو او کارولو ستونزو پوټانسیال سره. د دې تفتیش لپاره سیګار ارزولي چې ایا (1) کار د قرارداد غوښتنو او تخنیکي ځانګړتیاو سره سم بشپړ شوی و، او (2) ودانۍ هغه ډول کاریدلې د څه مقصد لپاره چې جوړې شوې وې.

سیګار وموندل چې درې واړه تفتیش شوي ودانۍ، د بریښنا کارځای، د سونګ توکو ځای او د خواړو خونه په عموم کې داسې بریښي چې ښه جوړ شوي وي، مګر بشپړ تفتیش یې ممکن نه و ځکه چې دواړه ودانۍ د بریښنا کارځای او د سونګ توکو ځای په مکمل ډول نه کاریدل. د 2012 اپریل په 7، USACE ټولې درې ودانۍ د ناټو روزنیز ماموریت – افغانستان (NTM-A) ته وسپارلې. د سپارلو لپاره بشپړ شوي فارم په ودانیو کې ځینې تشې لیست کړي، پشمول د دې حقیقت چې د بریښنا کارځای بریښنایی سیسټم او د سونګ توکو ځای د سونګ توکو پمپونو ازمول او په کار اچول ندي بشپړ شوي.

د 2013 په فبروري 17، USACE قراردادي ته یو لیک واستاو او خبر یې ورکړ چې مرحله II پورې تړلی ټول کار بشپړ او ټولې ستونزې حل شوي دي. دې لیک دا یادونه هم کړې چې د 18.7 ملیون ډالرو قرارداد اخرني تادیات به 130,467.45 ډالر وي. په هرصورت، د 2014 فبروري او اپریل کې د سیګار د ساحې تفتیشونو د بریښنا کارځای او سونګ توکو ځای کې دوام لرونکي تشې پیژندلې. د مثال په توګه، د بریښنا کارځای ماسټر کنټرول پینل او سویچ ګیر د جنریټرو موازي عملیاتو لپاره اړتیا سره سم کار نه کاوه. د پایلې په توګه، د څلور لومړني جنریټرو څخه یوازې یو یې په یوه وخت کې فعالیت کولی شي. USACE ویلي چې د ANA پرسونل د بریښنا ټرانسفرمرو ته ناسم او غیر مجاز اتصال کړی، چې د دوه ټرانسفرمرو، د مینځني ولټیج کیبلو ډیری برخو او د کارځای لپاره د بریښنا اصلي توزیع کونکي پینل تخریب لامل شوي. د سونګ توکو ځای په پام کې نیولو سره، که څه هم ټولې برخې یې چمتو وې او د سونګ توکو ځای جوړ شوی و، سیګار وموندل چې د سونګ توکو پمپونو کار نه کاوه او د سیګار د تفتیش په وخت کې د قرارداد سره سم نه و ازمول شوي او په کار نه و اچول شوي.

د مرحله II قرارداد د خواړو یوې ودانۍ بشپړیدلو غوښتنه کوي، پشمول د 280 نفرو لپاره د خواړو یوې خونې. د خواړو ودانۍ ډیزاین او پیلي ساختماني چارې یې په مرحله I کې پیل شوې. په هرصورت، د مرحله I قرارداد ومنله چې قراردادي ممکن دې مرحلې جریان کې د ساختماني چارو بشپړولو وړ نه وي، ځکه چې یوازې د 90 ورځو کار دوره یې درلودله. قرارداد یادونه کړې چې که د خواړو ودانۍ ساختماني چارې په مرحله I کې مکمل نه شوې، نو قراردادي به یې د مرحله II په جریان کې مکمل کړي. د سیګار د ساحې تفتیشونو پراساس، په بیله بیا د مرحله I ساختماني چارو رسامیو او کاري بیان څیړنې پراساس، سیګار وموندل چې د خواړو ودانۍ په عموم کې د قرارداد اړتیاو مطابق په مرحله II کې مکمل شوې. که څه هم کاري بیان ندي مشخص کړي چې د خواړو خوندي کولو څومره واحدونه باید چمتو شوي وی، سیګار وموندل چې درې واحدونه نصب شوي و دوه سړې زیرمې او یوه وچه زیرمه. د ساحې دوه لیدنو پراساس، سیګار وموندل چې د مرحله II ټولې درې ودانۍ، د بریښنا کارځای، د سونګ توکو ځای او د خواړو ودانۍ کاریدلې. په هرصورت، نه خو د بریښنا کار ځای او نه هم د سونګ توکو ځای په بشپړ ډول لکه څنګه چې نومول شوي، کاریدل. په



**د سیګار تفتیش وموندل چې جنریټرونه** لکه څنګه چې عکس اخیستل شوی، ټرانسفرمر سره غلط وصل شوي و، چې دوه ټرانسفرمرو ته د زیان اوښتو لامل شو. (د سیګار عکس د بریان فلین لخوا)

ځانګړي توګه د بریښنا کارځای جنریټرونه لکه څنګه چې ډیزاین شوي و هغه ډول نه کاریدل، او د سونګ توکو ځای پمپونه هیڅ کله هم د وسایطو ته د تیلو خیژولو لپاره نه و کارول شوي. د خواړو ودانۍ کاریدله او د ډیزاین شوي وګړو له شمیر پنځه چنده ډیر پرسونل تري ګټه پورته کوله.

د کارونکي خطا او ساختماني چارو ناوخته کیدو تشو په کمانډو کیمپ کې د مرحله II کار برخي په توګه جوړې شوي ودانیو د ناسم کاریدو پایله درلوده. د بریښنا کارځای پنځه جنریټرونه د نورو قطعو ترمنځ د ANA ځانګړي عملیاتو قوماندې فرقې قوماندنیو او د کمانډو عالي ښوونځي ته بریښنا چمتو کولو وسیله، تر هغه وخت پورې د کاریدو وضعیت کې وه چې ANA ټرانسفرمر ته غیر مجاز اتصال (لیونه ونښلول) او د بریښنا کارځای ماسټر کنټرول پینل ته ډیرې زیانونه واړول. زیان کارځای د بشپړې بریښنا یوازې 25% ته محدود کړ او د دې لامل شو چې سرتیري تر 19 پورې کوچني جنریټرونه وکاروي. په ورته وخت کې، د سونګ توکو ځای داسي بریښي چې ښه تعمیر شوی وي او د مځکې دبره سونګ توکو ټانکرونه د زیرمه کولو لپاره کارول کیږي، مګر د سونګ توکو پمپونه نه کارول کیږي. سربیره پردې، د خواړو ودانۍ د 280 پرسونل لپاره ښه جوړه شوې، مګر اوس یې 1,600 پرسونل کاروي. د پایلې په توګه د 2014 میی کې د ترمیم کار بشپړیدو پورې د 7 ملیون ډالرو کارځای نږدې دوه کالو لپاره د بشپړې بریښنا وړاندې کولو کې ځنډیدلی و. د سونګ توکو ځای د هدف سره سم بشپړ کار نه کوي؛ او د خواړو ودانۍ د احتمال له مخې د پلان شوي څخه ډیر کار تري اخیستل کیږي.

سیګار دا اندیښنه هم لري چې د متحده ایالاتو حکومت یو نوی قرارداد سپارلی، چې پکې شاوخوا 3.1 ملیون ډالر د مرحله III لپاره شامل دي ترڅو د کیمپ بریښنا سیسټم کار مکمل یا ترمیم یې کړي او د سونګ توکو بل ځای قرارداد ته ورکړي. په ځانګړي توګه، CSTC-A د بریښنا کارځای سیسټم د ترمیم لپاره د 2.1 ملیون ډالرو تمویل کوي، پشمول د اصلي ماسټر کنټرول پینل بدلول او د جنریټرونو ترمیم او برابرولو، ترڅو د موازي کار لپاره برابر شي — دا ټول د مرحله II کار پیلي برخه ده. سربیره پردې، حتی که څه هم د سونګ توکو ځای په مرحله II کې د 332,000 ډالرو په لګښت جوړ شوی و، هیڅ کله د هدف سره سم بشپړ ندی کارول شوی، یو دوهم د سونګ توکو لوی ځای د نوي قراردادي لخوا په مرحله III کې د شاوخوا 1 ملیون ډالرو په لګښت جوړ شوی و.

سیګار وړاندیز کوي چې د انجینرانو عمومي قوماندان او مشر، USACE قوماندان او د USACE ټرانساټلانتیک فرقې ته لارښوونه وکړي لاندې ګامونه پورته او په 90 ورځو کې بیرته سیګار ته راپور ورکړي: (1) هغه مقدار مشخص کړي چې د مرحله II قراردادي ته د کیمپ بریښنا کارځای او سونګ توکو ځای اړین کار لپاره ورکړل شوی او کار نه وي بشپړ شوی، او چیرې چې مناسب وي دغه فنډونه بیرته لاسته راوړي؛ (2) هغه اسناد چمتو کړي چې وښيي د بریښنا کارځای بریښنایی سیسټم په بشپړ ډول ازمول شوی او برابر شوی و؛ (3) هغه دلایل مشخص کړي چې ولې ANA د مرحله II سونګ توکو ځای د وسایطو ته تیلو خیژولو لپاره ندی کارولی، او د پایلو پراساس پریکړه وکړي چې ایا د دې په کار اچولو لپاره کوم اقدامات وشي؛ او (4) هغه شرایط مشخص کړي چې د مرحله II کار د مکمل په توګه تسلیمیدو لامل شو، قراردادي ته د بشپړو تادیاتو سره، پداسې حال کې چې پیژندل شوي تشو شتون درلود. د پایلو پراساس، مشخص کړي چې کوم انظباتي عملونه که اړین وي د قرارداد کولو افسر یا د قرارداد کولو افسر نماینده پروړاندې واخیستل شي.

## تفتيش 15-27-IP: د افغان ځانګړي پوليسو د روزنې مرکز د وچ اور اندازه

**د قراردادي ضعيف فعاليت او د دولت ضعيف څارنه د پروژې د ناکامی لامل شو**

د 2012 مى په 2، په مخکېن عملياتي بيس لوګر ولايت شنک کې د سيمه ايز قرارداد کولو مرکز (RCC) يوه افغان شرکت، قسمت الله نصرت ساختماني شرکت (QNCC) ته د افغان ځانګړي پوليسو روزنې مرکز لپاره د وچ اور اندازې (DFR) جوړولو د 456,669 ډالرو قرارداد ورکړ. دا روزنيز مرکز د ملي پوليسو روزنې لوی مرکز (NPTC) سره په ګډه د وردګو ولايت کې موقعيت لري. NTM-A د DFR د جوړولو غوښتنه وکړه، په کوم چې د څلور جلا ودانيو لپاره د اډوب سټايل خښتو ډېرى ودانی شامل وي. د متحده ايالاتو حکومت بشپړه شوې پروژه د 2012 اکتوبر په 20 نېټه ومنله. د 2014 نومبر په 13 د نهاى رسيد د RCC ورکړو سره QNCC ته د DFR کار لپاره مکمل تاديات شوي و.

پدې تفتيش کې سيګار ارزولې چې ايا (1) ساختماني چارې د قرارداد اړتياو او د ساختماني چارو د منلو وړ معيارونو مطابق بشپړې شوې وې، او (2) DFR د جوړ شوي هدف سره سم کاريده او ساتل کيده. دا راپور په ساختماني چارو او د RCC چاروکو لخوا څارل شوي اصلي ساختماني قرارداد لاندې د ترميمونو تضمين باندې تمرکز کوي. د امنيتي انديښنو له امله چې ساحې ته يې د سفر مخه ونيوله، د سيګار کارمندان وړ نه و چې په ساحه کې تفتيش وکړي. په هرصورت، د سيګار تحقيق کونکی د 2013 په اپريل کې له ساحې ليدنه کړې وه.

DFR د قرارداد اړتياو مطابق نه و جوړ شوی او د سيګار څېړنو ښودلې چې د پايلې په توګه يې، د اوبو ننوتل د دې لامل شو چې ديوالونه يې د QNCC څخه د متحده ايالاتو د پروژې منلو په څلورو مياشتو کې لويدل پيل کړي. د QNCC ضعيف ساختماني ميتودونو او توکو کارول په بيله بيا د پروژې ضعيف پلان او څارنه د اوبو ننوتلو او وروسته بيا د تخريب لپاره مسؤل و. سيګار د QNCC د قرارداد اړتياو او DFR لپاره د جوړولو معيارونو سره مطابقت نه درلودو ډېرى موارد موندلي. د شته اسنادو څېړنو ښودلې چې د قراردادي افسر پلاوي د دې تشو پېژندلو کې پاتې راغلی.

وروسته لدې چې RCC دغه ودانی افغان دولت ته وسپارله او تضمين يې پای ته ورسيد، د ودانۍ نوره ساتنه د افغان دولت مسؤليت ته واوښتله. په هرصورت، د NPTC قوماندان يادونه کړې چې د هغه د معلوماتو پراساس ودانی کې د ورځني ساتنې لپاره هيڅ نه و ترسره شوي. د سيګار د انجينرۍ ارزونې پراساس، د ودانی د بنيادي جوړښت تشو له امله به ورځني ساتنې د احتمال له مخې د دې د تخريب مخه نشو نيولی.



**عيب لرونکي مواد** او **ساختماني ميتودونه** په بيله بيا ضعيف پلان جوړول او څار د وچ اور اندازې بيروني تخريب لپاره مسؤل و، چې د اوبو ننوتلو له امله تخريب او د ودانيو بيرته جوړولو اړتيا يې رامنځته کړه. (د NPTC عکس)

د افغان ځانګړي پولیسو روزني مرکز DFR جوړولو لپاره د متحده ایالاتو حکومت نږدې نیم میلیون ډالرو مصرفولو په څلور میاشتو کې د دغه ودانۍ تخریبیدل پیل شو. د دې رالویډو یا "کښیناستو" لامل د QNCC لخوا د قرارداد اړتیاو او د ودانولو نړیوال معیارونو نه پوره کول او د غیر معیاري خښتو او نورو توکو کارول و. علاوه لدې د DFR ساختماني چارې د قرارداد ټولو مرحلو کې د حکومت ضعیف څار له امله دې حد ته رسیدلې. RCC د ودانۍ درست ډیزاین څخه ډاډمن کیدو کې پاتې راغی او قراردادي یې د هغه د کار لپاره حساب ورکوونکي په توګه نیولو کې پاتې راغی. په ځانګړي توګه، RCC هغه کار منلی چې د قرارداد اړتیاوې نه پوره کوي او بیا وروسته د تضمین نیټې پای ته رسیدو دمخه د ودانۍ ټولو جوړښتي تشو سمولو لپاره د قراردادي بشپړ مسؤل ګڼلو کې پاتې راغی. د دې حقیقت له امله چې دا تشې نه وې سمې شوې، د ودانۍ خوندیتوب او اوږد مهال ټینګښت کې سازش شوی و. د پایلې په توګه، افغان چارواکو DFR وران او بیرته یې د MOI په فنډونو جوړوي. د دې لپاره، ممکن دا پروژه بنه نومول شوې وي، دا حقیقت چې افغانان DFR تخریب او له سره یې جوړوي نه یوازې د خجالتی سبب دی بلکه لا نور د پام وړ د متحده ایالاتو د مالیه ورکونکو د پیسو ضایع کول دي.

د حکومتي سرچینو د مصرف لپاره بشپړ حساب ورکوونې څخه ډاډ ترلاسه کولو لپاره او د قرارداد څارنه کې راتلونکي ستونزو لرې کولو لپاره سیګار وړاندیز کوي چې قوماندان، د متحده ایالاتو CENTCOM، قوماندان، د ګډ تیاتر ملاتړ قرارداد کولو قومانده، د عمومي قوماندان، د امنیت لیږد ګډه قومانداني – افغانستان سره په همغږۍ لاندې ګامونه پورته او سیګار ته بیرته په 90 ورځو کې راپور ورکړي: (1) مشخص کړي چې ترکوم حد پورې QNCC پرته له اجازې د ودانۍ توکي بدل کړي یا کار یې د قرارداد اړتیاو سره سم ندی بشپړ کړی او چیرې چې مناسب وي دا مقدار بیرته ترلاسه کړي او (2) د DFR ساختماني فعالیتونو څارنې لپاره مسؤل قراردادي افسر او د قراردادي افسر نماینده په نښه کړي او مشخص کړي چې ولې ودانۍ د قرارداد اړتیاو او د منلو وړ نړیوال معیارونو سره په مطابقت کې نده جوړه شوې، او د مناسب څار چمتو کولو کې پاتې راتلو لپاره د قرارداد کولو دې چارواکو پروړاندې کوم انظباتي اقدامات باید وشي.

## پدې ربع کې نوې تفتیشونه اعلان شول

پدې ربع کې سیګار درې نوې تفتیشونه پیل کړي. هر تفتیش به دا ارزونه وکړي چې آیا (1) ساختماني کار د قرارداد د اړتیاو او اړوندو ساختماني ستندردونو په اساس بشپړیږي، او (2) د تاسیساتو یوه برخه که هره یوه وي، چې ورڅخه کار اخیستل کیږي، د موخو لپاره ورڅخه کار اخیستل کیږي او په مناسبه توګه یې ساتنه کیږي. دا تفتیشونه به لاندې موارد وارزوي:

- د شبرغان د ښوونکو د روزنې ودانۍ
- د ګردیز روغتون
- د افغان هوایی ځواک پوهنتون



**د افغان هوای ځواک** سرتیري د کابل نړیوال هوای ډګر په هوایی پوهنتون کې د ښاري عملیاتو روزنه کې برخه اخیستو دمخه لارښوونه ترلاسه کوي. ( د متحده ایالاتو هوای ځواک عکس)

### نوي تفتیشونه

- د شبرغان د ښوونکو د روزنې ودانۍ
- د ګردیز روغتون
- د افغان هوایی ځواک پوهنتون

## د سيګار د وړانديزونو څرنګوالی

د ځانګړي عمومي مفتش 1978 کال لايحه، لکه څنګه چې اصلاح شوې، د سيګار څخه غواړي تر څو د خپل سپارښتنو د وضعيت په هکله راپور ورکړي. پدې ربع کې سيګار 43 وړانديزونه تړلي چې د پلټني 15 راپورونو کې و. د راپورونو څخه اوه و کې هغه وړانديزونه و چې د متحده ايالاتو لخوا غيرمجاز يا ناملاتړ شوي لګښتونو په توګه د 409,851 ډالرو بيرته لاسته راوړو پايله يې درلوده. له 2009 څخه تر 2014 پورې سيګار 161 پلټنې، د خبرتيا ليکونه او د تفتيش راپورونه خپاره کړي، 485 وړانديزونه يې د فنډونو بيرته لاسته راوړو، د ادارو ځار ته وده ورکولو او د پروګرام مؤثريتونو ډيرولو لپاره کړي. سيګار د دې راپورونو تر 84% تړلي دي. د يوې سپارښتنې تړل دا معنا ورکوي چې يوې اداري د سيګار سپارښتنه پلي کړې ده او ياهم موضوع ته په مناسبه توګه پاملرنه شوې ده. په ځينو قضيو کې، يوه تړل شوې سپارښتنه د پلټنې په راتلونکي کارونه کې کتل کيږي.

همدارنګه د ځانګړي عمومي مفتش په اړه د 1978 کال لايحه، لکه څنګه چې اصلاح شوې، د سيګار څخه غواړي هغه مخکيني سپارښتنې هم په ګوته کړي چې په ځواب کې يې اصلاحي ګامونه ندي پورته شوي. پدې ربع کې، سيګار پروړانديزونو د اداري فعاليتونو نظارت ته په 35 پلټنو او پنځه تفتيش راپورونو کې دوام ورکړ. پدې ربع کې د 12 مياشتو پورې زاړه کوم وړانديزونه و چې اداري يې کوم د سمون پلان رامنځته کړی وی چې سيګار باور درلود دا پيژندل شوي ستونزې يې هغه له مخې حل کړي وی. په هرصورت د 12 مياشتو زاړه شپږ د پلټنې راپورونه شتون لري چې سيګار پکې اړوند ادارو ته انتظار باسي د سمون فعاليتونو لپاره د دوی توافق بشپړ کړي. سيګار پدې وروستيو کې د امريکا دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو او USAID کې د اداري د حل پروسې پلټنې پيل کړي. پلټنې پدې ادارو کې د پلټنې حل ته رسيدو لپاره د پروسې دريځ او ځار ازموينه کوي.

سيګار پدې وروستيو کې د امريکا دفاع وزارت، بهرنيو چارو وزارت او USAID ته کړي وړانديزونو د دريځ پلټنې بشپړې کړي. په ځانګړي توګه دې پلټنو د سيګار وړانديزونو دريځ په ګوته او ارزولی دی او د دوی په نبنه کولو لپاره د ادارو لخوا ترسره شوي يا پلان شوي ګامونو بياکتنه يې ترسره کړې. په 2015 جنورې کې، سيګار د امريکا دفاع وزارت خپلو وړانديزونو دريځ باندې راپور خپور کړ، چې له مخې يې د 75% ډير پلي شوي و. مخکې سيګار د بهرنيو چارو وزارت (د نږدې 75% پلي کيدو په ګوته کولو) او USAID (د 80% ډيرو پلي کيدو په ګوته کولو) لپاره نهايي راپورونه خپاره کړل.

## ځانګړي پروژې

د عمومي مفتش د ځانګړي پروژو دفتر د پيښيدونکي مسلو ازمولو او فدرالي ادارو او کانګريس ته د ګړندي، تعقيب وړ راپورونو وړاندې کولو لپاره رامنځته کړی شوی و. دا دله بيلابيلې ارزونې کوي او د افغانستان د بيارغونې په ټولو برخو کې راپورونه جوړوي. په دې ځانګه کې پلټونکي، تحليل کونکي، محققين، قانونپوهان، د اړوند مسايلو ماهرين، او نور متخصصين راټول شوي او کولی شي د رابرسيره کيدونکي مسايلو او پوښتنو په مقابل کې بيرنی او په ګډه سره د حل لارې ومومي.

### بشپړې شوې ځانګړي پروژې

- ځانګړي پروژه SP-15-17: د سيګار تر پوښتنې لاندې لګښتونو د معلوماتو غوښتنې ليک ته د USAID ځواب ته ځواب
- ځانګړي پروژه SP-15-18: د سپک هوای ملاتړ الوتکو برنامه؛ د پيلوټ ګمارنه او ساتنه
- ځانګړي پروژه SP-15-21: د بهرنيو چارو وزارت د عامه چارو برخې بلاعوضه مرستې
- ځانګړي پروژه SP-15-23: د TFBSO عمليات

### د سيګار څانګړې پروژې 14-96-SP په اړه تازه معلومات

د 2014 سپتمبر په 12، په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي بیسونو کې د انساني تجارت روان تحقیق برخې په توګه، سیګار DynCorp نړیوال ته یو د معلوماتو غوښتنې لیک واستاو چې د امکان له مخې ناسم او غولونکي ګمارنې عملونو په ګوته کولو لپاره د دې شرکت د هڅو په اړه و، چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو اردو لوژستیک ملکي ډیروالي برنامې (LOGCAP) خدمت قراردادونو کې ترسره شوي کار سره په ارتباط کې و. په څانګړې توګه، پوښتنه د منع کړل شوي ګمارنې فیسونو پورې تړلې وه چې تر 4,000 ډالرو پورې د دریم هیواد اتباع څخه د کار دلالانو لخوا د ګمارنې فیس په توګه اخیستل کیږي څوک چې د DynCorp او د LOGCAP قراردادیانو او د دوی فرعي قراردادیانو ته کارکونکي برابروي. د غوښتل شوي اسنادو ترلاسه کولو په اړه د DynCorp نماینده ګانو سره د ارتباط نیولو تکراري هڅو سربیره، DynCorp ونشو کړی چې د اوږدې مودې لپاره د لیک په ځواب کې کوم ډول معلومات چمتو کړي. د پایلې په توګه، سیګار د 2014 دسمبر په 9، DynCorp نړیوال ته یوه احضاریه تکثیر کړه، چې د 2014 سپتمبر په 12 د اصلي معلوماتو غوښتنې لیک کې شرح شوي اسنادو غوښتنه ترې کوي. DynCorp نړیوال د اسنادو لومړی برخه د 2014 دسمبر په 23 برابر کړه او ژمنه یې وکړه چې همکاری ته به دوام ورکړي.

د سیګار د څانګړې پروژو دفتر USAID، د امریکا دفاع وزارت او د بهرنیو چارو وزارت ته د هغه پریکړو په اړه اندیښنې بیانولو لپاره د معلوماتو غوښتنې لیکونه ولیکل چې په کومو کې ترپوښتنې لاندې لګښتونه په بشپړ ډول نه و بیرته لاسته راغلي، د سپک هوای ملاتړ الوتکو برنامې پورې اړوند روزنې او ساتنې ستونزو لپاره پوټانسیال، د بهرنیو چارو وزارت عامه چارو بلاعوضه مرستو کې ډراماتیک ډیروالی، او په TFBSO کې د نا روا مصرف او غلط مدیریت تورونه. علاوه لدې، د څانګړې پروژې معلوماتو غوښتنې لیک ته ځواب کې د DynCorp نړیوال اوږدې ناکامی له امله سیګار پدې ربع کې یوه احضاریه تکثیر کړه، چې DynCorp غوښتل شوي اسناد تولید او د دوامداره مرستې ژمنه کولو پایله یې درلوده.

### د معلوماتو غوښتنې لیک 15-17-SP: د سیګار تر پوښتنې لاندې لګښتونو د معلوماتو غوښتنې لیک ته د USAID ځواب ته ځواب

د نومبر په 7 سیګار USAID ته یو لیک ولیکه چې د سیګار ډیرې مالي پلټنو کې تر پوښتنې لاندې پیژندل شوي لګښتونو بیرته لاسته راوړو پورې اړوند دې ادارې ته د سیګار د اکتوبر 29 نیټې لیک په ګوته کولو لپاره و. د USAID ځواب په نښه کړې چې د ادارې هدف د "مالیه ورکونکو فنډ لپاره د درستې محاسبې لټون دی." سیګار دا هدف شریکوي، مګر دا باور هم لري چې USAID باید د تر پوښتنې لاندې ټولو لګښتونو بیرته لاسته راوړو لپاره ټول لازمي ګامونه پورته کړي. د سیګار د اصلي معلوماتو غوښتنې لیک هدف USAID د ډیری مثالونو په ګوته کولو له جریانه خبرول و چیرې چې د اصلاح شوي پریکړو پراساس تر پوښتنې لاندې لګښتونه کم شوي او په نهایت کې بیرته لاسته راوړل شوي و.

### د معلوماتو غوښتنې لیک 15-18-SP: د سپک هوای ملاتړ الوتکو برنامه؛ د پیلوټ ګمارنه او ساتنه

د نومبر په 12، سیګار د امریکا دفاع وزیر او د USFOR-A او CENTCOM قوماندانانو ته د سپک هوای ملاتړ (LAS) الوتکو برنامې په اړه معلوماتو غوښتنې لپاره یو لیک واستاو، کوم چې د افغان هوایي ځواک پرمختللي الوتنې روزنو، هوای اطلاعاتو یا کشف او هوای ملاتړ وړتیاو رامنځته کولو کې مرستې لپاره ټاکل شوی. تر نن نیټې پورې د احتمال له مخې حد اکثر 950 ملیون ډالرو یو قرارداد د دې برنامې ملاتړ لپاره ورکړل شوی، او سیګار اندیښنه لري چې افغان اردو ته د الوتکو چمتو کولو لپاره برنامو په اړه د سیګار مخکینې پوښتنو کې پیژندل شوي روزنې او ساتنې ستونزو ورته ستونزې دا برنامه هم اغیزمنه کړي. سیګار په جورجیا کې د هوای ځواک ودانۍ ته د ساحې څخه لیدنې غوښتنه وکړه کوم چې د LAS برنامه اداره کوي ترڅو د افغان پیلوټانو لپاره الوتکو او روزنې برنامې په اړه ورته معلومات ورکړل شي کوم چې د الوتنې او الوتکو ساتنې زده کړو لپاره متحده ایالاتو ته راوړل شوي. د امریکا دفاع وزارت د جنورۍ په 8 د سیګار د پوښتنو په ځوابولو سره ځواب چمتو کړ، او موافقه یې وکړه چې نږدې وخت کې لیدنه ترتیب کړي.

**د معلوماتو غوښتنې لیک SP-21-15: د بهرنیو چارو وزارت د عامه چارو برخې بلاعوضه مرستې**

سیګار د نومبر په 21 د بهرنیو چارو وزیر ته په افغانستان کې د بهرنیو چارو وزارت عامه ډیپلوماسۍ بلاعوضه مرستې برنامې په اړه معلوماتو غوښتنې لپاره ولیکل. د FY 2007 څخه تر 2009 پورې موده کې د دې برنامې لاندې، د شاوخوا 1.5 ملیون ډالرو په ارزښت 177 مرستې ورکړل شوې وې. یو کال وروسته، د FY 2010 پیل څخه تر 2011 پورې د مرستو شمیرې 578 ته او ارزښت یې 111 ملیون ډالرو ته لوړ شو، د سیګار د 2012 یوې پلټنې موضوع. د سیګار د ځانګړې پروژو دفتر به د FY 2012 څخه تر 2014 مودې پرمهال ورکړل شوې مرستو او د همکارۍ تړونونو لومړنۍ بیاکتنه په لاره واچوي ترڅو و ارزوي چې ایا د مدیریت څارنه کې کومې داسې تشې شتون لري چې د دې لامل شي د مرستو پیسې په مناسب ډول اداره نشي، د دوی ټاکل شوې هدف لپاره وکارول شي او په مؤثر ډول وکارول شي. د بهرنیو چارو وزارت د دسمبر په 16 لیک ته ځواب ورکړ، او سیګار هغه ته چمتو شوې اسناد ازموي.

**د معلوماتو غوښتنې لیک SP-23-15: د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کارې ځواک**

د دسمبر په 10، سیګار د TFBSO په اړه معلوماتو غوښتنې لپاره د امریکا دفاع وزیر ته ولیکل. د TFBSO پیل په موده 2010 او د 2013 مارچ کې، TFBSO په افغانستان کې د اقتصادي ثبات خپل ماموریت تعقیبولو لپاره د امریکا دفاع وزارت فنډونو کې نږدې 700 ملیون ډالر مکلف کړې دي. سیګار په بې احتیاطي مصرف، د کارمندانو او قراردادیانو لخوا بې ځایه سفر، او د امکان له مخې غلط مدیریت کې دخیل د TFBSO کارونو پورې اړوند دردونکي تورونه لاسته راوړي. د مثال په توګه، سیګار په لویدیز افغانستان کې د هایدروکاربن را ایستلو پورې تړلې زلزلې ازمونې پورې اړوند د غلط مدیریت تورونه ترلاسه کړي، سیګار پلان لري چې دا مسلې د افغان استخراجي صنعت ملاتړ کې د TFBSO راتلونکې پلټنه کې په ګوته کړي.

## زده کړل شوي درسونه

### سیګار د نوي زده کړل شوي درسونو برنامه پیلوي

پدې ربع کې سیګار خپل د زده کړل شوي درسونو نوي برنامې (LLP) رامنځته کول اعلان کړل. LLP به له 2001 راهیسې تر نن پورې په افغانستان کې د بیارغونې پراخه څېړنې په لاره واچوي ترڅو په افغانستان کې د متحده ایالاتو بیارغونې هڅو پروړاندې د سیستماتیک مسلو په نښه کولو کې د مرستې لپاره غوره فعالیتونه او درسونه وپیژني.

LLP به د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو زوارت، USAID، کانګریس، اکاډمیا او نورو اړوند شریکانو سره په کار کولو خپلې څېړنې په لاره واچوي ترڅو د بیارغونې هڅو کلیدي عناصرو په څېړنه کې لیدونه لاسته راوړي. د بیارغونې بیلابیل اړخونو باندې متمرکز راپورونو لړۍ له لارې به سیګار مستند کړي چې د متحده ایالاتو حکومت د خپلو بیارغونې برنامو له لارې د کومو اهدافو بشپړول غواړي، ارزونه وبه کړي چې څه یې لاسته راوړي، او هغه اندازه وڅېړي چې دې پروګرامونو په افغانستان کې د متحده ایالاتو ستراتیژیک اهدافو ته رسیدو کې څومره مرسته کړې. په

راپورونو کې به عملي کیدونکي وړاندیزونه وي ترڅو د جګړې په ساحو کې مؤثره، کافي او پیاوړې بیارغوني هڅو څخه دڅاد ترلاسه کولو لپاره د شریکانو پروړاندې ننګونې په ګوته کړي، او وکولی شي د بیارغوني اوسنی او راتلونکي هڅو پرمختګ لپاره مرسته وکړي. LLP د اصلي موضوع ماهرینو څخه جوړ دی چې په افغانستان کې د کار کولو او ژوند کولو کافي تجربه لري، چې د دوی سره د تحقیقي څیړنو یوه تجربه لرونکي ډله هم ده. د خپلو راپورونو په جوړولو کې، LLP هغه د پام وړ مهارتونه او تجربه هم کاروي چې سیګار د خپلو پلټنو، تحقیقاتو، او تحقیق او څیړنې ریاستونو په بیله بیا ځانګړې پروژو دفتر کې ترلاسه کړې.

LLP د لاندې موارد‌و په اړه د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو خبرولو لپاره د سیګار د قانوني واک مرکزي برخه ده: (1) بیارغوني پورې اړوند ستونزې او تشې، او (2) د سمون فعالیتونو لپاره اړتیا. دا د متحده ایالاتو بیارغوني هڅې پروړاندې سیستماتیک ستونزو په نښه کولو لپاره د سهم لرونکو سره مرستې ته د وړاندیزونو او کومک چمتو کولو لپاره د سیګار 2014–2016 ستراتیژیک پلان بشپړونکی هم دی.

LLP پدې ربع کې دوه نوې پروژې اعلان کړې چې لاندې شرح شوي، او د تریاکو سره مبارزې او فساد باندې دوه نورې پروژې پلان کوي.

## د نوي زده کړل شوي درسونو پروژې

LLP پدې ربع کې دوه نوې پروژې اعلان کړې چې له 2001 څخه تر 2014 پورې به په افغانستان کې د متحده ایالاتو بیارغوني هڅې وازموي ترڅو په ستراتیژۍ او پلان جوړولو د ادارو ترمنځ همغږۍ او افغانستان ته د مرستې اداره کولو کې د بهرني ملګرو سره د متحده ایالاتو همغږۍ باندې راپور ورکړي.

### په ستراتیژۍ او پلان جوړولو د ادارو ترمنځ همغږي

له 2001 راهیسي، د ملي امنیت شورا (NSC)، د مدیریت او بودیجې دفتر (OMB)، د بهرنیو چارو وزارت، د امریکا دفاع وزارت، USAID او نورو ادارو په افغانستان کې د متحده ایالاتو بیارغوني هڅې پلان کولو او پلي کولو کې بوخت دي. دا سازمانونه د یو داسې هیواد بیارغولو خورا لوی او پیچلي کار سره مخ شوي چې نږدې دری لسیزو جګړې وران کړی. د دې ستونزې لرې کولو لپاره متحده ایالاتو د ځو ملیتي ستراتیژۍ پرمخ وړو هڅه وکړه چې له مخې یې د ځو ادارو او لوبغاړو فعالیتونه متحد شوي.

د هدف او هڅې یووالي څخه ډاډ ترلاسه کولو لپاره د دې ادارو د همغږۍ او همآهنګۍ څرنګوالي په اړه غوره پوهې ترلاسه کولو لپاره د LLP دا پروژه به په افغانستان کې د متحده ایالاتو تمویل شوي بیارغوني کې هغه رول ومومي چې د ادارو ترمنځ او وزارتونو ترمنځ ستراتیژۍ او هڅو پلان کولو په اړه دی.

دا پروژه به له 2001 څخه تر 2014 پورې په افغانستان کې د متحده ایالاتو بیارغوني هڅې وارزوي ترڅو: (1) په افغانستان کې بیارغوني لپاره د ستراتیژیانو او پلانونو رامنځته کولو او پلي کولو لپاره د ادارو ترمنځ پروسه کې د ملي امنیت شورا، د مدیریت او بودیجې دفتر، د بهرنیو چارو وزارت، د امریکا دفاع وزارت او USAID د قانون له مخې تعریف شوي رولونه وپیژني؛ (2) پدې قانوني واکونو او/یا د اداري فعالیتونو کې شته تشې په ګوته او و ارزوي چې ممکن له 2001 څخه تر 2014 پورې یې د ادارو ترمنځ د ستراتیژیانو او پلانونو همغږي مؤثریت باندې اغیزه کړې وي؛ (3) په ستراتیژۍ د ادارو ترمنځ همغږۍ ملاتړ کې د فنډونو تخصیص، اجازې او/یا مکلفیت باندې مهمې پریکړې په ګوته کړي چې ممکن په افغانستان کې یې د بیارغوني لپاره د سرچینو ټاکلو

د نوي زده کړل شوي درسونو پروژې

- په ستراتیژۍ او پلان جوړولو د ادارو ترمنځ همغږي
- د متحده ایالاتو د مرستو په اداره کولو کې د بهرني ملګرو سره همغږي

او د ادارو د وړتیاو مؤثره ترتیب یې اغیزمن کړی وي؛ او (4) په افغانستان کې په ساحه کې موجود اوضاع پورې اړوند ستراتیژیانو او پلانونو ارزول؛ او دا مشخص کول چې کومو توپیرونو د بیارغونې لپاره د ادارو د ستراتیژۍ او پلانونو همغږۍ ټینګ والی ضعف خورا اغیزمن کړی.

**د متحده ایالاتو افغانستان ته ورکونکي مرستي**
**اداره کولو کې د بهرني ملګرو سره همغږي**

افغانستان په تیرو درې کلونو کې د نړۍ ترټولو رسمي پراختیایي مرستې لاسته راوړونکی و چې د نړیوال بانک لخوا لیست شوې — په 2010 کې تر2012 اوږدو پورې هر کال له 6 ملیارد ډالرو څخه ډیر. متحده ایالاتو د پراختیا دې مرستې نړدې نیمایي برخه چمتو کړې، او په پراخه کچه امنیتي مرسته کې؛ د افغانستان بیارغونې لپاره د متحده ایالاتو ټولټال تخصیصات اوس له 107.5 ملیارد ډالرو ډیر شوي.

لږترلږه 45 ملتونو له 2001 راهیسې افغانستان ته د ډونر په توګه مرسته برابره کړې، او نیوالې ټولنې په منظم ډول په افغانستان کنفرانسونه (ټوکیو 2002، پاریس 2008، لندن او کابل 2010، ټوکیو 2012، او لندن 2014) په لاره اچولي ترڅو د څو اړخیز اهمیت، د پراختیا مرستې هڅه، او د ژمنو کولو او څواړخیزه تمو په څیر مسلو باندې پکې خبرې وکړي. دې کنفرانسونو د مرستې همغږي کولو او اداره کولو لپاره د یو شمیر مختلف ستراتیژیانو او جوړښتونو پایله درلوده، پشمول د افغانستان تراکم او ګډې همغږۍ او نظارت اداري رامنځته کول، د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي او ملي لومړیتوب برنامو رامنځته کول، او د ټوکیو څو اړخیز حساب ورکووني کاري چوکاټ له لارې د مرستې مصرف او پایلو لپاره د حساب ورکووني غبتلي کولو هڅې.

د بهرني لوبغاړو سره د متحده ایالاتو د همغږۍ څرنګوالي په اړه غوره پوهې ترلاسه کولو لپاره، د LLP دا پروژه په افغانستان کې د مرستو اداره کولو ته لومړیتوب ورکولو، پلان، همغږۍ او څار لپاره د متحده ایالاتو، نورو ډونرانو او افغان دولت لخوا د همغږۍ رامنځته شوي او پلي شوي ستراتیژیانې، میکانیزمونه او جوړښتونه په ګوته کوي او څیړي.

دا پروژه به له 2001 څخه تر 2014 پورې په افغانستان کې د متحده ایالاتو بیارغونې هڅې وارزوي ترڅو (1) د افغان دولت او نړیوالې ټولنې سره د پراختیايي مرستې همغږي کولو لپاره د ستراتیژیانو او جوړښتونو رامنځته کولو یا ښکیلتیا کې د متحده ایالاتو اهداف او اندونه وپیژندل شي؛ (2) د داډ په وړاندې کولو کې د بهرني ملګرو سره د متحده ایالاتو د همغږۍ مؤثریت ارزول چې مرسته په مناسب ډول لومړۍ شوې، پلان شوې، همغږي شوې او د مرستې اداره کولو لپاره په نړیواله کچه منل شوي معیارونو سره ورته څارل شوې، د متحده ایالاتو اهداف او د برنامې ټاکل شوې پایلې؛ (3) د متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې لخوا د پراختیا راتلونکي هڅو لپاره د پراختیا مرستې مؤثره همغږۍ لپاره د غوره تجربو او زده کړل شوي درسونو پیژندل.

## تحقیقات

د راپور ورکوونې دورې په جریان کې، سیګار د مدني جورجاړې ټرون د تادیاتو څخه د متحده ایالاتو حکومت لپاره له هرکله ډېر 53.7 ملیون ډالر ترلاسه کړل. د سیګار تحقیقاتو د متحده ایالاتو حکومت لپاره نور 12 ملیون ډالر وسپمول. جنایی تحقیقاتو د پنځه نیول کیدو، څپړ تورونو، څپړ محکومیتونو، یوه مجازاتو، د متحده ایالاتو د اردو یوه غړي منفک کیدو او په جریمو، جبران او بیرته تادیاتو کې د 105,000 ډالرو پایلې درلودې. په افغانستان کې، 10 افراد د نظامي تاسیساتو ته ننوتلو څخه منع کړی شوي. سیګار 38 نوي تحقیقونه پیل کړي او 34 یې تړلي، چې لدغو سره د ټولو روانو تحقیقونو شمیره 328 ته رسیږي، لکه څرنګه چې په 2.1 عکس کې ښودل شوي.

شکل 2.1

**د سیګار تحقیقات: د 2014 د دسمبر تر 31 پورې د خلاصو تحقیقاتو شمیر**

ټولټال: 328




سرچینه: د سیګار د تحقیقاتو ریاست، 1/12/2015.

## تحقیقاتو د 25 ملیون ډالرو مدني جوړ جاړي پایلې درلودې

د 2014 دسمبر په 5، د جوړ جاړي یو ټرون د متحده ایالاتو، د متحده ایالاتو عدلیه وزارت له لارې او د ایلنواز سویلي ولسوالی لپاره د متحده ایالاتو لوی څارنوال ترمنځ د متحده ایالاتو د ټرانسپورټیشن قوماندې (USTRANSCOM) او سوپریم لوژستیک (Supreme) FZE لپاره وشو، یوه دریمه ډله چې د توکو نړیوال ټرانسپورټ لپاره لوژستیکي خدمات برابروي. د ټرون د شرایطو او مقرراتو پربنسټ، سپریم به متحده ایالاتو ته 25 ملیون ډالر ورکوي.

USTRANSCOM یو لړ ټرونونه چې جمعا ورته د " USC-06" ټرونونو په توګه مراجعه کیږي، درې نړیوالو ټرانسپورټیشن او لوژستیکي شرکتونو، هر یو مایرسک لاین لمیټډ (MLL)، امریکن پریزیډنټ لاینز (APL) او هپاګ لیوډ (HL) ته ورکړل. د USC-06 بیلابیل قراردادونو لاندې، APL، MLL او HL افغانستان کې د متحده ایالاتو سرتیرو لپاره ټاکل شوي خواړه او کارګو له متحده ایالاتو لتویا یا په اروپا کې نورو مینځني بندرونو ته وړي. پدغه وخت کې، APL، MLL او HL د نورو بیلابیل لوژستیکي خدماتوبرابرونکو سره ترتیبات وکړل چې لدغه ځاینو کارګو افغانستان ته ورسوي، لدغو څخه یو یې سپریم و.

یو تحقیق وروسته له هغه پیل شو چې APL، MLL او HL متحده ایالاتو ته ځان افشا کړ چې دوی USTRANSCOM ته لوړ بیلونه ورکړي، د دوی د ګډ شریک فرعي قراردادي سپریم لخوا کړنو د یوې پایلې په توګه. د ځان افشا کولو مطابق، سپریم د لوړ قیمت شوي یخ لرونکي ټرکونو لپاره غلط بیلونه ورکړي پداسې حال کې چې دې د ټیټ قیمت غیر یخ لرونکي ټرکونه د کارګو انتقال لپاره کارولي دي، په بیله بیا د افغانستان سیمو ته د ځینې کارګو کانټینرونه یې د لوی شرکتونو لپاره نیول شوي او رسید شوي داخلي برات او ټاکل شوي داخلي برات څخه په ټیټ USC-06 نرخ انتقال کړي. APL، MLL او HL پدغه غلط رسیدونو تکیه کړې او دا یې د تادیاتو لپاره USTRANSCOM ته وړاندې کړي. سیګار او د نړیوال قرارداد د فساد کاري ځواک ډیری غړو یو تحقیق پرمخ ویوړ، چې پکې له 25 څخه ډیرو کلیدي پرسونل سره مرکې کړي او له 10,000 ډېر د قرارداد او پلټنې اسناد یې څیړلي.

د پایلې په توګه، تحقیق رابرسیره کړل چې سپریم د یخ لرونکي کانټینرو لپاره د متحده ایالاتو حکومت باندې زیات لګښت حسابولو سره د USC-06 لوی شرکتونو ته غلطې ادعاوې سپارلي پداسې حال کې چې دی د توکو وچ کانټینرونه کارول او د افغانستان سیمو ته د ځینې کارګو کانټینرونه یې د لوی شرکتونو لپاره نیول شوي او رسید شوي داخلي برات او ټاکل شوي داخلي برات څخه په ټیټ USC-06 نرخ انتقال کړي.

## تحقیقاتو د 20 ملیون ډالرو مدني جوړ جاړي پایلې درلودې

د 2014 دسمبر په 8، د ویرجینا ختیځې ولسوالی کې سپریم سایټ خدماتو (Gmbh (Supreme موافقه وکړه چې د ناتو ابتدایي امر ترون (BOA) لاندې په کندهار کې د دفاع لوژستیکي ادارې په واسطه د سونګ توکو پیرود لپاره د لوړو بیلونو تورونو جوړ جاړي لپاره 20 ملیون ډالر ورکړي.

په 2012 مارچ کې، سیګار او د ICCTF غړو یو تحقیق پیل کړ، وروسته له هغه چې معلومات یې د کاري ځواک 2010 څخه لاسته راوړل چې د سپریم یوه کارمند د سپریم ډرایورانو لخوا د ډیزل سونګ توکو د پام وړ مقدار د غلا کیدو راپور ورکړ چې وروسته یې بیا کندهار هوای ډګر (KAF) بیلا بیل موقعیتونو کې پیرودونکو باندې وپلورل. تحقیق رابرسیره کړل چې د سپریم تحویلی ډریورانو په KAF کې جنریټرونو ته تحویلیو کې منظم کمښتونو سره مخ کیدل او د دغه "کم کړی شوي" سونګ توکو په نورو پیرودونکو پلورلو له لارې شخصي ګټه ترلاسه کوله.

د زیان محاسبه کولو لپاره، تحقیقاتي ټیم نشو کولی یوازې په کاري پاڼو او مرکو تکیه وکړي مګر دوی مجبوره ول چې د شته اسنادو سره د هر جنریټر لپاره د رامنځته شوي ظرفیت نرخ پرتله کړي. پدې ځانګړي تحقیقاتي تاکتیک کې ارتیا لیدل کیده چې اجنټان په فزیکي توګه KAF کې د هر هغه جنریټر تفتیش سرته ورسوي چې د ناټو BOA لاندې یې د سپریم تحویلی لاسته راوړي ترڅو ساخت او ماډل په ګوته کړي. دې معلوماتو سره، د جنریټر جوړونکو سره اړیکه ونیول شوه ترڅو د هر جنریټر لپاره اصلي سوزول شوي انرژي ظرفیت مشخص کړی شي پداسې حال کې چې که چیرې جنریټر په ورځ کې 24 ساعتونه، اوه ورځې اونی کې کاریدلی وي. د شته جنریټرو په کمپیوټرو کې ذخیره شوي مصرفي معلوماتو په کارولو سره اجنټانو د احتمالي زیان متمرکز کولو لپاره د ځانګړي وخت په موده کې د سپریم تحویلی سره د مصرف دغه ډیټا پرتله کړه. د دې څیړنو لانور تعریف کولو لپاره، اجنټانو د ورته وخت دورې په جریان کې د ناټو په BOA د سپریم رسیدونه راټول او پرتله کړل.

هر اړخیز څیړنیز طریقې رابرسیره کړه چې د جنریټرو څخه لاسته راغلي شواهدو، سوزول شوي ظرفیت، د مصرف ډیټا او رسیدونو پر بنسټ سپریم د تحویل شوي سونګ توکو څخه د ډیرو بیلونه وړاندې کړي. د اصلي تحویل شوي سونګ توکو او سپریم لخوا بیل شوي سونګ توکو ترمنځ توپیر محاسبه او د زیان د اساساتو په توګه وکارول شو. سربیره پردې، د تحقیق په جریان کې، سپریم د تحقیقاتي ټیم سره کار وکړ او د لاسي سکینرو په کارولو سره یې د سونګ توکو تحویلی تعقیب لپاره په بشپړ ډول نوی لاره ډیزاین او پلې کړه ترڅو د دې د ډرایورانو لخوا راتلونکي غلا مخه ونیسي.

## مدني جوړ جاړي د 8.7 ملیون ډالرو د متحده ایالاتو حکومت ته تادیاتو پایله درلوده

د 2014 اکتوبر په 30، د متحده ایالاتو د متحده ایالاتو عدلیه وزارت له لارې د امریکا دفاع وزارت، USTRANSCOM او مایرسک لاین لمیټډ (Maersk) ترمنځ چې یو نړیوال د ټرانسپورټیشن او لوژستیک شرکت دی، مدني جوړ جاړی وشو. د ترون د شرایطو او مقرراتو پراساس، Maersk به متحده ایالاتو ته د USTRANSCOM قرارداد پورې اړوند د تور له مخې فعالیت کې پاتې راتلو او په افغانستان کې نظامي پوستو ته د بار وړو کې پاتې راتلو تورونو لپاره 8.7 ملیون ډالر ورکوي.

په 2012 اپريل کې، سيګار او د نړيوال قرارداد د فساد کاري ځواک (ICCTF) وروسته له هغې په ليترنيک کيمپ (CLN) کې تحقيق پيل کړ چې په افغانستان کې د شينډنډ مخکښ عملياتي بيس (FOB) او CLN څخه د 38 باروړونکي کانټينرو او پکې موجود توکو غلا کيدو په اړه و. کانټينرونه د امريکن پريزيډنټ لاين لميټډ (APL) او مايرسک و. تحقيق رابرسيره کړه چې د هر ورک کانټينر په اړه ډيرى د تحويلي ثبوت (POD) غلط اسنادو شتون درلود، چې دې اسنادو اجازه ورکوله قراردادیانو ته د ټاکل شوي اصلي هدف ته د کانټينرو رسيدو په توګه پيسې ورکړل شي.

تحقيق نور ډيرى ورک کانټينرونه رابرسيره کړل چې APL پورې تړلي و او دا چې Maersk ممکن په افغانستان کې د بيلابيل موقعيتونو لپاره غلط PODs سپارلي وي. په 2012 اګست کې، د غلا شوي کانټينرو تحقيق د يوه روان ملکي تحقيق سره ګډ کړى شو چې په ګډه د متحده ايالاتو اردو جنايي تحقيقاتو قوماندې (CID)، متحده ايالاتو د هواى ځواک د څانګړي تحقيقاتو دفتر (AFOSI) د دفاع جنايي تحقيقاتو خدماتو (DCIS) لخوا په ګډه پرمخ وړل کيده، دا تحقيق د ايلنواز سويلي ولسوالى کې د APL او Maersk سره د جوړ جاړي خبرو ترسره کولو لپاره و.

په 2013 جنوري کې لکه څنګه چې مخکې راپور شوي، د جوړ جاړي يو تړون د متحده ايالاتو، USTRANSCOM او APL ترمنځ وشو. د جوړ جاړي پايلي په توګه APL د متحده ايالاتو حکومت ته 4.25 مليون ډالر ورکړل.

## تحقيق د متحده ايالاتو حکومت لپاره د 806,000 ډالرو بيرته لاسته راوړو پايله درلوده

د 2014 اکتوبر په 04 د دفاع مالي او محاسبي خدماتو (DFAS) سيګار ته خبر ورکړ چې DFAS د يوه افغان شرکت، يونيټي لوژستيک او تحويلى خدماتو (Unity) سره د 806,672 ډالرو پور پروسه مکمل کړي، او د يوه وروستي تحقيق په تعقيب د پور بشپړ مقدار يې ترلاسه کړى.

دغه تحقيق د 2012 په نومبر کې پيل شوى و کله چې د KAF د متحده ايالاتو د اردو سيمه ايز ملاتړ ډلې راپور ورکړ چې يونيټي د KAF سونګ توکو ذخيرې څخه سونګ توکي د متحده ايالاتو قراردادونو پراساس ايستل چې اجازه يې نه ورکوله سونګ توکو ته لاسرسى ولري. تحقيق رابرسيره کړه چې د يونيټي قراردادیانو په KAF کې د متحده ايالاتو د سونګ توکو او خواړو کارتونه اختلاس کړي، د اجازې هغه ليکونو په کارولو سره چې په بل بيس کې د اعتبار نامې په توګه يوه قرارداد پورې تړلي و.

په KAF کې د يونيټي دفتر د لټون يوه تضمين 72 ناسم د خواړو تکثير شوي کارتونه او 10 د سونګ توکو ناسم تکثير شوي کارتونه وموندل. د موندنو پراساس، د متحده ايالاتو ته اړول شوى احتمالي زيان د تخمين له مخې نږدې 1 مليون ډالر دى.

د 2013 اکتوبر په 20، د تحقيق په تعقيب د سيمه ايز قرارداد کولو مرکز – سويل يونيټي ته د پور ورکولو غوښتني يو ليک تکثير کړ چې د متحده ايالاتو حکومت ته 806,672 ډالر بيرته ورکړي. د پور راټولولو پروسې تر 2014 سپټمبر پورې دوام درلود کله چې ټول د 806,672 ډالرو پور بيرته لاسته راوړل شو.

## تحقيق د متحده ايالاتو حکومت لپاره د 403,000 ډالرو سپمولو پايلې درلودې

د 2014 نومبر په 26 د غلطو رسيدونو له امله يوه افغان ساختماني شرکت ته د تادياتو مخه ونيول شوه، چې د متحده ايالاتو حکومت ته د 403,000 ډالرو سپمولو لامل شو.

په 2011 جنوري کې، USACE آوريش بلډرز ته په KAF کې د سرتيرو هستوګنځيو جوړولو لپاره د 12.7 مليون ډالرو قرارداد ورکړ. قرارداد وروسته د USACE لخوا مناسبت لپاره وتړل شو. وروسته لدې چې قرارداد وتړل شو، د دفاع قرارداد پلټنې اداري (DCAA) دوه ورته رسيدونه وموندل چې د ډالرو مختلف مقدارونه يې منعکس کول.

د 2014 فبروي کې DCAA د متحده ايالاتو د اردو CID لوی تدارکاتو د درغلی قطعې (MPFU) سره د دوی په پلټنه کې رابرسيره شوي رسيدونو په اړه اړيکه ونيوله چې په KAF کې ګمارل شوې وه. MPFU لدې ICCTF خبر کړ او سيګار په تحقيق کې د مرستې کولو سره موافقه وکړه.

د تحقيق او DCAA پلټنې د موندنو پراساس، د USACE قرارداد کولو افسر پريکړه وکړه چې تر پوښتنې لاندې رسيدونه به تاديه نه شي.

## د متحده ايالاتو پوځ غړي د تيلو غلا دسيسه کې په جرم اعتراف وکړ

د 2014 اکتوبر په 6، د شمالي کارولينا ختيځې ولسوالی کې، د متحده ايالاتو اردو متخصص اليکسانډر سويم په غلا او د عامه ملکيت اړولو او پدې برخه کې مرسته کولو هڅولو کې د ښکيلتوب اعتراف وکړ. علاوه لدې، سويم به د پانګو جبران سره هم مخ شي.

له 2012 جنوري څخه تر 2012 اکتوبر پورې سويم په شرنه FOB کې د ځانګړي عملياتو ګډ کاري ځواک (CJSOTF) لاندې افغانستان ته ګمارل شوی و. د هغه د دندې پرمهال، سويم د پرمختللي عملياتي بيس ميکانيک په توګه کار وکړ چې د ځانګړي عملياتو ځواکونو ته د سونګ توکو توزيع او وسايطو ساتنې د نظارت مسؤليت يې درلود. د هغه د دندې په جريان کې، سويم ډيری ځله په شرنه FOB کې د متحده ايالاتو پورې تړلي سونګ توکو غلا کولو دسيسه کې برخه اخيستې، چې د افغانانو تر ملکيت لاندې سونګ توکو ټانکرې به يې تاسيساتو ته راتلو پورې سکورټ کولې، سونګ توکي يې پکې خيژول او بيا به يې بيرته د بيس څخه وتلو لپاره سکورټ کول. د سويم د کړنو له امله د متحده ايالاتو حکومت په غلاشوي تيلو کې د څه دبره 400,000 ډالرو زيان سره مخ شوی.

ټاکل شوي وه چې سويم د 2015 جنوري په 6 محکمه شي.

## د متحده ايالاتو اردو درې غړو د اختلاس دسيسې باندې اعتراف وکړ

د 2014 اکتوبر په 6، د شمالي کارولينا ختيځې ولسوالی کې، د متحده ايالاتو اردو لومړی بريدمل (SFC) کليو آتري، SFC ډيريک هارپر، او SFC جيفري آرتر کوک، هر يو د حکومت ملکيت غلا کولو او دسيسې يو حساب باندې تورن او اعتراف يې وکړ.

د 2008 اکتوبر او 2012 اپریل ترمنځ، د تحقیق سره مخ دا نفر د افغانستان په جلال اباد FOB کې د CJSOTF لاندې ځانګړي ځواکونو ډلې سره ګمارل شوي و. د دوی د دندې په جریان کې، دوی د تروریزم پروړاندې مبارزې عملیاتو ملاتړ لپاره د ځانګړي ځواکونو ډلو په واسطه کاریدونکې فنډونو او د قوماندانانو بیړني غبرګون برنامې څخه د فنډونو اختلاس لپاره دسیسه جوړه کړې. د وخت په تیریدو سره دوی نقدي پیسې غلا کړې، د 1,000 ډالرو د پیسو غوښتنو یو اساسي شمیره یې وپېرودله، او پیسې یې خپلو میرمنو ته ولیږلې، بریښنایی بانکونو ته یا بیلابیل پلورونکو ته.
تاکل شوې دا درې نفر د 2015 په جنورې کې محکمه شي.

## دوه نفر په انګلستان کې د بډې اخیستو لپاره نیول شوي

د 2014 دسمبر په 2، د انګلستان په ډورسیټ سیمه کې، د ماندیال دفاع سیسټمونو دوه اجرا کونکي رابرټ ګیلام او سیمون ډاویز رسما ونیول شو او د انګلستان د بډو قانون 2010 پراساس تورن شول. د تعقیبي پوښتنو او ګرویږنو په جریان کې، دواړه تورنو د 2009 اګست په جریان کې د بډې اخیستو یوې دسیسه کې لاس لرل ومنل، هغه مهال دوی د نږدې 5.9 ملیون ډالرو په ارزښت د پیرود درې امرونو ورکولو په بدل کې د بل فرد څخه غیر قانوني تادیات لاسته راوړل.
د سیګار، د تحقیقاتو فیدرال بیورو (FBI) او DCIS اجنټانو د لندن ښار پولیسو په غوښتنه د دغه دوه نفرو نیولو او درې اړوند د لټون تضمینونو کې برخه واخیستله. د دوی نومونه په هغه ګواهینامو کې شامل کړل شوي و چې د لندن ښار پولیسو لخوا د انګلستان قاضي ته چمتو شوې، او دوی ته اجازه ورکړل شوه چې په نیولو او بیا تعقیبي تحقیقاتو کې شتون ولري او برخه پکې واخلي.
تحقیق دوام لري.

## د متحده ایالاتو پوځ بریدمل د بډو په دسیسه اعتراف وکړ

د 2014 نومبر په 19، د شمالي کارولینا ختیځې ولسوالی کې ایمانویل لوګو د بډو او دسیسو په تور د جرم اعتراف وکړ چې په 2011 جولای کې د حکومت سونګ توکو غلا کولو یوې دسیسه کې د هغه د ښکیلتیا په اړه و.
د 2014 اکتوبر په 22، په واشنګټن DC کې د عدلیه وزارت دفترونو کې پرمخ وړل شوي رسمي وړاندیزي ناستې په جریان کې ایمانویل لوګو د فدرال اجنټانو ته د متحده ایالاتو اسعارو 28,700 ډالر پرېښود. د لوګو په وینا، دا پیسې د هغه پروسو برخه وه چې دې د خپلو غیر قانوني فعالیتونو څخه لاسته راوړې. پیسې د سیګار او FBI اجنټانو لخوا نږدې بانک ته ویوړل شوې چیرې چې دا پیسې د متحده ایالاتو مارشال خدمت ته د تادیې وړ نغدي چیک ته واړول شوې.
تحقیق د هغه تورونو پر اساس و چې لوګو او د هغه مل دسیسه کونکو د ټرانسپورټیشن حرکت (TMRs) جعلي غوښتنو جوړولو کې مرسته کړې ترڅو په KAF کې د تیلو غلا ته لاره هواره کړې او بیا په نږدې ښارونو کې په تور بازار کې د نغدو پیسو لاسته راوړو لپاره وپلورې. د دې غیر قانوني دسیسې له امله د متحده ایالاتو حکومت ته اوښتې ټول زیان شاوخوا 10 ملیون ډالر و.

## د متحده ایالاتو حکومت ته د 10 ملیون ډالرو سپمول

د 2014 اکتوبر په 4، د بګرام هوای ډګر (BAF) یوه قراردادي افسر راپور ورکړ چې د سیګار یوه تحقیق د متحده ایالاتو حکومت ته د 10 ملیون ډالرو سپمولو پایله درلوده. سپمول د BNN لوژستیکس (BNN) سره دوه قراردادونو پورې اړه لري، دا یو لوی افغان بار وړونکی شرکت دی چې د متحده ایالاتو حکومت لپاره په BAF کې د عمده توکو انتقال ترسره کوي.

د 2013 اوړي په جریان کې، د CENTCOM ګډ تیاتر ملاتړ قرارداد کولو قوماندې (C-JTSCC) امر وکړ چې په قراردادونو د نا ترسره شوي کار لپاره ټول TMRs باید له اداري پلوه وتړل شي. لدې چې نور کار ته اړتیا نه وه نو قراردادیانو ته تادیه هم ونه شوه. د C-JTSCC امر څخه مخکې قراردادیانو ته وخت ټاکل شوی و چې د خپل ترسره کړي کار لپاره د هغوی TMRs وسپاري. C-JTSCC د دې پروسې توضیح کولو لپاره یوه ناسته درلوده او په تعقیب یې BNN په 2013 کې د ټاکل شوې مودې په جریان کې د اداري تړلو لپاره TMRs وسپارل.

د 2014 اګست په جریان کې، BNN د تادیاتو لپاره C-JTSCC ته TMRs وسپارل، لدوی ځینې یې هغو ته ورته و چې BNN په 2013 کې تړلو لپاره سپارلي و. سیګار BNN ته توضیح ورکړه چې دا د شک وړ و چې BNN د C-JTSCC د امر څخه شاوخوا یو کال وروسته TMRs سپارلي، او پداسې یو وخت کې چې نوی قراردادي افسر نمایندګان (CORs) د لیږد دوره کې و. سیګار وړاندیز وکړ چې BNN د COR سره اړیکه ونیسي ترڅو ورسره خبرې وکړي چې کوم لګښتونه د هغوی د کار لپاره د حکومت لخوا د منلو وړ دي چې مخکې نه و ورکړل شوي او TMRs په ورته ډول ترتیب کړي.

BNN او COR یو دوه اړخیز تړون وکړ او په تعقیب یې BNN له سره TMRs د پام وړ ټیټ نرخ سره وسپارل.

## د متحده ایالاتو قراردادي د بډو دسیسې لپاره محکمه شو

د 2014 دسمبر په 15، د اریزونا ولسوالی کې رابرټ بیرتولیني د درې میاشتو په بند، ورپسې د اوه میاشتو مودې لپاره په کور کې نظر بند کېدل، درې کالو احتمالي خوشې کېدل او د متحده ایالاتو حکومت ته 59,975 ډالرو جبران ورکولو باندې محکوم شو. په 2014 جولای کې، بیرتولیني د لاکشور انجینرنګ خدماتو شرکت (LES)، د لاکشور ټولټیسټ کارپوریشن فرعي برخې یو پخوانی کارمند، د تار درغلی او غیرقانوني بډو ترلاسه کولو یو حساب دسیسه باندې د جرم اعتراف وکړ.

په 2010 دسمبر کې، USACE د افغانستان په کابل کې د ANA لپاره د FOB روکو ډیزاین او جوړولو لپاره LES ته یو قرارداد ورکړ. LES بیرتولیني د FOB روکو د پروژې مدیر په توګه په دنده وګماره او د 2011 په مارچ کې LES د توکو، کارګرانو او نورو خدماتو چمتو کولو لپاره د شمس نړیوال ګروپ (شمس) سره قرارداد وکړ.

د 2011 په مېی کې، د LES تصویب پرته بیرتولیني د شمس قرارداد کې دوه اصلاحات تصویب کړل، چې ارزښت یې 1 ملیون ډالرو ته لوړ شو. د تصویب په تعقیب، شمس په اوهایو کې د بیرتولیني د ځوی په ملکیت یوه بانکي حساب ته شاوخوا 59,975 ډالر واستول.

بیرتولیني به د زندانونو بیورو ته د 2015 فبروري په 10 حاضر شي.

# د سیګار پټو عملیاتو مرسته وکړه چې د اور وژنې موټر او د متحده ایالاتو د حکومت نور ملکیت د غلا کولو طرح خنثی کړي چې لګښت یې څه دبره 800,000 ډالر و

د متحده ایالاتو سیمه ایزه محکمه د کولمبیا په سیمه کې د اردو جنایی تحقیقاتو قوماندې (CID) معلومات لاسته راوړل چې د فلور کارپوریشن فرعي قراردادي، ایکولوګ نړیوال یو کارمند کرشنا کمار ډیری ځله د بګرام هوای ډګر (BAF) څخه د بیرته پلورلو په تکل د متحده ایالاتو حکومت ملکیت غلا کولو په اړه غږیدلی. کمار د ډیری توکو انتقال مسؤلیت په غاړه درلود لکه د دفاع لوژستیک اداري (DLA) ته درانده تجهیزات او موټرې او ډیری ځله یې د سرچینې پوښتنه کړې که چیرې هغه د توکو احتمالي پیرودونکی وپیژني کوم ته چې لاسرسی درلود.
د 2014 دسمبر په 9، کمار ځان سرچینې ته نږدې کړ او د یوه اور موټر او یوه زره داره فورډ F-150 پیک اپ موټر لپاره د پیرودونکي موندلو ته لیوالتیا وښودله. کمار وویل چې د متحده ایالاتو حکومت په ملکیت دوه وسایط باید پدې څو ورځو کې وپلورل شي؛ که نه نو باید DLA ته یې انتقال کړي. د دې معلوماتو لاسته راوړو پرمهال، CID د نړیوال قرارداد فساد کاري ځواک (ICCTF) څخه د مرستې غوښتنه وکړه او پټ عملیات پیل شول
د 2014 دسمبر په 12، سرچینې او د سیګار ځانګړي اجنټ د مستعار پیرودونکي په توګه، د کمار او هغه سره په دسیسه کې شریک نفر روپ سنګ سره د BAF په فلور موادو حویلۍ کې ولیدل. د 40 دقیقو ناستې په جریان کې، د اور موټر او F-150 زره دار پیک اپ موټر غیر قانوني پیرود پورې اړوند خبرو ثبتولو لپاره ځانګړي اجنټ د ځان سره پټ غږ ثبتونکی درلود. دوی په ترتیب سره 40,000 ډالرو او 10,000 ډالرو نرخ باندې موافقه وکړه. لدې چې د اور موټر ټایر چاودلی و او حرکت یې نشو کولی، او د پیک اپ موټر ته پدغه وخت کې لاسرسی نه و، نو پدې موافقه وشوه چې سنګ به وروسته له هغې د سرچینې سره تماس ونیسي چې د پیک اپ را ایتسلو فرصت لاسته راشي او د اور موټر ټایر ترمیم شي.
په همدغه ورځ، سنګ سرچینې سره اړیکه ونیوله او ورته وې ویل چې وسایط د وړلو لپاره چمتو دي. هغه وروسته په همدغه ورځ د ځانګړې ناستې وخت سره موافقه وکړه او تاکید یې وکړ چې د 50,000 ډالرو بشپړ تادیاتو ته به اړتیا وي. حتی که څه هم په لومړنۍ ناسته کې ثبت دمخه په غیر قانوني پلور کې د جرم اثبات رامنځته کړی و، دا پریکړه وشوه چې پټ اجنټ او سرچینه باید د فلور موادو حویلۍ ته ولاړ شي ترڅو په دسیسه کې ښکیل نورو افرادو پیژندنه کې لا نوره مرسته وشي. د فلور کارپوریټ تحقیقاتو څخه په مرستې سره، د فلور حویلۍ ټول پرسونل د لسو نفرو په ګروپ کې راټول کړی شو نو اجنټ او سرچینې په غوره توګه کولی شو هغه شکمن کسان وپیژني چې مخکې یې ورسره لیدلي و. ځانګړي اجنټ او سرچینې کریشنا کمار او راج جنک په دسیسه کې د برخه اخیستونکو په توګه وپیژندل. په تعقیب یې، کمار او جنک سنګ په ګوته کړ، او دوه نور افراد ویجی کمار او ستپال چې هم پکې دخیل و. ټول بنځه واړه د پرووسټ مارشل دفتر ته د پوښتنو ګرویګنو لپاره ویوړل شول. کریشنا کمار، جنک، او سنګ، هر یوه ومنله چې د دوه موټرو په پلورلو کې دخیل و،



**د سیګار یو ځانګړی اجنټ** د متحده ایالاتو حکومت ملکیت غلا کولو یوې دسیسې خنثی کولو کې مرستې لپاره مخفي کیږي. ( د امریکا دفاع وزارت عکس)




**کمار څڼه وکړه** د متحده ایالاتو حکومت په ملکیت د اور دا موټر د 40,000 ډالرو لپاره **وپلوري**.
(د امریکا دفاع وزارت عکس)



**د ایکولوګ نړیوال** یو کارمند کرشنا کمار ډیرې څله د بیرته پلورلو په تکل د متحده ایالاتو حکومت ملکیت غلا کولو په اړه غریدلی. (د امریکا دفاع وزارت عکس)

مګر په کوم مخیکیني غیر قانوني فعالیت کي د ښکیلتیا درلودو څخه دډه وکړه. ویجی کمار او ستپال پکي ښکیلتیا ونه منله، مګر رامنځته شو چي ویجی کمار پکي برخه اخیستي وه. د تورنو خوني تلاشي شوي او وروسته دوی د ایکولوګ نماینده ته وسپارل شو.

د پټو عملیاتو له امله، د 2014 دسمبر په 14، کرشنا کمار، راج جنک روپ سنګ، او ویجی کمار په افغانستان کي د USFOR-A او ایساف ټولو تاسیساتو څخه د متحده ایالاتو اردو ګارنیزون په واسطه منع کړل شو. ګارنیزون د فلور او ایکولوګ سره همغږي وکړه چي تورن کسان له افغانستان څخه وباسي او بیرته یي هند ته ولیږي. د دریم هیواد اتباع (TCNs) پورې اړوند قضیو کي په ځانګړي توګه کله چي TCNs د تحقیق (تحقیقاتو) موضوع وي نو افغان څارنوالان په نوعي ډول تعقیب ردوي. پدې ځانګړي قضیه کي، د بګرام رییس څارنوال تعقیب ردکړ کله چي هغه ته وویل شو ټول تورن کسان TCNs دي. که څه هم TCNs د جنایي پلوه نه و تعقیب شوي، د سیګار تعلیق او مخنیوي برنامي لخوا به د دوی پروراندي د تعلیق او مخنیوي غوښتنه وشي.

لکه څنګه چي د اور موټر او زره دار F-150 پیک اپ موټر اصلي ارزښت په ترتیب سره شاوخوا 643,492 ډالر او 159,000 ډالر دی، نو تحقیق د 802,492 ډالرو احتمالي زیان مخه ونیوله.

## د متحده ایالاتو قراردادي د درغلۍ لپاره تورن شو

د 2014 دسمبر په 16، د ټيکساز ختيځې ولسوالی کې جورج ای. ګرين د تار درغلی او مالي ليږدونو بنه کولو دسيسي لپاره د فيدرال پنځه حساب تورونو په تعقيب ونيول شو.

تحقيقات وروسته له هغه پيل شو چې USAID تورونه لاسته راوړل چې ګرين، د نړيوالي هوسايني پراختيا (IRD) يو کارمند د USAID سويل سيمه ايز کرهني پراختيا (SRAD) برنامي لپاره، د 65 مليون ډالرو په ارزښت يوه قرارداد ورکولو په بدل کې بډې لاسته راوړي. د IRD يوه افغان کارمند په متحده ایالاتو کې د ګرين حساب ته 20,000 ډالر او نورو ډيری افغان قراردادیانو د هغه بانکي حساب ته 25,000 ډالر او په ايټاليه کې يوه انتيک معامله ګر ته پيسي ليږلي. ګرين په دوبی کې د 16,000 ډالرو ګاني وپيرودلي ترڅو د پيسو دغه مقدار ومينځل شي او ترتيبات يې برابر کړل چې ښځه يې څه دبره 30,000 ډالر متحده ایالاتو ته له ايټاليه څخه ويسي کله چې بيرته له ګډو رخصتيو ستنيږي.

## د متحده ایالاتو قراردادي د متحده ایالاتو د حکومت ملکيت په غلا کولو اعتراف وکړ

د 2014 دسمبر په 12، د ايلنواز شمالي ولسوالی کې، تيموري مورر، د رايتون پخوانی کارمند په جنايي معلوماتو اعتراف وکړ چې پر هغه پکې د حکومت د ملکيت غلا کولو تور لږول شوی و.

تحقيقات وروسته له هغه پيل شو چې د 2013 او 2014 په جريان کې په شينډنډ هوای بيس کې د متحده ایالاتو د حکومت تر ملکيت لاندې کمپيوټري تجهيزاتو د سيستماتيک غلا راپور ورکړل شو. شواهدو رابرسيره کړه چې مورر د غلاشوي کمپيوټري تجهيزاتو درلودونکي 11 کڅوړې په متحده ایالاتو کې ميشته افرادو ته وليږلي چې وروسته معلوم شو دوی بيا دغه تجهيزات پلورل. مورر ومنله چې د څه دبره 200,000 ډالرو تجهيزات يې غلا کړي دي.

## د متحده ایالاتو د اردو غړي نيول شوي او تورن شوي

د 2014 دسمبر په 3، د پورټو ريکو ولسوالی، کې د متحده ایالاتو اردو برديمل لويس کاسيلاس د نغدي پيسو قاچاق، غلط بياناتو، د حکومتي ملکيت غلا، متحده ایالاتو ته د توکو قاچاق او تار غلا باندي تورن وپيژندل شو. کاسيلاس د 2014 دسمبر په 4 د FBI SWAT ټيم په مرسته ونيول شو.

د 2013 اګست په 16، په لويسويل، کينټوکي کې د ګمرکونو او پولي ساتني (CBP) متحده پارسل خدمت (UPS) مرکز کې، د CBP افسرانو د افغانستان KAF څخه راليږل شوي يوه پارسل کې 41,750 ډالرو مخه ونيوله. دغه پارسل د کاسيلاس لخوا د هغې ميرمن ته په پورټو ريکو کې ليږل شوی و. د 2013 اګست په 21، CBP د يوه بل پارسل مخه ونيوله چې د کاسيلاس لخوا پکې 20,800 ډالر د تجهيزاتو منځ کې پټ شوي و. تحقيق رابرسيره کړه چې دغه تجهيزات غلا شوی ملکيت و چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي LOGCAP پورې تړلي و.

د 2013 په سپتمبر کې، FBI سان جون، پورټو ریکو د خصوصي وکالت قانون دفترو ته ځواب ورکړ چې د یوې بې نومه سرچینې نمایندګي یې کوله چا چې غوښتلي و په پرېینودل شوي اسعارو او توکو کې له افغانستان څخه 46,500 ډالر واړوي. د وکیل څخه پرېینودل شوي نغدي پیسو او توکو بیرته ترلاسه کولو پرمهال، FBI رابرسیره کړه چې دغه توکو د LOGCAP شمیرو نښې درلودې او معلومات یې په KAF کې اجنټانو ته تیر کړل. دغه توکي د متحده ایالاتو حکومت غلا شوی ملکیت و او غلا بیرته کاسیلاس ته رسیده.

د شاوخوا 115,000 ډالرو نغدي او توکو غلا سربیره، کاسیلاس د اردو څخه بهر میشته کیدو مزد تادیات لاسته راوړي ځکه چې هغه په درغلی سره ادعا کړې وه چې د هغه د میرمنې په ملکیت هستوګنځي لپاره یې کرایه ورکوله. دې درغلی د متحده ایالاتو حکومت ته 96,950 ډالر تاوان اړولی.

## د متحده ایالاتو د اردو غړی منفک شو

د متحده ایالاتو اردو بریدمل چارلس اېډوارډ مک الوین د متحده ایالاتو اردو څخه د نظامي محکمې پرځای د نظامي قضا یونیفارم کوډ 10 څپرکي پراساس منفک شو. مک الوین له 2012 څخه تر 2013 پورې افغانستان کې د دندې پرمهال د الکولو پلور او توزیع لپاره د "ویاړنې پرځای" منفک شو. مک الوین د تعلیق او مخنیوي پروسو سره هم مخ شو.

تحقیق د هغه تورونو پراساس پیل شو چې کریستال ساختماني شرکت (CCC) د 2012 په جریان کې FOB سالرینو ته په افغانستان کې د بیسونو تقویه کولو لپاره کارول شوي 450 موانع تحویل کولو قرارداد سره په تړاو کې غلطې ادعاوې دوسیه کړي. نورو معلوماتو د مک الوین ښکیلتیا څرګنده کړه، د قرارداد COR، چا چې د تور پر بنسټ بډې لاسته راوړي او دغه یې په متحده ایالاتو کې د کورنی غړو ته لیږلي دي. تحقیق رابرسیره کړه چې مک الوین او ډیسن ډیني په FOB سالرینو کې په کار بوخت یوه خصوصي قراردادي له افغانستان څخه متحده ایالاتو ته بیرته زرهاو ډالر لیږلي.

د مک الوین او ډیني سره مرکه وشوله او دواړو اعتراف وکړ چې په FOB سالرینو کې دوی الکول قاچاق او توزیع کړي. په هرصورت، د CCC قرارداد په تړاو د بډو شواهدو شتون نه درلود. ډیني له دندې و ایستل شو او د تعلیق او مخنیوي پروسه یې په تمه ده. مک الوین بیرته متحده ایالاتو ته راستون شو ترڅو د الکول قاچاق او توزیع کې د نظامي محکمې سره مخ شي.

## قراردادي د نظامي تاسیساتو څخه منع کړی شو

د 2014 اکتوبر په 21، کریستوفر مک کری ته د BAF څخه منع کیدو یو لیک ورکړل شو. مک کری مخکې منلې و چې په BAF کې یوه قراردادي شرکت، برجر – کومینس سره د دندې پرمهال یې بډې لاسته راوړې وې. مک کری دا هم منلې چې د برجر – کومینس څخه یې د مسو تارونه غلا کړي او د خپل سکورټ واک څخه په ناوړه ګټه اخیستو یې د BAF څخه ایستلو کې مرسته کړې.

په پایله کې یې، مک کری د تل لپاره په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي تاسیساتو څخه منع کړی شو.

## د متحده ایالاتو د 103,000 ډالرو په ارزښت ملکیت بیرته لاسته راوړل شو.

د 2014 فبروري په 14، ATL، یو افغان ملي باروړونکی (NAT) شرکت، د کابل فونیکس کیمپ څخه د پکتیا ګردیز ته د زرې داره پیک اپ ایستلو پرمهال د ملي امنیت (NDS) امنیتي پوسته کې ونیول شو. NDS دا موټر هغه مهال ضبط کړ چې وړونکي یې د زره داره وسایطو جواز نه درلود. د ټرانسپورټیشن شرکت، متحده ایالاتو اردو او سیګار لخوا د موټر بیرته ترلاسه کولو ګړندی هڅې غیر مؤثره وې.

دغه موټر په نهایت کې د NDS کابل لوژستیک ودانۍ کې ځای پر ځای شوی و. وروسته د لوژستیک ودانۍ ته تلو او د NDS چارواکو سره ډیری ناستو وروسته، سیګار NDS لپاره ترتیب جوړ کړ چې دغه موټر د متحده ایالاتو د اردو یوه قراردادي، SEK ته ورکړي. د 2014 نومبر په 6، د 103,000 ډالرو په ارزښت دا موټر د NDS لخوا خوشې او SEK یې ملکیت واخیست ترڅو یې خپل اصلي مالک ته ورسوي.

## تعلیق او مخنیوني

پدې ربع کې، د سیګار تعلیق او مخنیوي برنامې په افغانستان او متحده ایالاتو کې د سیګار لخوا پرمخ وړل شوي تحقیقاتو برخې په توګه لاسته راغلي شواهدو پربنسټ 12 افراد او پنځه شرکتونه د تعلیق یا مخنیوي لپاره راجع کړي. د دې افرادو څخه اوه یې چې په افغانستان کې د بیارغونې قرارداد کولو پورې اړوند یا دې باندې اغیزې کولو غلط عمل پراساس د دوی پرورانډې دوسیه شوي جرمي تورونو له مخې د تعلیق لپاره راجع شوي. لکه څنګه چې په شکل 2.2 کې ښودل شوي، دا رجعتونه د 2008 راهیسې د سیګار لخوا راجع شوي افرادو او شرکتونو ټولټال شمیره 564 ته لوړوي چې 304 یې افراد او 260 یې تر نن نیټې پورې شرکتونه دي.

2014 دسمبر پای پورې، په افغانستان کې د درغلی، فساد او ضعیف فعالیت په ګوته کولو لپاره د سیګار د تعلیق او مخنیوي کارولو هڅو د متحده ایالاتو تمویل شوي بیارغونې پروژو کې ښکیل د ټولټال 91 افرادو او شرکتونو د تعلیق او 295 مخنیوي پایله درلوده. د برنامې له پیل راهیسې نور 14 افراد او شرکتونه د قرارداد څخه اخراج پرځای د دولت سره اداري اجابت ټړونونه ترسره کړي. یوازې د 2015 لومړی ربعې په جریان کې، د سیګار رجعتونو د اردو او هوای ځواک ریاستونو کې د تعلیق او مخنیوي چارواکو لخوا د اوه تعلیقونو او 74 افرادو او نهادونو نهایی شوي مخنیوي پایله درلوده.

تعلیقات او مخنیوني دا ډاډه کوي چې اداري خپل قراردادونه یوازې مسولو کسانو ته ورکړي. د سیګار پروګرام په افغانستان کې د امریکا د پالیسی او بیړني قرارداد کولو د چاپیریال په وړاندې د ننګونو لپاره د حل لار پیدا کوي: د ډیر ژر عمل کولو لپاره اړتیا، په افغان وګړو او افغان شرکتونو باندې د امریکا محدود قانوني صلاحیت، او هغه ننګوني چې له ډیرو زیاتو فرعي قراردادیانو څخه د کار اخیستنې د ارزونې په اړه دي. سیګار په افغانستان او متحده ایالاتو کې د معلوماتي سرچینو او څیړنیزو شتمنیو ابتکاري کاروني له لارې هڅه کوي څو د دې ننګونو په وړاندې د حکومت

شکل 2.2

**د سیګار تحقیقات: د تعلیق او بندیز لپاره ټولټال رجوعات، Q2 FY 2011–Q1 FY 2015**




سرچینه: د سیګار د تحقیقاتو ریاست، 1/8/2015.

غبرګونونو ته وده ورکړي. سیګار د خپلو بشپړو څېړنو په اساس د متحده ایالاتو ادارو ته د شرکتونو یا انفرادي کسانو د تعلیق یا مخنیوني – هغه اقدامات چې د امریکایي ادارو لخوا ترسره کېږي تر څو هغه افراد او شرکتونه فیدرالي قراردادونه ترلاسه نکړي چې په بدچلندی پېژندل شویدي- وړاندیز کوي. په اکثرو پېښو کې، سیګار خپله مراجعه هغه وخت وړاندې کوي چې قرارداد کونکی دفتر د تور د ځارنوالي تعقیب یا اصلاحي ګام لپاره کوم اقدام ونکړي، بناء د سیګار دغه کار د قراردادي د بدچلندی د بررسي لپاره لومړی غبرګون دی. سیګار د مراجعي پرمهال، ادارو ته د تعلیق او مخنیوني د پرېکړې اساس چمتو کوي او همدارنګه ټول هغه مرستندویه اسناد اداري ته سپاري چې کیدای شي د قراردادي لخوا د پرېکړې نه منلو په صورت کې وښودل شي. په افغانستان کې د قرارداد کولو د چاپېریال بدلیدونکی ماهیت او د قراردادي خراب چلند شواهد، او/یا کمزوري فعالیت شتون په اساس، ځینې وختونه سیګار دا ضروري ګڼلې ترڅو انفرادي کسان یا شرکتونه ډیری وختونه د ادارو د تعلیق او بندیز چارواکو غور لپاره راجع کړي.

په تعلیق او بندیز باندې د سیګار ټینګار د هغې بیلګې حقیقت دی چې دې اداری تر اوسه د تعلیق او بندیز 564 راجع کیدل ترسره کړي، او 535 د 2011 له دویم ربع څخه شوي دي. د 2015 جنورې 1 دمخه، د 12 میاشتو دورې په جریان کې، د سیګار تعلیق او مخنیوي برنامو د دولت سره قرارداد کولو څخه د 176 افرادو او شرکتونو د اخراج پایله درلوده. د سیګار دې ربعي رجعتونه د نږدې 845 ملیون ډالرو په ارزښت بیارغوني قراردادونو برخې په تړګه غلا، درغلی، ضعیف فعالیت، ترهګرو ته مالي ملاتړ او غلط مدیریت تورونو نمایندګي کوي.

په 2014 اکتوبر کې، د سيګار تعليق او مخنيوي ټيم ته د يووالي او کفايت عمومي مفتشينو شورا لخوا د غوره والي لپاره د ځانګړي عمل جايزه ورکړل شوه چې په 2011 کې د برنامې له پيل راهيسي د افغانستان بيارغونې قراردادونو کې درغلۍ او ضعيف فعاليت کې ښکيل قراردادیانو د پيژندلو لپاره د دوی د هڅو لمانځنې لپاره وه.

## د ژباړونکو تصديق تقلبي ازموينه کې ښکيل 20 افرادو مخنيوی

د سيګار تحقيق کونکو او د تعليق او مخنيوي برنامې هڅو افغانستان ته د اردو ژباړونکو قرارداد کې د نا وړ ژباړونکو ګمارنې پروسې لپاره ډيزاين شوې تقلبي ازموينې دسيسې رابرسيره کولو پايلې په توګه د 20 افرادو د مخنيوي پايله درلوده. په ځانګړي توګه، شواهدو رابرسيره کړه چې د FedSys شرکت لپاره په کار بوخت د ژباړونکو ګمارونکي، د ماموريت اړين پرسونل LLC يو فرعي قراردادي دی، "ازموينه اخيستونکي" ګمارلي ترڅو د ماموريت اړين پرسونل د ګمارنې دمخه پروسې مرکز ته د نوي ژباړونکو پرمخ تلو لپاره د شفاهي ژبې بسيا ازموينه واخلي او دوی پاس کړي. د دسيسې دايمي کولو لپاره، ګمارونکو "ازموينه اخيستونکو" ته د راتلونکي ژباړونکو شخصي معلومات چمتو کړي و، چې هغوی ته يې اجازه ورکوله د هغوی پرځای د شفاهي ژبې بسيا ازموينه ورکړي. د پاس کيدو نمرو لاسته راوړو په تعقيب، به اصلي اړوند ژباړونکي افغانستان کې د قرارداد برخې په حيث وګمارل شي. دا دسيسه د FedSys او ماموريت اړين پرسونل لخوا په 2012 جون کې وموندل شوه او پدغه وخت کې يې د متحده اياالاتو حکومت سره شريکه کړه. د 2014 نومبر په 4، د اردو تدارکاتو درغلۍ څانګې لخوا د سيګار راجع کولو او څيړنې کې پيلې تورونو پراساس، 20 افراد د درې کالو دورې لپاره منع کړی شو چې د 2017 سپتمبر په 17 پای ته رسي.

## د رد شوي خيمو لپاره د 900,000 ډالرو اضافه بيلونو لپاره د دوه افرادو او پنځه شرکتونو مخنيوی

د افغانستان مزار شريف په ده دادي کمپ II کې د پراخوالي لپاره د سيګار د رد شوي قرارداد تحقيق پايلې په توګه، د ساتنې خيمو لپاره د متحده اياالاتو حکومت ته د 900,000 ډالرو اضافي بيلونو لپاره پنځه شرکتونه او دوه افراد منع کړل شو چې د هغه قرارداد برخه و چې د حکومت اسانتيا لپاره تړل شوی و. دا خيمې په اصل کې د ده دادي کيمپ II پراخولو ملاتړ لپاره د W919QA-10-C-0073 قرارداد برخې په توګه غوښتل شوې وی، چې د 2010 سپتمبر په 27 د اتلس ساحل ساختماني شرکت (ASCC) ته ورکړل شوی و. لکه څنګه چې په اصل کې و، قرارداد د ASCC څخه غوښتي و چې د ټولټال 10,881,800 ډالرو په ارزښت نهه د اوږدې ساحې ساتنې خيمې تحويل کړي، څو ودانۍ تعمير کړي، د لوژستيک مرکز په توګه يوه ساحه اواره کړي، د لوژستيک مرکز تعمير کړي، د بريښنا توزيع سيسټم، جنريټرونه او د بريښنا پايښت سيسټم نصب کړي. د مزار شريف ساحې څخه د متحده اياالاتو ځواکونو د وتلو له امله، قرارداد د 2012 مارچ په 17 وتړل شو. د دې قرارداد تړلو برخې په توګه، ASCC د خپل فرعي قراردادي، سمبروز نريوال لخوا ترلاسه شوي رسيد پر بنسټ د نهه لوی ساتنې خيمو لپاره د 1,647,400 ډالرو تاديه کولو ادعا وسپارله. د جبران لپاره سپارل شوي لګښتونو

بیاکتنې برخې په توګه، دا مشخص شو چې سمبروز نړیوال د خیمو پیرود لپاره خپل تحویل کونکې ته فقط 747,000 ډالر ورکړي و. د سیګار لخوا د یوه تحقیق پیلولو په پایله کې، دا مشخص شو چې ASCC او سمبروز نړیوال د پوهې سره سم حکومت ته رسیدونه سپارلي و چې د هرې خیمې لپاره يې د 171,000 ډالرو لګښت ادعا کوله، پرځای د 71,000 ډالرو چې ربښتیا یې تحویل کونکې ته ورکړي وې، چې د تادیاتو لپاره يې د 900,000 ډالرو تقلبي ادعا پایله درلوده. د 2014 نومبر په 15 د سیګار لخوا چمتو شوي معلوماتو پراساس، اردو ASCC، سمبروز نړیوال، د دواړه شرکتونو مالکان او په انګلستان کې میشته د سمبروز نړیوال درې فرعي شرکتونه د شاوخوا درې کلونو مودې لپاره منع کړل چې د 2016 اګست په 5 پای ته رسي. پدې دوره کې هغه دوره شامل ده په کوم کې چې دا نهادونه د 2013 اګست په 5 د وړاندیز شوي مخنیوي دریځ پرځای کولو وروسته د قرارداد کولو څخه خارج کړی شوي و.

### فرعي قراردادیانو ته تادیې او د تاوان ډکولو کې پاتې راتلو له امله د لاکشور ټولټیسټ کارپوریشن او دې پورې تړلي 28 شرکتونو مخنیوی

د 2014 دسمبر په 10 د سیګار لخوا راجع کیدو پایلې په توګه، د اردو تعلیق او مخنیوي چارواکو په متحده ایالاتو او بهر کې د لاکشور ټولټیسټ کارپوریشن او دې پورې تړلي 28 شرکتونه منع کړل، چې دا د بیارغونې قراردادونو برخې په توګه شوي ادعاګانو لپاره افغان فرعي قراردادیانو ته د کارپوریشن تادیه کولو کې پاتې راتلو او د متحده ایالاتو د دلاور ولسوالی د تاوان محکمې کې د 2014 مۍ په 2 د شرکت د څېرکي 7 تاوان ډکولو کې پاتې راتلو پراساس و. د تاواني کیدو دمخه، لاکشور ټولټیسټ کارپوریشن ته د 2013 په جریان کې په متحده ایالاتو کې 16ام ترټولو لوی نړیوال انجینري او ساختماني قراردادي درجه ورکړل شوې وه، پدې توګه چې د 2012 په جریان کې یې د بهرني پروژو څخه شاوخوا 436 ملیون ډالر عاید لاسته راوړی و، او په متحده ایالاتو کې 110ام ترټولو لوی ساختماني قراردادي چې شاوخوا 537.5 ملیون ډالر عاید یې د دواړه داخلي او بهرني قراردادونو څخه ترلاسه کړی و او 70% کار یې د عمومي ساختماني قراردادونو څخه و. د 2013 او 2014 په جریان کې، سیګار د لاکشور ټولټیسټ کارپوریشن یوه فرعي برخې، د افغانستان لاکشور انجینري او ساختماني شرکت د افغان فرعي قراردادیانو څخه د هاټلاین له لارې شکایات تر لاسه کړل چې په ګوته کړې یې و دې شرکت د بیارغونې قراردادونو فعالیت په توګه منلي توکو او خدماتو کې نږدې 59.8 ملیون ډالرو تادیه کولو کې پاتې راغلی. پدې شکایاتو کې د افغان ملي امنیت پوهنتون ساختماني

چارو پورې تړلي نه تادیه کولو لپاره ادعاوې شامل وې، پشمول د افغان ملي دفاع پوهنتون د میشته کولو ودانیو، د ګډ خدماتو اکاډمي، د حقوقي څانګې ښوونځی، د مذهبي او کلتوري چارو ښوونځی، په بیله بیا غزني، کنړ او لغمان ولایاتو کې د ANA ګارنیزونونو جوړول. د تاوان ډکولو او په افغانستان کې فرعي قراردادیانو ته د مالي مکلفیتونو پوره کولو کې پاتې راتلو پراساس، د لاکشور ټولټیسټ کارپوریشت او دې پورې تړلې 28 شرکتونه د درې کالو مودې لپاره منع کړل شو چې د 2017 اګست په 13 پای ته رسي. پدې دوره کې هغه دوره شامل ده په کوم کې چې دا نهادونه د 2014 اګست په 12 د وړاندیز شوي مخنیوي دریځ پرځای کولو وروسته د قرارداد کولو څخه خارج کړی شوي و.

### د ایران له لارې افغانستان ته د توکو راوړو پټولو یوه وړاندیز پراساس د ګمرک چارواکو مخنیوی

د سیګار، بهرنیو چارو وزارت عمومي مفتش او ICCTF لخوا ګډ تحقیق په پایه کې د هوای ځواک تعلیق او مخنیوي چارواکو عبدل مسعود ولیزاده د ایران څخه افغانستان ته د توکو راوړو لپاره د ګمرک جوړ شوي اسنادو چمتو کولو وړاندیز پراساس منع کړ. ولیزاده، د متحده ایالاتو کابل سفارت کې د سطحي پراختیا او توزیع قوماندې دفتر کې په کار بوخت یو حکومتي کارمند مخکې افغانستان ته د پیژندل شوي بار راوړو لپاره د اسنادو چمتو کولو کې د بډو اخیستو په توګه پیژندل شوی و چې دا توکي د متحده ایالاتو اردو لخوا کاریدو ته ټاکل شوي نو د همدې لپاره د افغان ګمرک محصول څخه معاف دي. ولیزاده سره وروسته د پټ تحقیق کونکي افسر لخوا اړیکه ونیول شوه چې افغانستان ته د توکو راوړو کې ورسره مرسته وکړي او هغه ته یې وړاندیز وکړ چې نه یوازې د ګمرک جعلي اسناد چمتو کړي بلکه د ایران له لارې د متحده ایالاتو قانون څخه په سرغړونه توکو راوړو کې ورسره مرسته وکړي. ولیزاده وروسته په سفارت کې د دندې و ایستل شو، د هغه د ځانګړي مهاجرت ویزه پای ته ورسول شوه او د درې کالو مودې لپاره منع کړی شو چې د 2017 اګست په 21 پای ته رسي.

## د سیګار نور څارنیز فعالیتونه

## د سیګار لخوا برجسته شوې مسلو باندې د کانګریس قوانین

سیګار په منظم ډول په افغانستان کې د خپلو پلټنو، تفتیشنو، تحقیقاتو، ځانګړي پروژو او بیارغونې څار نورو کارونو په اړه د کانګریس غړو او د دوی کارمندانو ته راپور ورکوي. پدې ربع کې کانګریس د سیګار لخوا برجسته شوي ډیری مسلې د FY 2015 قانون جوړونې کې د مقرراتو له لارې په ګوته کړي، پشمول د متحده او نور دوام لرونکي تخصیصاتو قانون او د ملي دفاع واکمنی قانون.

### د متحده او نور دوام لرونکي تخصیصاتو قانون

د یوکړی شوي او نور دوام لرونکي تخصیصاتو قانون او دې سره مل ګډ توضیحي بیان، کوم چې د متضمین مسودې قانوني متن لپاره اضافي توضیحي شرح چمتو کوي، د سیګار د بیارغونې څار بیلابیل

برجسته شوي شرایط شامل کړي، پشمول د:

- یوه برخه چې د امریکا دفاع وزارت د بیل تمویل کارولو څخه ANSF ته د اضافي C-130 الوتکو انتقال چمتو کولو لپاره منع کوي ترهغه پورې چې د امریکا دفاع وزارت کانګریس ته د افغان هوایی ځواک (AAF) مینځني هوای چلند اړتیاو باندې یو راپور وړاندې کړي.
د 2014 جولای د سیګار یو خبرتیا لیک د امریکا دفاع وزارت څخه AAF ته د اضافي C-130 الوتکو چمتو کولو دمخه د ورته بیاکتنې غوښتنه کوي.
- بهرنې دولتونو ته له دولت څخه دولت ته مستقیم مرستې مخه نیول، پشمول د افغانستان، ترهغې چې بیلابیل شرایط برابر شي. د دې ترمنځ یوه اړتیا ده چې پلې کونکې ادارې او وزارتونه وارزول شي او د مرستې اداره کولو لپاره اړین سیستمونو درلودل یې ملاحظه شي. د افغانستان په قضیه کې، سیګار افغان دولت د دولت څخه دولت ته مستقیم مرستې ورکولو خطراتو باندې راپور ورکړی او په دا ډول مرستې د شرایطو پلې کولو غوښتنه کړې.
- یوه ماده چې د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) او د نړیوال ترپاکو کنټرول او قانون پلې کولو (INCLE) تمویل په افغانستان کې هغه برنامو، پروژو یا فعالیتونو باندې کارول منع کوي چې د منظم ځار سره مخ ندې پشمول د بهرنیو چارو وزارت یا USAID لخوا د ساحې لیدنو. په تیر کال کې، سیګار د بیارغونې پروژو لپاره د ضیاع، درغلی او ناوړه ګټه پورته کونې ډیر شوي خطر باندې راپور ورکړی چې د ځار لپاره ورته لاسرسی شتون نلري.
- د افغانستان لپاره د ESF او INCLE تمویل باید یوازې هغه برنامو کې وکارول شي چې افغانان یې ساتلی شي. سیګار ډیری ځله د بهرنیو چارو وزارت او USAID لخوا د بیارغونې پلې شوي برنامو او پروژو د نه پایښت په اړه اندیښنې راپور کړې.

## د ملي دفاع د واکمنۍ قانون

په ورته ډول، د ملي دفاع واکمنی قانون چې د افغانستان بیارغونې لپاره د امریکا دفاع وزارت لخوا اداره کیدونکې تمویل او برنامو اجازه ورکوي، د سیګار ځارنیز کار پورې اړوند مادې لري، لکه:

- د امریکا دفاع وزیر دی چې د امریکا دفاع وزارت د سوزولو ځاینو کې د پوښل شوي فضلاتو دفع پورې اړوند اوسنې قانون سره اجابت بیاکتنه وکړي او د دې بیاکتنې پایلو باندې د کانګریس دفاع کمیټې ته راپور ورکړي. د سیګار راپورونو په افغانستان کې د متحده ایالاتو اردو تسهیلاتو کې د جامد فضلاتو سوزولو ځاینو محدود کارونه برجسته کړي او د خلاصې فضا سوزولو ځاینو دوامداره کارونې ته پام اړولو غوښتنه یې کړې، کوم چې کولی شي د متحده ایالاتو پرسونل زهري لوړې سره مخ کړي.
- یوه برخه چې 841 برخې کې نور پرمختګ کوي، یا د "دښمن سره قرارداد نه کولو، " پروسه د دښمن مخه نیسې چې د متحده ایالاتو حکومت قرارداد کولو فنډ ته لاسرسی ونلري.
د سیګار راپورونو داسې لارې پیژندلې چې د متحده ایالاتو ادارې او کانګریس کولی شي د 841 برخې پروسه نوره هم پراخه کړي.

- یوه ماده د امریکا دفاع وزیر څخه د بهرنیو چارو وزیر سره په همغږۍ غوښتنه کوي چې د 2017 مالي کال پای پورې د ANSF پاینښت لپاره پلان لرونکی راپور د کانګریس دفاع کمیټو ته وسپاري. سیګار په تکرار سره د ANSF پرمخ د پاینښت ولاړې زرهاو ننګوني په ګوته کړې، پشمول د افغان دولت د داخلي عاید نه شتون ترڅو له مالي پلوه دا پیاوړی کړي.
- یوه برخه په افغانستان کې د بیارغوني پروژو لپاره د بیل لخوا اجازه ورکړل شوي هغه فنډونو مخه نیسي چې ارزښت یې د 1 ملیون ډالرو ډېر وي او پلټنه یې نه کیږي او د متحده ایالاتو حکومت پرسونل یا د هغوی ټاکل شوي نماینده ګان ورته فزیکي لاسرسی ونلري. د امریکا دفاع وزیر کولی شي دا اړتیا د کانګریس دفاع کمیټو ته د یوه راپور سپارلو په واسطه لغوه کړي چې د نورو شیانو ترمنځ، مشخص کړي چې پروژه په روښانه توګه د متحده ایالاتو ملي ګټو یا ستراتیژیک موخو سره مرسته کوي؛ پروژه د افغان دولت، نورو پلي کونکو ادارو، او نړیوالي ټولنې سره همغږې شوې؛ او د پروژې پاینښت لپاره ترتیبات نیول شوي دي. سیګار په افغانستان کې د زیربنا پروژو لپاره د ځار لاسرسي ممانعتونو په اړه ډیری وختونه راپور ورکړی او د لومړني عزم کولو اړتیا کله چې د بیارغونې برنامو او پروژو پلان جوړیږي او پلي کیږي د ضیاع، درغلی او ناوړه ګټه اخیستنې مخه یې ونیول شي.

## سیګار د لوړ خطر لیست خپروي

سیګار د لوړ خطر لیست په 2014 دسمبر کې خپور کړ. د دې نقش په افغانستان کې د متحده ایالاتو تمویل شوي بیارغوني هڅې د برنامې ساحو او عناصرو ته د پام اړولو غوښتنه ده چې په ځانګړې توګه د پام وړ ضیاع، درغلی او ناوړه ګټه اخیستنې سره مخ دي. د سیګار هدف دا دی چې سیګار په بیله بیا د نورو لکه نوي افغان دولت سره مرسته وکړي چې د بیارغوني هڅې پرمخ وړلو سلیقه ای ستونزو پرځای سیستماتیک ستونزو باندې تمرکز وکړي او د سمون/مخه نیولو هڅې یې وکړي. دا لیست به د برنامې هغه ساحې هم په ګوته کړي په کومو کې چې سیګار باور لري پلي کونکي اداري د دوی د عملیاتو ساحه کې په خطر کمولو کې پاتې راغې، او د اجرایه ایی ادارو، کانګریس، او نوي افغان دولت لپاره به د عملي کیدو وړ او حقیقي وړاندیزونو رامنځته کولو کې مرسته وکړي.

سیګار غواړي خطرات کم کړي، نه دا چې مخه یې ونیسي یا په بشپړ ډول یې له مینځه ویسي. حتی په هغه هیوادونو کې چې سوله ده، د خطره خلاصي پروژې په توګه څه شی شتون نلري. مګر په جګړه ایزې ساحې کې چې افغانستان دی، د ضیاع، درغلی او ناوړه ګټه پورته کوني خطر څو چنده ډېر دی. ستونزه دا ده چې د امریکایی مالیه ورکونکو ډالر او ستراتیژیک او بشر دوستانه ګټې په افغانستان کې د پاېلو تعقیب ته پراخه ناکامی، وړاندوینه شوي ستونزو، او د محتاط ضد اقداماتو پلي کولو په واسطه په غیر لازمي ډول لوړ خطر سره مخ کیږي. او د سوله لرونکي هیوادونو په خلاف، دا ستونزې کولی شي د وګړو ژوند واخلي او د متحده ایالاتو ملي امنیت اهدافو مخه ونیسي یا ممانعت یې وکړي.

د سیګار د لوړ خطر لیست د حکومت حساب ورکولو دفتر (GAO) د ورته نوم لرونکي پروژې څخه الهام اخیستی چې د فدرال هغه برنامو ته د پام اړولو غوښتنه کوي چې د ضیاع، درغلی، ناوړه ګټه اخیستنې یا غلط مدیریت خطر سره مخ دی. د GAO د لیست په څیر، د سیګار لیست به د پرمختګ په حال کې کار وي، د ساحو او اداري ارزولو تکثیر چې د وخت په تیریدو سره به بدلون

کوي — يا که هيڅ پرمختګ ونه شي نو پرځای به پاتې وي. د مثال په توګه د امريکا دفاع وزارت د قرارداد مديريت له 1992 راهيسې د GAO په ليست کې دی.

د سيګار د موضوع انتخاب معيار هم د GAO سره ورته والی لري. سيګار نه غواړي چې کمياب بشري او تخنيکي سرچينې د ټيټ ارزښت يا غير ماموريت حساس ساحو ته وقف کول تشويق کړي. نو د همدې لپاره د لوړ خطر ساحو ليست چې پدې مواردو د تمرکز سره رامنځته شوی و، دي:

1. د بيارغونې هڅې د بريا لپاره لازميت؛
2. د ضياع، درغلی يا ناوړه ګټه اخيستنې له امله د پام وړ او پراخه کچې ناکامی خطر کې؛
3. د پلان شوي او روانو بيارغونې هڅو برخه؛ او
4. د کنټرول يا دمتحده ايالاتو حکومت اغيز سره مخ.

د دې څرګندولو پروتوکول پلې کولو سيګار ته د اوه لوړ خطر سيمو ليست برابر کړی:

1. فساد/د قانون حاکميت
2. پايښت
3. د ANSF ظرفيت او وړتياوې
4. د مستقيم بوديجې مرسته
5. د مخدره توکو ضد
6. د قرارداد مديريت او څار لاسرسی
7. ستراتيژي او پلان جوړول

د سيګار لوړ خطر ليست کې د اوه مواردو څخه هر يو يې د سيګار او نورو ادارو څخه ډيری ټکي په ګوته کوي چې د خطر طبيعت او شدت روښانه کولو کې کار کړی. د خطر اوه واړه ساحو څخه هر يو يې د بيارغونې ماموريت پروړاندې قوي ګواښ دی. مګر لدې چې فساد د افغانانو ژوند هره برخه کې خورا خپور او تخريبي دی، نو دا د لوړ خطر ساحو ليست په سر کې ځای لري.

سيګار د خطر سرچينو باندې هم بحث کړی، چې ډيری وختونه د ګواښ په نښه کولو څرنګوالي پريکړه کې يو مهم فاکتور دی. د سيګار لوړ خطر ليست يادونه کوي چې په افغانستان کې بيارغونې هڅې لپاره د خطر سرچينو کې شامل دي:

- په افغان نهادونو کې د نهادي او بشري پانګې محدود ظرفيت
- د فعال ترهګرۍ لخوا تحميل شوي عملياتي غوښتنه او محدوديتونه
- افغان ټولنه او دولتي نهادونو کې پراخه فساد
- د حساب ورکونې تحميل لپاره د افغانانو ليوالتيا نه درلودل يا وړتيا نه درلودل، په ځانګړي توګه زوررورو يا ښو اړيکو لرونکو کې
- د متحده ايالاتو ادارو او افغان نهادونو لخوا د ضعيف ثبت ساتنې او ډيټا خوندي کول
- د پرسونل تکرار کيدونکي ځای پرځای کول او د متحده ايالاتو ادارو په هيواد کې د نهادي حافظې له لاسه وتل
- د شته قوانينو او مقرراتو سره د متحده ايالاتو د څار پرسونل اجابت نه کول
- د برنامو پرمخ وړو لپاره د مناسب، همغږي شوي، حساس پلان جوړونې نه شتون
- د افغان کنترول لپاره پروژو ملاحظه کولو کې پايښت په پام نيولو کې پاتې راتلل
- افغان ثبتونو باندې محدود نظارت

د ناکامۍ دا ټکي د کار خورا لوی مقدار شرح کوي چې د څار اداره لکه سيګار ورسره په افغانستان کې مخ ده. او ننګونه د ودې په حال کې ده. د متحده ایالاتو سرتیرو وتلو او په امنیت، ټرانسپورټيشن پانګو او لاسرسي کې لدې وروسته کموالي د فدرال نورې څارنيزې ادارې اړ ايستلي چې په افغانستان کې د دوی کارمندان کم يا لرې يې کړي.

## ځانګړی عمومي مفتش سوپکو د نړيوالې سولې لپاره په کارنيژۍ اعطا کې خبرې کوي

د دسمبر په 10، ځانګړي عمومي مفتش سوپکو د سيګار پدې وروستيو کې خپور شوي لوړ خطر ليست اعلان کړ او د نړيوالې سولې لپاره کارنيژۍ اعطا کې د افغانستان بيارغوني باندې د فساد تباه کونکي اغيزو په اړه خبرې وکړې. سوپکو وويل چې که څه هم سيګار د ولسمشر غني د فساد په نښه کولو لپاره ګامونه ستايي، خو ډيرو څخو ته اړتيا ده. هغه په افغانستان کې د بيارغوني برنامو دوامداره پاملرنې اهميت باندې تاکيد کولو سره خپله وينا راټوله کړه.



**ځانګړی عمومي مفتش** د نړيوالې سولې لپاره کارنيژۍ اعطا کې د دسمبر په غونډه کې سارا چايز سره غږيږي. (د جاريډ بيرن لخوا د سيګار عکس)

## ځانګړی عمومي مفتش سوپکو د ناټو کنفرانسونو کې وينا کوي

د 2014 نومبر او دسمبر کې، سوپکو د ناټو يووالي رامنځته کولو دوه کنفرانسونو کې وينا وکړه لومړي کنفرانس د دفاع او امنيت سيکتور کې د پوهې ډيرولو باندې تمرکز درلود، د شفافيت، حساب ورکووني او يووالي پياوړي کولو لپاره د غوره عملونو او عملي توکو څخول، او د هغه نقش سپړل چې د پارلمان غړي وکولی شي د دې ننګونو په ګوته کولو کې ولوبوي. سوپکو د لندن کنفرانس کې په هغه ګواښ خبرې وکړې چې فساد يې د بيارغوني هڅې پرورواندې ږدي، او په فساد د تمرکز کولو لپاره فرصت يې په ګوته کړ. دوهم کنفرانس ANSF ته شفاف او پياوړي ملاتړ باندې ټينګار وکړ. په کنفرانس کې سوپکو هغه انديښني شرح کړې چې سيګار او نورو د دې ډاډ سره راپورته کړي چې د نظامي وتلو، شفافيت او پاينست په اړه دي او د بيارغوني برنامو تعقيب لپاره د افغانانو پخپله راپور شوي ډيټا باندې ډير شوي اتکا په اړه دي.

## سيګار د لومړي ټولو ښځينه قضايي روزنې پرمخ وړو کې مرسته وکړه

په جنوري کې، د متحده ایالاتو د عدليه وزارت (DOJ) په غوښتنه، د سيګار لينډی ساول او د متحده ايالاتو اردو ډګروال مارټا فوز، د هوډمن ملاتړ ماموريت قانون حاکميت مشر وکيل، 21 افغان ښځينه قاضيانو، څارنوالانو او تحقيق کونکو ته د افغانستان کابل ښار کې د افغانستان په ستره محکمه کې لومړی روزنه چمتو کړه.

روزنې د DOJ لخوا رامنځته شوي اوه مرحلو تحقيقي پروسه باندې تمرکز درلود. په درې کلونو کې DOJ د دې کورس درس ورکړی، دا لومړی ځل و چې ټول زده کونکي يې ښځينه وې. پردې سربيره، د شخصي امنيت توضيح ټيم غړي چې د روزنې په اوږدو کې يې د روزنې ښونه کې امنيتي ملاتړ کاوه هم ښځينه وې.

د کورنيو چارو وزارت (MOI) د جينډر چارو او بشري حقونو رييس سمونوال حکمت شاهي د فراغت غونډه کې برخه واخيستله او وينا يې وکړه، چې د محکمې، پوليس او څارنوالانو ترمنځ جنايي قضيو کې د همغږۍ اهميت باندې خبرې وکړې. شاه او نورو وويل چې دا روزنه د قانون حاکميت او حقوقو ښځينه پرسونل سوانح کې يوه تاريخي پيښه وه ځکه چې دې ورته راتلونکي روزنو ته لاره پرانيستله.

روزنې د MOI، عدليه وزارت، لوی څارنوال دفتر او افغان محکمو ترمنځ همکارۍ او همغږۍ اهميت تقويه کړ. ساول او ډګروال فوز په تحقيقاتو کې د حل راوړو لپاره د ټيم کار لازميت څرنګوالي باندې برخه اخيستونکو ته تاکيد وکړ، لکه د حقوقي ټولنې انفرادي واحد يا برخه د افغانستان په اوږدو کې يوه خورا لوی بشپړ قضايي سيستم برخه ده. د روزنې په جريان کې، د برخه اخيستونکو ترمنځ همکارۍ او شبکه جوړونې لپاره وخت ورکړل شوی و.



**د سيګار لينډۍ** ساول په جنورۍ کې د لومړي ځل لپاره 21 افغان ښځينه قضايي پرسونل ته د روزنې چمتو کولو کې مرسته وکړه. ( د متحده ايالاتو (د تورن نيکول آر. وايټ لخوا د هوای ځواک عکس)

## د سيګار بوديجه

سيګار د کانګريس څخه يوکړۍ شوې او نور دوام لرونکي تخصيصاتو قانون کې د FY 2015 لپاره 56.9 مليون ډالر بوديجه لاسته راوړه. بوديجه د سيګار د نظارت فعاليتونو او د سيګار د پنځو رياستونو کارونو ملاتړ کوي: (1) پلټنې او تفتيشات، (2) ځانګړې پروژې، (3) تحقيقات، (4) مديريت او ملاتړ، او (5) څيړنې او تحليل.

## د سيګار کارکونکي

د سيګار د کارمندانو حساب کانګريس ته د دې اخرنې راپور راهيسې د ربع پای پورې د 200 کارمندانو سره په يوه حال کې پاتې دی. د ربع په پای کې، 31 کارمندان د متحده ايالاتو په کابل سفارت کې او شپږ نور کارمندان په افغان موقعيتونو کې د متحده ايالاتو له سفارت څخه بهر درلوده. د سيګار کارمندان د هيواد په اوږدو کې په درې موقعيتونو کې ځای پر ځای شوي و، پشمول د کندهار او بګرام هوايي ډګرونو او د متحده ايالاتو کابل سفارت کې. سيګار د خپل تحقيقاتو او پلټنو رياستونو د ملاتړ لپاره په کابل دفتر کې درې ځايي افغانان په دنده ګمارلي. سربيره پردې، سيګار په افغانستان کې د لنډ مودې دندې لپاره د خپلو ميشته کارمندانو متمم په توګه پرسونل ګمارلي. پدې ربع کې، سيګار د ټولټال 140 ورځو لپاره په افغانستان کې اته کارمندان د لنډې مودې دندو لپاره ګمارلي و.

"یو باثباته او سولیز افغانستان چې له ګاونډیو سره په سوله کې وي زمونو د ټولو په ګټه دی، او مونږ ټول تمه لرو او په ډاډ سره هیله کوو چې په کابل کې چارواکي به خپلې ژمنې ترسره کړي."

*— د امریکا بهرنیو چارو وزیر، جان کیري*

سرچینه: د 2014 دسمبر 4 د لندن په کنفرانس کې د امریکا بهرنیو چارو وزارت نظرونه.

# 3 د بیارغونې نوي خبرونه



# د بیارغونې تازه حالت منځپانګې


عمومي کتنه 70

د افغانستان بیارغونې لپاره مرسته 74

د مرستو دریځ 76

امنیت 90

حکومتداري 118

اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا 146


**انځور په تیره پاڼه کې**

د امریکا په مشرۍ د نړیوال امنیت مرستې ځواک بیرقونو ګارد د 2014 دسمبر په 8، د آیساف د قوماندانی او د امریکا د XVII هوایي قول اردو لپاره د کابل په شمال کې رسم ګذشت کوي. دواړو قوماندانیو په افغانستان کې خپل ماموریتونه پای ته رسول. (د امریکا هوایي ځواک عکس د سرپرک مشر پیري استون لخوا)

# د بیا رغونې تازه حال

## عمومي کتنه

دغه ربع د نړیوال امنیتي همکارۍ مرستي ځواک (آیساف) د عملیاتونو د پای او د ناتو د کلک ملاتړ ماموریت (RSM) د پیل شاهد و ترڅو د افغان ملي امنیتي ځواکونو ته روزنه، مشوره او مرسته ورکړي. په افغانستان کې د امریکا پاته 9,500 ځواکونه به د کلک ملاتړ په ماموریت کې برخه واخلي او د تروریزم پر وړاندې به محدوده ونډه ولري.

په دسمبر کې، د ملګرو ملتونو عمومي منشي راپور ورکړی چې د افغانستان په جګړه کې 2014 د ملکیانو د تپیانو لوړه شمیره ثبت کړې، او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ماموریت تمه لري چې د ټول 2014 لپاره به د ملکیانو قربانیان له 10,000 څخه زیات شي.

پداسي حال کې چې د وړتیا تشې شتون لري، په ټولیزه توګه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ارزونې مثبتې دي. ملګرو ملتونو راپور ورکړی چې په ټولیزه توګه د افغان امنیتي ځواکونو وکولای شول تر ډیري کچې په فعاله توګه د یاغیتوب مخه ونیسي او یاغیانو ونشو کولای ترڅو د خپلو موخو ځایونه په دایمي توګه ونیسي.

په تیر ربع کې، سیګار د آیساف لخوا د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د ارزونې راپور چې په تیر کې غیر محرم و، د محرم کیدلو په اړه اندیښنه ښودلې. په دغه ربع کې، د نوي کلک ملاتړ ماموریت یو بل ګام وړاندې اخیستی او هغه معلومات یې محرم کړي چې سیګار تراوسه د عامه راپور ورکولو لکه د افغانستان دفاع او کورنیو چارو په وزارتونو کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو شمیر، د ځواکونو کمیدلو کچه، تجهیزاتو، د ځواکونو دوام، زیربنا، او روزنې، او د افغان هوایي ځواکونو د خانګړي وزر ماموریت وړتیاو، او فساد پروړاندې موضوعګانو لپاره ورڅخه کار اخیست. په پایله کې، د هغو معلوماتو ډیره برخه چې سیګار په تیرو شپږو کلونو کې د افغانستان په ملي امنیتي ځواکونو کې د امریکا د 65 میلیاردو امریکایي ډالرو پانګونې راپور ورکولو لپاره ورڅخه کار اخیستی دی، نور د عامو خلکو لپاره د خپریدلو وړ ندی، او سیګار به د لمړي ځل لپاره له دغه راپور سره یوه محرمه ضمیمه خپره کړي.

د دسمبر په 4، د افغانستان ملي یووالي نوي حکومت او د نړیوالې ټولنې استازو د افغانستان په اړه په لندن کې یو کنفرانس جوړ کړ. برخه اخیستونکو هغه ژمنې چې د 2012 توکیو په کنفرانس کې یې کړې وې بیرته نوي کړې، او موافقه یې وکړه ترڅو دغه ژمنې په 2015 کې نوي کړي. د لندن کنفرانس د دې لپاره نه و ترڅو پایله یې د مرستندویو د مرستو نوي ژمنې وي؛ مګر نړیوالې ټولنې تر 2015 د 16 میلیاردو امریکایي ډالرو پر خپلو پخوانۍ ژمنو بیا ټینګار کړی.

د دغه ربع په ترڅ کې، د نوي کابینې او حکومت نورو لوړ پوړو چارواکو په ټاکلو کې یو شمیر ځنډونو شتون درلود. په پایله کې د جنوري په 12، د لوړې له مراسمو څخه درې میاشتې وروسته، ولسمشر غني د حکومت مهمو بستونو لپاره نوماندان اعلان کړل. نوماندان باید د ملي شورا لخوا تایید شي.

افغانستان په 1393 مالي کال کې (د 2013 دسمبر 21 – د 2014 دسمبر 20) له اټکل شوي 500 میلیونو امریکایي ډالرو بودیجې کموالی تجربه کړی، چې د ملکي کارکوونکو معاشونه او تقاعد، او د عملیاتي او پراختیایي بودجې لګښت یې له ګواښ سره مخامخ کړی و. د 1393 مالي کال په لمړنیو 10 میاشتو کې، کورني عوایدو د مالیې وزارت بودیجې نښې تر 26% پورې ندي پوره کړي او د تیر کال ورته وخت لپاره تر نږدې 7.6% کمې وې. د نړیوال بانک، په عین وخت کې، د افغانستان حکومت لګښتونه د 1392 مالي کال له ورته وخت څخه 11% زیات شوي، او د نړیوال بانک وړاندوینو پر اساس، تمه کیږي ترڅو نور هم زیات شي. په دغه ربع کې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت 100 میلیونه امریکایي ډالر افغانستان ورکړي ترڅو د دغې مالي تشې ډکولو سره مرسته وکړي. افغانستان د 1394 مالي کال لپاره له تایید شوي بودیجې پرته کار کوي.

د آسیا بنسټ د افغانستان د خلکو د 2014 *سروې خپره کړې چې له* هر کس سره د مرکې پر اساس ده، او د 2014 د جون له 22 د جولای تر 8 ترسره شوې. په دغه وخت کې 54.7% افغان ځواب ورکوونکو ویلي چې هیواد په سمه لور روان دی، دا د 2013 له 57.2% کم دي؛ 40.4% ویلي چې هیواد په ناسمه لور روان دی، دا له 2013 څخه چې 37.9 % و لوړه شمیره ده. پر کلنیو توپیرونه برسیره، له 2006 څخه اوږد مهاله حرکتونه په نظرونو کې زیاتوالی ښیي چې هیواد په سم لور روان دی.

په دغه ربع کې، د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر (UNODC) د افغانستان لپاره د تریاکو د سروې پایلې خپرې کړې. یو ځل بیا، د کوکنارو تر کرنې لاندې ساحه زیاته شوې، او اوس 224,000 هکتاره ده، او دا د 2013 له لوړې کچې څخه ډیره ده، او که د 2013 له شمیرو سره پرتله شي، د له منځه وړلو پایلې 2,692 هکتارو ته ډیرې کمې شوې. په عین وخت کې، د له منځه وړلو په کارونو کې، د امریکا دفاع وزارت د 2014 او سرکال د مخنیوی د شمیرو په اړه راپور ورکړی. د ایتلاف ځواکونو کمیدل د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې ځواکونو پر توان باندې اغیز کړی دی ترڅو عملیاتونه ترسره کړي. که څه هم د افغانستان تخصصي قطعې کولای شي ترڅو د مخدره توکو پر وړاندې پیچلې تحقیقونه او عملیاتونه ترسره کړي، مګر د ایتلاف د چټک غبرګون د ځواکونو له ملاتړ، هوایي ملاتړ، او روغتیایي ملاتړ څخه پرته کیدای شي پایلې په دوامداره توګه کمې شي.

د 2014 دسمبر په 16، ولسمشر اوباما د 2015 د متحد او زیاتو دوامدارو تخصیصونو قانون لاسلیک کړی، چې د امریکا حکومت به د مالي پاتې برخې لپاره تمویل کړي او د 2014 دسمبر تر 30 پورې، د افغانستان بیارغونې لپاره به زیاتیدونکې مرستې 107.5 میلیاردو امریکایي ډالرو ته ورسوي. کله چې دغه راپور رسنیو ته ولاړ، د امریکا بهرنیو چارو وزارت او د USAID 2015 مالي کال حسابونو لپاره پریکړه تر غور لاندې وه. کله چې دغه اندازه څرګنده شي د 2015 مالي کال ټولو مرستو کچه به زیاته شي. د بیارغونې مرستو ډیره برخه د توزیع کولو لپاره پاته ده. د مالي ربع په پای کې، د بیارغونې اوو مهمو وجهي صندقونو لپاره له تخصیص شوي 91.2 ملیلیاردو امریکایي ډالرو څخه، نږدې 15.3 میلیارده امریکایي ډالره مرستې د احتمالي توزیع لپاره د توزیع لپاره پاته دي.

امریکا د افغانستان حکومت بنسټونو ته د بودیجې پر اساس او د څو هیوادونو وجهي صندقونو ته د برخې اخیستنې له لارې مرسته برابروي. له 2002 څخه، امریکا له 8.1 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د بودیجې پر اساس مرسته برابره کړې ده. په دغو مرستو کې نږدې 4.1 میلیارده امریکایي ډالر د افغانستان حکومت وزارتونو او بنسټونو، او له 4 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د څو هیوادونو وجهي صندقونو، د نړیوال بانک د افغانستان د بیارغونې وجهي صندق (ARTF)، د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA)، او آسیا پراختیایي بانک د افغانستان زیربنا وجهي صندق (AITF) لپاره شاملې وې. دغه جدول 3.1 د افغانستان بنسټونو لپاره د امریکا د بودیجې پر اساس مرسته ښیي.

جدول 3.1

**د متحده ایالاتو د متحده ایالاتو د مستقیم بودیجې مرسته، له 2002 راهیسې** (میلیونونه ډالرو)

| | |
|---|---|
| **له حکومت څخه حکومت ته** | |
| DOD | $2,905 |
| د بهرنیو چارو وزارت | 92 |
| یا د امریکا د مرستو پرمختیایی اداره USAID | 1,076 |
| **څو اړخیزه وجهي صندق** | |
| LOTFA | $1,519 |
| ARTF | 2,430 |
| AITF | 105 |

یادونه: له حکومت څخه حکومت ته شمیرې هغه اندازه مرستې ښیي چې په څو اړخیزو وجهي صندقونو کې له ژمنو پرته، د امریکا حکومت د بودیجې پر اساس ژمنې دي. د څو اړخیزو وجهي صندقونو پیسو اندازه هغه اندازه پیسې ښیي چې امریکا هر وجهي صندق ته تادیه کړې دي.

سرچینه: د سیګار پلټنې راپور 14-32-AR؛ مستقیمه مرسته: *USAID مثبت ګامونه اخیستې ترڅو د مرستدویو مرستو مدیریت لپاره دافغانستان وزارتونو وړتیا ارزونه ترسره کړي، مګر کمزوری شتون لري،* 1/2014؛ سیګار، ځانګړې پروژې راپور 14-12-SP؛ *د افغانستان او کورنیو چارو وزارتونو هر اړخیر خطر ارزونې کیدای شي له 4 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه د زیاتو مستقیمو مرستو نظارت ښه کړي،* 12/2013؛ USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/12/2015، *ARTF: د 2014 دسمبر تر 21 پورې (د 1393 مالي کال 12 میاشتو پای)، د مالي دریځ په اړه د ریس راپور،* p. 5؛ UNDP، *د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA) 2014 دریم ربع پروژې پرمختګ راپور،* 1/17/2015، p. 47؛ د UNDP لخوا د LOTFA د هر ربع او کلني راپورنو، د سیګار تحلیل، 1/17/2015.

| | |
|---|---|
| DOD | **ASFF:** د افغان امنيتي ځواکونو وجهي صندق<br>**CERP:** د قوماندان د بيړني غبرګون پروګرام<br>**AIF:** د افغانستان د زيربنا فند<br>**TFBSO:** د ثبات او سوداګريزو عملياتو لپاره کاري ځواک<br>**DOD CN:** د DOD د مخدره توکو سره مبارزې او د مخدره توکو د مخنيوي فعاليتونه |
| **يا د امريکا د مرستو پرمختيايي اداره USAID** | **ESF:** د اقتصادي ملاتړ فند |
| **د بهرنيو چارو وزارت** | **INCLE:** نړيوال مخدره توکو کنترول او د قانون حاکميت |

شکل 3.1

**د ټولټال تخصيص شوي فنډونو دريځ**
(په ميليارد ډالر)




## د افغانستان بيارغونې لپاره مرسته

له 2002 څخه، کانګرس د افغانستان د سوکالۍ او بيارغونې لپاره نږدې 107.5 ميليارده امريکايي ډالر تخصيص کړي دي. لدغو مرستو څخه، 91.2 ميليارده امريکايي ډالر (85%) د بيارغونې اوو مهمو وجهي صندقونو لپاره تخصيص شوي، لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.2 کې ښودل شوي. کله چې د افغانستان لپاره د امريکا بهرنيو چارو وزارت او USAID تخصيصونو حسابونو په اړه پريکړه وشي، د مرستو دغه اندازه به زياته شي.

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، نږدې 15.3 ميلياره امريکايي ډالر چې د بيارغونې اوو مهمو وجهي صندقونو لپاره تخصيص شوي وې، د ممکنه توزيع لپاره پاته وې، لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.1 ښودل شوي. دا فندونه به د لوی زيربنا روانو پروژو بشپړولو لپاره وکارول شي، لکه د AIF او ESF په واسطه فند ورکړل شوي؛ د ANSF روزنه، مجهز کول، او پاينت؛ د تارياکو توليد او قاچاق سره مبارزه؛ او د قانون حاکميت ته وده ورکول، د قضا سيکتور پياوړي کول، او بشري حقونو ته وده ورکول.

د 2014 دسمبر په 16، ولسمشر اوباما د 2015 د متحد شوي او زياتو دوامدارو تخصيصونو

جدول 3.2

**له 2002 تر 2015 مالي کال پورې، زياتيدونکي اندازه پيسي چې تخصيص شوي، مکلف شوي، او ورکړل شوي (مليارډونه ډالر)**

| | اختصاص شوي | مکلف شوي | ورکړل شوي | پاتې دي |
|---|---|---|---|---|
| ASFF | $60.67 | $52.35 | $50.74 | $8.67 |
| CERP | 3,68 | 2.28 | 2.26 | 0.03 |
| AIF | 1.04 | 0.84 | 0.33 | 0.57 |
| TFBSO | 0.81 | 0.76 | 0.63 | 0.15 |
| DOD CN | 2.83 | 2.80 | 2.80 | 0.03 |
| ESF | 17.71 | 16.38 | 12.49 | 4.74 |
| INCLE | 4.44 | 4.16 | 3.29 | 1.09 |
| **ټول 7 مهم وجهي صندقونه** | **$91.20** | **$79.57** | **$72.54** | **$15.28** |
| د بيا رغونې نورې مرستې | 7.33 | | | |
| ملکي عملياتونه | 8.96 | | | |
| **ټولټال** | **$107.48** | | | |

يادونه: شميرې محاسبه شوي وروسته لدې چې نږدې 3.4 مليارده امريکايي ډالر چې له مکلف کيدلو وړاندې پای ته رسيدلي منفي شي، پاته پيسي د اوو مهمو بيارغونې وجهي صندقونو ټولو توزيعاتو امکانات ښيي. د DOD CN مکلف شوي او ورکړل شوي مرستې پيسو اندازه هغه اندازه ښيې چې د اردو خدمتونو او دفاع ادارو ته ليږل شوي ترڅو د افغانستان لپاره ولګول شي.

سرچينه: د DOD، بهرنيو چارو وزارت او USAID په واسطه چمتو کړی شوي د تخصيص کولو قانون او دري مياشتني مکلفيت او مصرف معلوماتو د سيګار څيړنې، 1/19/2015.

قانون لاسليک کړ، ترڅو د مالي کال پاته برخې لپاره د امريکا حکومت تمويل کړي او د بيارغونې دغو مهمو وجهي صندقونو لپاره مرسته برابره کړي:

- د افغانستان امنيتي ځواکونو وجهي صندق لپاره 4.1 ميليارده امريکايي ډالر
- د قوماندان بيړني غبرګون پروګرام لپاره 10 ميليونه امريکايي ډالر
- د افغانستان زيربنا وجهي صندق لپاره اضافي مرسته نه وه
- د سوداګرۍ د ثبات او عملياتونو کاري ځواک لپاره اضافي مرسته ن وه
- د امريکا دفاع وزارت د مخدره توکو پر وړاندې مبارزې لپاره 110.1 ميليونه امريکايي ډالر
- د افغانستان لپاره د ESF مرستو په اړه پريکړه تر غور لاندې ده
- د افغانستان لپاره د نړيوال مخدره توکو او قانون پلي کولو مرستو په اړه پريکړه تر غور لاندې ده

کانګریس د 2013 مالي کال لپاره د بیارغونې اووه لوی فنډونو ته نږدې 8.1 میلیارد ډالر مختص کړي و. لدغو څخه، د 2014 دسمبر تر 31 پورې، نږدې 2.6 میلیارده امریکایي ډالر د ممکنه توزیع لپاره پاته وي، لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.3 کې په دغه شکل 3.2 کې ښودل شوي.

جدول 3.3

**د 2013 مالي کال لپاره هغه اندازه پیسې چې تخصیص شوي، مکلف شوي، او ورکړل شوي**
**(میلیونونه ډالرو)**

| | اختصاص شوي | مکلف شوي | ورکړل شوي | پاتې دي |
|---|---|---|---|---|
| ASFF | $4,946 | $4,856 | $4,616 | $240 |
| CERP | 200 | 42 | 37 | 5 |
| AIF | 146 | 130 | 41 | 89 |
| TFBSO | 138 | 134 | 113 | 22 |
| DOD CN | 256 | 256 | 256 | 0 |
| ESF | 1,803 | 1,741 | 26 | 1,715 |
| INCLE | 594 | 594 | 89 | 505 |
| **ټول 7 مهم وجهي صندقونه** | **$8,082** | **$7,753** | **$5,176** | **$2,576** |

یادونه: شمیرې محاسبه شوي پاتې مقدار د اووه لوی بیارغونې فنډونو ټولټال احتمالي مصرف کول منعکس کوي وروسته د شاوخوا 329 میلیونونه ډالرو د کمولو څخه چې د مکلف کیدو مخکې یې نیټه تیره شوه. د DOD CN مکلف شوي او ورکړل شوي مرستې پیسو اندازه هغه اندازه ښيي چې د اردو خدمتونو او دفاع ادارو ته لیږل شوي ترڅو د افغانستان لپاره ولګول شي.

سرچینه: د DOD، بهرنیو چارو وزارت او USAID په واسطه چمتو کړی شوي د تخصیص کولو قانون او دري میاشتني مکلفیت او مصرف معلوماتو د سیګار څېړنې، 1/19/2015.

شکل 3.2

**د FY 2013 تخصیص شوي فنډونو دریځ**
(ملیونونه ډالر)

**ټولټال مختص شوي:** 8,082 ډالر




د امریکا کانګرس د 2014 مالي کال لپاره د بیارغونې اوو مهمو وجهي صندقونو لپاره نږدې 5.5 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص کړي. لدغو څخه، د 2014 دسمبر تر 31 پورې، نږدې 4.5 میلیارده امریکایي ډالر د ممکنه توزیع لپاره پاته وي، لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.4 کې په دغه شکل 3.3 کې ښودل شوي.

جدول 3.4

**د 2014 مالي کال لپاره هغه اندازه پیسې چې تخصیص شوي، مکلف شوي، او ورکړل شوي**
**(میلیونونه ډالرو)**

| | اختصاص شوي | مکلف شوي | ورکړل شوي | پاتې دي |
|---|---|---|---|---|
| ASFF | $3,962 | $1,013 | $826 | $3,136 |
| CERP | 30 | 7 | 4 | 3 |
| AIF | 199 | 138 | 1 | 198 |
| TFBSO | 122 | 107 | 66 | 57 |
| DOD CN | 105 | 105 | 105 | 0 |
| ESF | 852 | 0 | 0 | 852 |
| INCLE | 225 | 9 | 9 | 216 |
| **ټول 7 مهم وجهي صندقونه** | **$5,496** | **$1,379** | **$1,011** | **$4,462** |

یادونه: شمیرې محاسبه شوي 764.38 ، Pub. L. 113-235 میلیارد امریکایي ډالر د افغانستان د امنیتي ځواکونو د 2014 مالي کال څخه فسخ کړل. پاتې مقدار د اووه لوی بیارغونې فنډونو ټولټال احتمالي مصرف کول منعکس کوي وروسته د شاوخوا 23 میلیون ډالرو د کمولو څخه چې د مکلف کیدو مخکې یې نیټه تیره شوه. د DOD CN مکلف شوي او ورکړل شوي مرستې پیسو اندازه هغه اندازه ښيي چې د اردو خدمتونو او دفاع ادارو ته لیږل شوي ترڅو د افغانستان لپاره ولګول شي.

سرچینه: د DOD، بهرنیو چارو وزارت او USAID په واسطه چمتو کړی شوي د تخصیص کولو قانون او دري میاشتني مکلفیت او مصرف معلوماتو د سیګار څېړنې، 1/19/2015.

شکل 3.3

**د FY 2013 تخصیص شوي فنډونو دریځ**
(ملیونونه ډالر)

**ټولټال مختص شوي:** 5,496 ډالر



# د مرستو وضعیت منځپانګې


| | |
|---|---|
| د متحده ایالاتو د افغانستان بیا رغونې لپاره مرستې | 77 |
| د افغان امینتي ځواکونو صندق | 79 |
| د ASFF د بودیجې فعالیتونه | 80 |
| د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام | 81 |
| د افغانستان د زیربنا وجهی صندوق | 82 |
| د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک | 83 |
| د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی او مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه | 84 |
| د اقتصادي ملاتړ بودیجه | 85 |
| د مخدره توکو نړیوال کنترول او د قانون پلې کول | 86 |
| د افغانستان لپاره د بیا رغونې نړیواله مرسته | 87 |

# د بودیجو حالت

د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومی مفتش لپاره په قانون کی د رامنځ ته شوو تعدیلاتو د پلی کولو په موخه، دا برخه د امریکا د مختص شوي، مکلف شوي او ورکړل شوي مرستو او د افغانستان د بیاروغوني د مرستو په اړه ورکړل شوي. د 2014 دسمبر تر 31 پورې، امریکا له 2002 مالي کال څخه د افغانستان سوکالی او بیارغوني لپاره نږدې 107.48 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص کړي دي. دا ټولې پیسې په لاندې توګه تاکل شوې دي:

- د امنیت لپاره 65.02 میلیارده امریکایي ډالر (د مخدره توکو سره د مبارزې نوښتونو لپاره 4.20 ملیارده امریکایي ډالر)
- د حکومتوالي او پراختیا لپاره 30.65 ملیارده امریکایي ډالر (د 3.81 ملیارده امریکایي ډالر د مخدره توکو سره د مبارزې نوښتونو لپاره)
- 2.86 میلیاردو ډالرو د بشري مرستو لپاره
- 8.96 ملیارده امریکایي ډالر د ملکي عملیاتونو لپاره

شکل 3.4 د امریکا هغه مهم فندونه ښیې چې پدغو هڅو کې برخه اخلي.

**ASFF:** د افغان امینتي ځواکونو صندق
**CERP:** د قومندان د بیړني غبرګون پروګرام
**AIF:** د افغانستان د زیر بنا فنډ
**TFBSO:** د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک
**DOD CN:** د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو سره مبارزې او د مخدره توکو د مخنیوي فعالیتونه
**ESF:** د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق
**INCLE:** نړیوال مخدره توکو کنټرول او د قانون حاکمیت
**نور:** نور مالي تمویل

شکل 3.4

**د افغانستان بیارغوني ملاتړ لپاره د متحده ایالاتو فندونه** (په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې محاسبه شوي. د بهرنیو چارو وزارت او USAID حسابونو لپاره د FY 2015 نهایی تخصیص مقدارونه لا تر غور لاندې و کله چې دا راپور خپور شو.
[a] په ډیری ادارو کې DOJ، د بهرنیو چارو وزارت، DOD، USAID، خزانه، USDA، DEA، BBG او سیګار شامل دي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/20/2015، 1/17/2015، 1/14/2015، 1/5/2015، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/16/2015، 1/15/2015، 1/14/2015، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ خزانه، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014؛ OMB، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/14/2015، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DOJ، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/8/2015 او 7/7/2009؛ USDA، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ DFAS، د مالي کال برنامې او 2014 دسمبر فرعي حسابونو په واسطه د AR(M) 1002 تخصیص درېځ، 1/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235، 113-76، 113-6، 112-74، 112-10، 111-212، 111-118.




**له 2002 مالي کال څخه په افغانستان کې د امريکا بيارغونې له ټولو مرستو څخه، هغه اندازه مرستې چې د امريکا اوو مهمو وجهي صندقونو ته برابر شوي له 84.8% څخه د زياتو استازيتوب کوي (نږدې 91.20 ميلياردو امريکايي ډالر). لدغو څخه، نږدې 87.3% (79.57 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زيات) مکلف شوي دي، او له 79.5% (72.54 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زيات) ورکړل شوي دي. لدې څخه فنډونو ته د اټکل شوي 3.38ميليارد ډالرو مقدار تاريخ تير شوی.**

## د متحده ایالاتو د افغانستان بيا رغوني لپاره مرستې

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، د افغانستان سوکالى او بيارغونې لپاره ټول زياتيدونکي تخصيصات نږدې 107.48 ميليارډو امريکايي ډالرو ته رسيدلي لکه څرنګه چې په دغه شکل 3.5 کې ښودل شوي. دا ټولې مرستې کيدای شي د بيارغونې په څلورو مهمو برخو وويشل شي: امنيت، حکومتولي او پراختيا، بشري مرستې، او څارنه او عمليات. د دغو مرستو نږدې 8.01 مليارده امريکايي ډالر د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د نوښتونو ملاتړ کوي چې په دواړو امنيت (4.20 مليارده امريکايي ډالر) او حکومتوالي او پراختيا (3.81 ميليونه امريکايي ډالر) برخو کې شاملې دي. د امريکا لخوا د تخصيصاتو په اړه د ښپړو معلوماتو لپاره ب ضميمې ته ستانه شى.

د 2014 دسمبر په 16، ولسمشر اوباما د 2015 متحد او زياتو دوامدارو تخصيصاتو قانون لاسليک کړ، چې د امريکا حکومت به د مالي کال پاته برخې لپاره تمويل کړي. کله چې دغه راپور رسنيو ته ولاړ، د امريکا بهرنيو چارو وزارت او USAID د 2015 مالي کال حسابونه د پريکړې تر غور لاندې و . کله چې د دغو حسابونو لپاره د مرستو کچه معلومه شي، هغه اندازه چې د 2015 مالي کال لپاره د تخصيص په توګه راپور ورکړ شوي، له 4.29 ميليارډو امريکايي ډالرو څخه به زيات شي، لکه څرنګه چې په دغه شکل 3.6 کې ښودل شوي.

شکل 3.5

**د 2014 د دسمبر 31پورې د تمويل کټکورۍ پر اساس مجموعي تخصيصات** (په ميليارد ډالر)




يادونه: شميرې محاسبه شوې. د امريکا دفاع وزارت د FY 2011 ASFF څخه 1 مليارد ډالر بيا پروګرام کړل. د امريکا دفاع وزارت د FY 2012 ASFF څخه 1 مليارد ډالر بيا پروګرام کړل . 1 Pub. L. 113-6 ميليارد امريکايي ډالر د افغانستان د امنيتي ځواکونو د 2012 مالي کال څخه فسخ کړل.د دفاع وزارت د 2013 مالي کال ASFF څخه 178 ميليونه ډالر بيا پروګرام کړي دي. Pub. L. 113-235 د FY 2014 ASFF څخه 764.38 مليون ډالر فسخ کړل. د دفاع وزارت له FY 2011 AIF څخه 101 مليون ډالر او FY 2013 AIF څخه 179.5 مليون ډالر ESF ته ليږدولي ترڅو د USAID لخوا پلې کيدونکي زيربنايي پروژې تمويل کړي.

[a] د بهرنيو چارو وزارت او USAID حسابونو لپاره د FY 2015 نهايي تخصيص مقدارونه لا تر غور لاندې و کله چې دا راپور خپور شو.

سرچينه: د دفاع وزارت، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/20/2015، 1/17/2015، 1/14/2015، 1/5/2015، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/16/2015

1/15/2015، 1/14/2015، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012او 6/27/2012؛ خزانه، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014؛ OMB، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/14/2015، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DOJ، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/8/2015 او 7/7/2009؛ USDA، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ DFAS، د مالي کال برنامې او 2014 دسمبر فرعي حسابونو په واسطه د AR(M) 1002 تخصيص دريځ، 1/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235، 113-76، 113-6، 112-74، 112-10، 111-212، 111-118.

د بیارغوني له اوو مهمو وجهي صندقونو څخه دوه، د افغانستا زیربنا وجهي صندق (AIF) او د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو لپاره کاري ځواک (TFBSO)، د 2015 مالی کال لپاره تخصیصونه ندي لاسته راوړي. پداسي حال کي چي د افغانستان زیربنا وجهي صندق لخوا ډیرى تمویل شوى پروژې اوس هم د پرمختګ په حال کي دي او ډیري مرستي د توزیع لپاره پاته دي، د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو لپاره کاري ځواک پلان لري ترڅو د 2015 د مارچ په 31 خپل عملیاتونه پای ته ورسوي. د افغان امینتي ځواکونو صندق (ASFF) د 2015 مالي کال لپاره نږدې 4.11 میلیارده امریکایي تخصیصات شوي، لکه څرنګه چي د امریکا دفاع وزارت لخوا یي غوښتنه شوي وه؛ مګر د 2015 مالي کال د تخصیصات قانون د 2014 مالي کال لپاره له ASFF څخه 764.38 میلیونه امریکایي ډالر بیرته واخیستل.

په افغانستان کي د امریکا ځواکونو پر کمیدلو برسیره، د بیارغوني د مرستو په پایپ لاین کي اوس هم ډیره مرسته شتون لري. د 2015 مالي کال د ASFF له بیرته اخیستلو سره، له 15.28 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د احتمالي توزیع لپاره پاته دي. د هغو مرستو چي پر لار دي د لا نورو معلوماتو لپاره 74–75 پاڼه وګورئ.

شکل 3.6

**د مالي کال، مقدار او کټګورۍ پر اساس تخصیصات** (په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې محاسبه شوي. د امریکا دفاع وزارت د FY 2011 ASFF څخه 1 ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل. د امریکا دفاع وزارت د FY 2012 ASFF څخه 1 ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل. Pub. L. 113-6 1 میلیارد امریکایي ډالر د افغانستان د امنیتي ځواکونو د 2012 مالي کال څخه فسخ کړل. د دفاع وزارت د 2013 مالي کال ASFF څخه 178 میلیونه ډالر بیا پروګرام کړي دي. Pub. L. 113-235 د FY 2014 ASFF څخه 764.38 ملیون ډالر فسخ کړل. د دفاع وزارت له FY 2011 AIF څخه 101 ملیون ډالر او FY 2013 AIF څخه 179.5 ملیون ډالر ESF ته لیږدولي ترڅو د USAID لخوا پلي کیدونکي زیربنایی پروژې تمویل کړي.

[a] د بهرنیو چارو وزارت او USAID حسابونو لپاره د FY 2015 نهایي تخصیص مقدارونه لا تر غور لاندي و کله چي دا راپور خپور شو.

سرچینه: د دفاع وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 1/15/2015، 1/16/2015، 1/17/2015، 1/20/2015، 1/14/2015، 1/5/2015، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 1/14/2015، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ خزانه، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 10/9/2014؛ OMB، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 1/14/2015، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DOJ، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 1/8/2015 او 7/7/2009؛ USDA، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 4/2009؛ DFAS، د مالي کال برنامي او 2014 دسمبر فرعي حسابونو په واسطه د AR(M) 1002 تخصیص دریځ، 1/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235، 113-76، 113-6، 112-74، 112-10، 111-212، 111-118.

## د افغان امینتي ځواکونو صندق




**د افغانستان امینتي ځواکونو وجهي صندق ترمینالوژي**

د امریکا دفاع وزارت د ASFF وجهي صندوق لپاره د تخصیص، مکلف او ورکړل شوي مرستو راپور ورکړی

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره موجوده پیسي

**مکلفیتونه:** د پیسو د ورکولو ژمني

**مصارفات:** هغه پیسي چي لګول شوي دي

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیکار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 4/13/2010.

د امریکا کانګریس د افغان امینتي ځواکونو صندق (ASFF) جوړ کړ ترڅو د افغانستان ملي امینتي ځواکونو لپاره تجهیزات، توکي، خدمات، روزنه، او مرستي، او تاسیسات او زیربنا رغوني، بیارغوني، او ساختماني کارونه هم برابر کړي.[44] د افغانستان ملي امینتي ځواکونو د جوړولو مسولیت د امنیت لیږد ګډه قوماندانی - افغانستان لري.[45] وړاندي تر دي چي د ASFF مرستي مکلف شي، د افغانستان د سرچینو نظارت شورا (AROC) لخوا باید یو مالي او فعالیتي پلان تایید شي.[46]

د 2015 د متحد او زیات دوامدارو تخصیصات قانون، د ASFF لپاره د 2015 مالي کال لپاره نږدي 4.11 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص کړي، او تولي زیاتیدونکي مرستي له 60.67 میلیاردو امریکایي څخه ډیري شوي.[47] د 2014 دسمبر تر 31 پوري، د ASFF له 52.35 ملیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات مکلف شوي دي، لدغو څخه 50.74 میلیارده امریکایي ډالر ورکړل شوي دي.[48] دغه شکل 3.7 د ASFF لپاره د مالي کال پر اساس برابر شوي مرستي ښیي.

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چي په دغه ربع کي زیاتیدونکي مکلفیتونه تر نږدي 582.52 میلیارده امریکایی ډالرو زیات شوي، زیاتیدونکي توزیعات تر نږدي 1.80 میلیارده امریکایي ډالرو زیات شوي.[49] دغه شکل 3.8 د ASFF لپاره د برابر شوي، مکلف شوي او ورکړل شوي مرستو زیاتیدونکي پرتله کول ښیي.

شکل 3.7

**د مالي کال په حساب د ASFF اختصاص شوی بودیجي** (په میلیارد ډالر)




شکل 3.8

**د ASFF فندونه، مجموعي پرتله** (په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیري محاسبه شوي.
[a] د دفاع وزارت د 1 FY 2011 ASFF ملیارد ډالر بیا پروګرام کړي.
[b] د امریکا دفاع وزارت مالي کال 2012 لپاره د ASFF یو ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل؛ نور یو ملیارد ډالر په کي لغوه کړای شول Pub. L. 113-6.
[c] د دفاع وزارت د 178 FY 2013 ASFF ملیون ډالر بیا پروګرام کړي.
[d] مالي کال 2015 لپاره د 764.38 ASFF ملیون په. Pub. L. 113-235 کي لغوه کړای شول.

سرچینه: DFAS، د مالي کال برنامي او 2014 دسمبر فرعي حسابونو په واسطه د 1002 AR(M) تخصیص درېځ، 1/17/2015؛ DFAS، د مالي کال برنامي او 2014 سپتمبر فرعي حسابونو په واسطه د 1002 AR(M) تخصیص درېځ، 10/16/2014؛ Pub. L. Nos. 113-235، 113-76، او 113-6.

## د ASFF د بودیجې فعالیتونه

د امریکا دفاع وزارت پدغه وجهي صندق کې د بودیجې درې فعالیتونو ته مرسته تخصیص کوي:

- دفاعي ځواکونه (افغان ملي اردو، ANA)
- کورني ځواکونه (افغان ملي پولیس، ANP)
- اړوند فعالیتونه (د توقیف شویو لومړني عملیاتونه)

د بودیجې د فعالیت هرې ډلې ته بودیجه د ضمني فعالیت په څلورو نورو ډلو کې ټاکل کېږي: زیربنا، تجهیزات او ټرانسپورټیشن، روزنه او عملیات، او ثبات. [50] AROC باید په کلنۍ ډول له 50 میلیونه ډالرو څخه ډیر د اړتیاو خدمت او 100 میلیونه ډالرو څخه ډیر د غیر - معیاري تجهیزاتو اړتیا لپاره د اړتیا او لاسته راوړلو پلان تصویب کړي.[51]

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، د امریکا دفاع وزارت د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو نوښتونو لپاره نږدې 50.74 میلیارده امریکایي ډالر ورکړل کړي دي. لدې مقدار څخه، د 33.74 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه ډیر ANA لپاره تادیه شوي، او له 16.62 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه ډیر ANP لپاره ورکړل شوي؛ او پاتې نږدې 372.26 میلیونه امریکایي ډالرو اړوندو فعالیتونو ته تللي دي.[52]

لکه څرنګه چې پدغه شکل 3.9کې ښودل شوي، د افغانستان ملي اردو لپاره د مرستو لویه ورکړل شوي برخه، چې نږدې 13.51$ میلیارده امریکایي ډالر ده، د افغانستان د ملي اردو ځواکونو دوام ملاتړ لپاره وه. ANP ته له تادیه شوي فنډ څخه، تر ټولو ډیره برخه—نږدې 6.59 میلیاردو امریکایي ډالرو—هم د ANP ځواکونو پایښت ملاتړ کړی، لکه څنګه چې په شکل 3.10 کې ښودل شوي.[53]

شکل 3.9

**د ANA لپاره د فرعي فعالیت ګروپ پر اساس د ASFF مصرفونه، مالي کال 2005 – دسمبر 31، 2014** (په میلیارد ډالر)

**ټولټال:** 33.74 ډالر




شکل 3.10

**د ANP لپاره د فرعي فعالیت ګروپ پر اساس د ASFF مصرفونه، مالي کال 2005 – دسمبر 31، 2014** (په میلیارد ډالر)

**ټولټال:** 16.62 ډالر




یادونه: شمیرې محاسبه شوي.

سرچینه: DFAS، د AR(M) 1002 تخصیص دریځ د مالي کال پروګرام او د 2014 دسمبر فرعي حسابونو پر اساس، 1/17/2015.

**د بودیجوي فعالیتونو ګروپونه:** کټګوریانې هر تخصیص دننه او یا هم د هغه مالي حساب چې د اړونده موخو، پروژو، او یا هم د تخصیص فعالیت په ګوته کوي

**فرعي فعالیتي ګروپونه:** حسابي ګروپونو ویش په مالي سیمو باندې د قومانده کړل شوو مرستو مصارف په ډاګه کوي

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، "7110.1-M منول د دفاع وزارت د بودیجوي لاربښود منول"، چې په 9/28/2009 لاس رسی ورته شوی دی؛ د بحري ځواکونو ریاست، "د روغتیایی اسانتیا مدیر لاسی کتاب"، 5 پاڼه، چې په 10/2/2009 باندي لاس رسی ورته شوی دي.

## د قوماندان بیرني غبرګون پروګرام

د قوماندان د بیرنی غبرګون پروګرام (CERP) په افغانستان کی امریکایی قومندانانو ته توان او موقع ورکوی تر څو په بیړنیو حالاتو کی په بشری او بیارغونیزو برخو کی د خپل ماموریت په سیمه کې د محلی خلکو سره مرسته او کمک تر سره کړی. د دغه پروګرام پر اساس مرستي د وړو پروژو لپاره دي چې د هر یوي اټکل شوی ارزښت له 500,000 امریکایي ډالرو څخه کم وي.[54] د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام (CERP) لخوا تمویل شوي هره پروژه باید له 2 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیاته نه وي.[55]

د 2015 متحد او زیاتو دوامدارو تخصیصات قانون، د CERP لپاره 10 میلیونه امریکایي ډالر تخصیص کړي، چې ټولي زیاتیدونکي مرستي یې نږدې 3.68 میلیارده امریکایي ډالرو ته رسولي.[56] لدغو څخه د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې نږدې 2.28 میلیارده امریکایي ډالر مکلف شوي دي، او لدغو څخه د 2014 دسمبر تر 31 پوري، نږدې 2.26 میلیارده امریکایي ډالر توزیع شوي دي.[57] دغه شکل 3.11د مالي کال پر اساس د CERP تخصیصات ښیي، او دغه شکل 3.12 د CERP پروژو لپاره د تخصیص شوي، مکلف شوي، او ورکړل شوي مرستو زیاتیدونکي پرتله کول ښیي.




**د CERP د وجهي صندوق ترمینالوژي**

د امریکا دفاع وزارت د CERP وجهي صندوق تخصیصات، مکلف شوي او ورکړل شوي مرستي راپور ورکړي

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره موجوده پیسي

**مکلفیتونه:** د پیسو د ورکولو ژمنې

**مصارفات:** پیسې چې باید مصرف کړل شي

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/14/2010.

شکل 3.11

**د مالي کال په حساب د CERP اختصاصونه**
(میلیونونه ډالر)




شکل 3.12

**د CERP بودیجې، مجموعي پرتله**
(په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې محاسبه شوي. په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لیږدوني شاملې وي.

سرچینه:د دفاع وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 10/20/2015 او 10/20/2014؛ OMB، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 1/4/2013؛ Pub. L. Nos. 113-235، 113-76، 113-6، 112-74، 112-10.

## د افغانستان د زیربنا وجهی صندوق

د افغانستان د زیربنا وجهي صندوق (AIF) له 2011 مالي کال څخه تر 2014 مالي کال پورې تخصیصات لاسته راوړي. د امریکا دفاع وزارت د 2015 مالي کال لپاره د AIF لپاره مرسته نده لاسته راوړې. د AIF لخوا هرې تمویل شوې پروژې اړتیا درلوده ترڅو د دوام لپاره یو پلان ولري او شرح ورکړي چې څرنګه دغې پروژې به افغانستان کې د یاغیتوب ضد ستراتیژۍ ملاتړ کړی. [58]

AIF په زیاتیدونکي توګه له 1.32 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات تخصیصات لاسته راوړي؛ مګر، لدغو مرستو څخه 280.5 میلیونه امریکایي ډالر د USAID د شمال ختیځ بریښنا سیستم د بریښنا لیږلو لینونو پروژې لپاره د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق (ESF) ته لیږل شوي، چې په AIF کې پاته زیاتیدونکي اندازه 1.04 میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیدلې. [59] دغه شکل 3.13 د مالي کال پر اساس د AIF تخصیصات ښیي.

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، د AIF له ټولو مرستو څخه له 837.47 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات مکلف شوي دي. که څه هم AIF به نورې مرستې لاسته راوړي، د AIF ډیرې پروژې اوس هم د پرمختګ په حال کې دي، د AIF له 60% څخه زیاته مرسته مکلف شوې او د ESF ته ټول لیږل شوي 280.5 میلیونه امریکایي ډالر د توزیع لپاره پاته دي. [60]د 2014 دسمبر تر 31 پورې، د AIF د مرستو یوازې 332.14 میلیونه امریکایي ډالر ورکړل شوي دي، لکه څرنګه چې په دغه شکل 3.14 کې ښودل شوي.

شکل 3.13

**مالي کال په حساب د AIF اختصاصونه**

یونونه ډالر)




شکل 3.14

**د AIF بودیجې، مجموعي پرتله**

(میلیونونه ډالر)




نه: شميرې محاسبه شوي.
مالي کال 2011 په ارقامو کې هغه 101 ملیون ډالر نه دي شامل چې USAID ته د AIF د یوې پروژې لپاره لیږدل شوي وو.
FY 2013 ارقامو څخه 179.5 ملیون ډالر خارج دي چې USAID ته د AIF یوې پروژې پلي کولو لپاره لیږدول شوي.

چینه: DFAS، د مالي کال برنامې او 2014 دسمبر فرعي حسابونو په واسطه د 1002 AR(M) تخصیص درېځ، 1/17/2015؛ DFAS، د مالي کال برنامې او 20 سپتمبر فرعي حسابونو په واسطه د 1002 AR(M) تخصیص درېځ، 10/16/2014؛ Pub. L. Nos. 113-76، 113-6، 112-74 او 112-10.




**د AIF وجهي صندوق ترمینالوژي**

د امریکا دفاع وزارت AIF وجهي صندوق لپاره د تخصیصاتو، مکلف شوي او ورکړل شوي مرستو راپور ورکړ

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره موجود پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو د ورکولو ژمنې

**مصارفات:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2012.

**د افغانستان زیربنا وجهي صندوق (AIF):**

**په 2011 مالي کال کې د لوړ اهمیت لرونکو-سترو زیربنایی پروژو لپاره رامنځته شوی چې د امریکا ملکي-نظامي هڅې ملاتړ کوي. د کانګریس غوښتنه ده چې د AIF لخوا تمویل شوي پروژې به د امریکا دفاع وزارت او بهرنیو چارو وزارتونو لخوا په ګډه غوره او اداره کیږي.**




**د TFBSO وجهي صندوق ترمينالوژي**
د امريکا دفاع وزارت TFBSO وجهي صندوق لپاره د تخصيصاتو، مکلف شوي او ورکړل شوي مرستو راپور ورکړ

**تخصيصات:** د ژمنو لپاره موجود پيسې

**مکلفيتونه:** د پيسو د ورکولو ژمنې

**مصارفات:** هغه پيسې چې لګول شوې دي

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

## د سوداګرۍ او ثبات عملياتو لپاره کاري ځواک

په 2010 کال کې د سوداګرۍ او ثبات عملياتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) په افغانستان کې د بې کارۍ د کچې د کمولو، افغانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو د رامنځته کولو او همدا ډول د اقتصادي لاملونو د رامنځته شوي تاوتريخوالي سره د مبارزې له لارې د افغانستان د ثبات په موخه خپل فعاليت پدې هيواد کې پيل کړ. د 2014 دسمبر په 31، د TFBSO صلاحيتونه ختم شول، او TFBSO خپل عملياتونه بشپړوي، چې پلان شوې د 2015 مارچ تر 31 پای ته ورسيږي. د TFBSO په پروژو کې هغه فعاليتونه شامل دي ترڅو د خصوصي پانګونې، صنعتي پراختيا، بانکداري او مالي سيستم پراختيا، کرنې پراختيا او بيرته سمون، او انرژۍ پراختيا لپاره آسانتيا برابرولو فعاليتونه شامل دي.[61]

که څه هم د امريکا دفاع وزارت د 2015 مالي کال د ملي دفاع صلاحيت په قانون کې د TFBSO لپاره د نورو اضافي پروژو تمويل صلاحيت ندی ورکړی، خو TFBSO په اصطلاح کې د عملياتونو او ساتنې، اردو، د اداري تړلو په تړاو د لګښتونو حساب لپاره مرستې لاسته راوړې.[62] له 2009 مالي کال څخه د 2014 دسمبر تر 30 پورې، TFBSO ته نږدې 814.92 ميليونه امريکايي ډالر تخصيص شوي دي. لدغو څخه، له 763.47 ميليونو امريکايي ډالرو څخه زيات مکلف شوي دي او نږدې 631.26 ميليونه امريکايي ډالر ورکړل شوي دي. د امريکا دفاع وزارت راپور وکړی چې په دغه ربع کې نږدې 4.3 ميليونه امريکايي ډالر له مکلفيت څخه ايستل شوي دي.[63] دغه شکل 3.15 د مالي کال پر اساس د TFBSO لپاره تخصيص شوي مرستې ښيي، او دغه شکل 3.16 د TFBSO او پروژو لپاره يې د مرستو زياتيدونکي تخصيصونو، مکلفيتونو، او توزيع پرتله کول ښيي.

شکل 3.15

**د مالي کال په حساب د TFBSO اختصاصونه**
(ميليونونه ډالر)




شکل 3.16

**د TFBSO بوديجې، مجموعي پرتله**
(ميليونونه ډالر)




يادونه: شميرې محاسبه شوې. تازه معلوماتو په تيرې ربع کې راپور ورکړ شوي مقدار څخه ټيټ مکلفيت پايله درلوده. د TFBSO ته مختص شوي 814.92 مليون ډالرو څخه 358.12 مليون ډالر د اردو د عملياتو او ساتنې حساب څخه د متحده اياالتو پانګو پايپنت، ملکي کارمندانو، سفر، امنيت، او نورو عملياتي ګښتونو ورکړې لپاره و؛ د FY 2015 ټول تمويل لدې حساب څخه و.

سرچينه: د دفاع وزارت، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/5/2015، 10/6/2014، او 10/20/2014؛ Pub. L. 113-76، 1/17/2014، Pub. L. 113-6، 3/26/2013؛ Pub. L. 112-74، 12/23/2011؛ Pub. L. 112-10، 4/15/2011.

## د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی او مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه

د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو مخنیوی او مخدره توکو سره د مبارزې وجهي صندوق (DOD CN) د مخدره توکو د قاچاق او اړوندو فعالیتونو سره د مبارزې له لارې د افغانستان د ثبات سره مرسته کوي. د امریکا دفاع وزارت له DOD CN څخه کار اخلي او د مخدره توکو قاچاق کوونکو پروړاندې د اردو عملیاتو؛ د افغانستان د مخنیوی عملیاتونو پراخولو؛ او د افغانستان قانون پلي کولو ادارو ظرفیت لوړولو، پشمول د افغان سرحدي پولیسو، او تخصصي روزنې، تجهیزاتو، او تاسیساتو برابرولو له لارې د هڅو ملاتړ کوي.[64]

د DOD CN فنډونه د اردو تولو خدماتو ته د یوې بودیجې په توګه د کانګریس لخوا تخصیص ورکول کیږي. د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو سره د مبارزې د سپارلو له مرکزي حساب (CTA) څخه د اردو د خدماتو او د دفاع ادارو ته فنډونه بیرته پروګراموې چې د فنډونو ژمنې او سپارل تعقیبوي. د هر مالي کال لپاره د امریکا دفاع وزارت د افغانستان لپاره د DOD CN د حسابونو په اړه د یو لګښت په توګه راپور ورکړی.[65]

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې DOD CN د 2014 مالي کال لپاره د افغانستان لپاره نږدې 110.10 میلیونه امریکایي ډالر لاسته راوړي، چې له 2004 مالي کال څخه د DOD CN زیاتیدونکي مرستې 2.83 میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي. لدغو څخه د 2014 دسمبر تر 31 پورې، له 2.80 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات د DOD CN پروژو لپاره د اردو خدماتو او دفاع ادارو ته لیږل شوي.[66] دغه شکل 3.17 د مالي کال پر اساس د DOD CN تخصیصات بنیي، او دغه شکل 3.18 د DOD CN CTA لپاره د تخصیص شوي او لیږل شوي مرستو زیاتیدونکي پرتله کول بنیي.




**د DOD CN وجهي صندوق ترمینالوژي**

د امریکا دفاع وزارت DOD CN وجهي صندوق لپاره د تخصیصاتو، مکلف شوي او ورکړل شوي مرستو راپور ورکړ

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره موجود پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو د ورکولو ژمنې

**مصارفات:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

شکل 3.17

**د مالي کال په حساب د DOD CN اختصاصونه**

(میلیونونه ډالر)




شکل 3.18

**د DOD CN بودیجې، مجموعي پرتله**

(په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې محاسبه شوي. د تیر کال تنظیمات په دوره ای توګه د نه منل کیدو لپاره سرته رسیدلي او/ یا د څو کلونو د پیرود تمویل بیا ترتیب لپاره. د 2014 د دسمبر تر 31 پورې افغانستان لپاره د FY14 DOD CN مختصات له پلان شوي 317.7 ملیون ډالرو څخه د پام وړ 105.3 ملیون ډالرو ته راټیټ شوي.

[a] د دفاع وزارتد نظامي خدمتونو او دفاعي ادارو ته د ټولو بودیجو د منلو او مصرف لپاره له سره پروګرام جوړوي.

سرچینه د دفاع وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/14/2015 او 10/20/2014.




**د ESF وجهي صندوق ترمینالوژي**

د دفاع وزارت ESF وجهي صندوق لپاره د تخصیصاتو، مکلف شوي او ورکړل شوي مرستو راپور ورکړ

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره موجود پیسي

**مکلفیتونه:** د پیسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** هغه پیسي چي لګول شوي دي

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/15/2010.

## د اقتصادي ملاتړ بودیجه

د اقتصادي ملاتړ د بودیجي (ESF) پروګرامونه هڅوادونو سره د هغوی په لنډمهاله او اوږدمهاله سیاسي، اقتصادي، او امنیتي اړتیاو کي په مرستو کولو سره د متحده ایالاتو ګټي پر مخ بوځي. د ESF پروګرامونه د ترورېزم پر وړاندي د پروګرامونو ملاتړ کوي؛ ملي اقتصادونه ځواکمن کوي؛ او د لا ډیر شفاف او حساب ورکونکي حکومت لپاره د اغیزمن، د لاس رسي وړ، او خپلواک قانوني سیستم د پراختیا لپاره مرسته کوي.[67]

کله چي دا راپور مطبوعاتو ته ورغی، د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق لپاره د 2015 مالي کال مرستو بشپړي کچي په اړه پریکړه نه وه شوې. USAID راپور ورکړی چي د ESF لپاره زیاتیدونکي مرستي له 17.71 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیاتي شوي، او په دغو کي هغه مرستي شامل دي چي د USAID د شمال ختیځ بریښنا سیستم د بریښنا لیږلو لینونو پروژو لپاره له AIF څخه ESF ته لیږل شوي. لدغو څخه، نږدي 16.38 میلیارده امریکایي ډالر مکلف شوي دي، او لدغو څخه نږدي 12.49 میلیارده امریکایي ډالر ورکړل شوي دي.[68]دغه شکل 3.19 د مالي کال پر اساس د ESF تخصیصات ښیي.

USAID راپور ورکړی چي د 2014 دسمبر تر 31 پوري، له هغي اندازي څخه چي په تیر ربع کي راپور ورکړی شوی، زیاتیدونکي مکلفیتونه له 55.17 میلیونو امریکایي ډالرو زیات کم شوي او زیاتیدونکي توزیعات له 240.42 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات شوي.[69]دغه شکل 3.20 د ESF لپاره د تخصیص شوي، مکلف شوي، او ورکړل شوي زیاتیدونکي پرتله کول ښیي.

شکل 3.19

**د مالي کال په حساب د ESF اختصاصونه**

(په میلیارد ډالر)




شکل 3.20

**د ESF بودیجي، مجموعي پرتله**

(په میلیارد ډالر)




ونه: شمیرې محاسبه شوي. تازه معلوماتو په تیر ربع کي راپور ورکړ شوي تخصیص او مکلف مقدار څخه د ټیټ رقم پایله درلوده. د FY 2011 ارقامو کې 101 ملیون ډالر شامل ي چي ESF ته د افغانستان د زیربنا صندوق (AIF) څخه لیږدول شوي. د FY 2013 ارقامو کې 179.5 ملیون ډالر شامل دي چي ESF ته د AIF څخه لیږدول شوي. FY 2015 ESF تخصیص مقدار به وروسته له هغه مشخص شي چي د بهرنیو چارو وزارت د 653(a) مشوري پروسه بشپړه کړي.

رچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 1/14/2015 او 10/9/2014؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 1/14/201 او 4/15/2014.

## د مخدره توکو نړیوال کنترول او د قانون پلي کول

د متحده ایالاتو د نړیوال مخدره توکو او قانون پلي کولو چارو بیورو (INL) د قانون حاکمیت ښه کولو او مخدره توکو تولید او قاچاق سره مبارزې حساب اداره کوي، چې د نړیوال مخدره توکو کنترول او قانون پلي کولو (INCLE) حساب دی. INCLE د INL د ځو پروګرامونو، پشمول د پولیسو، مخدره توکو سره مبارزې، او د قانون حاکمیت او عدالت ملاتړ کوي.[70]

کله چې دغه راپور رسنیو ته ولاړ، د INCLE لپاره د 2015 مالي کال بشپړې مرستو په اړه لا پریکړه نه وه شوې. د امریکا بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې د INCLE لپاره زیاتیدونکي مرستې له 4.44 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه ډیرو ته رسیدلي. لدغو څخه، له 4.16 میلیارده امریکایي ډالرو څخه زیات مکلف شوي دي، او لدغو څخه نږدې 3.29 میلیارده امریکایي ډالر ورکړل شوي دي.[71] دغه شکل 3.21 د مالي کال پراساس د INCLE تخصیصات ښیي.

د امریکا بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې د 2014 د سپتمبر 30 د زیاتیدونکو مکلفیتونو په پرتله، د 2014 دسمبر تر 31 پورې، زیاتیدونکي مکلفیتونه تر نږدې 1.40 میلیونو امریکایي ډالرو زیات شوي. د 2014 د دسمبر 31 د زیاتیدونکو توزیعاتو په پرتله، د 2014 سپتمبر تر 30 پورې، زیاتیدونکي توزیعات تر نږدې 135.85 میلیونو امریکایي ډالرو زیات شوي.[72] دغه شکل 3.22 د INCLE لپاره د زیاتیدونکي تخصیصونو، مکلفیتونو، او توزیعاتو پرتله کول ښیي.




**د INL وجهي صندوق ترمینالوژي**

INL د INCLE او نور INL فنډونو لپاره د تخصیصونو، مکلفیتونو او ورکړل شوي مرستو راپور ورکړی

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره موجود پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو د ورکولو ژمنې

**مصارفات:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/9/2010.

شکل 3.21

**د مالي کال په حساب د INCLE اختصاصونه**

(میلیونونه ډالر)




شکل 3.22

**د INCLE بودیجې، مجموعي پرتله**

(په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې محاسبه شوي. په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لیږدونې شاملې وي. د FY 2015 INCLE تخصیص مقدار به وروسته له هغه مشخص شي چې د بهرنیو چارو وزارت د 653(a) مشورې پروسه بشپړه کړي.

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/15/2015 او 10/17/2014.

## د افغانستان لپاره د بیا رغوني نړیواله مرسته

د امریکا د متحده ایالاتو د مرستو برسیره، نړیواله ټولنه د افغانستان د بیارغوني او هوساینې په برخه کې په پراخه کچه د پام وړ مرستې ترسره کړې دي. لکه څرنګه چې د سیګار د تیر ربعو په راپورونو کې راغلي، د نړیوالې ټولنې ډیرې برابر شوې مرسته د وجهي صندقونو له لارې اداره کیږي. د وجهي صندقونو له لیاري چمتو شوې اعانې یوځاى شوي او وروسته د بیارغوني کړنو باندې لګول شوي.
د وجهي صندقونو د ډلې څخه دوه لوی فنډونه د افغانستان د بیارغوني وجهي صندق (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA) دي.[73]

## د افغانستان د بیا رغوني وجهي صندق سره مرستې

د افغانستان عملیاتي او پرمختګ بودیجو ته د نړیوالو مرستو خورا لوی سهم د ARTF له لارې راځي. له 2002 څخه د 2014 دسمبر تر 21 پورې، نړیوال بانک راپور ورکړی چې 34 مرستندویانو د نږدې 7.98 میلیاردو امریکایي ډالرو ژمنه کړې ده، لدغو پیسو څخه نږدې 7.93 میلیارده امریکایي ډالر تادیه شوي دي. [74]د نړیوال بانک په وینا، د افغانستان د 1393 مالي کال لپاره چې د 2013 د دسمبر له 21 څخه د 2014 د دسمبر تر 20 پورې ده مرستندویانو د ARTF لپاره له 1.08 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیاتو ژمنه کړې ده. [75] دغه شکل 3.23 د 1393 مالي کال لپاره د ARTF تر ټولو لوی 11 مرستندویان ښیي.
د 2014 دسمبر تر 21 پورې، امریکا له 2.43 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیاتو ژمنه کړې ده او له 2002 څخه یې نږدې 2.41 میلیارده امریکایي ډالر تادیه کړي. [76]امریکا او انګلستان د ARTF دوه لوی مرستندویان دي، یوځای هغوی د ټولو مرستو 48% تادیه کوي، لکه څرنګه چې په دغه شکل 3.24 کې ښودل شوي.

شکل 3.23

**د 2014 دسمبر 21 پورې د ډونر په واسطه د FY 1393 لپاره د ARTF مرستې** (ملیونونه ډالر)




یادونه: شمیرې محاسبه شوي FY 1393 = 12/21/2013–12/20/2014.
سرچینه: نړیوال بانک، "ARTF: د مالي وضعیت په اړه د اداره کوونکي راپور د 2014 دسمبر 21 مه (د 1393 مالي کال د 12 میاشت پای)،" 1 مخ.

په ARTF کې برخه اخيستنې د مرستو په دوو چينلونو کې تقسيميږي، د روانو لګښتونو (RC) کړکۍ او پانګونې کړکۍ.[77] د نړيوال بانک په وينا، د 2014 دسمبر تر 21 پورې، د ARTF مرستو نږدې 3.35 ميليارده امريکايي ډالر د افغانستان حکومت ته د RC کړکۍ له لارې ورکړل شوي ترڅو له روانو لګښتونو لکه د ملکي کارکوونکو معاشونو سره مرسته وکړي.[78] د RC کړکۍ د افغانستان حکومت د عملياتونو د لګښتونو ملاتړ کوي ځکه چې د افغانستان کورني عوايد اوس هم د روانو لګښتونو ملاتړ لپاره پوره ندي. ترڅو دا وکتل شي چې د روانو لګښتونو کړکۍ په پوره اندازه مرستې ترلاسه کوي، کيداى شي ARTF ته مرسته کوونکي هيوادونه له نيمي څخه ډيره برخه اخيستنه د پام وړ پروژو لپاره و نه "غواړي" (په نښه نکړي).[79]

د پانګې اچونې فرصت د پرمختيايي پروګرامونو لګښت پرغاړه لري. د نړيوال بانک په وينا، د 2014 دسمبر تر 21 پورې، نږدې 3.69 ميلياره امريکايي ډالر د هغو پروژو لپاره ژمنه شوي چې د پانګونې کړکۍ له لارې تمويليږي، لدغو څخه له 2.86 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زيات ورکړل شوي دي. نړيوال بانک راپور ورکړى چې د 20 فعالو تولو پروژو ژمنه شوى ارزښت له 2.36 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زيات دى، لدغو څخه له 1.53 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زيات ورکړل شوي دي.[80]

شکل 3.24

**د ډونرانو لخوا د ARTF ورکړل شوي مرستې،2002 – د 2014 دسمبر 21**

**تولټال ورکړل شوي:** 7.9 مليارد ډالر




يادونه: شميرې محاسبه شوي. په "نورو" کې 30 ډونران شامل دي.

سرچينه: نړيوال بانک، " ARTF: د مالي وضعيت په اړه د اداره کوونکي راپور د 2014 دسمبر 21 مه (د 1393مالي کال د 12مياشت پاى)، " 5 مخ.

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهی صندق سره مرستې

د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام (UNDP) د LOTFA وجهي صندق اداره کوي ترڅو د افغانستان ملي پوليسو معاشونه تاديه کړي او د افغانستان کورنيو چارو وزارت ظرفيت ته وده ورکړي.[81] له 2002 څخه، مرستندويانو له LOTFA سره د نږدې 3.84 ميلياردو امريکايي ډالرو ژمنه کړې ده، لدغو څخه د LOTFA د ورستي معلوماتو پر اساس، د 2014 سپتمبر تر 30 پورې، نږدې 3.77 ميلياره امريکايي ډالر توزيع شوي دي.[82] د LOTFA د شپږم ملاتړ برخه د 2011 جنورى په 1 پيل شوې، او د 2014 دسمبر په 31 پاى ته رسيدلې.[83] د VI برخې له پيل څخه د 2014 سپتمبر تر 30 پورې، UNDP له LOTFA څخه نږدې 1.90 ميلياره امريکايي ډالر د افغانستان حکومت ته سپارلي ترڅو د افغانستان ملي پوليسو او مرکزي بنديخاني رياست کارکوونکو معاشونه تاديه کړي او 53.52 ميليونه امريکايي ډالر د ظرفيت لوړولو او د LOTFA د نورو نوښتونو لپاره و.[84] د 2014 سپتمبر تر 30 پورې، مرستندويانو د LOTFA شپږمې برخې سره د نږدې 2.31 ميلياردو امريکايي ډالرو ژمنه کړې ده. لدغو څخه، امريکا د نږدې 967.10 ميليونو امريکايي ډالرو، او جاپان له 746.76 ميليونو امريکايي ډالرو څخه زياتو ژمنه کړې ده. د هغوى ګډې ژمنې د LOTFA د VI برخې له 74% څخه زيات جوړوي. د دغه وجهي صندق له پيل څخه، امريکا له 1.52 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زياتو ژمنه کړې ده او د 2014 سپتمبر تر 30 پورې، له 3.9 ميليونو امريکايي ډالرو پرته، تولې ژمنې يې تاديه کړې دي.[85]دغه شکل 3.25 له 2002 څخه د LOTFA ترټولو خلور لوى مرستندويان ښيي.

د LOTFA اومه برخه د 2015 جنورى په 1 پيل شوه، او په لمړى کې پلان شوي ترڅو له پيل څخه د شپږو مياشتو لپاره دوام وکړي، او اټکل شوى بوديجې يې 296.84 ميليونه امريکايي ډالر ده. د پيل برخې په موده کې، د LOTFA فعاليتونه به د افغانستان حکومت ته سپارلو باندې پيل وکړي.[86]

شکل 3.25

**LOTFA ته د ډونر مرستې له 2002 څخه د 30 سپتمبر 2013 پورې**

(سلنه)

**تولټال ورکړل شوي:** 3.8 مليارد ډالر




يادونه: شميرې محاسبه شوي. EU = د اروپا اتحاديه په "نورو" کې 18 ډونران شامل دي.

سرچينه: UNDP، د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهی صندوق (LOTFA) 2014 دريمې ربعې د پروژې د پرمختګ راپور، 1/17/2015، مخونه 46–47؛ د سيګار د UNDP د LOTFA درې مياشتني او کلني راپورونو څيړنه، 1/17/2015.

# د امنیت منځپانګې


مهمې مسلې او پېښې 91

د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو شمير 95

د افغانستان دفاع او
کورنيو چارو وزارتونو نوې ارزونې 97

د افغان سيمه ايز پوليس 98

د افغانستان عامه محافظت ځواک ليږد
وضعيت د امريکا ځواکونو کميدلو له کبله
نور شتون نلري 100

د افغان ملي اردو 100

د افغان ملي پوليس 103

د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو
طبي/روغتايي پاملرنه 105

د هغو مهماتو لړې کول چې چاودلې نه وي 105

د مخدره توکو په وړاندې مبارزه 106

"زمونو پر وړاندې لار کې ننګونې پاته دي، مګر مونږ به بریالي شو."

*جنرال جان اف کمپبل،*
*د هوډمن ملاتړ قوماندان*

سرچینه: آیساف، "د لیرد غونډه د هوډمن ملاتړ ماموریت پیلوي"، 12/28/2014.

# امنیت

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، د امریکا کانګریس د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د ملاتړ لپاره له 65 میلیارد امریکایي ډالرو څخه ډیر برابر کړي دي. د دغو مرستو ډیره برخه (60.7میلیارده امریکایي ډالر) د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق (ASFF) ته لیږل شوي او د امنیت لیږد ګډه قومانده - افغانستان (CSTC-A) او یا د دفاع امنیتي همکارۍ اداري لخوا مکلف شوي دي. کانګریس ASFF د دې موخې لپاره رامنځته کړ چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه جوړ، روزنه، او دوام ورکړي، چې د افغان ملي اردو (ANA) او د افغان ملي پولیسو (ANP) څخه ترکیب شوي. د 2014 دسمبر تر 31 پورې، له هغو 60.7 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه چې تخصیص شوي دي، نږدې 52.4 میلیارده امریکایي ډالر مکلف شوي او 50.7 میلیارده امریکایي ډالر ورکړل شوي دي.[87]

دا برخه د ANSF او د دفاع او کورنیو چارو د وزارتونو په ارزونې باندې خبرې کوي؛ او د امریکا له مرستو څخه د ANSF د جوړولو، تجهیز کولو، روزلو، او دوام لپاره د کار اخیستلو لنډیز وړاندې کوي؛ او په افغانستان کې د غیر قانوني مخدره توکو د کرهنې او تجارت په وړاندې د مبارزې د هڅو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

## مهمې مسلې او پیښې

د دغه ربع په مهمو مسلو او پیښو کې د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (آیساف) او د دغه ځواک محاربوي ماموریت پای، د دایمي آزادۍ له عملیاتو څخه د هوډمن ملاتړ ماموریت (RSM) ته لیږد، د افغانستان په ملي امنیتي ځواکونو کې ډیرې قربانۍ، او پدې وروستیو کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د وضعیت په اړه په تیر کې په عامه توګه د معلوماتو راپور ورکولو محرم کېدل شامل و. پردې برسیره، ملګرو ملتونو په دغه کال کې د افغانستان د ملکي وګړو د ډیرو قربانیو په اړه راپور ورکړی.

## نړیوال امنیت مرستندویه ځواک خپل عملیاتونه پای ته رسوي

له جوړیدلو دیارلس کلونو وروسته، آیساف د 2014 دسمبر په 28، د یوې رسمي غونډې په ترځ کې خپل عملیات پای ته ورسول. په پیل کې آیساف د کابل په پایتخت کې د امنیت برابرولو لپاره کار کاوو، او د 50 هیوادونو په یوه ایتلاف بدل شو چې د طالبانو یاغیتوب سره یې جګړه کوله، افغان امنیتي ځواکونه یې بیرته رغول.[88] د آیساف په لوړه شمیره کې، 130,000 امریکایي او نړیوال ځواکونه و، مګر لکه څرنګه چې د افغانستان پولیسو او عسکرو د مسولیت اخیستلو باندې پیل وکړ، په وروستي کلونو کې یې شمیر کم شو.[89] د 2015 جنورۍ په 1، آیساف د هوډمن ملاتړ په ماموریت بدل شو، دغه د ناټو په مشرۍ نوی ماموریت دی ترڅو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته روزنه، مشوره او مرسته برابره کړي.

## د هوډمن ملاتړ ماموریت پیل شو

د ناټو د هوډمن ملاتړماموریت، د مشورې نوې ماموریت د 2015 جنورۍ په 1 پیل شو.[90] دغه نوی ماموریت به امنیتي وزارتونو، د افغانستان ملي امنیتی ځواکونو ته د قول اردو په کچه، د افغانستان ځانګړو عملیاتو ځواکونو ته په تکتیکي کچه مشوره ورکړي.[91] په پیل کې د روزنې، مشورې، او مرستې په دغه ماموریت کې به نږدې 12,000 ځواکونه شامل وي. د ناټو څلور هیوادونه د کاري چوکاټ هیوادونو په توګه خدمت کوي: ترکیه به د کابل پلازمینې په ساحه کې مشري ولري، او آلمان په شمال، ایټالیا په لویدیځ، او امریکا به په جنوب او ختیځ کې مشري ولري.[92] د هوډمن ملاتړ ماموریت به د افغانستان عسکرو او پولیسو ته رزونه ورکړي او د تروریستانو پر وړاندې به عملیات ترسره کړي. د ناټو ملګري به په ځانګړې توګه د افغان امنیتي ځواکونو پر روزنې او مشورې باندې کار وکړي، پداسې حال کې چې دامریکا ځواکونه به د تروریستانو پر وړاندې د نوي ځواک برخې په توګه، د جګړې اضافي محدوده ونډه ولري.[93] په دغو دوو ماموریتونو کې د امریکا بوختیا ته د آزادی عملیاتو خوندیتوب په نوم کوډ ورکړ شوی.[94]

آیساف د امنیتي ځواکونو مرستې یو کاري چوکاټ جوړ کړی، چې د هوډمن ملاتړ ماموریت به یې پلې کړي، ترڅو د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو او د هغوی اړوندو بنسټونو ظرفیت ته وده ورکړي ترڅو اته مهمې دندې ترسره کړي:[95]

- مهمه دنده 1: د څو کلونو بودیجه جوړول او د پروګرامونو تطبیق
- مهمه دنده 2: رونوالی، حساب ورکول، او نظارت
- مهمه دنده 3: د افغانستان امنیتي بنسټونو ملکي حکومتوالي
- مهمه دنده 4: د ځواک پیدا کول (استخدام، روزنه، او د ځواک تجهیز)
- مهمه دنده 5: دوام (د توکو رسول او ساتنه)
- مهمه دنده 6: د ستراتیژی او پالیسی پلان کول، د سرچینو پیدا کول، او تطبیق
- مهمه دنده 7: استخبارات
- مهمه دنده 8: ستراتیژیکي اړیکي

سیګار به هوډمن ماموریت تعقیب کړي او د افغانستان حکومت او امنیتي ځواکونو ته به یې د روزنې، مرستې او مشورې پرمختګ په اړه راپور ورکړي.



**په کابل کې غونډه** د آیساف ماموریت پای اعلانوي. (د امریکا د هوایي ځواک عکس، د تورن فرانک هارتنیت لخوا)

## ملګري ملتونه راپور ورکوي چې په 2014 کې ملکي قرباني ډیري وې

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه ماموریت (یونما) په وینا، 2014 کال د افغانستان په جګړه کې تراوسه د ملکي قربانیانو ډیره شمیره ثبت کړې. د 2014 په لومړیو 11 میاشتو کې، د ټولو ملکي قربانیانو شمیر 9,617 و، لدغو څخه 3,188 ملکیان وژل شوي، او 6,429 ټپیان شوي. یونما اټکل کړی چې د ټول 2014 لپاره به د ملکي قربانیانو شمیر له 10,000 څخه زیات شي.[96]

د 2014 دسمبر په 9، دملګرو ملتونو عمومي منشي د امنیت شورا ته په خپل راپور کې ویلي چې د حکومت ضد عناصرو د ولسوالیو په اداري مرکزونو، د امنیتي ځواکونو تلاشی پوستو، او مهمو سړکونو باندې یو شمیر بریدونو ترسره کولو سره هڅول شوي.[97] لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.5 کې ښودل شوي، په دغه موده کې د امنیتي پیښو شمیره کمه شوې. مګر، په ټولیزه توګه د 2014 له پیل څخه چې 19,469 امنیتي پیښې ثبت شوي د 2013 د ورته مودې د 17,645 ثبت شوي امنیتي پیښو په پرتله 10.3% زیات دي.[98]

**امنیتي پیښې:** په راپور ورکړ شوي پیښو کې وسلواله جګړې، د سړک غاړې چاودیدونکي توکي، په نښه شوي وژنې، اختطافونه، ځان وژونکي بریدونه، جرمي عملونه، او ګواښونه شامل و. راپور ورکړ شوي پیښې کیدای شي حقیقي پیښې نه وي.

سرچینه: د سیګار د ملګرو ملتونو راپور تحلیل.

شکل 3.26

**د دولت ضد ځواکونو له اړخه د ګواښ کچې**




سرچينه: Die Bundesregierung (د آلمان فدرالي حکومت)، *په افغانستان د 2014 پرمختګ راپور*، 11/2014، مخ 19.

جدول 3.5

**د امنيتي پيښو شميره**

| د نيټې حد | د امنيتي پيښو شميره | د ورځو شمير | د هرې ورځ پر اساس په منځنۍ کچه د امنيتي پيښو شمير |
|---|---|---|---|
| 11/16/2013–2/15/2014 | 4,649 | 92 | 50.5 |
| 3/1/2014–5/31/2014 | 5,864 | 92 | 63.7 |
| 6/1/2014–8/15/2014 | 5,456 | 76 | 71.8 |
| 8/16/2014–11/15/2014 | 5,199 | 92 | 56.5 |
| **ټولټال** | **21,168** | **352** | **60.1** |

سرچينه: د ملګرو ملتونو امنيت شورا، *د افغانستان اوضاع او د نړيوالې سولې او امنيت لپاره يې اغيزې راپورنه*، 12/9/2014، مخ 5؛ 9/9/2014، مخ 6؛ 6/18/2014، مخ 5؛ او 3/7/2014، مخ 5.

که څه هم په ختيځ او سويل کې د ګواښونو کچه لوړه ده، لکه څرنګه چې په دغه شکل 3.26 کې ښودل شوي، او په ختيځ کې ډيري پيښې منځ ته راغلي، د افغانستان پاته برخو هم ډيري امنيتي پيښې تجربه کړي.[99] د 2014 اګست له 16 څخه د نومبر تر 15 پورې، ملګرو ملتونو 5,199 امنيتي پيښې ثبت کړي، پدغو کې 235 وژنې او 92 اختطافونه، چې دغه د 2013 ورته مودې د دواړو پيښو لپاره 9% زياتوالى دى.[100]وسلواله جګړه (48.9%) او د سړک غاړې چاودنو (IED) پيښې (27.1%) د ټولو امنيتي پيښو 76% وه. [101]د ځان وژنې له 46 پيښو څخه، اته د کابل په ښار کې ترسره شوي. [102]

ملګرو ملتونو راپور ورکړى چې په ټوليزه توګه افغان امنيتي ځواکونو وکولاى شول په بريا سره د ياغياتوب مخه ونيسي او هيڅ يو بريد بريالى نشو ترڅو د موخو نښې په دايمې توګه ونيسي.[103]د هلمند په ولايت کې د سنګين ولسوالى کنترول لپاره هم د طالبانو ډيره هڅه له ناکامى سره مخامخ شوه. [104]

په فارياب ولايت کې، ياغيانو تر پخوا له درنو وسلو څخه ډير کار اخيستى، او پايله يې تر يوې کچې د نورو کلونو په پرتله په 2014 کې د امنيتي ځواکونو ډيري قربانى وې (په هيواد کې د 2014 مارچ له 21 څخه له 2,000 څخه ډير د پوليس افسران او نږدې 950 عسکر وژل شوي). [105]

## له شپږو کلونو وروسته چې په عامه توګه راپور ورکړ شوي، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو معلومات محرم شوي

په تیر ربع کې سیګار د آیساف د هغه پریکړې په اړه اندیښنه څرګنده کړه چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ورتیاوو کلیدي ارزول، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو سیمه ایز وضعیت راپور (RASR) یې محرم کړی. په دغه ربع کې د ناټو په مشری د نوي هوډمن ملاتړ ماموریت (RSM) چې له آیساف څخه یې مسولیت اخیستی یو ګام ډیر وړاندې اخیستی، او هغه اضافي معلومات یې محرم کړي چې آیساف په تیر شپږو کلونو کې د هر ربع په راپور کې ورڅخه کار اخیستی ترڅو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو، او د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو پرمختګ باندې خبرې وکړي.

په هر ربع کې سیګار په افغانستان کې د امریکا تطبیق کوونکو ادارو ته د معلوماتو غوښتنه لیږي چې د هغوی پروګرامونو په اړه د پوښتنو یو لست دی. په دغه ربع کې سیګار د 2014 دسمبر په 29 له USFOR-A څخه د معلوماتو غوښتنې ځوابونه په معموله توګه د غیر محرم په بڼه لاسته راوړي. پنځه ورځې وروسته، سیګار یو بریښنالیک لاسته راوړ چې ویلي و د هوډمن ملاتړ ماموریت پلان جوړ کړی و ترڅو ډیری ځوابونه محرم کړي. د جنوری په 8، څانګړي عمومي مفتش ساپکو د هوډمن ملاتړ له قوماندان، جنرال جاف اف کمپبل څخه غوښتنه وکړه ترڅو له خپلو کارکوونکو څخه وغواړي او د سیګار د معلوماتو غوښتنې ځوابونه محرم کولو بیا کتنه وکړي.

د جنوری په 14، سیګار ته اطلاع ورکړ شوې چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د شمیر، تجهیزاتو، زیربنا، اداري فساد پر وړاندې ګامونو او نورو ډیرو موضوعګانو په اړه د معلوماتو غوښتنې ځوابونه په محرم او محدودو کچو کې د ناټو لاربښونو پراساس محرم شوي. د جنوری په 16، سیګار نوي معلومات لاسته راوړي چې لدغو ځوابونو څخه دریې غیر محرم ته بدل شوي، خو ډیری اوس هم محرم پاته دي.

د سیګار د ربع راپورونو لپاره د دغې کچې معلوماتو محرم کیدل نوې مسله ده. د شپږو کلونو په ترڅ کې د دغې پریکړې له کبله د لومړي ځل لپاره سیګار نشي کولای ترڅو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د جوړولو، روزنې، تجهیز، او دوام لپاره د امریکا مالیه ورکوونکو لخوا تمویل شوي ډیرو هڅو په اړه په عامه توګه راپور ورکړي. د جنوری په 18، جنرال کمپبل څانګړي عمومي مفتش ته یو مکتوب لیکلی، او د هغو معلوماتو په اړه چې په تیر کې غیر محرم و او اوس د محرم په توګه ګڼل شوي توضیح ورکړي. د دغه مکتوب بشپړ متن د دغه راپور په هـ ضمیمه کې بیرته چاپ شوی.

هغه معلومات چې محرم دي د دغې برخې د امنیت او حکومتوالی په فصلونه کې تشریح شوي. هغه حقیقي سوالونه چې سیګار پوښتلي، او د هوډمن ملاتړ ماموریت یې ځوابونه محرم کړي، د دغه راپور په ی ضمیمه کې لست شوي. لکه څرنګه چې د توانمندی دریځ صلاحیت ورکړی، سیګار به یوه محرمه ضمیمه خپره کړي چې محرم معلومات لري.

## د متحده ایالاتو په افغانستان کې ځواکونه

د USFOR-A قرارګاه په وینا، د 2014 دسمبر تر 20 پورې، په افغانستان کې د امریکا 9,500 ځواکونو خدمت کاوو، دغه د 2014 د جون له 1 څخه د 23,300 کموالی دی. په دغه وخت کې د ایتلاف له نورو هیوادونو څخه هم 6,000 کارکوونکو خدمت کاوو.[106]

د 2014 د مې په 27، ولسمشر اوباما اعلان کړی چې د 2015 تر جنوری به په افغانستان کې د امریکا ځواکونه نږدې 9,800 ته کم شي او په 2015 کې به نور هم کم شي[107]. په 2001 کې د عملیاتو له پیل څخه، د 2014 دسمبر تر 30 پورې، په افغانستان کې د امریکا ټول 2,216 کارکوونکي وژل شوي، لدغو څخه 83% په جګړه کې وژل شوي دي، او 19,950 ټپیان شوي دي.[108]

### د ناټو محرم سندونه د

**ناټو کازمیک لوړ راز:** د هغو معلوماتو لپاره کارول کیږي چې له اجازې پرته ښکاره کول یې ناټو ته ډیر زیات تاوان رسوي.

**د ناټو راز:** د هغو معلوماتو لپاره کارول کیږي چې له اجازې پرته ښکاره کول یې ناټو ته ډیر تاوان رسوي.

**د ناټو راز:** د هغو معلوماتو لپاره کارول کیږي چې له اجازې پرته ښکاره کول یې ناټو ته ډیر تاوان رسوي.

**د ناټو محرم:** د هغو معلوماتو لپاره کارول کیږي چې له اجازې پرته ښکاره کول یې د ناټو ګټو ته تاوان رسوي.

**د ناټو غیرمحرم:** د ناټو رسمي معلوماتو موخو لپاره کارول کیږي او یووازې د ناټو موخو لپاره انفرادي کسانو او سازمانونو ته لاس رسی ورکوي.

سرچینه: د ناټو شمالي اتلانتیک شورا، "د ناټو غیر محرم معلوماتو مدیریت،" 7/11/2002.

په 2014 کې د امریکا ځواکونو پر وړاندې شپږ داخلي بریدونه و، چې پایلې یې د 2014 د اګست په 5 د امریکا اردو ډګر جنرال په شمول ځلور وژنې وې.[109] په دغه ربع کې، د برید په اړه یوه تحقیق وښودل چې دغه وژنه د یوه کلک وسلې چلوونکي څخه یو ځانګړی او له فرصت څخه د کار اخیستنې یو عمل و، چې نښې او د خبرتیا نښې یې نه درلودې.[110] هغوی دې پایلې ته ورسیدل چې د منطق له پلوه د دغې پیښې مخه نشوه نیول کیدای. په هرصورت، هغوی دا هم وموندل چې په دغه ورځ له پوهنتون څخه د جنرال په لیدنه کې ډیر غیر معمولي لیدونکي شامل و، د امنیت کوم هر اړخیز پلان شتون نه درلود، او په دغه ورځ د پیښو په مهال ویش کې بدلونونه د امنیت له کارکوونکو سره همغږي شوي نه و.[111] سپارښتنې وړاندې شوې ترڅو د راتلونکې خطر کمولو سره مرسته وشي..[112]

## د ANSF ځواک

په دغه ربع کې د هوډمن ملاتړ ماموریت هغه معلومات محرم کړي چې په تیرو شپږو کلونو کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د شمیر راپور ورکولو په اړه سیګار ورڅخه کار اخیست. هغه پوښتنې چې سیګار د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د شمیر په اړه پوښتلې، کیدای شي د دغه راپور په ی ضمیمه کې وموندل شي. سیګار د دغې موضوع په اړه په محرمه ضمیمه کې راپور ورکوي.

په دسمبر کې، د IJC تلونکي قوماندان، برید جنرال جوزف اندرسون، د افغانستان ځواکونو د دوام ننګونو په اړه خبرې وکړې چې ډیرې قرباني او دندې پرې ښودل لرې. هغه ویلي چې تر اکتوبر پورې د افغانستان ملي اردو نږدې 20% بستونه ډک شوي نه و او استخدام او ساتنه د له لاسه تلو کارکوونکو په پرتله کم و.[113] د CBS نیوز راپور ورکړی چې تیر کال د جګړې وژونکی کال و، او له 5,000 څخه زیات افغان عسکر او پولیس وژل شوي. جنرال جان کمپبل، د هوډمن ملاتړ ماموریت قوماندان، ویلي چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه تر پخوا په تیر کال کې ځلور ځلې ډیر عملیاتو ته تللي، ځکه نو د ډیرو قربانیو منځ ته راتلو تمه کیدای شي.[114]

## ناټو چمتو دی ترڅو د افغان ملي امنیتي ځواکونو ارزونې راپور بدل کړي

په تیر ربع کې IJC سیګار ته اطلاع ورکړې چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د سیمه ایز وضعیت راپور (RASR) چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو وړتیاوې یې ارزولې، محرم شوی دی. د RASR تیره نسخه چې سیګار لاسته راوړې د لیوا په کچه یې راپور برابر کړی، او د هغو نظرونو او کموالي، چې افغان ملي امنیتي ځواکونو اوږد مهاله دوام له خنډ سره مخامخ کوي یوه تحلیل، او د افغان ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتي او تجهیزاتو چمتووالي ارزونې یې وړاندې کړې. په دغه ربع کې، په افغانستان کې د امریکا ځواکونو (USFOR-A) سیګار ته د RASR یو غیر محرم لنډیز برابر کړی، چې په یوه واحد جدول کې یې د قول اردو په کچه ارزونې تولې کړې.[115]

آیساف د 2013 له اګست څخه له RASR څخه کار اخیستی دی ترڅو د افغان ملي امنیتي ځواکونو ته درجه ورکړي.[116] د IJC په وینا، RASR په هره میاشت کې په عملیاتي کچه د چمتووالي، اوږد مهاله دوام، او د افغانستان ملي اردو او ملي پولیسو اړوندو کموالي په اړه نوي معلومات برابروي.[117]



**د آیساف بیرقونو ګارډ** د آیساف ګډې قوماندې (IJC) او XVIII هوایي قول اردو د ماموریت پای غونډې کې رسم ګذشت کوي، د 2014 دسمبر 8، د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې. (د امریکا د هوایي ځواک عکس، د سرپرکمشر پیرې استون لخوا)

"سیاسي لاسوهنه، نه استخباراتي، د افغانستان اردو ماموریتونه پرمخ وړي."

*برید جنرال جوزف اندرسون*

سرچینه: *نیویارک تایمز*، "لکه څرنګه چې د افغانستان ماموریت پای ته رسیږي د امریکا جنرال لخوا شکونه،" 12/8/2014.

جدول 3.6

**د افغان ملي امنيتي ځواکونو RASR ارزونې، مياشتني بدلونونه**

| | بشپړ ور | | | ور | | | تر يوې کچې ورتيا | | | پرمختګ په حال کې: | | | نا ارزول شوي | | | ټولټال | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | M1 | M2 | — + | M1 | M2 | — + | M1 | M2 | — + | M1 | M2 | — + | M1 | M2 | — + | M1 | M2 | — + |
| قل اردو/فرقې | 0 | 2 | 2 | 7 | 4 | -3 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 1 | 7 | 7 | 0 |
| د عملياتو همغږۍ مرکز – سيمه ايز | 1 | 1 | 0 | 6 | 5 | -1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 1 | 7 | 7 | 0 |
| د لوژستيک ملاتړ سيمه ايز مرکز | 1 | 1 | 0 | 3 | 3 | 0 | 1 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 | 6 | 6 | 0 |
| د اردو روزني سيمه ايز مرکز/محاربي ښوونځی | 1 | 1 | 0 | 2 | 2 | 0 | 2 | 1 | -1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 1 | 5 | 5 | 0 |
| ګرځنده ضربتي ځواک ليوا | 0 | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 | 1 | 0 | -1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 1 | 2 | 2 | 0 |
| ملي انجنيری ليوا | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 |
| د افغانستان يونيفورم پوليسو A- ډول قرارګاه | 1 | 1 | 0 | 4 | 4 | 0 | 1 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 | 7 | 7 | 0 |
| د افغان د پولو ساتني پوليسو زون قرارګاه | 0 | 1 | 1 | 5 | 5 | 0 | 1 | 0 | -1 | 0 | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 | 7 | 7 | 0 |
| د افغان عامه نظم پوليسو قرارګاه | 0 | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 |
| **د ANSF ټولې قطعې** | **4** | **7** | **3** | **29** | **25** | **-4** | **6** | **3** | **-3** | **1** | **1** | **0** | **3** | **7** | **4** | **43** | **43** | **0** |

يادونه: M1 = د 2014 سپتمبر؛ M2 = د 2014 اکتوبر

سرچينه: USFOR-A، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/28/2014.

د RASR وروستی غيرمحرم راپور د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ډيری برخو ته د ځواکمن يا پوره ځواکمن (74%) درجه ورکوي، لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.6 کې ښودل شوي. مګر، د امريکا او ايتلاف له کم نظارت سره، د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د ارزونې برابر شوي معلوماتو اعتبار تاييد کيدلای نشي.

په دسمبر کې، د IJC وروستي قوماندان، بريد جنرال اندرسون، له رسنيو سره د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د خپل نظرونو په اړه خبري وکړي. جنرال اندرسون ويلي چې د افغان ځواکونو ډيري قرباني او له دندې د تيښتې کچه د دوام وړ ندي.[118]

هغه اضافه کړي چې پوليس او اردو يوځای کار نه کوي.[119] هغه ويلي چې د افغانستان يونيفورم لرونکي پوليس، د افغان ملي عامه نظم پوليس، او اردو په هغو سيمو کې چې هغوی د امنيت شريک مسوليت لري، پردې موافقه نه شي کولای چې څوک مسول دی.[120] پردې برسيره، د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو قطعې خپل تجهيزات نه رغوي، خو بيا هم شکايت کوي چې هغوی سرچيني نلري. جنرال اندرسون دغه ستونزه "يووازې د نااهلی" له کبه ګڼي.[121]مګر، هغه ويلي چې په تکتيکي کچه، که په مناسبه توګه هڅول شوي وي. د افغان ځواکونه کولای شي طالبانو ته ماته ورکړي.[122] جنرال ويلي، "هغوی تل دا ثابته کړې چې هرځومره ډير چې هغوی باندې فشار راوړل شي او هغوی اړ شي ترڅو ډير مسوليت پر غاړه واخلي، هغوی په پای کې ځان ثابتوي".[123]

د هوډمن ملاتړ ماموريت (RSM) له سپارلو او د 2014 دسمبر په 8، د IJC تړلو سره، ناټو د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ارزونې طريقه بدلوي.[124]د 2015 جنوری له 1 څخه، د افغا ملي امنيتي ځواکونو ارزونې مياشتنی راپور (MAAR) د RASR ځای نيولی.[125] MAAR به د قطعو د ځګړې دندو په اړوند د اتو مهمو دندو لپاره د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ورتيا او اغيزمنتيا ارزونه وکړي. MAAR به نه يووازې هغه ورتيا برابره کړي ترڅو د افغان ملي امنيتي ځواکونو شته ورتياوو ارزونه وکړي، دا ارزونه به هم وکړي چې هغوی لدغو ورتياوو څرنګه کار اخلي ترڅو ياغيانو ته ماته ورکړي او افغانستان خوندي کړي.[126]د MAAR لومړی راپور د 2015 جنوری لپاره پلان شوی.[127] سيګار به 2015 اپريل ربع په راپور کې د MAAR په اړه راپور ورکړي.

## د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارتونه د سواد زده کړې مسوليت اخلي

په دغه ربع کې، USFOR-A راپور ورکړی چې د 2014 دسمبر تر 1 پورې، د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو 117,296 کارکوونکو د 3 درجې سواد زده کړې روزنه بشپړه کړې، لکه څرنګه چې په دغه شکل 3.27 کې ښودل شوي. مګر، د امريکا دفاع وزارت ونشو کولای ترڅو هغه معلومات برابر کړي چې لدغو روزل شوي کارکوونکو څخه څومره د افغان په ملي امنيتي ځواکونو کې پاته دي.

د 1 سويې په سواد کې زده کوونکی کولی شي يووستوي لغتونه ولولي يا وليکي، تر 1,000 پورې وشميري او ټولي شميرې سره جمع او منفي کړي. په 2 درجه کې، يو انفرادي کس کولای شی کلمې ولولي او وليکي، ساده ضرب او تقسيم وکړي، او د اندازه کولو واحدونه وپيژني. په 3 درجه کې، يو انفرادي کس فعاله سواد زده کړې ته رسيدلی او کولای شي "چاپ شوي او ليکل شوي مواد وپيژني، وربانديې پوه شي، وژباړي، جوړ کړي، اړيکه ونيسي، په کمپيوټر کار وکړي، او ورڅخه کار واخلي."[128]

شکل 3.27

**د ANSF د کارمندانو د سواد روزني کچې، د 2014 دسمبر 1 پورې** (زرګونه)




يادونه: کچې ډيريدونکي ندي.

سرچينه: USFOR-A، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/29/2014.

## د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارتونو نوې ارزونې

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموريت قرارګاه يو نوی پلان خپور کړی ترڅو د دغو وزارتونو مهمو دندو ارزونه ترسره کړي.[129]نوی پلان، چې د عملي ګامونو او موخو پلان (PoAM)- د وزارتونو ارزوني پروسې په نوم ياديږي، د 2014 په دسمبر کې د وړتيا موخې درجې سيستم ځای نيولی. دغه پلان د هوډمن ملاتړ ماموريت سلاکارانو او د دفاع او کورنيو چارو په وزارتونو کې د هغوی افغان ملګرو لخوا جوړ شوی. PoAM د هرې دندې ترسره کولو لپاره د وړتياوو پراساس د وزارتونو اړينې دندې پيژني او په جزيياتو ويشي. دغه پلان د هغو "حالتونو" (لکه پروسې، دندې، موخې، او پايلې) چې د وړتياوو لاسته راوړلو لپاره اړين دي هم توضيح ورکوي.[130]

د يوه وزارت ارزوني لپاره، د هوډمن ملاتړ ماموريت د وزارت دفترونو او ادارو د وضعيتونو، وړتياوو، او اړينو دندو ارزوني لپاره له PoAM څخه کار اخلي.[131]د دفترونو ارزوني يوځای کيږي ترڅو په يوه وزارت کې د هرې يوې ادارې ټوليزه ارزونه معلومه شي. بيا د ادارو ارزوني سره يوځای کيږي ترڅو د ټول وزارت ارزونه معلومه شي.[132] RSM سيګار ته د وزارتونو د اړينو دندو ټوليزه ارزونه برابروي، مګر په وزارت کې دننه يا د ادارو او دفترونو د وړتياوو او وضعيتونو په اړه په جزيياتو سره ارزونه نه برابروي.

په راتلونکې پاڼه کې دغه جدول 3.7 هغه چارټ ښيي چې USFOR-A يې د وزارتونو د عملياتي وړتيا درجې ورکولو، او د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارتونو د ارزوني لپاره کاروي.[133]

د لومړۍ ارزوني په وينا، د افغانستان دفاع وزارت د پراختيايي وضعيتونو 54% د "پيل شوي" او 15% تريوې کچې د "وړتيا" په توګه ارزول شوي. د افغانستان کورنيو چارو وزارت لپاره، 48% د پيل شوي او 10% تريوې کچې د وړتيا په توګه ارزول شوي.

د افغانستان د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو د کارکوونکو مشورې او روزنې لپاره د امريکا 284 کارکوونکي کار کوي. 151 د دفاع او 133 د کورنيو چارو وزارت ته ګمارل شوي.[134]

جدول 3.7

**د 2014 دسمبر تر 15 پورې، د ناټو سیسټم څخه کار اخیستنې سره د وزارت لومړی ارزونه**

| | د درجې معنی | مهمه دنده (EF): مهمه دنده 1: د څو کلنو بودیجې جوړول او ترسره کول | مهمه دنده 2: روڼوالی، حساب ورکول، او نظارت | مهمه دنده 3: د ASI ملکي حکومتوالي | مهمه دنده 4: د ځواکونو استخدامول | مهمه دنده 5: دوام | مهمه دنده 6: ستراتیژي او پالیسي، پلان کول، سرچینې، او ترسره کول | مهمه دنده 7: استخبارات | مهمه دنده 8: ستراتیژیک خبرې | د درجې ورکولو ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د دفاع وزارت ارزونه | 5 درجه: دوامداره وړتیا/اغیزمنتیا | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | **0** |
| | 4 درجه: پوره وړتیا/اغیزمن | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | **0** |
| | 3 درجه: تریوې کچې وړتیا/اغیزمن | 0 | 0 | 0 | 0 | 5 | 0 | 0 | 2 | **7** |
| | 2 درجه: پیل شوي (د پراختیا په حال کې) | 1 | 1 | 2 | 2 | 8 | 3 | 5 | 4 | **26** |
| | 1 درجه: ارزول شوي/موافقه شوې | 3 | 3 | 1 | 2 | 0 | 1 | 0 | 0 | **10** |
| | 0 درجه: ارزول شوي نده/موافقه شوې | 1 | 1 | 1 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | **5** |
| | **ټولې مهمې دندې** | **5** | **5** | **4** | **6** | **13** | **4** | **5** | **6** | **48** |
| د کورنیو چارو وزارت ارزونه | 5 درجه: دوامداره وړتیا/اغیزمنتیا | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | **0** |
| | 4 درجه: پوره وړتیا/اغیزمن | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | **0** |
| | 3 درجه: تریوې کچې وړتیا/اغیزمن | 0 | 0 | 0 | 0 | 4 | 0 | 0 | 0 | **4** |
| | 2 درجه: پیل شوي (د پراختیا په حال کې) | 0 | 0 | 0 | 3 | 9 | 4 | 4 | 0 | **20** |
| | 1 درجه: ارزول شوي/موافقه شوې | 4 | 3 | 3 | 2 | 0 | 0 | 0 | 3 | **15** |
| | 0 درجه: ارزول شوي نده/موافقه شوې | 1 | 1 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | **3** |
| | **ټولې مهمې دندې** | **5** | **4** | **4** | **5** | **13** | **4** | **4** | **3** | **42** |

یادونه: دوامداره وړتیا/اغیزمنتیا: وضعیت په بشپړه توګه لاسته راغلی. که فرصت او سرچینې اجازه ورکړي، د افغان ملي امنیتي ځواکونو ملګرو لخوا مشوره یووازې د غوښتنې پر اساس ده. پوره وړتیا/اغیزمن: پراختیایی وضعیتونه نږدې لاسته راغلي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو برخه پوره وړتیا لري مګر اوس هم پاملرنې ته اړتیا لري؛ په سمه روان دی ترڅو د هوډمن ملاتړ ماموریت تر پایه لاسته راوړل شي؛ مشوره به دوام ولري. تریوې کچې وړتیا/اغیزمن: پراختیایی وضعیتونه د پرمختګ په حال کې. د افغان ملي امنیتي ځواکونو برخه چې تر یوې کچې وړتیا/اغیزمن دی. کیدای شي د هوډمن ملاتړ ماموریت تر پایه وضعیتونه لاسته راوړل شي؛ مشوره به دوام ولري. پیل شوی (د پراختیا په حال کې): د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا اساس ډیزاین پیل شوی؛ پلان د تطبیق لپاره چمتو دی. ارزول شوي او موافقه شوي: پراختیایی دندې/موخې (وضعیتونه) ارزول شوي او موافقه شوي؛ اساسي وړتیا او اندازه کول بشپړ ندي. ارزول شوي نده/موافقه شوي: پراختیایی دندې/موخې (وضعیتونه) ارزول شوي نده او/ موافقه شوي.

سرچینه: USFOR-A، د سیکار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/28/2014.

## افغان سیمه ایز پولیس

د افغان سیمه ایز پولیس (ALP) د کورنیو چارو وزارت تر صلاحیت او د ولسوالی د یونیفورم لرونکي پولیسو (AUP) تر مدیریت لاندې دي. افغان سیمه ایز پولیس (د محافظینو په نوم یادیږي) د کلي مشرانو یا ځواک لرونکو لخوا غوره کیږی ترڅو د طالبانو بریدونو پر وړاندې د هغوی ټولنې خوندي کړي، د تاسیساتو ساتنه وکړي، او په ټولنه کې د یاغیانو پر وړاندې ماموریتونه ترسره کوي.[135] په افغانستان کې د ناټو د ځانګړو عملیاتو قومانده (NSOCC-A) په وینا، د 2014 دسمبر تر 1 پورې، سیمه ایز پولیسو 27,837 کارکوونکې درلودل، له 800 پرته، ټول په بشپړه توګه روزل شوي. د جګړې قربانیو، د تشکیل بیرته ګمارنې، او کارکوونکو کمیدلو له کبله د روزل شوي کارکوونکو شمیره کمه شوې.[136] موخه دا وه ترڅو د 2014 دسمبر تر پایه، په 154 ولسوالیو کې

30,000 کارکوونکو شتون ولري، چې په 29 ولايتونو کې د تلاشی په 1,320 پوستو کې وګمارل شي.[137]

د NSOCC-A په وينا، کله چې د موخې شميرې ته ورسيږي سيمه ايز پوليس به د دوام لپاره په هر کال کې 121 ميليونه امريکايي ډالر لګښت ولري.[138] امريکا د افغانستان سيمه ايزو پوليسو ته ټوپک، ماشينداري، پيکونه، موټرسيکلونه، او د مخابرې تجهيزات برابر کړي دي.[139]

د NSOCC-A په وينا، د 2014 جون 23 او 2014 اکتوبر 22 ترمنځ، د افغان سيمه ايز پوليسو د کارکوونکو د ساتنې کچه 92% وه. په دغه موده کې، NSOCC-A له قرباني پرته د 1% کميدلو راپور ورکړی، پداسې حال کې چې د ځواک 7.4% په جګړه کې وژل شوي يا ټپيان شوي.[140]

د افغانستان حکومت تراوسه د سيمه ايز پوليسو د پای بنې او تمويل سرچينې په اړه پريکړه نده کړې.[141] د امريکا دفاع وزارت وايي چې تراوسه د افغان سيمه ايز پوليسو د تمويل په اړه د امريکا پاليسي څرګنده نده.[142] د افغان سيمه ايز پوليسو په ولسواليو کې د يوريکا څيړنې او ارزونې کاري ګروپ سروې ګانو د معلوماتو پر اساس د NSOCC-A لخوا ترسره شوي د يوې خپلواکې ارزونې په وينا، ډيری هغه افغانان چې سروې شوي د افغان سيمه ايز پوليسو په اړه د امنيت اغيز امن عنصر او باثباته کولو ځواک په توګه نظر لري.[143] دغه وضعيت د 2014 مارچ د سروې له پايلو سره مطابقت لري چې د تولنې د امنيت لپاره د افغان سيمه ايز پوليسو په اړه د عامو خلک نظر مثبت دی.[144]

د افغان سيمه ايز پوليسو ته د افغانستان تر ملي اردو او ملي پوليسو، عموماً د ډاډ وړ او اغيزمن ځواک په توګه ګوري. مګر، ځينې ولسوالۍ د افغان سيمه ايز پوليسو او د هغوی مديريت نه تاييدوي. ملاتړ کوونکې نظرونه د افغان سيمه ايز پوليسو د غوراوي په پروسه کې د ټولنې بوختيا له کچې سره تړاو لري.[145] په هغو ساحو کې چې د ټولنې مشران احساس کوي چې هغوی د سيمه ايز پوليسو د پروګرام په تطبيق او د سيمه ايز پوليسو غړو په غوراوي کې عملياتي ونډه لري، د خپلو کليو د امنيت په اړه ډير ملاتړ کوونکی نظر لري. په هغو ځايونو کې چې سيمه ايز پوليس د يوه مرکزي اداري د وسيلې په توګه ليدل کيږي، ځواب ورکوونکو د ټيټې امنيتي کچې راپور ورکړی.[146] مګر، که ټولنې د سيمه ايز پوليسو د اوسني محافظينو ملاتړ کوي يا احترام کوي يا نه کوي، هغوی پدې باور دي چې که په مناسبه توګه اداره شي، د سيمه ايز پوليسو پروګرام به د هغوی په ټولنو کې کار ورکړي.[147]

NSOCC-A د 2014 مارچ د ارزونې سپارښتنو د وضعيت په اړه راپور برابر کړی:[148]

- د افغان ملي پوليسو څخه ملاتړ او مديريت: کارکوونکي په منظمه توګه د هغو پروسو چې د سيمه ايز پوليسو ملاتړ کوي او هغه نوښت ترڅو د سيمه ايز پوليسو 100% معاش د بريښنايي پيسو ليږد (EFT) له لارې تاديه شي، تفتيش کوي. په اوس وخت کې د سيمه ايز پوليسو 46% د EFT له لارې معاش اخلي.[149]
- د استخدام رنه او د سيمې په ملکيت پروسې. کله چې د کلي مشرانو لخوا د سيمه ايز پوليسو محافظينو په توګه د سيمې کلي خلک نوماند شوي، سيمه ايز پوليس تر ډيرې کچې د منلو وړ و، ځکه چې نظر داسې و چې هغوی به د هغو خلکو پر وړاندې چې له پخوا پيژني ډير حساب ورکوونکي وي.[150]
- د قومونو انډوليز استازيتوب: د افغان سيمه ايز پوليسو تاسيس شوي طرزالعملونو پر اساس په هغه ځای کې چې څو قومونه ژوند کوي، بايد تناسب په پام کې ونيول شي.[151]
- د ټولنې مشرانو او سيمه ايز پوليسو قوماندانانو ترمنځ د معلوماتو منظم شريکول: د سيمه ايز پوليسو مشرتابه د قومونو او کليو مشرانو لپاره غونډې جوړوي ترڅو د سيمه ايز پوليسو کارونو په اړه خپلې انديښنې څرګندې کړي او د ولسوالۍ او ولايتي کچې امنيتي چارواکو ته لاربښونه وکړي.[152]

**تشکيل:** د کارکوونکو او اړتيا وړ تجهيزاتو لست چې د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو لخوا د رسمي کارکوونکو بستونو او تجهزاتو توکو جزيياتو لپاره کارول کيږي. دا کلمه په درې کې د "تشکيل" په معنې ده.

سرچينه: GAO، GAO-08-661، د *افغانستان امنيت*، 6/2008، مخ 18.

## د سيګار پلټنه

سيګار د افغان سيمه ايزو پوليسو پروګرام د ځانګړي عملياتو ګډ کاري ځواک - افغانستان تطبيق په اړه يوه روانه پلټنه لري.

## د امریکا ځواکونو کمیدلو له کبله د افغانستان عامه محافظت ځواک د سپارلو وضعیت نور شتون نلري

د افغانستان عامه محافظت ځواک (APPF)، د دولت په ملکیت یوه تصدی د افغانستان کورنیو چارو وزارت تر صلاحیت لاندې، د دې لپاره تاسیس شوې وه ترڅو په افغانستان کې د کاروانونو لپاره د قرارداد پر اساس امنیتي خدمات برابر کړي، لاربښوونه شوې ترڅو دغه ځواک منحل شي او د خوندیتوب دندې یې د افغانستان ملي پولیسو ته وسپارل شي.[153]لکه څرنګه چې د امریکا ځواکونه - افغانستان (USFOR-A) راپور ورکړی چې هغوی نور دغه پروګرام ته سلاکاران نه برابروي او نه هم ورڅخه نظارت کوي، ځکه نو سیګار نشي کولای د لیږد د وضعیت په اړه ملعومات لاسته راوړي.[154] سیګار به هڅه وکړي ترڅو د راتلونکي راپور لپاره له نورو سرچینو څخه د وضعیت په اړه معلومات لاسته راوړي. په دریو برخو کې د امنیتي خدماتو د بیا جوړښت د وروستي معلوماتو جزییاتو لپاره، د امریکا کانګریس ته د سیګار د *2014 اکتوبر د ربع راپور 88 پانه وګورئ*.[155]

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموریت هغه نور معلومات محرم کړي چې سیګار یې د APPF د خدماتو لګښتونو راپور ورکولو لپاره کاروي. هغه پوښتنې چې سیګار د دغو لګښتونو په اړه کړي کیدای شي د دغه راپور په ی ضمیمه کې ومونډل شي. سیګار د دغې موضوع په اړه په محرمه ضمیمه کې راپور ورکوي.

## افغان ملي اردو

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، امریکا د افغانستان ملي اردو د جوړولو، روزنې، تجهیز، او دوام لپاره د افغان امنیتي ځواکونو وجهي صندق 34.8 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 33.7 میلیارده امریکایي ډالر ورکړل شوي دي.[156]

## د افغان ملي اردو ځواک

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموریت هغه معلومات محرم کړي چې سیګار یې د افغان ملي اردو ځواکونو شمیر راپور ورکولو لپاره کاروي. هغه پوښتنې چې سیګار د ملي اردو د ځواکونو شمیر او نظامي وړتیا له منځه تلو په اړه کړي کیدای شي د دغه راپور په ی ضمیمه کې ومونډل شي. سیګار د دغې موضوع په اړه په محرمه ضمیمه کې راپور ورکوي.

## د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د نظامي وړتیا له منځه تلل

په تیر ربع کې، سیګار د افغان ملي اردو د نظامي وړتیا له منځه تلو په اړه اندیښنې په اړه راپور ورکړی. د 2013 سپتمبر او 2014 اګست ترمنځ، له 36,000 څخه ډیر د ملي اردو کارکوونکي د ملي اردو له لست څخه ایستل شوي.[157] په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموریت هغه معلومات محرم کړي چې سیګار یې د ملي اردو د نظامي وړتیا له منځه تلو لپاره کاروي. هغه پوښتنې چې سیګار د ملي اردو د نظامي وړتیا کمیدلو په اړه کړي کیدای شي د دغه راپور په ی ضمیمه کې ومونډل شي. سیګار د دغې موضوع په اړه په محرمه ضمیمه کې راپور ورکوي.

## د افغان ملي اردو پایښت

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، امریکا د افغانستان ملي اردو دوام لپاره د افغان امنیتي ځواکونو وجهي صندق 13.8 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 13.5 میلیارده امریکایي ډالر ورکړل شوي دي.[158]

### د سیګار پلټنې

د سیګار یوه روانه پلټنه د افغان ملي اردو د کارکوونکو او معاشونو معلوماتو اعتبار او ګټې ارزونه کوي.

په دغه ربع کې د سیګار یوه پیل شوې پلټنه به د افغان ملي اردو د تخنیکي ساتنې پروګرام (A-TEMP) لپاره د امریکا دفاع وزارت ملاتړ ارزونه وکړي. په ځانګړې توګه، سیګار پلان لري ترڅو دا وګوري (1) تر کومې کچې د افغان ملي اردو A-TEMP په نښه شوې موخې پوره کوي، او (2) آیا د افغان ملي اردو A-TEMP د قرارداد مهمې اړتیاوې پوره شوې. د لا نورو معلوماتو لپاره، د 2 برخې، 27 پانه وګورئ.

## د افغان ملي اردو معاشونه او مکافات

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموريت هغه معلومات محرم کړي چې سيګار يې د ملي اردو د معاشونو او مکافاتو راپور ورکولو لپاره کاروي. هغه پوښتني چې سيګار د ملي اردو د معاشونو او مکافاتو په اړه کړي کيدای شي د دغه راپور په ی ضميمه کې وموندل شي. سيګار د دغې موضوع په اړه په محرمه ضميمه کې راپور ورکوي.

## د ANA تجهيزات او ټرانسپورټيشن

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، امريکا د افغان ملي اردو تجهيزاتو او ټرانسپورټ لپاره د افغان امنيتي ځواکونو وجهي صندق 11.5 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف کړي او ورکړل شوي دي.[159]

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموريت هغه معلومات محرم کړي يا يې خپرول محدود کړي چې سيګار يې د ملي اردو تجهيزاتو او ټرانسپورټ راپور ورکولو لپاره کاروي. هغه پوښتني چې سيګار د ملي اردو د تجهيزاتو او ټرانسپورټ په اړه کړي کيدای شي د دغه راپور په ی ضميمه کې وموندل شي. سيګار د دغې موضوع په اړه په محرمه ضميمه کې راپور ورکوي.

## د ANA زير بنا

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، امريکا د ملي اردو زيربنا لپاره د افغان امنيتي ځواکونو وجهي صندق 6.2 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف کړي او 5.4 ميلیارده امريکايي ډالر ورکړل شوي دي.[160]

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموريت هغه معلومات محرم کړي چې سيګار يې د ملي اردو زيربنا راپور ورکولو لپاره کاروي. هغه پوښتني چې سيګار د ملي اردو د زيربنا په اړه کړي کيدای شي د دغه راپور په ی ضميمه کې وموندل شي. سيګار د دغې موضوع په اړه په محرمه ضميمه کې راپور ورکوي.

## د ANA اوMOD روزنه او عمليات

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، امريکا د افغان ملي اردو او دفاع وزارت عملياتو او روزني لپاره د افغان امنيتي ځواکونو وجهي صندق 3.3 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف کړي او ورکړل شوي دي.[161]

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموريت هغه معلومات محرم کړي چې سيګار يې د ملي اردو روزني پروګرامونو، لګښتونو او زده کوونکو راپور ورکولو لپاره کاروي. هغه پوښتني چې سيګار د ملي اردو د روزني پروګرامونو، لګښتونو ا و زده کوونکو په اړه کړي کيدای شي د دغه راپور په ی ضميمه کې وموندل شي. سيګار د دغې موضوع په اړه په محرمه ضميمه کې راپور ورکوي.

## په افغان ملي اردو کې د ميرمنو په تمه اوږد مهاله موخې او د افغان هوايي ځواک له

د استخدام او ساتنې څخو پر موخو برسيره، ميرمني اوس هم د افغان ملي اردو له 1% څخه کم جوړوي. هغه موخه ترڅو په ملي اردو کې د ميرمنو شمير 10% ته زيات شي، د لسو کلونو پلان ته ورل شوی. په مارچ کې، د افغانستان دفاع وزارت پلان لري ترڅو د 1394 مالي کال يوځای کيدلو پلان خپور کړي چې د استخدام کلنی موخې به هم ولري.[162] دغې موخې ته د رسيدلو لپاره، ملي اردو هغه اړتيا پرې ايښې چې د افغانستان بيلابيلو قومونو ترمنځ د ميرمنو استخدام انډول برابر شي.

پردې برسيره، ملي اردو د ګمارني موقعيتونو بياکتنه کوي ترڅو هغه موقعيتونه پيدا کړي چې د ميرمنو لپاره استوګن ځايونه او بيل تشنابونه ولري. د ملي اردو د استخدام قوماندہ هم په سيمه ايزو سوداګريزو تلويزيونونو کې د روزني ټولګيو له پيل څخه 20 ورځې وړاندې اعلانونه کوي.[163]د ملي نظامي اکاډمی لپاره پنځه خلوينښت ځايونه، د ټيټي رتبې افسرانو اکاډمی لپاره 90، او د افسرانو او ورو ظابطانو ښوونځي لپاره 150 ځايونه بيل شوي.[164]

### د سيګار تفتيشونه

سيګار د متحده ایالاتو فنډ ورکړ شوي MOD قوماندانيو جوړوني يو تحقيق پيل کړی ترڅو معلوم کړي چې جوړونه د قرارداد اړتياو سره سم بشپړه کيږي او ايا د قوماندانيو کومې اشغال شوي برخې په سمه ساتل کيږي او لکه څنګه چې نومول شوي هماغسي کارول کيږي.

د سيګار يو تفتيش چې په دغه ربع کې خپور شوی په کمپ کماندو کې جوړ شوي او رغول شوي تاسيساتو ارزونه کړي، او په جنراتورونو، بريښنا توليد، او تيلو ځايونو کې ستونزې موندلي. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 38 وګورئ.

### د سيګار پلټنه

د سيګار يوه پلټنه چې په دغه ربع کې خپره شوي موندلي چې که څه هم د امريکا دفاع وزارت او بهرنيو چارو وزارت او USAID راپور ورکړی چې له 2011 تر 2013 مالي کال پورې يې د افغان ميرمنو ملاتړ لپاره په 652 پروژو، پروګرامونو، او نوښتونو باندې لږ تر لږه 64.8 امريکايي ډالر لګولي، مګر کومې هر اړخيزې ارزوني شتون نه درلود ترڅو دا وښيي چې د امريکا د هڅو پايلو له کبله د ميرمنو وضعيت ښه شوی وي. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 21 وګورئ.

## د سيګار څانګړې پروژه

په دغه ربع کې، سيګار د امريکا دفاع وزارت او آيساف ته د سپک هوايي ملاتړ لپاره د الوتکو اخيستلو انديښنو په اړه اطلاع ورکړې. افغان هوايي ځواک به ونشي کولای ترڅو د 450 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت د لومړنيو 20 الوتکو او اړوندو تجهيزاتو ملاتړ وکړي. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 44 وګورئ.

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموريت، هغه معلومات محرم کړي چې د 2014 مالي کال NDAA پراساس د 25 ميليونو امريکايي ډالرو (Pub. L. 113-66) صلاحيت څخه څرنګه کار اخيستل شوی ترڅو د استخدام، يوځای کيدلو، ساتني، روزني، او په افغان امنيتي ځواکونو کې له ميرمنو سره د ښه چلند ملاتړ وکړي. هغه پوښتني چې سيګار د ملي اردو د ميرمنو پروګرامونو په اړه کړي کيدای شي د دغه راپور په ی ضميمه کې وموندل شي. سيګار د دغي موضوع په اړه په محرمه ضميمه کې راپور ورکوي.

## افغان هوايي ځواک او د څانګړي ماموريت وزر

امريکا په افغان هوايي ځواک کې ډيره پانګونه کړي ده. د 2010 او 2014 مالي کلونو ترمنځ، امريکا د افغان هوايي ځواکونو جوړولو ملاتړ لپاره له 6.5 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زيات برابر کړي، او د 3 ميلياردو امريکايي ډالر يې د تجهيزاتو او الوتکو لپاره برابر کړي. پردې برسيره، په 2015 مالي کال کې د امريکا دفاع وزارت د افغان هوايي ځواک لپاره له 925 ميليون امريکايي ډالر څخه زيات پشمول د 21.4 ميليون امريکايي ډالرو د تجهيزاتو او الوتکو لپاره غوښتنه کړي. مګر د مرستو ډيرى برخي غوښتنه د دوام، او روزني لپاره شوي، لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.8کي ښودل شوي.

په دغه ربع کې د افغان هوايي ځواکونو ونه غوښتل ترڅو د ثابت وزر د روزني شپږ C-182 الوتکي چې د ASFF په مرستو اخيستل شوي، تسليم شي. په C-182 کې پر روزني برسيره، د ثابت وزر پيلوټ روزنه د اماراتو په هيواد کې برابريږي، چيرته چې افغان زده کوونکي په C-172 پيل کوي او بيا د C-208 پرمختللي روزني ته پرمختګ کوي.[165]

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموريت هغه معلومات محرم کړي چې سيګار د افغان هوايي ځواک او څانګړي وزر ماموريت د ورتياوو، پيلوټانو، او الوتکو لست راپور ورکولو لپاره کاروي. هغه پوښتني چې سيګار د افغانستان هوايي ځواک، د څانګړي ماموريت وزر ورتياوو، پيلوټانو او د الوتکو لست په اړه کړي کيدای شي د دغه راپور په ی ضميمه کي وموندل شي. سيګار د دغي موضوع په اړه په محرمه ضميمه کې راپور ورکوي.

د NSOCC-A په وينا، تمه کيږي د ساتني او لوژستيک دواړو لپاره د ملاتړ قرارداد ته په 2017 کې اړتيا وي.[166] د هوډمن ملاتړ ماموريت مشوري ګروپ له افغانانو سره ملګرتيا کوي ترڅو د ساتني طبيعي وړتياوو او د قراردادي ملاتړ ته پراختيا ورکړي.[167]

جدول 3.8

**د متحده ايالاتو د افغان هوايي ځواک ملاتړ او جوړولو لپاره مرسته، 2010–2015** (زرګونه امريکايي ډالر)

| د فنډ ورکولو کټګوري | مالي کال 2010 | مالي کال 2011 | مالي کال 2012 | مالي کال 2013 | مالي کال 2014 | مالي کال 2015 (غوښتنه) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| تجهيزات او الوتکي | $461,877 | $778,604 | $1,805,343 | $111,129 | $2,300 | $21,442 |
| روزنه | 62,438 | 187,396 | 130,555 | 141,077 | 164,187 | 123,416 |
| دوام | 143,784 | 537,650 | 571,639 | 469,230 | 520,802 | 780,370 |
| زيربنا | 92,200 | 179,600 | 113,700 | 53,000 | 0 | 0 |
| **ټولټال** | **$760,299** | **$1,683,250** | **$2,621,237** | **$774,436** | **$687,289** | **$925,228** |

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، د 2012 مالي کال بوديجه، د 2012 مالي کال لپاره دليل، په بهر کې د بيرنيو عملياتو دليل، د افغان امنيتي ځواکونو وجهي صندق، 2/2011، مخونه 8، 19، 30، او 44؛ د امريکا دفاع وزارت، د 2013 مالي کال بوديجه، د 2013 مالي کال لپاره دليل، په بهر کې د بيرنيو عملياتو دليل، د افغان امنيتي ځواکونو وجهي صندق، 2/2012، مخونه 5، 13، 19، او 32؛ د امريکا دفاع وزارت، د 2014 مالي کال بوديجه، د 2014 مالي کال لپاره دليل، په بهر کې د بيرنيو عملياتو دليل، د افغان امنيتي ځواکونو وجهي صندق، 5/2013، مخونه 5، 11، 20، او 37؛ د امريکا دفاع وزارت، د 2015 مالي کال بوديجه، د 2015 مالي کال لپاره دليل، په بهر کې د بيرنيو عملياتو دليل، د افغان امنيتي ځواکونو وجهي صندق، 6/2014، مخونه 10، 24، 26، او 29.

د افغانستان کورنیو چارو او دفاع وزارتونو او د ملي امنیت ریاست مشري د 2014 مې تر 14 پورې د ځانګړي ماموریت وزر هوايي قرارداد لاسلیک کړ، چې د نوي ګډې قومانده او کنټرول همغږۍ مرکز (JCCC) جوړولو بنه تعریفوي ترڅو د ځانګړي ماموریتونو وزر لومړیتوب ته آسانتیا برابره کړي. دواړه د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د ځانګړو عملیاتو ځواکونه به په JCCC کې د اړیکو افسران ولري. افغان هوايي ځواک به د ځانګړي ماموریت وزر لپاره کارکوونکي، استخدام، او نور اداري (له عملیاتي پرته) ملاتړ برابر کړي. د ځانګړي ماموریت وزر قوماندان به هره اونۍ د ځانګړو عملیاتو قطعو له مشرانو سره غونډه کوي ترڅو پر راتلونکو عملیاتو باندې خبرې وکړي او اړتیاوې او لومړیتوبونه همغږي کړي.[168]د افغان ملي امنیت سلاکار په اوس وخت کې د هغه وړاندیز ارزونه کوي ترڅو د ځانګړي ماموریت وزر د افغانستان دفاع وزارت ته وسپاري، پداسې حال کې چې د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو دواړو ځانګړو عملیاتو ماموریتونو ملاتړ ته دوام ورکوي.[169]

## افغان ملي پولیس

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، امریکا د افغان ملي پولیسو جوړولو، تجهیز، روزنې او دوام لپاره د افغان امنیتي ځواکونو وجهي صندق 17.1 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 16.6 میلیارده امریکایي ډالر ورکړل شوي دي.[170]

### د افغان ملي پولیسو ځواک

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموریت هغه معلومات محرم کړي چې سیګار یې د ملي پولیسو د ځواکونو شمیر او نظامي وړتیا له منځه تلو راپور ورکولو لپاره کاروي. هغه پوښتنې چې سیګار د ملي پولیسو د ځواکونو شمیر او نظامي وړتیا له منځه تلو په اړه کړي کیدای شي د دغه راپور په ی ضمیمه کې وموندل شي. سیګار د دغې موضوع په اړه په محرمه ضمیمه کې راپور ورکوي.

### د افغان ملي پولیسو پایښت

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، امریکا د ملي پولیسو دوام لپاره د افغان امنیتي ځواکونو وجهي صندق 6.7 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 6.6 میلیارده امریکایي ډالر ورکړل شوي دي.[171] په دغو کې د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA) کې د امریکا 1.5 میلیارده امریکایي ډالر برخه اخیستنه شامله ده چې د ملي پولیسو معاشونه ورکوي.

### د افغان ملي پولیسو معاشونه

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموریت هغه معلومات محرم کړي چې سیګار یې د ملي پولیسو د معاشونو او مکافاتو راپور ورکولو لپاره کاروي. هغه پوښتنې چې سیګار د ملي پولیسو د معاشونو او مکافاتو په اړه کړي کیدای شي د دغه راپور په ی ضمیمه کې وموندل شي. سیګار د دغې موضوع په اړه په محرمه ضمیمه کې راپور ورکوي.

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) د LOTFA پروګرام مدیریت لپاره، د مرستندویانو له برخې اخیستنې څخه 4% فیس اخلي، د هغوی د کلنې لګښتونو اټکل پر اساس له 20 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات دی. د افغانستان حکومت او ځینې نړیوال مرستندویان د پولیسو له معاشونو څخه پر کمولو دغه مرسته غوره ګڼي.[172] د 2014 دسمبر په 24، ولسمشر غني د UNDP لپاره د شپږو میاشتو یو مهال ویش وټاکه ترڅو دغه وجهي صندق د کورنیو چارو وزارت ته وسپاري.[173]د افغانستان لپاره د اروپایي ټولنې سفیر لدغه کار څخه ملاتړ کړی: "تاسې باید دا په پام کې ونیسی کله چې کوربه هیواد غواړي یو څه ترسره کړي؛ او دا هم سمه نده چې LOTFA د مرستندویانو له ټولنې سره ډیر ښه شهرت لري.[174] "ځکه چې سیګار له وړاندې موندلې چې د دغه کار لپاره د کورنیو چارو وزارت کورني کنټرول میکانیزمونه کمزوري دي، سیګار باور لري چې د پولیسو معاشونه له

> **د سیګار پلټنه**
>
> په دغه ربع کې د افغان ملي پولیسو کارکوونکو او معاشونو په اړه د سیګار یوې پلټنې موندلي چې د معلوماتو سموالي په اړه ډاډ شتون نلري، کنټرولونه او نظارت کمزوری دی، او دا چې د کمپیوټر سیستمونه په پوره توګه کار نکوي او همغږي ندي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 23 وګورئ.

LOTFA څخه د افغانستان حکومت مستقیمي مالي مرستي ته سپارل به ډیرو خطرونو ته بلنه ورکړي. سیګار له مستقیمي مرستي سره مخالفت نه لري، مګر باور لري داسي حرکت باید ځواکمن داخلي کنترولونه ولري ترڅو وکتل شي چي پیسې د ټاکل شوي موخو لپاره لګول کیږي.

## د افغان ملي پولیسو تجهیزات او ترانسپورتیشن

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، امریکا د ملي پولیسو تجهیزاتو او ترانسپورت لپاره د افغان امنیتي ځواکونو وجهي صندق 3.6 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او ورکړل شوي دي.[175]

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموریت هغه معلومات محرم کړي چې سیګار یې د ملي پولیسو د تجهیزاتو راپور ورکولو لپاره کاروي. هغه پوښتني چي سیګار د ملي پولیسو د تجهیزاتو په اړه کړي کیدای شي د دغه راپور په ی ضمیمه کي وموندل شي. سیګار د ملي پولیسو د تجهیزاتو په اړه په محرمه ضمیمه کي راپور ورکوي.

## د افغان ملي پولیسو زیربنا

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، امریکا د ملي پولیسو زیربنا لپاره د افغان امنیتي ځواکونو وجهي صندق 3.2 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او $2.9 میلیارده امریکایي ډالر ورکړل شوي دي.[176]

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموریت هغه معلومات محرم کړي چي سیګار یې د ملي پولیسو د زیربنا راپور ورکولو لپاره کاروي. هغه پوښتني چي سیګار د ملي پولیسو د زیربنا په اړه کړي کیدای شي د دغه راپور په ی ضمیمه کي وموندل شي. سیګار د ملي پولیسو د زیربنا په اړه په محرمه ضمیمه کي راپور ورکوي.

## د افغان ملي پولیسو روزنه او عملیات

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، امریکا د ملي پولیسو او کورنیو چارو وزارت روزني او عملیاتو لپاره د افغان امنیتي ځواکونو وجهي صندق 3.5 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او ورکړل شوي دي.[177]

په دغه ربع کې، د هوډمن ملاتړ ماموریت هغه معلومات محرم کړي یا محدود کړي چي سیګار یې د ملي پولیسو د روزني پروګرامونو، لګښتونو او زده کوونکو راپور ورکولو لپاره کاروي. هغه پوښتني چي سیګار د ملي پولیسو د روزني پروګرامونو، لګښتونو او زده کوونکو په اړه کړي کیدای شي د دغه راپور په ی ضمیمه کي وموندل شي. سیګار د دغي موضوع په اړه په محرمه ضمیمه کي راپور ورکوي.

## افغان ملي پولیس به ونشي کولای ترڅو د میرمنو پولیسو برخه پوره کړي

لکه په تیر ربع کې، په افغان ملي پولیسو کي د میرمنو شمیره په کراره ډیریږي، مګر د 2015 تر مارچ پورې د 5,000 میرمنو موخي رسیدلو څخه لرې دی. میرمني اوس هم د ځواک یوازي 1.4% جوړوي. د CSTC-A په وینا، په دغه ربع کې، د ملي پولیسو په کارکوونکو کي 2,178 میرمني شاملي وی، دغه د 2011 اګست له 22 څخه د 974 میرمنو زیاتوالی دی.[178] آیساف ویلي چي ملي پولیس پدي کار کوي ترڅو د میرمنو لپاره د کار امن ځایونه چي مناسبي آسانتیاوي ولري پیدا کړي او هغه ستراتیژی جوړوي ترڅو تجربه لرونکي میرمني چي لړ تر لږه د دوولسم ټولګي شهادتنامه ولري را جلب او وساتي.[179] د افغان ملي پولیسو د 10 کلونو موخه دا ده ترڅو 15,700 میرمني په خدمت کي ولري.[180]

### د سیګار ځانګړې پروژه

سیګار UNDP ته د معلوماتو یو مکتوب لیږلی او پدې اړه یې اندیښنه ښودلې چې UNDP څرنګه د LOTFA له لګول شوي مرستو څخه نظارت کوي، او دا چې هغوی په فعاله توګه د دغو ستونزو لپاره د حل لار نه پیدا کوي، او دا چې هغوی ادعا کوي چې د نظارت ترسره کولو لپاره صلاحیت نلري.

### د سرحدي ګزمي کښتی دریځ

په 2011 مالي کال کې، CSTC-A د ملي پولیسو لپاره د کلکي بدني او هوا څخه ډکیدونکي دریاب سرحد ګزمي لپاره د اته کښتیو غوښتنه کړې. د کښتیو د تولید د پروسې پای ته نږدې، CSTC-A د 1.93 میلیونو امریکایي ډالرو تدارک فسخه کړ. د 2014 د جولای په 25، د امریکا دفاع وزارت کانګریس ته خبر ورکړ چې د ASFF په مرستو اخیستل شوي کښتی ته د افغان امنیتي ځواکو نوره اړتیا ندرلوده او د امریکا دفاع وزارت د توکو په توګه به وپیژندل شي. په نومبر کې، بهرې ځواکونو په ویرجینیا کې د کښتی ژغورلو توکو بیرني سیستم ته دغه کښتی ولیږلي.

سرچینه: OUSD، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 12/30/2014.

### د سیګار تفتیش

د افغان ځانګړي پولیسو روزني مرکز وچ انداخت ساحې، ښودلې چې د امریکا دفاع وزارت څخه د پروژې تسلیمیدلو څخه د ځلورو میاشتو په ترځ کې د اوبو تللو له کبله دیوالونه خراب شوي، د انداخت ساحه د حکومت د کمزوري نظارت له کبله ستونزمنه شوې، او وراندي تر دې چې د قرارداد ورنتي ختمه شي، قراردادي د انداخت ساحې د ساختماني کارونو کمزورۍ لپاره مسول ندی ګڼل شوی. افغان چارواکو DFR له منځه وړی او هغوی یې بیرته جوړوي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 41 وګورئ.

د 2014 مالي کال (Pub. L. 113-66) NDAA د پروګرامونو او فعالیتونو د کاروني لپاره 25 میلیونه امریکایي ډالر برابروي ترڅو د استخدام، یوځای کیدلو، ساتني، روزني، او په افغان امنیتي ځواکونو کي له میرمنو سره د بنه چلند ملاتړ وکړي.[181] په دغه ربع کي، د هوډمن ملاتړ پروګرام د افغان ملي پولیسو میرمنو په اړه معلومات محرم یا محدود کړي ندي، مګر، هغوی هغه معلومات محرم یا محدود کړي چي ملي اردو میرمنو ملاتړ لپاره د NDAA شرطونو څخه څرنګه کار اخیستل کیږي. هغه پوښتني چي سیګار د ملي اردو د میرمنو پروګرامونو په اړه کړي کیدای شي د دغه راپور په ی ضمیمه کي وموندل شي. سیګار د دغي موضوع په اړه په محرمه ضمیمه کي راپور ورکوي. د میرمنو پولیسو د بامنه ترانسپورت برابرولو لپاره نږدي 1.1 میلیونه امریکایي ډالر بیل شوي. یو دلیل چي کورنی میرمنو ته اجازه نه ورکوي ترڅو له ملي پولیسو سره یوځای شي، هغه ډار دی چي هغوی به په عامه بسونو کي د یاغیانو لخوا په نښه شي. ملي پولیس پدي لټه کي دي ترڅو کار او روزني مرکزونو ته د تګ راتګ لپاره بې نښي او پردو سره وسایط برابر کړي.[182]

## د ANSF طبي/روغتیایي پاملرنه

په دغه ربع کي، د هوډمن ملاتړ ماموریت د هغو معلوماتو خپرول محدود کړي چي سیګار یې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روغتیا او روغتیایي پاملرني پروګرامونو، کاروونکو او د هغوی لګښتونو لپاره کاروي. هغه پوښتني چي سیګار د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روغتیا او روغتیایي پاملرني پروګرامونو، کارکوونکو او د هغوی لګښتونو په اړه کړي کیدای شي د دغه راپور په ی ضمیمه کي وموندل شي. سیګار د دغي موضوع په اړه په محرمه ضمیمه کي راپور ورکوي.

## د ناچاودل شوي مهماتو لرې کول

په افغانستان کي د نړی تر هر بل هیواد مینونه او له جګړي پاته چاودیدونکي توکي (ERW) شته، چي د زرګونو کسانو ژوند له خطر سره مخامخ کوي.[183] د ملګرو ملتونو د مینونو عمل خدمات پخپل وروستي راپور کي راپور ورکړی چي په منځنی کچه په 2014 کي په هره میاشت کي 39 کسان د مینونو او ERW لخوا وژل شوي یا معیوبه شوي.[184] د مینونو ډیری برخه د 1980 په لسیزه کي د شوروي ځواکونو سره د جګړي له وخته پاته دي.[185]

له 2002 مالي کال راهیسي، د متحده ایالاتو د وسلو لرې کولو او له منځه وړلو سیاسي-نظامي چارو بیورو دفتر (PM/WRA) په وینا، د امریکا بهرنیو چارو وزارت د افغانستان د وسلو له منځه وړلو او ماین پاکي مرستي لپاره له 294 میلیونونو امریکایي ډالرو څخه زیات برابر کړي دي.[186] د امریکا بهرنیو چارو وزارت د اساسي وسلو له منځه وړلو پروګرام له لارې، د افغانستان پنځه غیر دولتي سازمانونه (انجو)، پنځه نړیوالي انجوګاني، او د امریکا حکومت یو قراردادي تمویلوي. دغي مرستي د ERW لخوا د ککړو ځایونو پاکولو او د پرېښودل شوو وسلو له لرې کولو او له منځه وړلو سره مرسته کوي، چي کیدای شي یاغیان ورڅخه د IED جوړولو لپاره کار واخلي.[187]

د 2014 په سپتمبر کي، د امریکا دفاع وزارت 901,511 امریکایي ډالر PM/WRA ته لیږلي ترڅو د یوي نړیوالي انجو څخو ملاتړ وکړي ترڅو وکولای شي پدي نږدي وختونو کي د امریکا د انداخت په ساحه کي د مهماتو پاته شوي توکو پاکولو څخه نظارت وکړي.[188] مګر، کیدای شي دغه به د اړتیا وړ مرستو یوه وړه سلنه وي. لکه څرنګه چي د *2014 اپریل د واشنګتن پوسټ* په یوه مضمون کي یادونه شوي، د راپوروونو پراساس د امریکا اردو نږدي 800 میله مربعه ځمکه ککړه کړي ده، چي د پاکولو اټکل شوی لګښت به یې 250 میلیونه امریکایي ډالر وي.[189]

جدول 3.9

**د اساسي وسلو له منځه ورلو پروګرام اندازه کول، د 2013 جنوری 1 – د 2014 سپتمبر 30**

| د نیټې حد | د منځه ورل شوي AT/AP | د منځه ورل شوي UXO | د منځه ورل شوي SAA | ټوټې پاکې شوي | له مینونو څخه پاکه شوې ساحه (m²) | تخمیني پاتې ککړه سیمه (m²) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1/1–3/31/2013 | 1,984 | 100,648 | 105,553 | 3,722,289 | 7,978,836 | 552,000,000 |
| 4/1-6/30/2013 | 1,058 | 18,735 | 49,465 | 1,079,807 | 5,586,198 | 537,000,000 |
| 7/1-9/30/2013 | 1,243 | 21,192 | 98,306 | 1,673,926 | 4,229,143 | 521,000,000 |
| 10/1-12/30/2013 | 8,211 | 2,460 | 54,240 | 3,064,570 | 5,729,023 | 518,000,000 |
| 1/1–3/31/2014 | 1,780 | 254,734 | 245,380 | 262,750 | 5,473,170 | 638,400,000* |
| 4/1-6/30/2014 | 1,077 | 3,264 | 25,362 | 3,227,697 | 5,163,035 | 519,000,000 |
| 7/1-9/30/2014 | 1,329 | 26,873 | 21,502 | 2,860,695 | 5,705,984 | 511,600,000 |
| **ټولټال** | **16,682** | **427,906** | **599,808** | **15,891,734** | **39,865,389** | **511,600,000** |

یادونه: AT/AP = د ټانک ضد/پرسونل ضد مهمات UXO = ناچاودل شوي مهمات SAA = د وړو وسلو مهمات د ټوټو راپور ورکړ شوی څکه چې هغوی له نور شیان ورته پاملرني ته تر هغه وخته اړتیا لري ترڅو چې د هغوی بڼه معلومه شي.
*د افغانستان د ماین پاکی او همغږی مرکز (MACCA) په اټکلونو د انداخت ساحو په شاملیدلو سره په ککړه سیمه کي زیاتوالی راغلی. MACCA د ربع په پای کي خپله پریکړه بیرته واخیستله، 10/30/2014.

سرچینه: PM/WRA، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 10/7/2014 او 12/31/2014.

د 2014 سپتمبر تر 30 پورې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت لخوا تمویل شوي تطبیق کوونکو ملګرو نږدې 165 میلیون کیلومتر مربع (نږدې 64 میله مربعه) ځمکه پاکه کړې ده او نږدې 7.8 میلیونه د ځمکې مینونه او نور ERW لکه ناچاودل شوي مهمات، پرېښودل شوي مهمات، د مهماتو امبار، او په کورکي جوړ شوي چاودیدونکي توکي لرې کړي یا له منځه وړي (دغه جدول 3.9وګورئ). PM/WRA په مینونو ککړه سیمه هغه ساحه ګڼي چې په مینونو ککړه وي، پداسي حال کې چې یوه ککړه سیمه کیدای شي دواړه د ځمکې مینونه او ERW ولري.[190]

د افغانستان د مین پاکی پروګرام (MAPA)چې د ملګرو ملتونو یو پروګرام دی د بشري او سوداګریزو له 52 سازمانونو څخه جوړ شوی او د مینونو او ERW پاکولو لپاره 8,000 افغان کارکوونکي لري، د ملګرو ملتونو لخوا ګمارل شوې یوې ارزونې یادونه کړې چې دغه پروګرام سم کار کوي پداسي حال کې چې دا هم وايي چې "د پروګرام غیر مستقیم او پراختیایي اغیزونه نه په مناسبه توګه ارزول شوي او نه محاسبه شوي او نه هم د مرستندویانو د ملاتړ له حقیقي ستراتیژي سره همغږې شوي". [191] دغه راپور دغه یادونه هم کوي چې "تر 2014 پورې د کلنی نبنو ښکاره نشتون دا کار ستونزمن کوي ترڅو د نبنو پر وړاندې د پروګرام لاسته راوړنو ارزونه ترسره شي او دا چې په دغه اړه له مرستندویانو سره په ښکاره توګه اړیکې ونیول شي.[192] " راپور د احتیاط غوښتنه کړې چې د مرستندویانو په مرستو کې کموالی به د MAPA لپاره ستونزې جوړې کړي ترڅو د اوټاوا د مینونو منع کولو تړون پراساس خپل مکلفیتونه پوره کړي او تر 2023 پورې له مینونو څخه پاک یو هیواد وړاندې کړي.[193]

## د مخدره توکو پروړاندې مبارزه

د 2014 دسمبر تر 30 پورې، امریکا له 2002 څخه د افغانستان مخدره توکو پر وړاندې هڅو لپاره 8 میلیارده امریکایي ډالر برابر کړي دي. کانګریس د دغو مرستو ډیرې برخه (2.8میلیارده امریکایي ډالر) د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو مخنیوي او مخدره توکو پر وړاندې فعالیتونو (DOD CN) وجهي صندق، (1.4میلیارده امریکایي ډالر) د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق (1.5) ،(ASFFمیلیارده امریکایي ډالر) د افغانستان اقتصادي ملاتړ وجهي صندق (ESF)، او یوه برخه د امریکا بهرنیو چارو وزارت د نړیوال مخدره توکو کنټرول او قانون پلي کولو (INCLE)

حساب له لارې تخصيص شوي.[194] د USAID بديلې پراختيا پروګرام د امريکا د مخدره توکو پر وړاندې پروګرام ملاتړ کوي او له هيوادونو سره مرسته کوي ترڅو د مخدره توکو توليد پرځای اقتصادي بديلونو ته پراختيا ورکړي.[195] د بيارغوني پر مرستو برسيره، د مخدره توکو پلي کولو اداره (DEA) په افغانستان کې د عملياتو لپاره د مستقيمو تخصيصاتو له لارې مرسته لاسته راوړي. (د ب ضميمه وګورئ)

افغانستان د نړۍ له 90% څخه زيات کوکنار کري[196] او د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د نړيوال مخدره توکو او قانون پلي کولو چارو بيورو (INL) پروګرامونه د افغانستان لپاره د امريکا د مخدره توکو پر وړاندې د ستراتيژۍ ملاتړ کوي (د 2012 په دسمبر کې تاييد شوې) او د افغانستان د ملي مخدره توکو کنټرول ستراتيژۍ مهم لومړيتوبونه، د 2013 په اکتوبر کې تاييد شوي.[197] INL د نړيوال مخدره توکو او جرمونو سره د مبارزې لپاره د پاليسيو جوړولو او پروګرامونو په اړه د امريکا ولسمشر او د امريکا وزارتونو او ادارو ته مشوره ورکوي. د INL پروګرامونه د امريکا بهرنيو چارو وزارت د دوو ستراتيژيکو موخو ملاتړ کوي:

- امريکا ته د غير قانوني مخدره توکو وړل کم کړي
- او په امريکا او وګړو باندې يې د نړيوالو جرمونو اغيز کم کړي[198]

په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د نوښتونو د INL يوې وروستۍ پلټنې چې د امريکا بهرنيو چارو وزارت د عمومي مفتش (State OIG) دفتر لخوا ترسره شوې، موندلې چې د فعاليت اندازه کولو سټندردونو تطبيق يا پوره پراختيا نشتون له کبله د INL د نوښتونو اغيزمنتيا نشي معلوميدلای.[199] د امريکا بهرنيو چارو وزارت عمومي مفتش دفتر د نورو شيانو په منځ کې دغه سپارښتنې کړې، چې INL دې د خپلو ټولو نوښتونو لپاره د فعاليت اندازه کولو پلانونو تطبيق کړي، د خپلو لګښتونو بنې او لګښتونو تحليل وکړي ترڅو د خپلې بوديجې غوښتنې عيار کړي، او د خپلو نوښتونو لپاره د دوام پلانونه جوړ کړي.[200]

INL ځواب ورکړی چې د 2012 په مني کې يې د افغانستان مخدره توکو پر وړاندې مهمو پروګرامونو لپاره يې د فعاليت اندازه کولو پلانونه جوړ کړي دي او بيا يې د 2013 په اکتوبر کې نوي کړي، ترڅو دغه پلانونه د اداري د فعاليت اندازه کولو له لارښووني سره په ښه توګه برابر کړي. INL دا هم ويلي چې د امريکا بهرنيو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر په راپور کې د بوديجې محاسبې غلطۍ درلودې.[201] مګر د عمومي مفتش دفتر وايي چې سپارښتنې يې د INL ځوابونو پر اساس حل شوي ندي.[202]

## د کوکنارو کرنه ډيريږي، د له منځه وړلو پايلې کميږي

د کوکنارو سروې پايلو په اړه د ملګرو ملتونو وروستی راپور چې د 2014 په نومبر کې خپور شوی، اټکل کړی چې د کوکنارو تر کرنې لاندې ټولې ساحې تر 224,000 هکتارو پورې ډيرې شوې، او دا له تير کال څخه 7% زياتوالی دی.[203] د تير کال په پرتله په 2014 کې له منځه وړل 63% تر 2,692 هکتارو پورې کم شوي.[204] يو هکتار نږدې 2.5 ايکرونه دي. د ملګرو ملتونو امنيت شورا په يوه غونډه کې، د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو دفتر (UNODC) مشر ټينګار کړی چې "د تيرې لسيزې لوستونه ډير قوي نظر ورکوي چې د مخدره توکو پر وړاندې مبارزې بايد د پراختيايي او امنيتي ستراتيژيو سره يوځای شي، او د متحدې مرستې په توګه ورسول شي."[205]

پداسي حال کي چې د افغانستان په جنوبي او لویدیځو ساحو کې کرنه ډیره ده، او د ملي تولید 89% استازیتوب کوي[206] (په 2012 کې له 95% څخه کم)، [207]په ننګرهار کې د کرنې ډیر زیاتوالی دی، چې په 2007 کې له کوکنارو خلاص اعلان شوی، په 2014 کې 18,227 هکتاره وو[208]او دا ښيي چې د هیواد نوري برخې د زیاتوالي پر وړاندې څومره کمزوري دي.

INL سیګار ته دغه اطلاع هم ورکړې چې پداسي حال کې چې د کوکنارو کرنه په ځینو ساحو کې کمه شوې، مګر په هغو ساحو کې چې امنیت او حکومتوالي یوه ننګونه ده کرنې بدلون ندی کړی یا زیاته شوې ده.[209]

## د والي په مشرۍ د له منځه وړلو پروګرام (GLE)

INL په افغانستان کې د والي په مشري د له منځه وړلو پروګرام (GLE) تمویلوي. UNODC د 2014 نومبر د خپل پای په راپور کې تایید کړي چې د GLE پروګرام د 2013 د 7,348 هکتاره په پرتله، په 2014 کې په ټول هیواد کې یوازې 2,692 هکتاره له منځه وړې ده.[210] د افغانستان حکومت دغه کموالی په ځینو ولایتونو کې د له منځه وړلو او ټولټاکنو مخامخ کیدلو له کبله ګڼلي، څکه چې د عملیاتو په مرسته کې یې د امنیتي ځواکونو شتون محدود کړی و. د څو وزارتونو پروسې ترڅو د GLE هڅې تنظیم کړي هم د ټولټاکنو لخوا، او د فصل په پای کې د پلان ځنډني تایید هم دغه پروګرام له ستونزو سره مخامخ کړی و.[211]

د GLE هڅو ملاتړ لپاره د INL مرستې د له منځه وړلو هغو شمیرو پر اساس دي چې د UNODC لخوا تاییدیږي.[212] په دغه ربع کې د UNODC د راپور له خپریدلو وروسته، په کابل کې د INL دفتر د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت (MCN) ته د پای تادیه تایید کړې چې لدې سره د 2014 ټول تادیات 673,000 امریکایي ډالرو ته رسیږي. INL دغه وزارت ته 47 نوي ترکتورونه هم ورکړي، چې په ولایتونو کې د کوکنارو له منځه وړلو لپاره جوړ شوي. د INL په وینا، اخیستل شوي ترکتورونه به له زړو ترکتورونو سره مرسته وکړي. د دغو ترکتورنو اخیستل او رسول د 2014 په اکتوبر کې ترسره شوی، د له منځه وړلو له فصل وروسته، او له هغوی څخه به د 2015 له منځه وړلو په کمپاین کې کار واخیستل شي. لدغو نوي ترکتورونو سره به د وزارت د ټولو ترکتورونو شمیر 257 ته ورسیږي.[213]

## د ښه فعالیت نوښت (GPI)

INL د MCN د ښه فعالیت نوښت (GPI) له لارې له کوکنارو پاک ولایتونو لاسته راوړنې او ساتنې هڅو ملاتړ هم کوي. د ښه فعالیت نوښت پروګرام پر اساس، یو ولایت د هر هغه کال لپاره چې له کوکنارو پاک دریځ لاسته راوړي، او د UNODC لخوا تایید شي، د ښه فعالیت نوښت د پراختیایي پروژو لپاره د 1 میلیون امریکایي ډالرو مستحق دی. د 2014 په اګست کې، INL او MCN د GPI II اعلان کړې، چې د ښه فعالیت لپاره د مرستو کټګورۍ پراخوي، ترڅو د 2014–2015 د کوکنارو کرنې فصل په پیل کې، عامه پوهاوی او د قانون پلي کول هم شامل کړي، او له کوکنارو پاک یوه ولایت ته د مرستې اندازه 500,000 امریکایي ډالرو ته کموي. [214] وروسته لدې چې اندیښنې راپورته شوې چې لومړنی پروګرام په مناسب توګه په نښه شوی نه و، د GPI II پر اساس پراختیایي مرستې به په ښه توګه د کلیوالي ټولنو له اړتیاوو سره برابرې شي او لکه څرنګه چې هغوی د کوکنارو له کرنې څخه تیریږي د بزګرانو ملاتړ لپاره به د بدیل معیشت پروژو ته لومړیتوب ورکړ شي. [215]

د 2014 نومبر تر 30 پورې، د GPI ټولې 221 پروژې تایید شوې چې ارزښت یې 108 میلیونه امریکایي ډالر و، او له 73 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات لګول شوي: 145 پروژې بشپړې شوې، 64 تر کار لاندې دي، او 12 بشپړېدو ته نږدې دي.[216] لکه څرنګه چې په تیر ربع کې INL راپور ورکړی، د دریم ګړی د پلټنې سپارښتنو پر اساس، GPI بیرته خپل هغه کار ته تللی چې د یو امریکایي ډالر د 50 افغانیو بدلولو په مساوي نرخ بدلوي، نه دا چې د پروژې د داوطلبی په ورځ د بدلولو له حقیقي نرخ څخه چې د افغانستان بانک لخوا برابریږي کار واخلي. ځکه نو د تیر ربع په راپور کې د GPI د ټولو پروژو ارزښت د دې راپور له ارزښتونو سره په مستقیمه توګه پرتله کیدلای نشي.[217]

INL په منظمه توګه له USAID سره همغږي کوي ترڅو دا وګوري چې د INL لخوا د بدیلې پراختیا هڅې په افغانستان کې د USAID له تیرو او اوسنیو قانوني بدیل معیشت او سیمه ایزې پراختیا پانګونې سره مرسته کوي. د بیلګې په توګه، INL دا ګوري چې هغه پروژې چې د GPI پروګرام پر اساس وړاندیز شوي د څو ادارو د مشورې پروسې له لارې، چې په هر ولایت کې د تیر او اوسني ماموریت له تجربې څخه کار اخلي، د امریکا حکومت له نورو کارونو سره ټکر ونه کړي.[218] مهرباني وکړئ د GPI په اړه د لا نورو معلوماتو لپاره د امریکا کانګریس ته د سیګار 2014 اکتوبر ربع *راپور دغه پاڼې 115–117 وګورئ.*

## نظارت، تایید، او سیمه ایزه همکاري

INL د 2014 سپتمبر په پای کې د پاریس تړون مشورتي ګروپ په غونډه کې ګډون کړی، او تمه لري ترڅو په 2015 کې ګډون ته دوام ورکړي.

INL په اوس وخت کې د نظارت او ارزونې دوه پروګرامونه لري: (1) په "غیرقانوني محصولاتو باندې تکیه کولو کمولو" لپاره مرسته، چې د یوه تحلیلي کاري چوکات پراختیا ملاتړ کوي ترڅو د هغو پروګرامونو ارزونه وکړي چې د کوکنارو کرنې کمولو لپاره د افغانستان بزګران هڅوي؛ او (2) "په افغانستان کې د INL مخدره توکو پر وړاندې د څو استازو طریقې" لپاره یو قرارداد، چې د افغانستان د درملو د بیا تولید پراختیا ملاتړ کوي او وبه کولای شي ترڅو په هلمند کې د INL د مخدره توکو پر وړاندې د پروګرامونو اغیز ارزونه وکړي.

په دغه ربع کې، مرسته اخیستونکي په یوه راپور باندې کار ته دوام ورکړی، ترڅو مخدره توکو د یو شمیر پروګرامونو احتمالي اغیز اټکل وکړي، او یو قراردادي د بیا تولید طریقې امتحاني برخې باندې کار پیل کړی او خپل کار ته یې د بیا تولید طریقې څخه کار اخیستنې او طریقې د کارونو په اړه راپور ورکولو ته دوام ورکړی. په پایله کې، UNODC په تیر کې د 2014 د *افغانستان د کوکنارو سروې خپره کړې: د 2014* په نومبر کې کرنه او تولید.[219]

> **د پاریس تړون:** د یو شمیر هیوادونو او نړیوالو سازمانونو ملګرتیا ترڅو له افغانستان څخه د غیرقانوني تریاکو قاچاق مخه ونیسي. دا تړون د پاریس په ښار کې په 2003 کې د مرکزي آسیا د مخدره توکو د لارو په اړه د یو شمیر هیوادونو د وزیرانو په غونډه کې منځ ته راغلی. د دغه تړون موخه دا ده ترڅو د کوکنارو کرنه، تولید او د هیروینو او تریاکو نورو مشتقاتو نړیوال مصرف کم شي، او د غیرقانوني تریاکو مشتقاتو سره مبارزې لپاره پراخ نړیوال ایتلاف تاسیس کړي.
>
> سرچینه: د پاریس تړون، "څه ته وایي؟" https://www.paris-pact.net، لاس رسی 7/16/2014.

## د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د وزارت ظرفیت لوړول

د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د وزارت (MCN) د نورو وزارتونو کارونو سره همغږي کوي او د مخدره توکو پر وړاندې پالیسۍ جوړولو کې مشري کوي.[220] دغه وزارت د 2014 په فبروري کې له INL سره د یوهې یوه موافقه لاسلیک کړې، او د ظرفیت لوړولو پروګرام یې بیرته د 18 میاشتو لپاره نوی کړی او 24 سیمه ایزو ملي سلاکارانو ته مرسته برابروي ترڅو د وزارت له ظرفیت لوړولو سره مرسته وکړي.[221] INL سیګار ته ویلي چې د وزارت د ظرفیت لوړولو سلاکار چې په کابل کې د امریکا په سفارت کې میشت دی، د پروژې برخې پشمول د INL لخوا د سیمه ایز ملي سلاکارانو، د مهارتونو ورکشاپونه/روزنه، او محصولات همغږي کوي.[222] سلاکار له وزارت څخه د محصولاتو غوښتنې ملاتړ له INL سره شریکوي، چې دغه اداره بیا د غوښتنو ازورنه کوي او هغې غوښتنې تاییدوي چې د وزارت ظرفیت لوړولو او پراختیا ته ګټه رسوي. د بیلګې په توګه، INL د مخدره توکو پر وړاندې وزارت د معلوماتي ټیکنالوجي زیربنا د کیبل پروژه تایید کړه چې د انټرنټ اړیکو ظرفیت یې تر 70% زیات کړ. له بل پلوه، INL د دغه وزارت د بخاریو وروستی غوښتنه رد کړې.[223]

کله چې امنیتي اوضاع اجازه ورکوي، د ظرفیت لوړولو سلاکار په هره اونی کې له څلورو تر پنځو ورځو په وزارت کې میشت وي ترڅو د پروګرام فعالیت او تطبیق نظارت وکړي. د INL یو قراردادي په اوس وخت کې د وزارت عامه مالي مدیریت خطر ارزونه کوي.[224] INL پلان لري ترڅو د ارزونې موندني د وزارت د ظرفیت لوړولو پروګرام فعالیت اندازه کولو د پاي په پلان کې ورته ځای ورکړي. پدغه ربع کې، INL او د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت تمه لري چې یوه موافقه بشپړه کړي ترڅو یو شمیر کورسونه ترسره کړي، دغه کورسونه به د یوه سیمه ایز پوهنتون لخوا پرمخ یوړل شي او موخه به دا وي ترڅو د وزارت د کارکوونکو د کار اړوند مهارتونو او ټولیز ظرفیت زیات شي.[225]

په دغه ربع کې، دغه وزارت د INL په مرسته په کابل کې د وزارت د ولایتي ریسانو او ولایتي کارکوونکو لپاره د دوو اونیو پراختیایي ورکشاپونو کوربتوب کړی. INL د وزارت ولایتي دفترونو ته 34 لاری هم رسولي، چې د اعتبار وړ ترانسپورت ته یې اړتیا درلوده.[226]

## د مخدره توکو د تقاضا کمښت

INL وایي چې په دغه ربع کې یې د عامې روغتیا او مخدره توکو پر وړاندې مبارزې وزارتونو سره کار کړی چې د غوښتنې کمولو پروګرام مدیریت ته دوام ورکړي، او د سپارلو یو پلان چمتو کړي ترڅو د INL په ملاتړ د درملنې مرکزونه د عامې روغتیا وزارت مسولیت ته وسپارل شي. INL د مخدره توکو درملنې 76 پروګرامونو ملاتړ کوي او د روغتیایي کارکوونکو روزنه، درملنې خدماتو، او د ناروغانو او په کلي کې د غوښتنې کمولو پروګرامونه تمویلوي.[227] لکه څرنګه چې په راتلونکو کلونو کې د INL ملاتړ کمیږي، د یوه اضافي پروګرام سپارلو سره به د لیږد پلان دوام لري. د لیږد په لومړي کال کې، INL به 13 مرکزونه وسپاري. دغې اداري به د عامې روغتیا حکومت کارکوونکو مهال ویش سره سم روغتیایي کارکوونکو ته هم روزنه ورکړي وي.[228] مهرباني وکړی د لا نورو معلوماتو لپاره د *امریکا کانګریس ته د سیګار د 2014 اکتوبر ربع د راپور* دغه پاڼې 119–120 وګورئ.

## د مخدره توکو پر وړاندې د ټولنې بوختیا (CNCE)

INL د مخدره توکو پر وړاندې د ټولنې بوختیا (CNCE) پروګرام هم تمویلوي، چې د افغانستان له حکومت سره د اړیکو، عامه پوهاوی کمپاینونو او ظرفیت لوړولو روزنې له لارې د مخدره توکو تولید، قاچاق او کاراخیستنې مبارزه کې مرسته کوي.[229] د INL په وینا، د عامه نظر سروې ښیي چې ډیری هغه افغانان چې سروې شوي د کوکنارو ضد او کرنې ضد پیغامونه یې اوریدلي دي.[230]

د CNCE اوسنی مرسته به د 2015 په اپریل کې پای ته ورسیږي. INL سیګار ته ویلي، لکه څرنګه چې د مخدره توکو پر وړاندې مبارزې وزارت د عامه معلوماتو او عامه پوهاوي هڅې مسولیت پر غاړه اخلي، دغه اداره د وړو او په نښه شوي پروګرامونو تمه لري ترڅو وروسته راشي، او وکولای شي په لومړنی مرسته کې د ظرفیت لوړلو روزنه بیا هم شامله کړي. د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت د کمپاینونو کچه او شمیر به تر یوې کچې د افغانستان حکومت بودیجې تخصیص لخوا معلوم شي.[231] INL به د امریکا سفارت او امریکا بهرنیو چارو وزارت په مشرې د عامه پوهاوي سنتي هڅو ته دوام ورکړي، لکه څرنګه چې د نړی په نورو برخو کې ترسره کیږي.[232]

## بدیله پراختیا/بدیل معیشت

د USAID د بدیلي پراختیا پروګرامونه له هیوادونو سره د مخدره توکو د تولید پر ځای د اقتصادي بدیلي پراختیا جوړولو د مرستو له لارې د امریکا د مخدره توکو پر وړاندې موخو ملاتړ کوي.[233] د INL مرستي په یو شمیر ساحو کې پشمول د تولید کمولو او بدیلي پراختیا د پروګرامونو ملاتړ کوي.[234] INL سیګار ته ویلي دغه اداره له USAID سره په منظمه توګه همغږي کوي ترڅو دا وګوري چې د INL په ملاتړ د بدیلي پراختیا هڅې د USAID لخوا په افغانستان کې د قانوني معیشت او کلیوالي پراختیا د تیرو او روانو پانګونو ملاتړ کوي.[235]

### د افغانستان حکومتوالي او بدیل معیشت (SAGAL) څواکمن کول

INL د بدیل معیشت پروګرامونه هم تمویلوي.[236] د بیلګې په توګه، د غیر حکومتي آغاخان بنسټ (AKF) او ملګري یي د INL لخوا د 12 میلیونو امریکایي ډالرو د افغانستان حکومتوالي او بدیل معیشت څواکمن کول (SAGAL) پراساس فعالیتونه تطبیقوي.[237] د 2014 سپتمبر تر 30 پورې، فعالیتونو د پروژو پر پیل باندې کار کاوو. د آغاخان بنسټ د دوو پروژو له ملګرو سره په فرعي مرستو خبري کړي. د پروژو ملګرو 98 کارکوونکي استخدام کړي او د SAGAL پروژې څلور نوي دفترونه یي تاسیس کړي. په یو شمیر ولایتونو کې ، پشمول د توکو برابرولو سیستم او کوپراتیفونو په اړه مطالعې، د ارزښت کړی او د مارکیټ اوسنی غوښتني معلوماتو ټولولو لپاره د نقشي جوړولو مطالعې، او د تجارتي سازمانونو غړو او په ټولنه کې د سپما ګروپونو لپاره مالي او عملیاتي روزني فعالیتونه پیل شوي.[238]

د INL په وینا، د SAGAL فعالیتونه به د امریکا حکومت لخوا په قانوني معیشت او کلیوالي پراختیا کې د تیرو او روانو پانګونو ملاتړ وکړي. په ځانګړې توګه، SAGAL به د GPI II لپاره د ملاتړ یو سیستم جوړ کړي. چیرته چې د ولسوالی پراختیا پلان کولو جوړښت شتون لري، SAGAL به د GPI II پروژې غوره کولو غیر مرکزي پروسې ملاتړ وکړي، او د GPI II ولایتي پروژې د نوماندي په پروسه کې به د کلیوالي ټولنو اړتیاو پیژندني ته پراختیا ورکړي.[239] چیرته چې د GPI II او SAGAL پروژې دواړه کار کوي، د SAGAL پروژې ټیمونه به رواني اړیکي وساتي او اړین ملاتړ لکه بنو تخنیکونو، ټیکنالوجۍ، او کرنې توکو؛ مارکیټ سره اړیکې؛ او د ټولنو له بنه شوي ظرفیت سره به اړیکي برابرې کړي، ترڅو له تولید څخه وروسته د قانوني محصولاتو ارزښت زیات کړي. د بیلګې په توګه، که یوه ولسوالی د GPI II شنې خونې پروژه تطبیقوي، کیدای شي SAGAL به له GPI II سره مرسته وکړي ترڅو د بزګرانو کوپراتیفونه له مارکیټ، د ولسوالی د کرنې اوبو لګولو او څاروي وزارت له دفتر، او نورو اړوندو سازمانونو سره اړیکي ولري. INL سیګار ته ویلي چې دغه ملاتړ به د GPI II تطبیق ډیر اغیزمن او فعاله کړي.[240] پردې برسیره، SAGAL هر چیرته چې ممکنه وي د USAID پر کارونو باندې اضافه کوي، او د بدیل معیشت پروژې نوي ساحو ته غزوي. د SAGAL کارکوونکي له USAID سره مشوره کوي ترڅو له ورته ګټه اخیستونکو سره د کارکولو مخه ونیسي یا سیالي کوونکي فعالیتونه وړاندي کړي، او هر چیرته چې ممکن وي ملاتړ کوونکي فعالیتونو ته پراختیا ورکړي.[241] د 2014 دسمبر تر 31 پورې، ټول 2.2 میلیونه امریکایي ډالر توزیع شوي.[242] د بدیل معیشت یو شمیر نورو پروګرامونو معلوماتو لپاره دغه جدول 3.10 وګورئ.

---

**په ټولنه کې د سپما ډلې:** په کلیو کې تر ټولو بې وزلو غړو، او په ځانګړې توګه د هغو ساحو لپاره چې د مالي بنسټونو له لارې د کریډیټ میکانیزمونه نلري، لپاره د کریډیټ او سپما لپاره دوامداره لاس رسی برابروي. برخه اخیستونکي تنظیمیږي ترڅو د سپما خپلې ډلې جوړې کړي چې په خپله رضا په هره میاشت کې د پور وجهي صندق کې برخه اخلي. د ډلې غړي کولای شي د پور وجهي صندق ته لاس رسی ولري ترڅو وکولای شي په عامه موادو، کارونو، یا بیړنیو اړتیاو کې پانګونه وکړي. په هر کال کې، ټولو غړو ته ټولې سپمول شوي پیسي تادیه کیږي او هر غړی کولای شي ترڅو دا پیسې بیرته په سپما کې واچوي. په لنډ مهال کې، ګروپونه کولای شي پریکړه وکړي ترڅو انفرادي غړو ته واړه پورونه ورکړي او ټکټاني سره کریډیټ بیرته لاسته راوړي.

سرچینه: INL، د سیګار ارزوني ته ځواب، 7/11/2014.

---

جدول 3.10

**غوره شوي بديل پراختيا/بديل معيشت پروګرامونه**

| اداره | د پروژې موضوع | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 12/31/2014 پورې زياتيدونکي توزيعات |
|---|---|---|---|---|---|
| د امريکا بهرنيو چارو وزارت (INL) | د افغانستان حکومتوالي او بديل معيشت (SAGAL) څواکمن کول | 7/21/2014 | 1/20/2016 | $11,884,816 | $2,155,821 |
| USAID | سوداګريزه باغداري او کرنيز مارکيټ پيدا کولو پروګرام (CHAMP) | 2/1/2010 | 12/30/2016 | 45,296,184 | 40,316,854 |
| USAID | د شمال، ختيځ، او لويديځ (IDEA-NEW) لپاره د اقتصادي بديل هڅونکي | 3/2/2009 | 2/28/2015 | 159,878,589 | 148,292,490 |
| USAID | د کندهار خواړو زون (KFZ) | 7/31/2013 | 7/30/2015 | 18,695,804 | 7,315,000 |
| USAID | د سيمه ايزې کرنې پراختيا پروګرام (RADP) - سويل | 10/7/2013 | 10/6/2018 | 125,075,172 | 16,663,146 |
| USAID | د سيمه ايزې کرنې پراختيا پروګرام (RADP) - شمال | 5/21/2014 | 5/20/2019 | 78,429,714 | 2,208,501 |
| USAID | د کرنې سيمه ايز پراختيايي پروګرام (RADP) - ختيځ | 8/10/2014 | 8/9/2019 | 69,973,376 | 1,031,829 |

سرچينه: USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/12/2015؛ INL، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/24/2014؛ INL، د سيګار ارزونې ته ځواب، 1/14/2015.

## د کندهار خواړو زون (KFZ)

د کندهار خواړو زون (KFZ) د دوو کلونو، 18.7 ميليون امريکايي ډالرو پروژه ده، چې د INL ګډې ستراتيژې پراساس او له INL سره په نږدې همغږۍ کې د USAID لخوا تطبيقيږي. د کندهار خواړو زون د دې لپاره جوړه شوې ترڅو د کندهار ولايت په ټاکلو ولسواليو کې د کوکنارو کرنې هڅونکي وپيژني او د حل لار پيدا کړي.[243] USAID د بديل معيشت برخه تطبيقوي، او د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت او INL ته د له منځه وړلو، عامه پوهاوې او غوښتنې کموالي برخو کې ملاتړ برابروي.[244]

د 2014 دسمبر پورې، د کندهار خواړو زون پروګرام د بديل معيشت درې پروژې بشپړې کړې؛ 15د بديل معيشت او 11 اوبو لګولو کانال جوړولو/بيارغونې نورې پروژې تر کار لاندې دي.[245] په زاړې، پنجوايي او ميوند کې د نږدې 5.5 ميليونو امريکايي ډالرو زيربنا پروژې پيل شوې ندي، ځکه چې USAID په اوس وخت کې هغه شرکت چې د کار لپاره په پام کې نيول شوې ارزوي. د زيربنا له 14 پروژو څخه، يوه فسخه شوې او پنځه د USAID لخوا تاييد شوې.[246]

د کندهار خواړو زون د بديل معيشت 33 نورې پروژې هم لري، چې پنځه يې په ځانګړې توګه د ميرمنو لپاره جوړې شوې.[247] په دغو پروژو، په تخنيکي ساتنه او بنايي کې مسلکي روزنه، د شنو خونو او چرګانو وړو فارمونو تاسيسول، او له محصولاتو وړاندې او وروسته مارکيټ پيدا کول شامل دي.[248] مګر، د USAID تطبيق کوونکو د امنيت په اړه انديښنه ښودلې، او ويلي چې له ګاونډې هلمند ولايت څخه د جګړې راتګ که کنټرول نشي، په لويديځو ولسواليو کې د کندهار خواړو زون له خطر سره مخامخ کوي.[249]

د USAID په وينا، تر اوسه د امريکا حکومت لخوا په مرسته شوي ساحو کې له بديلي پراختيا او بديل معيشت فعاليتونو څخه 88 کورنيو ګټه اخيستې. اوسنی موخه دا ده ترڅو د 2015 تر جولای پورې له 7,100 څخه زياتو کورنيو سره مرسته وشي.[250] داسې ښکاري چې دا به ممکنه نه وي ترڅو د پروژې د 2015 جولای پای نيټې پورې، د کندهار خوړو زون خپلې موخې ته ورسيږي.[251] د 2014 دسمبر تر 31 پورې 7.3 ،USAID ميليونه امريکايي ډالر لګولي. مهرباني وکړئ د کندهار خوړو زون پروګرام په اړه د لا نورو معلوماتو لپاره جدول 3.10 وګورئ او د *امريکا کانګريس ته د سيګار د 2014 اکتوبر ربع راپور* پاڼو 118–119 ته مراجعه وکړئ.

## د کرنې سيمه ايزې پراختيا پروګرام (RADP)

د کرنې سيمه ايزې پراختيا پروګرام (RADP) موخه دا ده ترڅو د افغانستان له بزګرانو سره مرسته وشي او ډيره هراړخيزه او دوامداره اقتصادي وده لاسته راوړي. د کرنې سيمه ايزې پراختيا تر توليز پروګرام لاندې په اوس وخت کې د افغانستان په سويل، لويديځ، او شمالي ساحو کې درې پروژې تر تطبيق لاندې دي. دغې پروژې يو شمير ګډې موخې لري چې د غنمو، لوړ ارزښت محصولاتو او څارويو توليد ښه کولو لپاره د بزګرانو ظرفيت لوړولو باندې کار کوي. د ارزښت کړۍ څخه په کار اخيستنې سره، دغه پروژې له بزګرانو او د کرنې سوداګرو سره کار کوي ترڅو د توليد، پروسس کولو، او محصولاتو پلورلو پر وړاندې خنډونو لپاره د حل لار پيدا کړي، او په ټوليزه توګه د کرنې ارزښت کړۍ ته پراختيا ورکړي.[252]

د RADP لويديځ پروژه، د 125 ميليونو امريکايي ډالرو د پنځو کلونو هڅه ده، چې د هلمند، کندهار، زابل او ارزګان په ولايتونو کې کار کوي. دغه پروژه د 2013 په اکتوبر کې پيل شوې او د 2018 په اکتوبر کې به پای ته ورسيږي.[253] په ورته توګه، د RADP لويديځ پروژه، چې د هرات، فراه، او بادغيس په ولايتونو کې کار کوي، د 70 ميليونو امريکايي ډالرو لګښت لري او پلان شوې ترڅو د 2019 په اکتوبر کې ختمه شي.

د 78 ميليونو امريکايي ډالرو د RADP شمال پروژه، د بلخ، جوزجان، سمنګان، بغلان، کندز، او بدخشان په ولايتونو کې کار کوي. [254]

د USAID په وينا، د RADP فعاليتونه به په ځانګړې توګه د RADP سويل له لارې چې د هلمند او کندهار د کوکنارو ډير توليد ولايتونو کې کار کوي، د INL د هڅو ملاتړ وکړي. RADP شمال به په بدخشان کې، چې له تاريخي پلوه د کوکنارو کرنې ساحه ده، او د شمال په نورو ولايتونو کې لکه بلخ او بغلان، چې په اوس وخت کې د کوکنارو کرنې کمه کچه لري کار وکړي. هغه درې ولايتونه چې د RADP لويديځ لخوا تر پوښښ لاندې نيول شوي، ټولو په 2013 کې کوکنار کرلي. دغې پروژې پدې لټه کې دي ترڅو د غنمو توليد زيات کړي، چې د ژمي محصول په توګه د ځمکو لپاره له کوکنارو سره په مستقيمه توګه سيالي کوي.

او ډيره مهمه، د RADP ټولې پروژې به پدې کار وکړي ترڅو توليد زيات کړي او د عوايدو د بديلې سرچينې په توګه، د باغدارۍ او څارويو کلنې توليد کچه زياته کړي. د USAID په وينا، له قانوني سرچينو څخه زيات عوايد به دهغو هڅو لپاره آسانتيا برابره کړي ترڅو بزګران د کوکنارو کرنه کمه کړي يا پريږدي. د بديل عوايدو له بهير څخه پرته، د کوکنارو پريښودل به په هغو کورنيو چې کوکنار کري ډير زيات منفي اغيز ولري.[255]

USAID سیګار ته ویلي چې د RADP پروژو یووازې په کار پیل کوي او د کومو عوایدو راپور یې ندی ورکړی.[256] د 2014 دسمبر تر 31 پورې، USAID په RADP شمال باندي 2.2 میلیونه امریکایي ډالر او په RADP سویل باندي 16.7 میلیونه امریکایي ډالر او په RADP لویدیځ باندي 1.0 میلیونه امریکایي ډالر لګولي.[257] د بدیل معیشت د دغه پروګرام د معلوماتو لنډیز لپاره مهرباني وکړی په 112 پاڼه کې دغه جدول 3.10 وګورئ.

مهرباني وکړئ د لا نورو معلوماتو لپاره د *امریکا کانګریس ته د سیګار د 2014 اکتوبر ربع د راپور*، 119 او 184 پاڼي وګورئ.

## د شمال، ختیځ، او لویدیځ لپاره د اقتصادي بدیل هڅوونکي (IDEA-NEW)

د 2009 په مارچ کې پیل شوی، د USAID د 160 میلیونو امریکایي ډالرو د شمال، ختیځ، او لویدیځ لپاره د اقتصادي بدیل هڅوونکي (IDEA-NEW) پروګرام ماموریت دا دی ترڅو د هیواد په شمال، ختیځ، او لویدیځ ساحو کې د قانوني کرنې اقتصاد ته پراختیا ورکړي.[258] د 2014 په اکتوبر کې، USAID د کرنې محصولاتو لکه د تخمونو او کیمیاوي سرې له پنځو برابرونکو سره، او د خواړو پروسس کوونکو لکه مربا او رومي بانجانو دریو تولید کوونکو سره د مرستې موافقې لاسلیک کړې.[259] د USAID پروګرام تطبیق کوونکو د کابل، کاپیسا، پروان، ننګرهار، او کنړ دکاندارانو لپاره د خزندو درملو څخه کار اخیستنې او خوندیتوب روزنې برابر کړې. د روزنې موخه دا وه ترڅو خزندو له درملو څخه د کار اخیستنې خوندیتوب پوهه، چاپیریال ته د خطر کمولو طریقې، او له خطره خلاص درملو څخه کار اخیستنه او ساتل ښه شي.[260]

د نورو پروګرامونو پر اساس لکه د کرنې محصولاتو دکاندارنو، د بیلګې په توګه، تخمونه، کیمیاوي سره یا کرنې کیمیاوي برابرونکې سره مرستې دوام لري، ترڅو د هغوی د کار شهرت زیات شي، او د هغوی وړتیا او ګټه ډیره شي [261] (د 2014 په اکتوبر کې څلور مرستې وړاندي شوې[262]) یا د محصولاتو عمده پلورنکو ته د نوې نوښتونه لکه د لنډ پیغام خدماتو (SMS) یا ګرځنده تیلفون مارکیټ پیدا کولو پیلول. [263] د 2014 په اکتوبر کې، د SMS مرستو لاسته راوړونکو 34 انفرادي پیغامونه لیږلي، او د بزګرانو ګروپونه یې په نښه کړي، چې ټول 12,000 پیغامونه و او په زرګونو انفرادي بزګرانو ته رسیدلي.[264] د 2014 دسمبر تر 31 پورې، 148.2 USAID میلیونه امریکایي ډالر ورکړل شوي دي.[265] مهرباني وکړی په 112 پاڼه کې دغه جدول 3.10 وګورئ.

که څه هم د بدیل معیشت پروګرامونه چې د USAID لخوا تمویل شوي د دې لپاره جوړ شوي ترڅو د قانوني اقتصاد کچه ډیره کړي، دا ښکاره نده چې آیا دغه به په اتومات ډول د غیر قانوني اقتصاد کمولو سبب شي. تجربې ښودلي دي که پروګرامونه د کوکنارو کرنې په بیلابیلو عواملو کې په مناسبه توګه اغیز ونکړي او دا چې ځرنګه دغه په سیمه ایز چوکاټ او ټولنیز- اقتصادي ګروپونو پر اساس توپیر لري، کیدای شي دغه خطر شتون ولري چې پراختیایي مرستې د کوکنارو کرنې او محصولاتو د زیاتوالي سبب شي.[266]

## سوداګریزه باغداري او کرنیز مارکیټ پیدا کولو پروګرام (CHAMP)

سوداګریزه باغداري او کرنیز مارکیټ پیدا کولو پروګرام (CHAMP) د USAID د 45 میلیونو امریکایي ډالرو پروګرام دی او د دې لپاره جوړ شوی ترڅو کرنیز تولید او د خواړو امنیت زیات کړي، د مارکیټ فرصتونه برابر کړي، او د هیواد کوکنارو تولید کم کړي. CHAMP د دې لپاره کار کوي ترڅو له سیمه ایز افغان بزګرانو سره مرسته وشي او د کم ارزښت ژوند کولو محصولاتو څخه لکه د غنمو او جوارو، د لوړ ارزښت محصولاتو لکه میوې او ترکاریو ته حرکت وکړي.[267]

CHAMP د کرني په ښو کارونو کې روزنه برابروي، د ساتنې ګدامونه لکه سړې خونې او د کشمشو وچولو تاسیسات جوړوي، او د انګورو له بزګرانو سره مرسته کوي ترڅو پر ځمکه باندې د سنتي انګورو تاکونو څخه د لوړ محصول کټارې سیستم ته کارونه بدل کړي. CHAMP دا مرسته هم کوي ترڅو د فارم صادرات زیات شي او بزګران له دکاندارانو او سوداګرو سره د لوړو پیسو مارکیټونو لپاره اړیکې ونیسي. CHAMP په خپلو ډیریو فعالیتونو کې میرمنې شاملوي ترڅو هغوی د کرنې له عامه سکتور سره یوځای کړي.[268] دغه پروګرام د 2010 په فبرورۍ کې پیل شوی او په پیل کې پلان شوی و ترڅو د 2014 په جنورۍ کې ختم شي. مګر د 2012 په جون کې، دغه پروګرام د 2014 تر دسمبر پورې غزیدلی ترڅو سرچینې او فعالیتونه په ارزښت کړې باندې کار وکړي چې ټینګار یې له محصولاتو وروسته په کار اخیستنې او مارکیټ پیدا کولو فعالیتونو باندې دی.[269]

د دغې نوې طریقې پر اساس، CHAMP د ارزښت په پنځو اصلي کړیو کې (انګور، بادام، انار، زردالو، او مڼې) فعالیتونه ترسره کوي. دغه پروګرام د کرنیزي باغدارۍ او مارکیټ پیدا کولو باندې کار کوي ترڅو د لوړ ارزښت مارکیټ لپاره د لوړ کیفیت میوه تولید کړي.[270] د 2014 تر اکتوبر پورې، د CHAMP په لاسته راوړنو کې د 100,000 بزګرانو، پشمول د 2,600 میرمنو روزنه شامل ده، ترڅو کرنیز تخنیکونه ښه شي، نږدې درې میلیونه نهالونه او د ریښو نهالونه کینښودل شوي چې 19,500 بزګرانو ته یې ګټه رسولې، او د 26 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت یې پاکستان، هندوستان، عربي اماراتو، روسیې، او کاناډا ته 24,000 ټنه محصولات صادر کړي. CHAMP د ساتنې تاسیساتو جوړولو سره مرسته کړې (سړې خونې او د وچولو تاسیسات) او د کرنې په کارونو کې یې 7,000 دایمي کارونه منځ ته راوړي. [271] USAID سیګار ته اطلاع ورکړې چې CHAMP به اوس د 2016 تر دسمبر پورې دوام وکړي.[272]

د تطبیق کوونکو په وینا، د پروګرام ځینو فعالیتونو لپاره امنیت اوس هم یو خنډ دی. د حکومت ضد عناصرو په یو شمیر ولایتونو کې کارکوونکې او ګټه اخیستونکو ته ګواښ کړی، چې د پروژې پر تطبیق باندې یې اغیز کړی. د ولسمشرۍ ټولټاکنو له پایلو وروسته د امنیتي اوضاع خرابیدلو له کبله د یوې اونۍ لپاره د بهرنیو کارکوونکو کمیدلو سبب شوي. د پروګرام تطبیق کوونکو راپور ورکړی چې د توکو اخیستلو لکه د غزني، وردک، او زابل په ولایتونو کې له محصولاتو وروسته د کار لپاره د توکریو، او د پروان، کاپیسا، او کندهار کې د کټارو؛ او خوندیتوب تجهیزاتو اخیستلو ارزونې تایید، کیدای شي د پروژې پر وړتیا باندې اغیز ولري ترڅو د تایید شوي پلان اړتیاوې پوره کړي.[273] د 2014 دسمبر تر 31 پورې، USAID، 40.3 میلیونه امریکایي ډالر ورکړل شوي دي.[274] مهرباني وکړی په 112 پاڼه کې دغه جدول 3.10 وګوری.

## د مخنیوی عملیات

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې د 2014 اکتوبر له 1 څخه د 2014 دسمبر تر 17، د افغانستان امنیت او قانون پلي کولو ځواکونو د مخدره توکو مخنیوی 48 عملیات ترسره کړي چې پایله یې د 85 کسانو بندي کول و.[275] پدغو عملیاتو کې منظمي ګزمې، د محاصرې او تلاشۍ عملیات، د وسایطو مخنیوی، او توقیف عملیات شامل و. د امریکا اردو عمومي لوژستیک او استخباراتو ملاتړ برابر کړی، پداسې حال کې چې DEA د افغانستان تخصصي تحقیقي ادارو ته مشوره او ملاتړ برابر کړی.[276]

د مخنيوی ډېری فعاليتونه په ختيځ او مرکز سيمه ايزې قوماندانی کې ترسره شوي. په تير کې، مخنيوی د سويل سيمه ايزې قوماندانی کې ترسره کيدلي، چيرته چې ډير کوکنار کرل کيږي، پروسس کيږي او له افغانستانه بهر ته قاچاق کيږي. د امريکا دفاع وزارت ويلي د دغه حرکت پايله کيدای شي د ائتلاف ځواکونو پرشا تګ له کبله وي، ځکه چې د ختيځ سيمه ايزې قوماندانی مخنيوی ځواکونو، تر ډيري کچې د ننګرهار په ولايت او کابل کې د سويل او سويل لويديځ په پرتله ګواښ ډير ندی. لکه څرنګه چې د راپور ورکول په دغه موده کې د آيساف ځواکونو کميدلو دوام کړی، د امريکا مخنيوی ټول فعاليتونه د افغان ځواکونو سره ترسره شوي. د څو ادارو عناصرو، پشمول د څو ادارو د عملياتونو همغږی مرکز (IOCC)، د افغانستان او آيساف ګډې مخه نيونکي هڅې ملاتړ ته دوام ورکړی. IOCC د اردو او قانون پلي کولو سرچينو څخه معلومات برابر کړي ترڅو د مخدره توکو او ياغيانو مفسدو عناصرو پر وړاندې عمليات ترسره شي.[277]

INL د افغانستان مخدره توکو پر وړاندې مبارزې پوليسو (CNPA) قرارګاه او په کابل کې د ځانګړي ارزول شوي قطعو لپاره د عملياتو او ساتنې ملاتړ برابر کړی. INL د ولايتي CNPA لپاره د عملياتو او ساتني ملاتړ نه برابروي.[278] د امريکا استخباراتي ټولنې د ايتلاف سلاکارانو لپاره اضافي نبني او تحليلي ملاتړ برابر کړی.[279]

افغان عملياتو د دې دورې په جريان کې د لاندې ممنوع تارياکو د ضبط پايلې درلودې:

- 9,696 kg ترياک
- 482 kg هيروئين
- 495 کيلوګرامه مورفين
- 13,166 kg چرس/مريجوانه
- 1,930 کيلوګرامه کيمياوي توکي[280]

**منادي کميکل:** هغه ماده چې ممکن د تارياکو مخدره توکو او سايکوټراپيک مادو توليد، رامنځته کولو او/يا چمتو کولو لپاره وکارول شي.

سرچينه: UNODC، "په څو ژبو د کيمياوي توکو قاموس،" 2009، viii.

په 2014 مالي کال کې او په دغه ربع کې، د افغانستان مخدره توکو پر وړاندې له عناصرو څخه د ټولټاکنو امنيت ملاتړ لپاره کار اخيستل د مخدره توکو پر وړاندې د کمو ماموريتونو سبب شوي، او د آيساف او افغان ځواکونو تر منځ ملګرتيا هم کمه شوې. دغه اغيزونو تر ډيري کچې په کندهار کې و، چيرته چې د ايتلاف ډيروالی او بيا وروسته کموالی منځ ته راغلی.[281]

## د مخنيوی پايلې

لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.11 کې ښودل شوي، له 2012 څخه د مخنيوی پايلې کمې شوي.

د امريکا دفاع وزارت په وينا، د افغانستان ارزول شوي قطعو د ايتلاف له مرستې پرته، په بريا سره د مخدره توکو پر وړاندې پيچلي تحقيقونه او عمليات ترسره کړي. مګر، د ايتلاف ځواکونو کميدلو د افغانستان پر وړتيا اغيز کړی دی ترڅو د مخدره توکو پر وړاندې د مخنيو عمليات ترسره کړي، ځکه چې د توان ورکولو مهمې برخې لکه د چټک غبرګون ځواکونه، نږدې هوايي ملاتړ، او منظم هوايي امبولانس ملاتړ نور شتون نلري.[282]

جدول 3.11

**د مخنیوی پایلي، 2015-2008 مالي کلونه**

| | مالي کال 08 | مالي کال 09 | مالي کال 10 | مالي کال 11 | مالي کال 12 | مالي کال 13 | مالي کال 14 | مالي کال 15* | ټولټال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د عملیاتو شمیر | 136 | 282 | 263 | 624 | 669 | 518 | 333 | 48 | 2,873 |
| توقیف شوي | 49 | 190 | 484 | 862 | 535 | 386 | 441 | 85 | 3,032 |
| ضبط شوي چرس (کیلوګرام) | 241,353 | 58,677 | 25,044 | 182,213 | 183,776 | 37,826 | 19,088 | 13,166 | 761,143 |
| ضبط شوي هیروین (کیلوګرام) | 277 | 576 | 8,392 | 10,982 | 3,441 | 2,489 | 3,052 | 482 | 29,691 |
| ضبط شوي مورفین (کیلوګرام) | 409 | 5,195 | 2,279 | 18,040 | 10,042 | 11,067 | 5,925 | 495 | 53,452 |
| ضبط شوي تریاک (کیلوګرام) | 15,361 | 79,110 | 49,750 | 98,327 | 70,814 | 41,350 | 38,307 | 9,696 | 402,715 |
| ضبط شوي کیمیاوي توکي (کیلوګرام) | 4,709 | 93,031 | 20,397 | 122,150 | 130,846 | 36,250 | 53,184 | 1,930 | 462,497 |

یادونه: *معلومات د 2015 مالي کال د لومړي ربع لپاره دي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/30/2014.

د امریکا دفاع وزارت به د افغانستان حل لارو باندې کارونو باندې تمرکز ته دوام ورکړي چې د افغانستان حکومت وکولای شي دوام او پراختیا ورکړي. د امریکا دفاع وزارت سیګار ته ویلي چې دا مهمه ده ترڅو له 2014 وروسته د مخدره توکو پر وړاندې هڅو کې ملاتړ ته دوام ورکړی ترڅو له افغانستان څخه د مخدره توکو بهیر کنټرول او کم شي، نړیوال جرمي سازمانونو مخه ونیول شي او له منځه یوړل شي، او د غیر قانوني عوایدو چې په نړیواله کچه د یاغیانو او تروریستانو فعالیتونه تمویلوي، بهیر کم شي.

په عین وخت کې، د دوه اړخیز امنیتي موافقې وروستي لاسلیک کېدل، ښکاري چې د قراردادیانو توان محدود کړی ترڅو د ځان خوندیتوب لپاره وسلې وګرځوي. د امریکا دفاع وزارت اوس هم د رسمي لارښوونې په تمه دی، چې څرنګه دغه نوی شرط تطبیق کړي.[283]

## هوایي ملاتړ

د امریکا دفاع وزارت د افغانستان ځانګړي ماموریت وزر (SMW) مشورې او جوړولو ته دوام ورکوي ترڅو د مخدره توکو پر وړاندې، تروریزم پر وړاندې، او ځانګړي عملیاتو ځواکونو لپاره هوایي ملاتړ برابر کړي. SMW د کندهار په هوایي ډګر کې خپلو نوي تاسیساتو ته کډه کړې او لدغه موقعیت څخه عملیات ترسره کوي.

د 2014 له اکتوبر څخه تر دسمبر پورې، SMW د 30 نوي Mi-17 اخرني هلیکوپټر تسلیم شوی او اوس له 18 رسمی صلاحیت ورکړ شوي PC-12 کشف الوتکو څخه 13 لري. SMW هغه یووازینی قطعه ده چې د افغانستان هوایي ځواکونو لپاره د شپې عملیاتونو تکتیکي ورتیا برابروي.[284]

پدغه موده کې، د امریکا دفاع وزارت الوتکو د الوتنې ټول 1,496.8 ساعتونه برابر کړي، 1,132 بریدونه ترسره کړي، 3,729 مسافرین وړي، او په افغانستان کې 244,797 پونډه کارګو ترانسپورت کړی. د INL په وینا، د امریکا بهرنیو چارو وزارت د DEA استخباراتو، کشف، او کشف ماموریتونو لپاره د ملاتړ 18.5 د الوتنې ساعتونه، د DEA مخه نیونکي هڅې لپاره 138.6 الوتنې ساعتونه، او د افغانستان د مخنیوي ملي قطعه او د DEA مسافرینو وړلو لپاره یې 10.8 الوتنې ساعتونه برابر کړي.[285]

# د حکومتدارۍ منځپانګې


مهمې پېښې 119

د افغانستان نوی حکومت 120

د امریکا د افغانستان حکومت له بودیجې سره مرسته 124

ملي حکومتولي 128

سیمه ایزه حکومتولي 132

پخلاینه او بیرته یوځای کیدل 135

د قانون حاکمیت او له فساد سره مبارزه 136

بشري حقونه 142

# حکومتداري

د 2014 د دسمبر تر 30 پورې، امریکا د افغانستان د حکومتولۍ او اقتصادي ملاتړ لپاره له 30.6 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات برابر کړي دي. د دغې مرستې ډیری برخه، له 17.7 میلیارده امریکایي ډالرو څخه زیات، د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق (ESF) ته مکلف شوي چې د امریکا د نړیوالې پراختیا اداري (USAID) لخوا اداره کېږي. د ESF د 2014 مالي کال د 852 میلیونو امریکایي ډالرو تخصیص د 2010 کال له 3.3 میلیارده امریکایي ډالرو لوړ تخصیص څخه کم دی (د ب ضمیمه وګورئ). د افغانستان لپاره د ESF د 2015 مالي کال تخصیص کله چې دغه راپور رسنیو ته ورغی تر غور لاندې و.



**د افغانستان ولسمشر اشرف غني** د ولسمشر په ماڼۍ کې د رسنیو کنفرانس په محال. ( د دفاع وزارت انځور)

## مهمې پېښې

د 2014 د دسمبر په 4، د افغانستان د ملي یووالي نوي حکومت او د نړیوالې ټولنې استازو د افغانستان په اړه د لندن کنفرانس غونډه وکړه. د کنفرانس برخه اخیستونکو په 2015 کې هغې ژمنې بیرته نوې کړې چې د 2012 د ټوکیو په کنفرانس کې یې کړې وې.[286] د لندن کنفرانس د دې لپاره نه و ترڅو پایله یې د مرستندویانو له لوري نوې ژمنې وي؛[287] خو پر ځای یې نړیوالې ټولنې د 16 میلیاردو امریکایي ډالرو خپلې پخوانۍ ژمنې د 2015 په اوږدو کې بیرته تایید کړې.[288] دغه کنفرانس د افغانستان حکومت لپاره هم یو فرصت و ترڅو پر *خپل ځان د تکیه کولو په حقیقت سره، د اصلاحاتو خپله اجنډا وړاندې کړي: د اصلاحاتو او بیرته نوې ملګرتیا ژمنې*. مګر، د افغانستان حکومت په وړاندیزونو کې جزییاتو شتون نه‌درلود.[289]

د دغه ربع په موده کې، د نوې کابینې او د حکومت د لوړ پوړو چارواکو ټاکنې له یو شمیر ځنډونو سره مخ وې. د ولسمشر غني او اجراییه ریس عبدالله لخوا که څه هم په سمبولیکه توګه وای د لندن کنفرانس لپاره د نوې وزیرانو نه معرفي کېدل د مرستندویو هیوادونو لپاره یوه نا هیلی وه، چې د افغانستان حکومت یې هڅولی و ترڅو د پرمختګ حقیقي نښې وړاندې کړي.[290] د نوي حکومت ښکاره فعالیت نشتون له هغه وروسته و چې د 2014 د ټولټاکنو د ځنډنۍ پروسې په وخت کې د کرزي په اداره کې ولیدل شو.[291] د 2015 د جنورۍ په 12، د ولسمشر غني دفتر په پایله کې د 27 لوړ پوړو چارواکو نوماندان اعلان کړل. دغه نوماندان باید له پارلمان څخه د تایید رایې واخلي.[292]

پدې ربع کې، د آسیا بنسټ د افغانستان د *خلکو د* 2014 *سروې* خپره کړه چې له نفر سره مخامخ مرکه شوې، او د 2014 د جون له 22 د جولای تر 8 ترسره شوې،[293] چې د جون په 14 د ولسمشرۍ د دویم پړاو له ټولټاکنو وروسته او د سپتمبر 21 د ملي یووالي حکومت له موافقې وړاندې ترسره شوې.[294] په 2014 کې، 54.7% افغان ځواب ورکوونکو ویلي چې هیواد په سم لور روان دی، دا په 2013 کې له 57.2% کم دی؛ 40.4% ویلي چې هیواد په غلط لور روان دی، دا له 2013 څخه چې 37.9 % و لوړه شمیره ده. پر کلنۍ توپیرونو برسیره، له 2006 څخه اوږد مهاله خوځښتونه په هغه نظر کې زیاتوالی ښیي چې هیواد په سم لور روان دی.[295]

د حکومت د فعالیت په اړه د پوښتني په ځواب کي، 75.3% افغانانو ویلي چي ملي حکومت تر یوې کچې ښه یا ډیر ښه کار کوي. نږدي دوه پر درې ویلي چي ولایتي حکومت ښه کار کوي (67.6%)، او لدي وروسته د ښاروالی (58.5%) او د ولسوالی چاروا کي (56.7%) راځي. په 2014 کي دغه نظرونه د 2013 له نظرونو سره ډیر نږدي و.[296]

دغي سروې دا هم موندلي چي 67.4% سروې شوي افغانانو په عامه توګه د حکومت په اړه ویلي چي هغوی ډیر خوندي یا تر یوې کچي خوندي احساس کوي. هغه افغانان چي په ښاري سیمو کي ژوند کوي (76.2%) کیدای شي تر ډیري کچي له هغو افغانانو څخه چي په کلیو کي دي (64.5%) په عامه توګه د حکومت په اړه خبرو کولو کي خوندي احساس وکړي.[297]

## د افغانستان نوی حکومت

### لومړنی ګمارني

سره لدي چي کمپاین کي یې ژمنه کړي وه ترڅو د سپتمبر له لوړي څخه وروسته د 45 ورځو په ترڅ کي خپل حکومت جوړ کړي[298] او سره لدي چي د دسمبر په 4 د لندن په کنفرانس کي یې ژمنه کړې وه ترڅو د یوې میاشتي په ترڅ کي کابینه جوړه کړي،[299] ولسمشر غني ونشو کولای ترڅو د جنوری تر 12 چي د نوي حکومت له تحلیف څخه درې میاشتي تیري وي، د حکومت مهمو بستونو لپاره نوماندان اعلان کړي.[300]

د کرزي حکومت د اداري هیڅ پخوانی وزیر یا د پارلمان اوسنی کوم غړی ندی نومول شوی؛ مګر په نوماند وزیرانو کي څلور پخواني معینان دي. د افغانستان د تحلیل کوونکو شبکي په وینا، د بهرنیو چارو وزیر، امنیت او د مالیي وزیر نوماندانو څخه پرته، نور نوماندان عموماً ځوانان او بې تجربې و. په نوماند وزیرانو کي درې میرمني وې ترڅو د لوړو زده کړو، د ښځو چارو او اطلاعاتو او کلتور وزارتونو مشري وکړي. د جنوری 12 په اعلان کي د لوی څارنوال، د سیمه ایزې حکومتولی خپلواک ریاست (IDLG) رییس او قاضي القضات لپاره نوماندان شامل نه و.[301]

د جنوری په 20، غني رسماً نوماندان پارلمان ته ور وپیژندل. د جنوری په 12 د نوماندانو په اعلان شوي لومړني لست او د پای هغه لست کي چي پارلمان ته وړاندي شوی و، توپیرونو شتون درلود. د بیلګي په توګه، وروسته لدي چي په ډاګه شوه چي په استونیا کي د مالیي د نه تادیه کولو لپاره هغه د انترپول تر تولو په غوښتل شوي لست کي دی، د کرني، اوبو لګولو او مالداری لپاره نوماند د خپلي نوماندنی څنډولو غوښتنه وکړه. د مهمو بستونو لپاره دغه نوماندان و:

- شیرمحمد کریمي، له کمونستی وړاندی، د کمونستانو په وخت کي، او له طالبانو وروسته د اردو یو افسر، هغه کس چي اوس لوی درستیز دی، د دفاع وزارت لپاره نوماند شوی.
- نورالحق علومي، په کمونستي رژیم کي د کندهار زون عمومي والي، د کورنیو چارو وزارت لپاره نوماند شوی.
- صلاح الدین رباني، د سولي عالي شورا اوسنی رییس، د بهرنیو چارو وزارت لپاره نوماند شوی.
- ایکلیل احمد حکمیي، په امریکا کي سفیر، د مالیي وزارت لپاره نوماند شوی. غلام جیلاني پوپل، د عوایدو او ګمرکونو لپاره د مالیي وزارت پخوانی معین او د IDLG پخوانی عمومي ریس، لومړی د مالیي وزارت لپاره نوماند شوی و، مګر د راپورونو پر اساس هغه د دوه ګوني تابعیت له کبله له خپلي نوماندنی تیر شو.
- رحمت الله نبیل، د ملي امنیت ریاست اوسنی رییس، د ملي امنیت ریاست لپاره نوماند شوی.[302]

ځندونه د ملي یووالي له حکومت سره د ډیري ناهیلی سبب شو. په جنوری کي، *طلوع نیوز* یوه سروې خپره کړه چي موندلي د ولسمشر غني لپاره پخوانی هڅوونکي ملاتړ کم شوی. د ځواب ورکونکو یوازې 27.5% د غني له فعالیت څخه ډیر راضي و، دا د نوي حکومت د لومړی میاشت له 59.9% څخه کم و. خو، په ورستي سروې کي 30.4% راپور ورکړی چي تر یوې کچي راضي و، پداسي حال کي چي 32% هیڅ راضي نه و.[303]

پارلمان هم لدې حکومت څخه ډیري ناهیلی وښودلي. د دسمبر په پای کي، د پارلمان ولسي جرګي د یوې اونی مهال ویش وټاکه چي له کومي پایلي پرته تیر شو. له مهال ویش وروسته،[304] د پارلمان یوه هییت د ملي یووالي له حکومت سره ولیدل، چي د کابیني نوماندانو پیژندلو لپاره یي د یوې بلي اونی غوښتنه وکړه.[305] د دویم مهال ویش له ختمیدو وروسته، د ولسي جرګي اوه غړو یو سند لاسلیک کړ چي ولسمشر غني یي په خیانت او ځنډونو تورن کړ. پداسي حال کي چي ولسي جرګه به عموماً د خیانت تور تر غور لاندې ونیسي، د ولسي جرګي رییس وویل چي قانون جوړونکو له پخوا خپله دنده ترسره کړي او د ملي یووالي له حکومت سره یي لیدلي ترڅو د حل چټکه لار وهڅوي.[306]

د جنوری په پیل کي، لدې کبله چي ولسمشر تر اوسه فرمان نه و لاسلیک کړی ترڅو د عوایدو صلاحیت ورکړي، ولسمشر غني د اجراییه رییس د نوي جوړ شوي دفتر لپاره د 500 او د اصلاحاتو او حکومتولی ځانګړي اداري لپاره د 200 کارکوونکو ګمارل هم ځنډولي.[307]

پداسي حال کي چي نوي حکومت د لوړ پوړو چارواکو ګمارل ځنډولي، ولسمشر غني د چارواکو په لرې کولو کي قوي عمل کړی. په دسمبر کي، *طلوع نیوز* راپور ورکړی چي ولسمشر غني د هرات ولایت یو شمیر چارواکي پشمول د والي، د پولیسو 15 قوماندان، د ولسوالیو اته ولسوالان، د پولیسو پنځه سرحدي قوماندان، او د استیناف محکمي څارنوال لرې کړي. پردې برسیره، د افغانستان د برېښنا شرکت (د DABS، د برېښنا ملي شرکت)، د روزني، او ګمرکونو ریسان ټول له خپلو څوکیو لرې شول او د غیر قانوني کارونو لپاره به ورځخه تحقیق وشي.[308] مګر دوې اونی وروسته *طلوع نیوز*

راپور ورکړی چې د ولسواليو د پوليسو قوماندانانو خپلې دندې پرمخ وړي. د ولايت ځای ناستي والي راپور ورکړی پداسې حال کې چې ملکي بستونو لپاره نور کسان ګمارل شوي، دا د هغه له صلاحيت څخه پورته خبره وه ترڅو د امنيتي بستونو لپاره چارواکي وګماري.[309] د کندز او پکتيکا په ولايتونو کې، ولسمشر غني نه يووازې واليان لرې کړي، د هغوی پرځای يې نور کسان هم ګمارلي.[310]

د نومبر په 30، ولسمشر غني د کرزي له اداري څخه ډيری پاته ځای ناستي وزيران له دندو لرې کړل، او پرځای يې د لنډ مهال لپاره د هغوی معينان وګمارل.[311] لدغه عمل څخه وروسته پارلمان غوښتنه وکړه ترڅو د اساسي قانون پر اساس د دوو مياشتو د صلاحيت له مودې وروسته، ځای ناستي وزيران په دايمي وزيرانو بدل کړي.[312]

## له ټولټاکنو وروسته

د افغانستان د 2014 د اپريل او جون د ولسمشری جنجالي ټولټاکنې د امريکا او نړيوالو سازمونونو لخوا چې لدغې پروسې څخه يې ملاتړ کړی و د فکر کولو سبب شوي. که څه هم نړيوالو څارونکو مونډلي چې د افغانستان د ټولټاکنو بنسټونو د 2009 او 2010 له کچو څخه د تقلب په کمولو کې پرمختګ کړی، د افغانستان رای ورکوونکو بيا هم د هر اړخيز تقلب ادعا کوله. پردې برسيره، يو شمير مهمو پيبنو په دغه پروسه کې داډ ته تاوان رسولی.[313]

د USAID په وينا، ټولټاکنې له يو شمير سختو مقرراتو او تخنيکي مهندسی سره ترسره شوي چې په ځانګړې توګه د هغه هيواد لپاره جوړ شوي و چې د سواد ټيټه کچه، محدودې سرچينې او د جګړې چاپيريال يې درلود. USAID ويلي چې پر دغو ګامونو برسيره کله چې په پروسه کې ډيری شامل اړخونه يووازې په محدوده توګه مقررات په پام کې نيسي، د تقلب کچې د تخنيکي حل لارو محدوديتونه رابرسيره کړي.[314]

د ټولټاکنو خپلواک کميسيون د جون د دويم پړاو ټولټاکنو هر اړخيزه پلټنه ترسره کړه. پلټنې د تقلب د پيدا کولو لپاره د کيفيت له ګامونو څخه کار اخيستی، او دا 2009 او 2010 د اندازې له ګامونو څخه ډير لرې و. د کيفيت په ګامونو کې هغې هڅې شاملې وې ترڅو هغه صندقونه پيدا شي او وکتل شي چې د رايو يوه صندق په ورته توګه په نښه شوي رای پاڼې درلودې. مګر هغې رای پاڼې چې په ورته توګه په نښه شوي وي، په دوامداره توګه د دواړو کمپونو لخوا ندي منل شوي. د ټولټاکنو خپلواک کميسيون پلټونکو پريکړه کوله چې آيا په هر صندق کې 10 يا ډيري رای پاڼې د مشخص نوماند لپاره اچول شوي. که دغه پريکړه بيا هم د منلو وړ نه وه، د ملګرو ملتونو سلاکارانو څخه به غوښتنه کيدله ترڅو خپل نظر ورکړي. که له 20 څخه ډير رای پاڼې (د رايو له ټولو 600 صندقونو څخه)[315] د ورته په نښه شوي توګه اعلانيدلې، بياشميرنه ترسره کيدله.[316]

د پلټنې په پايله کې، د ناسمو رای پاڼو شمير له 5.35% څخه تر پلټنې وړاندي، 10.69% تر پلټنې وروسته ته ورسيدلې.[317] د 2004، 2009، 2010 او 2014 ټولټاکنو د فسخه شوي رايو پرتله کولو لپاره،شکل 3.28 وګورئ.

3.28 شکل

**په افغان ټاکنو کې رد شوي رايې** (میلیونونه)




سرچينه: USAID، ODG، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/29/2014.

پلټنې دا هم موندل چې د تقلب ډیره برخه تر ټولټاکنو وړاندې، د ټولټاکنو په وخت کې، او له ټولټاکنو وروسته په فعالیتونو کې د رایو پانو ډکول، اود ټولټاکنو په مرکزونو کې د کارکوونکو غیرقانوني کارونه و. د راپورونو پر اساس د ولسوالیو ساحوي همغږي کوونکي (DFC)، د افغانستان حکومت د ټولټاکنو لنډ مهاله کارکوونکي، [318] د غیرقانوني کارونو اصلي سرچینې وې. د USAID د افغانستان ټولټاکنو د يوه لوړ پوړي چارواکي يوه قضيه ليدلې چې هغه وروسته لدې د استعفا لپاره اړ شو کله چې د هغه د خبرو ثبت شوی آواز راووت او هغه هدایت ورکاوو ترڅو هغه DFCs استخدام شي چې سیاسي خواخوږي يي درلوده. د راپورونو پر اساس دغه ورته چاروکي له ټولټاکنو وړاندې د پای په ورځو کې د ستندرد پروسې له تعقیبولو پرته ډیری DFCs بدل کړي. افغان ملي امنيتي ځواکونو لخوا هم په تقلب کې د لاس درلودلو زياتو راپوروښو شتون درلود، چې د USAID په وینا، تر ډیري کچې یو نوی کار و. [319]

په دسمبر کې، د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو مرستندوی ټیم (EU EAT) د افغانستان د 2014 د ولسمشرۍ د ټولټاکنو په اړه د پای خپل راپور خپور کړی، چې تر ډیرې کچې يې د احتمالي تقلب موندلو لپاره د کيفيت له نښو څخه کار اخيستی. دغه راپور دا ندي ويلي چې د EU EAT په باور څومره رای يې ناسمې وې، مګر د رايو ورکولو غير منظمي بڼې يې موندلي چې له دوو ميليونو څخه د ډيرو رايو په اړه شک راپورته کوي. [320] د بيلګې په توګه، EU EAT موندلي چې د دويم پړاو نږدې 2.06 ميليونه رايي (د ټولو اچول شويو رايو 26%) د رايو له هغو مرکزونو څخه راغلي چې تر 99% يا ډيري شته رايې يې کارولي وې. دا د لومړي پړاو په پرتله زياتوالی و، چې نږدې 769,000 (د ټولو اچول شويو رايو 12%) د رايو له هغو مرکزونو څخه راغلي وې چې 99% يا ډيري رايې کارولي وې. [321] EU EAT لخوا د کيفيت يو بل کارول شوی معيار د انفرادي نوماند لپاره د اچول شويو رايو لوړه شميره وه. په لومړي پړاو کې، 4% رايي (نږدې 285,000 رايي) د رايو له هغو مرکزونو څخه راغلي چې يوه نوماند له 95% څخه ډيري رايي وړي. په دويم پړاو کې، دغه اندازه 30% ډيره شوی (نږدې 2.38 ميليونه رايي). [322]

## د افغان دولت بودیجې سره د امریکا مرسته

### د بودیجې پر اساس موافقو لندیز

د حکومتولی د ښه کولو لپاره او د افغانستان له لومړیتوبونو سره د هڅو برابرول، نړیوالو مرستندویانو د 2010 د کابل په کنفرانس کې ژمنه وکړه ترڅو د افغانستان حکومت له لارې د بودیجې پر اساس د ملکي پراختیا لپاره مرسته 50% زیاته کړي.[323] مرستندویانو پشمول د امریکا، د 2012 د توکیو او بیا د 2014 د لندن په کنفرانس کې پر دغې ژمنې بیا ټینګار وکړ.[324]

د بودیجې پر اساس مرسته یا (1) دوه اړخیزه، له حکومت څخه حکومت ته، یا (2) له وجهي صندوقونه څخه له بودیجې دباندې مرسته د مرستندویانو یا د هغوی د استازو لخوا کارول کیږي، پرته لدې چې د افغانستان د وزارتونو یا د افغانستان د ملي بودیجې څخه تیر شي. لکه څرنګه چې په جدول 3.12 کې ښودل شوي، USAID تمه لري ترڅو د دوه اړخیزو مرستو په فعاله

جدول 3.12

**د بودیجه په چوکاټ کې د USAID پروګرامونه**

| پروژه/د وجهي صندوق نوم | د افغان دولت مستقیم بودیجه ملګری | خانګړی بانکي حساب؟ | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 12/31/2014 پورې زیاتیدونکي توزیعات (ډالر) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **له دولت څخه دولت ته دوه اړخیزې پروژې** | | | | | | |
| د برېښنا د لېږد مصرف او د اتصال پروژه (PTEC) | د افغانستان برېښنا شرکت (DABS) | هو | 1/1/2013 | 12/31/2016 | $342,000,000 | $13,388,993 |
| د روغتیا خدماتو (PCH) پروګرام لپاره د ملګرتیا قراردادونه | د عامې روغتیا وزارت (MOPH) | هو | 7/20/2008 | 12/31/2015 | 259,663,247 | 194,326,384 |
| د شبرغان د ګازو پراختیا پروژه (SGDP) | د کانونو او پطرولیم وزارت (MOMP) | هو | 5/15/2012 | 4/30/2015 | 90,000,000 | 0 |
| د کجکي واحد 2 پروژه (د کجکي بند اوبو برېښنا کې د توربین جنراتور واحد 2 نصبول) | DABS | هو | 4/22/2013 | 12/31/2015 | 75,000,000 | 12,520,396 |
| د کرهنې پراختیا بسپنه (ADF) | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL) | هو | 7/18/2010 | 12/31/2014 | 74,407,662 | 54,000,000 |
| ابتدایی ښوونه او سواد او مسلکي زده کړه او روزنه (BELT) – د ټولنې میشته پروګرام | د معارف وزارت (MOE) | هو | 10/29/2013 | 10/28/2017 | 56,000,000 | 0 |
| د ملکي تخنیکي مرستې پروګرام (CTAP) | د مالیه وزارت (MOF) | هو | 9/30/2009 | 9/30/2014 | 36,256,560 | 28,810,610 |
| د افغانستان د کاري ځواک پراختیا پروژه (AWDP) | MOE | هو | 9/18/2013 | 04/03/2016 | 30,000,000 | 150,150 |
| اساسي زده کړه او سواد زده کړه او مسلکي زده کړه او روزنه (BEL) - د نصاب کتابونو چاپ | MOE | هو | 11/16/2011 | 12/31/2014 | 26,996,813 | 24,436,268 |
| د E-حکومت سرچینې مرکز (EGRC) | د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ وزارت (MOCIT) | هو | 8/28/2013 | 6/1/2016 | 3,900,000 | 30,000 |
| **د ډیری ډونرانو وجهي صندوق** | | | | | | |
| د افغانستان بیارغوني وجهي صندوق (ARTF) (اوسني ګمارنې) * | ډیری | نه | 3/31/2012 | 3/31/2017 | 1,900,000,000 | 721,057,556 |
| د افغانستان د زیربنا وجهي صندوق (AITF) | ډیری | نه | 3/7/2013 | 3/6/2018 | 285,170,184 | 105,000,000 |

یادونه: USAID*

د ARTF لپاره په تیر کې برخه اخیستنه درلوده چې د 2012 په مارچ کې ختمه شوه او ټول توزیعات 1,371,991,195 امریکایي ډالر و. د ARTF له تیرو دوو برخو اخیستنو څخه زیاتیدونکي توزیعات اوس 2,093,048,751 امریکایي ډالر دي.

سرچینه: OPPD، USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/12/2015.

پروګرامونو کې 994 میلیونه امریکایي ډالر ولګوي. دغه اداره دا تمه هم لري ترڅو ARTF ته 1.9 میلیون امریکایي ډالر مرسته وکړي، دا په ورکړل شوي 1.37 میلیون امریکایي ډالرو برسیره ده چې د USAID او نړیوال بانک ترمنځ ورباندې موافقه شوې.[325] USAID دغه پلان هم لري ترڅو په AITF کې له 105.7 میلیون امریکایي ډالرو څخه زیاته برخه واخلي.[326]

د 2012 د شیکاګو په کنفرانس کې، نړیوالې ټولنې ژمنه کړې وه ترڅو په هر کال کې د نږدې 4.1 میلیاردو امریکایي ډالرو بودیجې سره د بیلابیلو میکانیزمونو له لارې د افغان اردو او پولیسو له امنیتي ځواکونو مالي ملاتړ وکړي.[327] د تیر ربع د ویلز په کنفرانس کې، د ناټو متحدینو او ملګرو خپلې ژمنې بیا نوې کړې ترڅو د 2017 تر پایه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو په دوام کې ډیره مالي برخه واخلي او دا چې د راتلونکو 10 کلونو لپاره د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو سره مالي مرسته وکړي. نړیوالې ټولنې له 2015 څخه د 2017 تر پایه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د دوام لپاره په[328] هر کال کې د نږدې 1 میلیارد یورو چې نږدې 1.29میلیارد امریکایي ډالر کیږي ژمنه کړې. د 2015 مالي کال بودیجې لپاره امریکا د 4.1 میلیارد امریکایي ډالرو غوښتنه کړې او لاسته راوړې دي،[329] چې دغه مرسته به په 2015 کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د 352,000 پای شمیرې دوام سره مرسته وکړي.[330]

امریکا تمه لري چې افغانستان د دغو ځواکونو د دوام لګښتونو ډیرې برخې مسولیت واخلي، او لکه څرنګه چې د شیکاګو په کنفرانس کې ورباندې موافقه شوې وه، په 2015 کې به له 500 میلیونو امریکایي ډالرو سره پیل شي.[331]

مګر، له تیر څخه د افغانستان حکومت په وړتیا کې د نړیوالې ټولنې مخ پر کمیدو ډاډ ترڅو خپله برخه زیاته کړي، په دغه ربع کې نور هم کم شوی. د افغان مالیه وزارت راپور ورکړی چې د 2014 لپاره د افغانستان حکومت عواید د کال له نبني څخه 8% کم و.[332] په اکتوبر کې، د افغانستان مالیې وزارت د 537 میلیونو امریکایي ډالرو بودیجې کموالي ادعا کړې وه چې د حکومت ملکي کارکوونکو معاشونه یې له ګواښ سره مخامخ کړي و. دغه کموالی پر هغه څه برسیره راغلی چې د افغانستان حکومت هڅه کړې وه ترڅو محدودیتونه وضع کړي او اختیاري پراختیایي پروژې وځنډوي، په اوسنیو پروژو کې او د نویو استخدام شوي د ډیرو لګښتونو مخه ونیسي، د عملیاتونو او ساتنې لګښتونو تر ډیرې کمې کچې وساتي، اضافي کارونه کم کړي او د ملکي کارکوونکو لپاره مکافات ودروي، او د تجملي وسایلو تدارکاتو ته اجازه ورنکړي.[333] د بودیجې د کموالي او د امریکا د ځواب د لا نورو معلوماتو لپاره، د دې راپور 148–151 پاڼې وګورئ.

## د بودیجې پر اساس ملکي مرسته

USAID د افغانستان له اوو بنسټونو سره د (1) دوه اړخیزو موافقو او د څو مرستندویانو په دوو وجهي صندقونو کې، د افغانستان د بیا رغونې وجهي صندق (ARTF) او (2) د افغانستان د زیربنا وجهي صندق (AITF) کې د برخه اخیستنې له لارې د بودیجې پر اساس ملکي مرسته برابروي.[334] د USAID په وینا، ټولې دوه اړخیزې مرستې د بانک په هغو جلا حسابونو کې ساتل کیږي چې د افغانستان مالیې وزارت لخوا د هر پروګرام لپاره تاسیس شوي.[335]

ARTF، د نړیوال بانک لخوا اداره کیږي، او د افغانستان حکومت د عملیاتو او پراختیایي بودیجې لپاره مرسته برابروي ترڅو د افغانستان حکومت له عملیاتونو، د پالیسی له اصلاحاتو، او ملي لومړیتوب له پروګرامونو څخه ملاتړ شوی وي.[336] AITF، د څو مرستندویانو وجهي صندق د آسیا

پراختیایي بانک لخوا اداره کیږي، او په افغانستان کې د زیربنا پروژو لپاره د مرستندویانو مرستې همغږي کوي.[337] د USAID په وینا، د بودیجې پر اساس د مرستو ډیری برخه او په ځانګړې توګه ARTF به لکه په تیر کې په راتلونکې کې هم د څو مرستندویانو وجهي صندق له لارې برابر شي.[338]

د ARTF د اداره کوونکي په توګه، نړیوال بانک له یوې سیستماتیکې طریقې څخه کار اخلي ترڅو د ډاډ له خطر څخه د دغو مرستو مخه ونیسي. په دغو کې پالیسی، طرزالعملونه، او هغه کارونه شامل دي چې یوځای کار کوي ترڅو خطر پیدا کړي، تحلیل کړي، ارزونه یې وکړي، او بیا ورته د حل لار پیدا کړي او نظارت یې وکړي. نړیوال بانک د افغانستان حکومت لپاره تخنیکي مرسته برابروي ترڅو دا وګوري چې سیستمونه پرځای دي او ځواکمن کیږي.[339]

د USAID په وینا، د افغانستان حکومت پر خپله کنټرولونو برسیره، نړیوال بانک له نږدې ARTF اداره کوي. نړیوال بانک د نظارت پر خپل نورمال سیستم باندې د ARTF د نظارت استازي (MA) او د ARTF د اداره کوونکي استازي اضافي کنټرولونه اضافه کړي دي. د روانو لګښتونو د کړکې پر اساس د افغانستان حکومت ته تادیات د حکومت د ملکي عملیاتو د مستحق لګښتونو لپاره ترسره کیږي. دغه بانک یو MA استخدام کړی دی ترڅو د روانو لګښتونو بیاکتنه وکړي. د MA موخه دا ده ترڅو دا وکتل شي چې هغه ټول لګښتونه چې د روانو لګښتونو د کړکۍ لخوا تمویلیږي مستحق دي او غیر مستحق لګښتونه وګرځول شي. د MA نظارت په دوه پړاونو کې ترسره کیږي: وروسته لدې چې پر میز باندې د لګښت ارزونه وشي، له غوره شوي ساحو څخه لیدنه کیږي ترڅو وکتل شي چې ملاتړ کوونکي اسناد شتون لري.[340]

په اکتوبر کې، د USAID د عمومي مفتش دفتر (OIG) د پلټنې راپور خپور کړی چې د دوو اړخیزو موافقو له لارې یې له حکومت څخه حکومت ته مرستې تر پوښښ لاندې نیولې وې. دغې پلټنې وموندل چې که څه هم له ځینو کنټرولونو څخه په پوره توګه کار ندی اخیستل شوی، USAID د وخت په تیریدو سره له حکومت څخه حکومت ته (مستقیمه یا دوه اړخیزې) مرستې د مالي مدیریت د کنټرولونو خپل تطبیق ښه کړی.[341] د بیلګې په توګه، که څه هم هغه حکومت چې په هر کال کې له USAID څخه 300,000 یا ډیر امریکایي ډالر لاسته راوړي کلنی پلټنې ته اړتیا لري، د USAID چارواکو او د افغانستان حکومت د دغو اړتیاو اطاعت ندی شوی. په بیل کې، د افغانستان حکومت ته مسولیت ورکړ شوی و ترڅو د ظرفیت لوړولو د هڅې په توګه د خپلو پلټنو لپاره قرارداد وکړي. مګر، USAID وموندل چې د افغانستان حکومت ادارو نشو کولای ترڅو له مهال ویشونو سره سم خپلې پلټنې ترسره کړي. د USAID خپله پلټنې هم پشمول د افغانستان حکومت نه لیوالتیا ترڅو پلټنې یې وشي، له ننګونو سره مخامخ دي.[342] د USAID د عمومي مفتش دفتر پلټنې هم موندلي چې USAID په ښکاره توګه د پروژې په سندونو کې خپلې تمې ندي تشریح کړي، چې کیدای شي پایله یې د افغانستان حکومت او د USAID تر منځ ستونزه را منځ ته کړي او د خطر کمولو ګامونو اغیز کم کړي.[343]

## د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته د بودیجې پر اساس مرسته

د بودیجې پر اساس د مرستې ډیری برخه د افغان امنیتي ځواکونو لپاره ده. د امریکا دفاع وزارت د افغانستان حکومت لپاره د بودیجې پر اساس مرسته (1) د افغان امنیتي ځواکونو صندق (ASFF) کې د برخې اخیستنې له لارې د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارت ته، او (2) په ASFF کې د څو مرستندویانو په LOTFA کې د برخې اخیستنې له لارې برابروي. LOTFA چې د ملګرو ملتونو

**د بودیجه پر اساس مرسته:** د مرستندویانو هغه مرستې دي چې د افغانستان حکومت له پلانونو سره برابرېږي، پشمول د افغانستان حکومت د بودیجې سندونه، د پارلمان لخوا تخصیص کیږي او د افغانستان مالیې وزارت سیستم لخوا اداره کیږي. تر ډیرې کچې د بودیجې پر اساس مرسته د مرستندوی او د افغانستان حکومت بنسټونو ترمنځ د مستقیمو دوو اړخیزو موافقه له لارې، یا د څو مرستندویانو د وجهي صندق له لارې رسول کیږي.

**له بودیجې څخه دباندې مرسته:** د مرستندویانو هغه مرستې دي چې د افغانستان په بودیجه کې شامل ندي او د افغانستان حکومت سیستمونه یې نه اداره کوي.

سرچینه: سیګار، *د امریکا کانګریس ته د ربع راپور*، 7/30/2014، p. 130؛ د مالیې وزارت، "د لیږد او بیا وروسته لپاره د مرستې مدیریت پالیسي،" 12/10/2012، p. 8.

د پراختیايي پروګرام (UNDP) لخوا اداره کیږي تر ډیري کچې د افغانستان ملي پولیسو معاشونه تمویلوي.[344] مستقیمه مرسته د افغانستان مالیي وزارت ته ورکول کیږي، او د اړتیا پر اساس بیا د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ته ورکوي.[345]

په دې ربع کې د امریکا دفاع وزارت پریکړه وکړه ترڅو په افغانستان کې د امنیت لیږد ګډه قومانداني - افغانستان (CSTC-A)، د افغانستان مالیي، کورنیو چارو او دفاع وزارتونو ترمنځ د ژمنې مکتوبونه خپاره نکړي. د ژمنې مکتوبونه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته د امریکا لخوا د اردو اداره شوي مرستي شرطونه تشریح کوي. د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د امریکا مالي ملاتړ په اړه د سیګار پوښتني کیدای شي د دغه راپور په هـ ضمیمه کې وموندل شي. سیګار د دغې موضوع په اړه په محرمه ضمیمه کې راپور ورکوي.

سیګار د هغو مهمو تورونو په اړه یو جرمي تحقیق ترسره کوي چې د افغانستان د دفاع وزارت د تیلو اوسنی قرارداد د قراردادیانو لخوا د توطیې، د قیمت جوړولو او د رشوت لخوا په فساد ککړ شوی.

په هغې پلټنې کې چې په دې ربع کې خپره شوې، سیګار موندلي چې د افغانستان ملي پولیسو پرسونل لپاره د بریښنا له هغو دوو سیستمونو، د افغانستان د بشري قوا د معلوماتو مدیریت سیستم (AHRIMS) او د معاشونو بریښنایي سیستم (EPS) څخه چې د معاشونو معلوماتو لپاره کار اخیستل کیږي، په پوره توګه کار نه کوي، له یو بل سره مستقیماً اړیکي نشي ساتلی، او ټول کارکوونکي او د معاشونو د پروسي معلومات تر پوښښ لاندې نه نیسي. په دواړو سیستمونو کې د کارکوونکو په زرګونو سندونه شتون لري چې د پیژند پاڼي نامسم یا ورک شوي شمیرې لري. په پایله کې، هغه کنټرولونه لکه د معلوماتو اتومات لیږد، د سیستمونو ترمنځ د پرسونل د همغږي کولو ورتیا، او په لاس د راپورونو لیکولو اړتیا کمول شتون نلري، او د افغانستان ملي پولیسو د پرسونل د معاشونو پر بې وخته، غیر دقیق، یا ناسمو معلوماتو باندې د تکیه کولو خطر شته.[346]

ګمان کیږي چې هر یو CSTC-A، UNDP، او د افغانستان کورنیو چارو وزارت باید د افغانستان ملي پولیسو د معاشونو معلوماتو د تاییدی مسولیت ولري. هغه تاییدی چې د دغو سازمانونو لخوا ترسره شوي منظمي او همغږي شوي نه وي، او یوه هم هر اړخیز تایید ندی ترسره کړي ترڅو د افغانستان ملي پولیسو ټول پرسونل او د معاشونو پروسه تر پوښښ لاندې ونیسي. CSTC-A نشو کولای ترڅو سیګار ته هغه لیکل شوي طرزالعملونه برابر کړي چې څرنګه د افغانستان ملي پولیسو ټول پرسونل تاییدوي او چاروکو دا تایید کړي چې په تیر کال کې هغوی د افغانستان د کورنیو چارو وزارت لخوا د پرسونل ټوله وړاندې شمیره منلې.[347]

تر سپتمبر پورې، UNDP راپور ورکړی چې په AHRIMS کې یوازې د افغانستان د کورنیو چارو وزارت 50,000 غیرقانوني پیژند پاڼې شتون لري.[348] AHRIMS هغه سیستم دی چې د افغانستان ملي پولیسو او ملي اردو لپاره د پرسونل معلومات تعقیبوي.[349]د پرتله کولو لپاره د افغانستان ملي پولیسو د ټول پرسونل شمیره 157,000 ده؛[350] مګر، په ګمان سره په AHRIMS کې نه یوازې د اوسنیو ځواکونو معلومات شامل دي، د هغو ځواکونو معلومات هم شته چې تللي دي.

په دسمبر کې، *نیویارک ټایمز* راپور ورکړی چې ولسمشر غني غوښتنه کړې ده ترڅو د UNDP شپږو میاشتو په ترځ کې د LOTFA څخه مدیریت ختم کړي. په افغانستان کې د اروپايي ټولني د سفیر په وینا، کیدای شي دغه مهال ویش د تطبیق وړ نه وي، مګر "داسي هم نده چې د مرستندویانو ټولنه د LOTFA له مرستو څخه ډیره خوشهاله ده.[351] "

## د سیګار پلټنه

په دغه ربع کې، سیګار د افغانستان ملي پولیسو د معاشونو په اړه یوه پلټنه خپره کړی چې له 300 میلیونو څخه زیات امریکایي ډالر چې د معاشونو د تادیاتو لپاره د امریکا لخوا ورکول کیږي تر یوې کچې د تایید شوي او همغږي شوي معلوماتو پر اساس دي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 23 وګورئ.

ځکه چي سیګار له ښخوا موندلي چي د افغانستان کورنیو چارو وزارت د داخلي کنترولونو میکانیزمونه د دغه کار لپاره کمزوري دي، سیګار باور لري چي د LOTFA له مستقیمي مرستي څخه د افغانستان حکومت ته د پولیسو تادیاتو ورل به ډیر خطر ته بلنه ورکړي. سیګار له مستقیمي مرستي سره مخالفت نه لري، مګر باور لري داسي حرکت باید ځواکمن داخلي کنترولونه ولري ترڅو وکتل شي چي پیسي د ټاکل شوي موخو لپاره لګول کیږي.

## ملي حکومتداري

امریکا د افغانستان حکومت بنسټونو لپاره مرسته برابروي ترڅو خپله وړتیا ډیره کړي او اړین خدمتونه ترسره کړي، او لدې لارې د افغانستان د وګړو په سترګو کي خپل مشروعیت زیات کړي. مرسته له دوه لارو چمتو کیږي: (1) د قراردادونو، مرستو، او دوو اړخیزو موافقو له لارو؛ او تر ډیري کچي (2) د بودیجه پر اساس د مرستي له لاري. لکه څرنګه چي 2014 د امنیت سپارلو د پای کال دی، د امریکا حکومت په ځانګړې توګه پر دې کار کوي ترڅو د افغانستان حکومت د بنسټونو د مالي او پروګرام مدیریت وړتیاوي ډیري کړي. دا د نوموړي هدف ترلاسه کولو لپاره د ظرفیت جوړوني او مستقیم بودیجه پروګرامونو ترکیب کاروي.[352]

د ټوکیو څواړخیز حساب ورکووني کاري چوکاټ (TMAF) د نړیوالي بوختیا اساس په توګه کار کوي او د څو اړخیز حساب ورکووني سنجولو لپاره موافق وسیله ده.[353] نړیوالي ټولني او افغان دولت سره د 2012 جولای کي د ډونرانو په ټوکیو کنفرانس کي په TMAF موافقه وکړه. وروسته بیا TMAF د افغانستان حکومت له لنډ مهالو نښو او د نړیوالي ټولني لخوا نومول شوي "مهمو خدماتو" لکه د کانونو قانون تاییدی سره برابر شو.[354]

په تیر ربع کي USAID راپور ورکړی چي د پالیسی د موضوع په توګه، په کابل کي د امریکا سفارت نور د مهمو خدماتو اصلي بني ارزونه نه ترسره کوي. د USAID په وینا، د مهمو خدماتو ښخواني ټولګه نور د خبرو یوه برخه نده. د لندن کنفرانس اعلامیې ویلي چي TMAF به د 2015 په نیمی کي د لوړ پوړو چارواکو په غونډه کي بیرته نوې شي.[355] له اصلي لست څخه ځیني نه بشپړ شوي عملونه کیدای شي دغه راتلونکي کاري چوکاټ ته ورسوي.[356]

که څه هم د لندن کنفرانس پایله د مهمو خدماتو د تعدیل شوي لست سبب ندی شوی،[357] د افغانستان حکومت ژمنه کړې ترڅو د لوړ پوړو چارواکو تر غونډې وړاندې دغه لاندې اصلاحات ترسره کړي:

- وکتل شي چي د اعتبار وړ بودیجه تایید شي.
- د لګښتونو او تطبیق کوونکو ګامونو آزموینه ترسره شي ترڅو عواید زیات شي او هغه ګامونه شامل وي ترڅو د مالیي ساحه پراخه شي.
- د مالي سکتور مدیریت ځواکمن شي.
- د مسول خصوصي سکتور پانګوني لپاره حالتونه ښه شي.
- د بشري حقونو او په ځانګړې توګه د میرمنو حقونو ښه والي لپاره عملي کارونه ترسره شي.[358]

د نومبر په 11، د افغانستان حکومت د 1394 مالي کال (په غربي جنتری کې د 2014 د دسمبر 21 او د 2015 د دسمبر 20) خپله بودیجه پارلمان ته وړاندې کړه. د تیر کال په پرتله د بودیجه په مسوده کې په تولیزه توګه 3% کموالی، په شمول د 11% غیر امنیتي اړوند لګښتونه شامل و.[359] په پارلمان کې د بودیجه پر مسودې نیوکې وشوې او د ولسي جرګې لخوا رد شوه.[360] په جنوری کې، د افغانستان مالیې وزارت تعدیل شوې بودیجه وړاندې کړه او پدې مسوده کې هغه 443 پروژې شامل وې چې په لمړی مسودې کې شامل نه وې. وکیلانو پر لمړنی بودجې ځکه نیوکې کړې وې چې دغه پروژې په هغه مسوده کې شاملې نه وې، ددغو پروژو ډیری په تیر کال کې بشپړې شوې نه وې.[361] د دغو پروژو شاملول کیدای شي د حکومت د عوایدو او لګښتونو ترمنځ مالي تشه زیاته کړي.

## د ظرفیت جوړونې پروګرامونه

د USAID د ظرفیت جوړونې پروګرامونه پدې لټه کې دي چې د مستقیم بودیجه مرستې لپاره د افغان وزارتونو د چمتوالي، اداره کولو او محاسبي وړتیا ته وده ورکړي. د سیګار لخوا د 2014 د USAID د افغانستان د اوو وزارتونو چې د بودیجه پر اساس د امریکا مرستې لاسته راوړي د ارزونو پلټنې وموندل چې دغو ارزونو او بیاکتنو موندلي چې هیڅ یوه وزارت د دې وړتیا نه درلوده ترڅو په اغیزناکه توګه د مرستو مدیریت او محاسبه وکړي پرته لدې چې د خطر کمولو ګامونه تطبیق کړي.[362] لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.13 کې ښودل شوي، په دغه پروګرام کې 31 میلیونه امریکایي ډالر د مشری، مدیریت، او حکومتوالی پروژې شامل دي چې موخه یې د افغانستان مالي مدیریت سیستمونو ځواکمن کول دي او د عامې روغتیا او روزنې وزارتونو د ظرفیت لوړولو لپاره دي ترڅو هغې اړتیاوې پوره کړي چې د 2010 د کابل په کنفرانس کې د بودیجه پراساس د زیاتو مرستو لپاره ټاکل شوي وې.[363] USAID هم د میرمنو چارو وزارت د سازماني جوړښت او توانمندی (MORE) پروژې سره د 15 میلیونو امریکایي ډالرو مرسته کوي، چې په نورو شیانو کې لکه څرنګه چې د بودیجه پراساس د راتلونکو مرستو اړتیا ده له وزارت سره مرسته کوي ترڅو خپل مالي مدیریت ښه.[364]

د افغانستان وزارتونو د هڅولو لپاره ترڅو پر ملکي خدمتونو باندې ډیره تکیه وکړي او پر "موازي ملکي خدمتونو" باندې تکیه کمه کړي چې د ځینو مرستندویو لخوا تمویل شوي پروګرامونو دي، USAID پریکړه کړې ده ترڅو مرستې له انفرادي پروګرامونو څخه د ARTF د پایلو لپاره د ظرفیت لوړولو (CBR) پروګرام ته یوسي.[365] CBR په ټول حکومت کې په عامه اداره کې د روانو

جدول 3.13

**په ملي کچه د USAID د ظرفیت جوړونې پروګرام**

| د پروژې موضوع | د افغان حکومت ملګری | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 12/31/2014 پوری زیاتیدونکي توزیعات (ډالر) |
|---|---|---|---|---|---|
| د مشرتابه، مدیریت او حکومتداري پروژه | د عامې روغتیا وزارت<br>د معارف وزارت | 9/25/2012 | 10/31/2014 | $31,248,400 | $26,574,770 |
| د افغانستان قانون جوړونکي نهادونو ته مرسته | پارلمان | 3/28/2013 | 3/27/2018 | 23,455,326 | 6,651,375 |
| د ښځو چارو وزارت نهادي جوړښت او واکمن کول | د ښځو چارو وزارت | 12/20/2012 | 12/19/2015 | 14,182,944 | 4,508,558 |

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/12/2015.

اصلاحاتو، د غوره شوي ملکي کارکوونکو لپاره د روزنه، او د وزارت د اصلاحاتو لپاره محدودې تخنیکي مرستي ملاتړ کوي.[366]

CBR د افغانستان وزارتونه په دریو پوړونو کې منظم کړي چې د مرستو زیاته کچه، پشمول د ملکي کارکوونکو استخدامولو لپاره تمویل، تخنیکي مرسته، او روزنه لاسته راوړي.[367] د افغانستان حکومت ټول وزارتونه په اتوماته توګه په 1 پوړ کې درجه بندي کیږي او باید د لوړو کچو لپاره سیالي وکړي چې د 2 او 3 پوړونو لپاره ملاتړ برابریږي.

د 2 پوړ لپاره په اوو معیارونو کې د مرکز او ولایتونو په کچه د معاش او رتبې په اړه اصلاحات؛ د بشري قوا یوه کاري اداره چې د ملکی کارکوونکو 30% د معاش او رتبې اصلاحات د فعالیت ارزونو له لارې وارزول شي؛ د ستراتیژي یا کار یو پلان چې لږ تر لږه په هر کال د پرمختګ یو راپور ولري؛ د پراختیا پروژې لږ تر لږه 40% تطبیقولو کچه (د بودیجه شوي هغه برخه چې کنټرول کوونکي اداره یې په حقیقت کې لګوي)؛ یا وزارت (1) د هغو عوایدو چې د ټولو وزارتونو لخوا تولیږي لږ تر لږه 5% مهم عواید ټول کړي (2) وزارت لږ تر لږه د حکومت په یوه مهم خدمت کې لکه د بشري قوا په روزنه، په مهمي اقتصادي زیربنا پراختیا، یا عدلي خدماتو کې برخه واخلي. د ردیف 2 دریځ ته لوړیدو لپاره یو وزارت باید لدغه اوه معیارونو څخه لږترلږه پنځه پوره کړي.[368]

په 2 پړاو کې پر معیارونو برسیره، په 3 پړاو کې وزارتونو اړتیا لري ترڅو د مرکزي کچې 80% کارکوونکي د معاشو او رتبې د اصلاحاتو پر اساس او 50% یا زیات کارکوونکي د ولایتونو په کچه استخدام شي، او د پراختیایي بودیجه تطبیقولو (د بودیجه هغه برخه چې کنټرول کوونکي اداري یې په حقیقت کې لګوي) لږ تر لږه 50% اندازه لاسته راوړل شي.[369] د وزارتونو د اوسني دریځ لپاره دغه جدول 3.14 وګورئ.

د 2014 په اګست کې، نړیوال بانک موندلي چې CBR د خپلو موخو په لور د نه رضایت وړ پرمختګ کوي ترڅو د افغانستان حکومت له هغو غوره شوي وزارتونو سره مرسته وکړي چې د

جدول 3.14

| د پایلو لپاره د ظرفیت لوړلو (CBR) پروګرام کې د افغانستان وزارتونو د پړاو دریځ | | |
|---|---|---|
| **د وزارت پړاو** | **وزارت** | **حالت** |
| **3 پړاو** | د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ وزارت (MAIL) | تطبیق روان دی. |
| | د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوجی وزارت (MOCIT) | تطبیق روان دی. |
| | د عامې روغتیا وزارت (MOPH) | وړاندیز د پرمختګ په مرحله کې دی، د CBR مشورتي ډلې ته به وړاندې شي. |
| | د معارف وزارت (MOE) | وړاندیز د جوړیدو په لومړني مرحله کې، مګر پرمختګ یې ندی کړی. |
| | د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت (MRRD) | وړاندیز د جوړیدو په لومړنی مرحله کې. |
| **2 پړاو** | د کانونو او پطرولیم وزارت (MOMP) | د 2014 د جولای په 12 غوښتنلیک په پوره توګه تایید شوی. |
| | د کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت (MOLSAMD) | د 2014 د جولای په 12 په پوره توګه تایید شوی. |
| | د تجارت او صنایعو وزارت (MOCI) | وړاندیز د جوړیدو په لومړنی مرحله کې. |
| | د ښاري چارو وزارت | تایید شوی ترڅو د 2 پړاو وزارت په توګه ملاتړ لاسته راوړي. |
| | د اقتصاد وزارت | تایید شوی ترڅو د 2 پړاو وزارت په توګه ملاتړ لاسته راوړي. |
| | د عدلیې وزارت (MOJ) | وړاندیز د جوړیدو په لومړنی مرحله کې. |

سرچینه: USAID، OPPD، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 12/29/2014.

خپلو وزارتونو ماموريتونو ترسره کول او خدمتونو رسول ښه کړي. مګر نړيوال بانک ويلي چې خپله وزارتونه د پرمختګ نښو لپاره د معلوماتو يووازې سرچينه ده، او دا چې د CBR پروګرام معلومات نه تاييدوي.[370]

په دغه ربع کې USAID راپور ورکړی چې د CBR پروژه بېرته تنظيمېږي. نړيوال بانک له ولسمشر غني او حکومت سره يې خبرې کړې دي، او USAID تمه لري ترڅو پروژه بېرته تنظيم شي. مګر USAID د پروژې د بېرته تنظيمولو لپاره يوه ثابته نيټه نده لاسته راوړې ترڅو يې مرستندويانو ته وړاندې کړي.[371]

## ملي شورا

USAID د افغانستان تقنيني بنسټونو سره د مرستې پروژې (ALBA) ته 23.5 میلیونه امريکايي ډالر ورکوي، ترڅو د افغانستان له پارلمان سره مرسته وکړي او پخپله د يوه خپلواک او اغيزمن تقنيني، استازيتوب، او نظارت بنسټ په توګه کارونه ترسره کړي.[372]

د نومبر په پای کې، پارلمان د امنيت دوه اړخيزه موافقه او له ناټو سره د ځواکونو د دريځ موافقه (SOFA) تاييد کړه، چې له 2014 ورسته په افغانستان کې د امريکا او د ناټو ځواکونو قانوني دريځ تشريح کوي.[373]

په 1 نومبر کې، *ولسي جرګې* هغه قانون تاييد کړی چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو لخوا د کوچنيانو استخدامول جرم ګڼي. په تير کې دغه کار د ولسمشر د فرمان پر اساس منع شوی و.[374]

د USAID په وينا، پداسې حال کې چې په تير کې د پارلمان لپاره د عمومي غونډو اکثريت لاسته راوړل يوه ننګونه وه، په دغه ربع کې د پارلمان دواړو جرګو د مهمو تقنيني موضوعګانو، پشمول د پيسو منځل پر وړاندې قانون، د تروريزم د مالي تمويل مخنيوی قانون، او د دوه اړخيزې امنيتي موافقې لپاره اکثريت لاسته راوړی.[375]

په تير ربع کې، ALBA له دغو لاندې پارلماني کميسيونونو څخه ملاتړ کړی ترڅو په ولايتونو کې د نظارت سفرونه ترسره کړي:

- د باميان ولايت، د ولسي جرګې او *مشرانو جرګې* د ميرمنو، مدني ټولنې او بشري حقونو چارو کميسيونونه؛
- د هرات ولايت، د ولسي جرګې د حقوقي چارو کميسيون؛
- د خوست ولايت، د ولسي جرګې د کوچيانو، قومونو او کډوالو چارو کميسيون؛
- د کندهار ولايت، د ولسي جرګې د کورني چارو کميسيون؛
- د نيمروز ولايت، د ولسي جرګې د نړيوالو چارو کميسيون؛
- د ننګرهار ولايت، د ولسي جرګې د معلولينو، معيوبينو، او کډوالو چارو کميسيون؛ او
- د پکتيا ولايت، د ولسي جرګې د کورني چارو کميسيون.[376]



**سفير جيمز کننګهام** د 2014 په سپتمبر کې د دوه اړخيزې امنيتي موافقې په لاسليک کېدلو کې خبرې کوي.
(د امريکا بهرنيو چارو وزارت عکس)

په دغه ربع کې پارلمان اوريدنه هم ترسره کړي او د حکومت يو شمير چارواکي يې هم راغوښتني پشمول:

- د ټولټاکنو خپلواک کميسيون او د ټولټاکنو شکايتونو اوريدلو کميسيون ريسان، هغوی د نومبر په 2 د مشرانو جرګې لخوا د ولايتي شوراګانو د ټولټاکنو د پايلو په اړوند راغوښتل شوي و، مګر هغوی پر خپل ځای خپل معاونين وليږل.

- د کانونو ځای ناستی وزیر، هغه د نومبر په 9 د مشرانو جرګې لخوا غوښتل شوی و.
- د مالیې وزیر ځای ناستی وزیر زاخیلوال، هغه د نومبر په 18 د بې مشرانو جرګې ته د ملي بودیجه مسوده وړاندې کړله.[377]

په جنوری کې، دمیرمنو د سولې او امنیت لپاره د څیړنې انستیتوت (RIWPS)، چې د افغانستان یو غیر حکومتي سازمان دی، په 2014 کې د پارلمان د کار په اړه یو راپور خپور کړی. RIWPS موندلې چې د قانون جوړونکو 53% د عمومي غونډو په وخت کې غیرحاضر و. د راپورونو پراساس د ولسي جرګې د عمومي غونډو 70% د قوانینو د بیاکتنې او رای ورکولو، او 25% د حکومت له کارونو څخه د نظارت په اړه وې. دغه راپور له حکومت څخه په نه دوامداره نظارت او د حکومتي چارواکو پر نادریز او بې لاسته راوړنې استیضاح کولو باندې نیوکې کړې.[378]

د 2014 د نومبر په 16، د پارلمان یوه پیژندل شوې میرمنه غړې او د میرمنو حقونو فعاله، شکریه بارکزی، د موټر بم په یوه انتحاري برید کې ټپي شوه. د ملګرو ملتونو په وینا، د یاغیانو هیڅ یوې ډلې د دغه برید مسولیت پر غاړه اخیستی ندی.[379]

## سیمه ایزه حکومتداري

متحده ایالات له هغو لومړیتوبونو ننګه کوي چې په سیمه ایزه کچه افغانانو ته په خپل حکومت کې پراخه ونده ورکوي. هدف یې د سیمه ایز حکومت لانور افغان وګړو ته د لید وړ، محاسب او مسؤل کول دي، په ځانګړي توګه سویل او ختیځ کې چیرې چې ترهګري پراخه ده.[380]

په دغه ربع کې، USAID د افغانانو د هیلې د ځواکمنو مرکزونو او کلکوالي (SHAHAR) پروګرام پیل کړی، چې موخه یې د افغانستان د هغو ښاروالیو جوړول دي چې په ښه توګه اداره کیږي او له مالي پلوه د دوام وړ دي ترڅو وکولای شي د مخ پر ډیریدو ښاري نفوسو اړتیاوې پوره کړي.[381] SHAHAR نږدې 74.5 میلیونه امریکایي ډالر بودیجه لري او تمه کیږي چې د 2017 په نومبر کې پای ته ورسیږي.[382]

## د کلیوالي ثبات پروګرامونه



د **SIKA ختیځ** لخوا تمویل شوی د میرمنو د اړیکو کمیټې لپاره د **پکتیا په ولایت** کې میرمنې غونډه کوي.
(د USAID تصویر)

USAID د ثبات ګڼ پروګرامونه لري چې موخه یې له افغان حکومت سره مرسته ده څو بې ثباته سیمو ته خپله ولکه وغځوي او د سیمه ایزې حکومتولي ظرفیتونه لوړ کړي. پدې پروګرامونو کې د USAID د کلیدي سیمو ثبات (SIKA) څلور پروژې، دوه د ټولنې ارتباط نوښت (CCI) پروګرامونه، افغان ملکي مرستې پروګرام II (ACAP II)، او د ARTF ملي پیستون پروګرام (NSP) شامل دي. امریکا د NSP ملاتړ لپاره له ARTF څخه د خپلې برخې اخیستنې د 865 میلیونو امریکایي ډالرو غوښتنه کړې ده، مګر له 2012 څخه یې د NSP لپاره ملاتړ ته لومړیتوب ندی ورکړی.[383] دغه جدول 3.15 تر اوسه د ټول پروګرام لګښت لنډیز وړاندې کوي.

د USAID د باثباته کولو د نوښتونو د اندازه کولو اغیزونو (MISTI) پروژه د دریم ګړي لخوا د نظارت او ارزونې یو پروګرام دی چې د USAID د پروګرامونو اغیز ارزونه کوي. په دغه ربع کې، USAID د RAND شرکت لخوا د MISTI د طریقې د دریم ګړي ارزونه خپره کړه.

جدول 3.15

**د USAID سیمه ایز (کلیوالي) پروګرامونه**

| د پروژې موضوع | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 12/31/2014 پورې زیاتیدونکي توزیعات |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان بیارغوني وجهی صندوق (ARTF) * له لارې د ملي پیوستون پروګرام (NSP) | 2004 | 2012 | $865,000,000 | $865,000,000 |
| په کلیدي سیمو سویل کې ثبات (SIKA) ** | 4/10/2012 | 4/9/2015 | 78,241,053 | 56,112,052 |
| SIKA ختیځ | 12/7/2011 | 9/6/2015 | 177,054,663 | 96,611,137 |
| SIKA لویدیز | 1/29/2012 | 8/31/2015 | 54,000,000 | 38,949,085 |
| SIKA شمال | 3/15/2012 | 4/30/2015 | 38,000,000 | 27,456,973 |
| د ټولنې د تمایل نوبښت (ختیځ، سویل، سویل لویدیز) *** | 3/1/2012 | 2/28/2015 | 161,499,422 | 54,979,992 |
| د ټولنې یووالي نوښت (شمال، لویدیځ) *** | 9/10/2013 | 9/9/2015 | 36,221,640 | 7,320,635 |
| د افغانستان ملکي مرستې پروګرام (ACAP II) | 9/27/2011 | 2/15/2015 | 64,000,000 | 50,285,722 |

یادونه:
*په دغه کې د ARTF برخه اخیستنه شامل ده او د NSP لپاره ځانګړې غوره والی. له نړیوال بانک سره د موافقت پر بنسټ، مرسته کونکي یواځې د خپلو مرستو په برخه کې د ټولې ونډې د 50% د لګولو د ساحې غوراوی کولای شي. پاتې برخه، هغه مرستې چې د ARTF لپاره غوره شوې ندي کیدای شي د NSP ملاتړ لپاره ورځخه کار واخیستل شي.
**د اټکل شوي او توزیعاتو په ټول معلوماتو کې د SIKA جنوب د دواړو لپاره ټوله شمیره شامله ده.
** د 2014 د دسمبر تر 15 پورې. دا مصارف عملیاتي مخارج نه منعکس کوي.

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتو ته ځواب، 12/29/2014 او1/12/2015.

RAND د MISTI لخوا د ثبات تولید شوي لست په اړه پوښتنه کړې، او دا یې یو "ستونزمن ګام" بللی.[384] د ثبات لست د MISTI مرکزي بنه ده او د دې لپاره جوړ شوی ترڅو په ولسوالیو کې د وخت په تیریدو سره د ثبات حرکتونه تعقیب کړي، چیرته چې د USAID پروګرام تطبیقیږي او د دې لپاره دی ترڅو د USAID له پروګرام څخه پرته پرواګرام پرتله شي.[385] مګر، RAND موندلې چې "د ثبات لست په ځانګړې توګه په کمزورې توګه تشریح شوی، تر ډېرې کچې یې تویږ لرونکي عنصرونه یوځای کړي چې په ښکاره توګه د ثبات لپاره اغیزمن ندي؛ او مهمه خبره داده چې ممکنه نده ترڅو د ثبات ښکاره جوړښت شتون ولري یا د دغسې اغیز ارزوني لپاره د معنی ور وي."[386]

RAND موندلې چې د ډیټابیس کوم مرکز شتون نلري چیرته چې د USAID پروګرامونه تطبیق شوي او دا چې په دغو ساحو کې حالتونه څرنګه و. څکه نو هیڅ لار نشته ترڅو ارزونه وشي چې د USAID د ټولیز پروګرام لپاره تر کومې کچې د MISTI پېژندل شوی پروګرام استازیتوب کوي.[387]

RAND موندلې چې د USAID د ثبات پروګرام داسې نه ښکاري چې د یوې ښې جوړې شوې بدلون نظر څخه یې ګټه اخیستې وي. د MISTI موخه دا ده ترڅو د ثبات او کلکوالي لپاره د USAID لخوا تمویل شوي د "ثبات پروګرامونو" اغیز ارزونه ترسره کړي. مګر، په مناسبه توګه د دغو پروګرامونو ارزونه اړتیا لري ترڅو دا څرګنده شي چې دغه پروګرامونه کیدای شي څرنګه د دغو موخو په پایلو یا د بدلون نظر باندې اغیز ولري. د بدلون یو ښکاره جوړ شوی نظر د ښکاره لاربنووني او دا چې چیرته او ولې کیدای شي د پام وړ پایلې لاسته راوړل شي، د دواړو د مداخلې او د ارزونې د ډیزاین ملاتړ کوي.[388]

## د سیګار پلټنه

په دغه ربع کې، سیګار د ثبات نوښتونو پروژې د اغیز اندازه کولو لپاره (MISTI) یوه پلټنه پیل کړې. دغه پلټنه به د USAID لخوا د دریم ګړي د نظارت او ارزونې قرارداد وګوري ترڅو د دغې اداري د ثبات پروګرامونو پرمختګ اندازه کړي. د لا نورو معلوماتو لپاره، په 2 برخه کې 28 پاڼه وګورئ.

**کلکوالی:** د USAID لخوا د "خلکو، کورنیو، ټولنو، هیوادونو او سیستمونو د توان په توګه تعریف شوی ترڅو د شوکونو او خپګانونو اغیز کم کړي او بیرته په هغه توګه ښه شي چې سخته خواري کمه کړي او ځانګړې ودې ته آسانتیاوې برابر کړي،" او دا هم وایي چې د "کلکوالي نظر او اندازه کول یې پیچلي دي. "

سرچینه: USAID، "د کلکوالي اجندا: په USAID کې د کلکوالي اندازه کول"،6/2013.

## په کلیدي ساحو کې ثبات (SIKA)

د SIKA هدف د افغان دولت ولسوالی او ولایت په کچه چاروا‌کو سره مرسته ده چې د سیمه ایز وګړو پرمختیا او حکومتولی اندیښنو ته ځواب ووایی، یعني په دولت اعتماد پیدا کول او د ثبات ټینګول.[389] USAID د SIKA څلور پروګرامونه دې ته نومولي چې " [افغان دولت] پراخه کړي، نه د بهرنیو شتون ډیر کړي،" او روښانه کړې یې ده چې SIKA " باید افغان جوړښتونو سره کار وکړي" د افغان کلیو پراختیا او بیاجوړني وزارت (MRRD) سره د ملګرتیا له لارې.[390]

د SIKA ټول څلور پروګرامونه، او MRRD، IDLG او USAID د نومبر په 8 د کاري ګروپ په لمړني رسمي سپارلو کې برخه اخیستې. د SIKA تطبیق کوونکي ملګري به د سپارلو یوه ټولګه جوړه وي؛ MRRD او IDLG په ګډه د دوام یو سند چمتو کړی. د USAID په وینا، د دوام سند مسوده پر وخت باندې لیکل شوی، مګر حقیقي ندی. هغه راتلونکي غونډه ترڅو د SIKA دوام باندې خبرې وکړي د 2015 په جنوری کې پلان شوې. USAID باور لري چې د افغانستان ملګري به د مرستندویانو د نور ملاتړ، پشمول د تجهیزاتو، بیارغوني، او مالي مرستو تمه لري، چې USAID پلان نلري ترڅو دغه برابر کړي.[391]

## د ټولني متحد کولو نوښت (CCI)

د USAID د CCI پروګرامونه، چې په وار سره یو بې ختیځ، سویل او سویل ختیځ پوښنې او بل یې شمال او لویدیز پوښنې هدف لري چې په هغه ساحو کې چې تاوتریخوالي او د ترهګرۍ ګټه پورته کوونې ته حساس دې د USAID په وینا "خوځښت" ورکړې. CCI د سیمه ایزې ټولنې د پراختیا پروژو په څیر نوښتونه پلي کوي چې د دې پروژو په پیژندنه او څار کې د ټولني مشران او حکومتي چاروا‌کي ښکیل وي. CCI د ورزشي غونډو پرمهال د سولې مشاورت کمپاینونه هم ملاتړ کوي.[392]

د 2012 له مارچ څخه، CCI د بادغیس، بلخ، فاریاب، غزني، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، کندهار، خوست، کنړ، سمنګان، ارزګان، او زابل په ولایتونو کې ټول 1,005 فعالیتونه تطبیق کړې دي، چې ارزښت یې 39 میلیونه امریکایي ډالر و.[393]



**انجوني د سپورت** په هغه میدان کې لوبې کوي چې د SIKA لویدیځ لخوا د غزني په ولایت کې جوړ شوی.
(د USAID تصویر)

## بیاپخلاینه او یوځای کېدنه

د متحده ایالاتو اوسنی د ملکي – اردو کاري چوکاټ وايي چې د افغانستان حکومت او یاغیانو ترمنځ سیاسي مصالحه د "حل هغه لار ده چې په افغانستان کې جګړه ختمه شي." [394] ولسمشر غني خپله ژمنه اعلان کړې ترڅو " له سیاسي مخالفینو په ځانګړي توګه له طالبانو سره د افغانانو په ملکیت د سولې پروسه پیل کړي. " مګر د ملګرو ملتونو عمومي منشي ویلي چې طالبانو تر اوسه د چمتووالي نښه نده ښودلې ترڅو د سولې په پروسه کې رسماً بوخت شي. [395] د ملګرو ملتونو د تحلیلي ملاتړ او بندیزونو نظارت ټیم راپور ورکړی چې د طالبانو مشرتوب د مصالحې مخالف دي، که څه هم ځینې برخې یې ملاتړ کوي. سخت دریځه د بیرته نوي نظامي هڅو غوښتنه کوي او دا استدلال کوي چې د وخت په تیریدو سره به د ځو کلونو په ترڅ کې د حکومتي ځواکونو او بنسټونو نظامي وړتیا له منځه تلو کمپاین وشي. په عین وخت کې، عیني کسان د مذاکرې د روغې پلوې کوي، چې هغوی باور لري کیدای شي د طالبانو په ګټه وي. [396]

## بیاپخلاینه

په دسمبر کې، د ملي یووالي حکومت اجراییه ریس عبدالله ویلي پداسې حال کې چې تر اوسه نوي حکومت له یاغیانو سره خبرې ندي کړي، دغه حکومت د سولې د خبرو لپاره لیواله دی. [397]

داسې ښکاري چې په دسمبر کې په پاکستان کې پر یوه ښوونځي باندې د طالبانو له برید څخه وروسته چیرته چې 132 کوچنیان ووژل شول، په دغه ربع کې افغانستان او پاکستان خپلې اړیکې ښې کړې. د پاکستان د اردو او استخباراتو مشر کابل ته ولاړ ترڅو د افغانستان له حکومت او د امریکا په مشرۍ د ایتلاف له اردو څخه د مرستې غوښتنه وکړي ترڅو په ګډه د تروریزم او سخت دریځې مخه ونیسي. د *وال ستریت ژورنال* په وینا، د پاکستان استخباراتو د برید کوونکو روزونکي د افغانستان ننګرهار او کنړ ولایتونو ته تعقیب کړي. ولسمشر غني ژمنه کړې ترڅو کلک ګامونو واخلي او په پاکستان کې د راتلونکو بریدونو مخه ونیسي. [398] د افغانستان د ملي امنیت سلاکار، حنیف اتمر، ویلي چې د دسمبر د ښوونځي له برید څخه وروسته، پاکستان د تروریزم پر وړاندې خپلې هڅې ډیرې کړې. [399]

د *وال ستریت ژورنال* راپور ورکړی چې په دسمبر کې چین د افغان طالبانو د چارواکو د یوه هیت کوربه و. د راپور پر اساس دغه هیت غوښتل ترڅو د افغانستان له حکومت سره د خبرو پرانیستلو امکاناتو باندې خبرې وکړي. [400]

## د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کېدلو پروګرام

د افغانستان د سولې او بیا یوځای کیدلو پروګرام (APRP)، د افغانانو په مشري یوه پروګرام دی ترڅو د ټیټي کچې یاغي جګړه کوونکي او د هغوی قوماندان د افغانستان له مدني ټولنې سره بیرته یوځای کړي، د 12 مرستندویو هیوادونو لخوا د 182.3 میلیونو امریکایي ډالرو برخې اخیستنې سره تمویلیږي. اوه مرستندویه هیوادونه، چې مشري يې جاپان او آلمان کوي، د پروګرام لپاره عملیاتي مرستې برابروي. امریکا د بیرته یوځای کیدلو اړوند د ټولنې بیارغونې هڅو لپاره مرسته برابروي چې د نړیوال بانک لخوا اداره کیږي. د لا نورو معلوماتو لپاره، *د امریکا کانګرس* د 2014 د *اکتوبر د ربع راپور* دغه 149–151 پاڼي وګورئ.

په دغه ربع کې نه د امریکا دفاع وزارت او نه هم د امریکا بهرنیو چارو وزارت د APRP لپاره نوي معلومات ندي ورکړي. د هغو وروستیو شمیرو پر اساس چې سیګار ته رسیدلي، د 2014 تر سپتمبر پورې، 8,890 کسان یوځای شوي دي.[401]

## د فساد ضد او قانون حاکمیت

### د پروژې لنډیز

متحده ایالاتو د بیلابیلو میکانیزمونو له لارې د رسمي او غیررسمي قضایي سیستمونو لپاره مرستې چمتو کړيدي. په دغو کې د امریکا بهرنیو چارو وزارت د قضا سکتور ملاتړ پروګرام (JSSP)، او د قضا روزنه سپارلو پروګرام (JTTP) شامل دي. د قانون حاکمیت او د فساد پر وړاندې دغه او نور پروګرامونه په دغه جدول 3.16 کې ښودل شوي.

USAID د افغانستان لپاره د فساد پر وړاندې یو بیل پروګرام جوړوي. د USAID په وینا، دغه پروګرام به هڅه وکړي ترڅو د افغانستان حکومت په ادارو کې رونوالی او حساب ورکول زیات کړي، پداسې حال کې چې د مدني ټولنې او خصوصي سکتور وړتیا ته به هم وده ورکوي ترڅو د - اړوند مسلو نظارت او څیړنه او د فساد پر وړاندې مبارزه وکړي.[402] دغه پروګرام په اوس وخت کې د چمتووالي د غوښتنې په لمړني پړاو کې دی.[403]

د بهرنیو چارو وزارت JSSP موخو کې د قضیې مدیریت سیستم (CMS) رامنځته کول شامل دي چې د افغانستان په اوږدو کې قضیې تعقیب کړي او د وزارت د چارواکو ظرفیت او اداري مهارتونه لوړ کړي.[404]

په اکتوبر کې، JSSP د جنايي اجراتو د قانون د کاري ګروپ (CPCWG) لپاره چې د جنایي اجراتو د نوي قانون (CPC) د لارښوونو او تطبیق نوي مسودې يې جوړوله آسانتیا برابره کړې.

> **د سیګار پلټنه**
>
> سیګار په افغانستان کې د متحده ایالاتو حکومت د قانون حاکمیت پرمختګ او مرستې د هڅو یوه روانه پلټنه لري. سیګار پلان لري چې (1) په افغانستان کې د متحده ایالاتو د قانون حاکمیت رامنځته کولو پروګرامونه یا نوښتونه وپیژني؛ (2) هغه پرمختګ وارزوي چې دې پروګرامونو یا نوښتونو کړی؛ (3) د هغه ننګونو پیژندنه چې متحده ایالاتو حکومت د قانون حاکمیت اهدافو لاسته راوړو پرمهال ورسره مخ شوی او د پراخوالي حد يې چې دا ننګوني ورته په نښه شوي.

جدول 3.16

**د امریکا بهرنیو چارو وزارت د قانون حاکمیت او فساد پر وړاندې پروګرام**

| د پروژې موضوع | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 12/15/2014 پورې زیاتیدونکي توزیعات |
|---|---|---|---|---|
| د قضا سیستم ملاتړ پروګرام ( JSSP II) | 6/16/2010 | 12/31/2014 | $196,969,451 | $169,947,752 |
| د اصلاح سیستم ملاتړ پروګرام (CSSP II) | 4/24/2010 | 12/31/2014 | 226,780,837 | 195,492,149 |
| د قضایی روزنې لیږد پروګرام (JTTP) | 1/2/2013 | 9/30/2015 | 26,500,000 | 26,500,000 |

سرچینه: د سیګار معلوماتو غوښتنې لپاره د امریکا بهرنیو چارو وزارت ځواب، 12/29/2014.

CPCWG د ستري محکمي، د لوی څارنوال د دفتر (AGO)، د نظارت او فساد پر وړاندې د عالي اداري (HOO)، او د افغانستان د کورنيو چارو وزارت ګډه هڅه ده. CPCWG د 26 او 27 جنجالي مادو په اړه چې د متهم په اړه د خپلوانو د شاهدت ورکولو باندي محدوديتونه شامل و، لاربنووني وضع کړي. دغسي محدوديتونه کيدای شي د کورنی تاوتريخوالي محاکمي ډيري کمزوري کړي، ځکه چې په دغسي قضيو کي خپلوان يووازيني شاهدان دي. د JSSP دوه وړانديزونه د CPCWG لخوا منل شوي: (1) کيدای شي محکمه هغه خپلوان وغواړي چې قرباني شوی، شکايت لري، يا د جرم په اړه معلومات لري ترڅو شهادت ورکړي، مګر که د جنسي تيري قرباني نه غواړي شهادت ورکړي استثنا شتون لري؛ او (2) که شاهد يا قرباني له شهادت ورکولو څخه ويره لري يا ورته خطر وي د افغانستان حکومت بايد د شاهد لپاره خونديتوب برابر کړي.[405]

د امريکا بهرنيو چارو وزارت JTTP په ولايتونو کي د قضا سکتور چارواکو لپاره د جنايي عدالت په بيلابيلو برخو کي روزنه برابروي.[406] د JTTP موخه دا ده ترڅو د قضا په سکتور کي د افغان وګړو ډاډ زيات کړي او دوي پايلي لاسته راوړي: (1) د افغانستان د قضا سکتور ظرفيت او وړتيا ډيره کړي ترڅو د افغانستان د قوانينو پر اساس عدات پلي کړي او (2) دا وګوري چې د افغانستان د عدالت بنسټونه دا توان لري ترڅو د روزنه پروګرامونو دوامداره مديريت وکړي.[407]

په نومبر کي JTTP د دغه پروګرام منځ مهاله ارزونه خپره کړه. ارزونکو وموندل چې JTTP د لمرنی پايلي په اړه تر ډيري کچي بريالی ده او د افغانستان ملګري استازي د JTTP د روزنه له کيفيت څخه عموماً خوشهاله دي.[408] ارزونکي د سيګار د 2014 د جنوری د پلټني له هغي نيوکي سره موافق و چې د JTTP د فعاليتونو ځيني اړوندي اندازي د پروګرام تر اوږد مهاله اندازو يووازي پر لنډ مهاله پايلو باندي کار کوي.[409]

ارزوني موندلي چې JTTP د نظارت او ارزوني ښه طريقه جوړه کړې؛ مګر، دا يو ستونزمن کار دی ترڅو د افغانستان د قضا په سکتور کي د JTTP د توليزي پايلو ارزونه ترسره شي.[410] د ارزونکو په وينا، "د [JTTP] د روزنه او استادی ارزوني لپاره يووازينی حقيقي لار، او دا چې آيا د مستقيم ګټه اخيستونو چلند او کاري اړوند چلندونه ته بدلون ورکړی، د دي لپاره بايد د قضا سکتور د فعاليت نظارت کولو لپاره لاري پيدا شي." پداسي حال کي چې د JTTP کارکوونکي له ځينو محکمو څخه ليدنه کوي، دغه غير منظمي ليدني هغه هر اړخيز نظر نه برابروي چې د قضا سکتور څرنګه کار کوي. د ارزوني په وينا، JTTP پريکړه کړي ترڅو په سيستماتيکه توګه له محکمو څخه ليدنه ونکړي.[411] د راپور پايله دا وه چې د قضا سيستم نظارت داسي موضوع نده چې کيدای شي JTTP يې پخپله ترسره کړي؛ مګر JTTP بايد دا په پام کي ونيسي چې آيا او څرنګه کيدای شي د پروژې د تطبيق د پای په برخه کي د نظارت يوه برخه جوړه شي.[412]

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د امريکا بهرنيو چارو وزارت له ډيرو کمو وسيلو څخه کار اخلي ترڅو په ټول افغانستان کي د قانون حاکميت ارزونه وکړي. د امريکا بهرنيو چارو وزارت به هرو دوو اونيو کي په ټول افغانستان کي د روزنه د کورسونو په اړه د JTTP راپورونه لاسته راوړي. د امريکا بهرنيو چارو وزارت په وينا، په دغو راپورونه کي په دوامداره توګه د هغو قضيو په اړه جزييات شامل وي چې په اوس وخت کي د JTTP زده کوونکي ورباندي کار کوي. د امريکا بهرنيو چارو وزارت د JSSP لخوا د قضيو د مديريت جوړ شوي سيستم څخه هم کار اخلي، چې په اوس وخت کي په 18 ولايتونو کي کار کوي او د 104,000 قضيو معلومات يې ثبت کړي دي.[413]

## ستره محکمه او رسمي قضايي سکتور

د اکتوبر په پای کې، د افغانستان د سترې محکمې قاضي القضات، عبدالسلام عظيمي استعفا وکړه.[414] په دغه ربع کې د کابل بانک د استيناف د محکمې د پريکړو له ملاتړ څخه پرته[415] د سترې محکمې لخوا کومه د پام وړ پريکړې نه وه.[416] د کابل بانک د قضيې د لا نورو معلوماتو په اړه د دغه راپور دغه پاڼې 156–157 وګورئ.

د JTTP او CMS پر راپورونو برسيره، د امريکا بهرنيو چارو وزارت په ملي کچه له سروې ګانو څخه هم کار اخلي ترڅو په ټول افغانستان کې د قانون حاکميت حالت ارزونه وکړي. يوه سروې د آسيا بنسټ د *افغانستان د خلکو سروې* ده.[417] د 2014 د سروې په وينا، %19.1 ځواب ورکوونکو ويلي چې هغوی په تيرو دوو کلونو کې يوه شخړه يا رسمي قضيه درلوده، چې هغوی ونشو کولای پخپله يې حل کړي ځکه يې د حلولو لپاره د حقوقو اداري يا د سيمې د شورا/ جرګې ته وړې. د هغو کسانو په منځ کې چې قضيه يې وړاندې وړې، ډېرو (%80.7) ويلي چې هغوی يې له پايلې څخه تر يوې کچې يا ډېر راضي و. د سروې په وينا، د شخړو غير رسمي بنسټونه، سيمه ايزو شوراګانو يا جرګو ته د عدالت تر رسمي سکتور په ډېر مثبت نظر کتل کيږي.[418] پردې برسيره، له نيمې څخه زيات (%54.7) افغان ځواب ورکوونکو چې په 2014 کې يې د حکومت له محاکمو سره اړيکې نيولې دي ويلي چې هغوی بايد رشوت يا ډالۍ ورکړې وای يا کومه مرسته يې کړې وای.[419]

د نړۍ د عدالت پروژه هم د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د کلني راپورونو لپاره په ټول هيواد کې د قضا سيستم په اړه هر اړخيزه سروې ترسره کوي.[420] د نړۍ د عدالت پروژې د 2014 د قانونو حاکميت د لست په وينا، افغانستان په ټوله نړۍ کې د قانونو حاکميت په لست کې له پای څخه دويم راغلی. د افغانستان په لوړه درجه کې د حکومت د ځواک د محدوديتونو او پرانيستي حکومت شامل و، پداسې حال کې چې ټيټه درجه يې د فساد او ملکي عدالت په اړه و.[421]

## افغان اصلاحي سيستم

د امريکا بهرنيو چارو وزارت په وينا، د افغانستان په بنديخانو کې د بنديانو نفوس چې د بنديخانو او توقيف مرکزونو د عمومي رياست (GDPDC) لخوا اداره کيږي، په تيرو پنځو کلونو کې په هر کال کې %16.7 زيات شوي دي. د 2014 د اکتوبر تر 27 پورې، GDPDC 28,307 انفرادي کسان بندي کړي و. د 2014 د اکتوبر تر 20 پورې، د عدليې وزارت د کوچنيانو د اصلاح او روزنې رياست (JRD) 1,079 کوچنيان بندي کړي و. د دغو بنديانو په ټوله شميره کې هغه بنديان شامل ندي چې د افغانستان حکومت د نورو ادارو لخوا ساتل کيږي، ځکه چې د امريکا بهرنيو چارو وزارت د نړيوال مخدره توکو او قانون پلي کولو چارو بيورو (INL) د نورو ادارو معلوماتو ته لاس رسی نلري.[422]

که څه هم د امريکا بهرنيو چارو وزارت لخوا تمويل شوي د بنديخانو ودانيو په بنديخانو نوي بسترونه اضافه کړي او د ولسمشرۍ د بښنې فرمانونو هم تر ډيرې کچې د بنديخانو نفوس کم کړی، خو د GDPDC په تاسيساتو کې ګڼه ګونه دومداره، ډېره، او هر اړخيزه ستونزه ده. لکه څرنګه چې د سره صليب نړيوالې کميټې تشريح کړې د هر بندي لپاره بايد لږ تر لږه 3.4 متر مربع ځای شتون ولري، خو د 2014 د نومبر تر 20 پورې، په ولايتونو کې د نارينو ټول نفوس د ظرفيت %290 و. د ولايتي زندان ټولټال ښځينه بنديان د ICRC وړانديز شوي ظرفيت تر %123 پورې و.

د GDPDC لخوا په ولسواليو کې د بنديخانو او د JRD د کوچنيانو د سمون مرکزونو د ظرفيت په اړه معلومات شتون نلري. په هرصورت، د INL مشاورينو له خولې ويناوې، چې لدغه ودانيو يې ليدنه ترسره کړې ښيي چې له حد ډېروالی يا ګڼه ګونه په ډيرو ولايتونو کې اساسي ستونزه ده.[423]

**حقوق:** د رسمي عدالت سيستم برخه، او د حکومت محکمې، پداسې حال کې چې شوراګانې او جرګې د غير رسمي عدالت سيستم برخه ده. د حقوقو رياست د مدني قضيو مسوليت لري، لکه د طلاق يا د ځمکو حقونو شخړې، او دا اداره په هر ولايت او ډېرو ولسواليو کې شتون لري.

**د حکومت محکمې:** د جنايي او نورو قضيو مسوليت لري او تر ډيرې کچې د ولايتونو په مرکزونو کې شتون لري.

**شوراګانې:** د قومونو د مشرانو سيمه ايزې مشورتي شوراګانې يا غونډې، مشران يوځای کيږي ترڅو په ټولنيزو مسلو، لکه د ځای يا ښوونځي ودانی موقعيت په اړه خبرې وکړي او ټوليزه پريکړې وکړي.

**جرګې:** د شخړو د حل ميکانيزمونه چيرته چې د کلي مشران د انفرادي کسانو شخړې يا د کورنيو ترمنځ يا په کورنيو کې دننه جنجالونه اوري.

په ځينو قضيو کې، افغانان لدغو څخه تر يوې له ډيرو سره مشوره کوي. د بيلګې په توګه، که د ځمکې په شخړه کې د دواړخواو ترمنځ تاوتريخوالی رامنځ ته شي، کيدای شي د سيمې د حقوقو اداره او د حکومت محکمه دواړه ونډه واخلي. که په ځمکه کې د عامه لاس رسی سړک يا د ټولنې ځای شتون ولري، کيدای شي د شخړې په حلولو کې سيمه ايزه شورا هم ونډه واخلي.

سرچينه: د آسيا بنسټ سروې، ***د افغانستان د خلکو سروې***، 2014، p. 96.

د 2014 په اکتوبر کې د بندیانو لخوا د دریو لویو نه خوړلو اعتصابونو راپور ورکړی شوی: د مخدره توکو پروړاندې مبارزې عدلي مرکز کې 130 بندیان؛ نږدې 1,000 بندیان په هرات کې؛ او 100 بندیان په بامیان کې. بندیانو د محکمې د وروستی پریکړې په اړه ناخوښي ښودلې، ترڅو خپل ګرځنده تیلفونونه باید تسلیم کړي، او دا چې هغوی ونتوانیدل ترڅو د ولسمشرۍ له فرمان څخه د بند مودې کمولو لپاره ګټه واخلي، ځکه نو د نه خوړلو اعتصاب یې وکړ.[424]

## د فسا ضد

د کابل بانک د تقلب د توطیې د 935 میلیونو امریکایي ډالرو د محکمې د درول شوې له قضیې پرته، په ټول ربع کې د افغانستان د فساد پر وړاندې هڅو کوم مهم پرمختګ ښودلی ندی. د 2014 د اکتوبر تر 1، ولسمشر غني یو فرمان صادر کړی او سترې محکمې ته یې لارښوونه وکړه ترڅو د کابل بانک قضیه تعقیب کړي او د لوی څارنوال دفتر به له محکمو سره مرسته کوي او ټول هغه مجرمین چې د کابل بانک په کړکیچ کې لاس لري محاکمه کړي.[425] د امریکا د عدلیې وزارت په وینا، د 2015 تر جنورۍ پورې، دا لا وخته و ترڅو وویل شي چې که د کابل بانک قضیه د افغانستان حکومت په اراده کې د اصلي بدلون استازیتوب کوي ترڅو له مفسدو کسانو څخه حساب واخلي.[426]

د 2014 په اکتوبر کې، غني ژمنه وکړه ترڅو د لوی څارنوال دفتر اصلاح کړي. "خلک باید په دغه دفتر اعتماد ولري،" هغه د ټویټر په یوه پیام کې لیکلي.[427] د دسمبر په پیل کې، لوی څارنوال محمد اسحق الکو د مخه ښې یوه غونډه جوړه کړې. مګر، کله چې هغه ومونډل ځای ناستی په لست کې نه و، هغه په دفتر کې پاته شو.[428]

د نومبر په 11 د افغانستان د استیناف یوې محکمې د دوو پخواني لوړ پوړو چارواکو او نهو ټیټ پوړو کارکوونکو د کابل بانک د 2010 د له منځه تللو د جرمونو په اړوند د محاکمې له حکم څخه ملاتړ وکړ. د کابل بانک دوه چارواکي هر یو د دریو جرمونو په تور بندی شول او هغوی ته امر وشو ترڅو 10 کلونو تنفیظي بند تیر کړي. پردې برسیره، یو چارواکی 513 میلیونه امریکایي ډالر او یو بل 278 میلیونه امریکایي ډالر جریمه شو. د کابل بانک نهو نورو کارکوونکو کمې جریمې او بند مودې لاسته راوړې. پردې برسیره، د خبرونو د راپورونو پر اساس، محکمې امر وکړ ترڅو د 19 نورو انفرادي کسانو او شرکتونو چې د پور په تقلبي طریقه کې یې لاس درلود او د کابل بانک د له منځه تلو سبب شوي تر هغه وخته شتمنی ضبط شي، ترڅو خپل پورونه تادیه کړي.[429]

د 2014 د دسمبر په 4، د سترې محکمې عالي محکمې او د عامه امنیت محکمې د استیناف محکمې له حکم څخه ملاتړ وکړ. د افغانستان د لوی څارنوال دفتر راپور ورکړی چې دا دفتر به د سترې محکمې حکم تطبیق کړي او په اکتوبر کې د قضیې له پرانستل کیدو د دسمبر تر پیل پورې یې 12 میلیونه امریکایي ډالر بیرته لاسته راوړي.[430] د کابل بانک د قضیې د لا نورو معلوماتو په اړه د دغه راپور دغه 156–157 پاڼي وګورئ.

په دسمبر کې *نیویارک ټایمز* راپور ورکړی چې د امریکا د مهمو قاچاق کوونکو په لست کې د تریاکو یوه مهم قاچاق کوونکي، حاجي لال جان اسحق زي، په رشوت سره له بندیخانې وتلی. د اسحق زي د 20 کلونو د بند موده په تیر کې د فساد او مخدره توکو په مبارزه کې د امریکا حکومت د چارواکو لخوا د پرمختګ د نښې په توګه ځرګنده شوې وه.[431]

د آسيا بنسټ په وينا، فساد د افغانانو لپاره يوه ډيره مهمه ستونزه پاته ده. په 2014 کي، 62.4% افغانانو ويلي چي فساد د هغوی په ورځني ژوند کي ډيره لويه ستونزه ده، او دا له 2013 څخه کله چي 55.7% ويلي و چي فساد يوه لويه ستونزه ده.[432] کله چي له هغوی څخه پوښتنه وشوه چي هغوی د بيلابيلو ادارو يوه لست يا وضعيت ته څومره رشوت ورکړی، ډالی ورکړي، يا کومه مرسته کړي، 57.6% افغانانو ويلي چي هغوی په تير کال کي په خپلو اړيکو کي لږ تر لږه له يوي اداري سره يا يوه وضعيت کي له فساد سره مخامخ شوي. د فساد سره د مخامخ کيدلو ټوليزه کچه په 2008 کي 50.6% افغانان او 2011 کي 65.5% و. ډيرېو ويلي چي د قضا او محکمو چارواکو او د ښاروالیو او ولسواليو چارواکي هغه چارواکي و چي د ډير رشوت غوښتنه يي کړي.[433]

د ټولو راپورونو پر اساس، د امريکا د عدليي وزارت په وينا، د افغانستان مرکزي حکومت له خپلوانو له ملاتړ، واسطو، رشوت، اختلاص او د عامه او خصوصي شتمنی له ناوړي ګټي اخيستني او بل ځای ته وړلو، اغيز څخه کار اخيستني، له دفتر څخه ناوړي ګټي اخيستني، غيرقانوني شتمن کيدلو، د جرمي پيسو مينځلو، د فساد د جرم پټولو، او د عدالت مخه نيولو څخه ډير اغيزمن دی. په حقيقت کي د افغان مرکزي دولت يا ولايت او ولسواليو په کچه دولت هيڅ يوه برخه داسي نده چي د عامه فساد له امله ضعيف شوي نه وي يا اغيز يي پري نه وي کړی.[434]

## د افغانستان د لوی څارنوال دفتر

د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د AGO تخنيکي ظرفيت يا مؤثريت کي د پام وړ بدلونونه ندي رامنځته شوي. د افغانستان لوی څارنوال دفتر د امريکا له حکومت څخه وړانديزونه رد کړل ترڅو د دغه دفتر څارنوالان په اصلي تحقيقي طريقو کي وروزي. د سمبر تر 29 پوري، د امريکا بهرنيو چارو وزارت راپور ورکوي چي د ولسمشر غني د نوي حکومت راپيدېخوا د افغانستان د لوی څارنوال په دفتر کي د کارکوونکو کوم بدلون نه و.[435] د امريکا عدليي وزارت په وينا، د افغانستان حکومت د فساد پر وړاندي د هڅو لويه ننګونه دا ده چي د افغانستان لوی څارنوال دفتر ليواله ندی ترڅو د فساد پيچلي قضيي تعقيب کړي.[436]

د امريکا بهرنيو چارو وزارت په وينا، د افغانستان د لوی څارنولادفتر د فساد پر وړاندي اداره (ACU) کولای شي د ټيټي کچي فساد قضيي محاکمه کړي، مګر د سياسي ارادي نشتوالي له کبله د لوړي کچي فساد قضيو په محاکمه کولو کي له ستونزو سره مخامخ دی. ACU د امريکا بهرنيو چارو او عدليي وزارت له بوختيا سره ليواله نه و او د مهمو جرمونو د کاري ځواک (MCTF) لخوا راجع شوي ډيري قضيي پټي ساتي. د متحده ايالاتو سيمه ايزه محکمه د کولمبيا په سيمه کي کابل سفارت عدليه آتشه خپله مرسته د داخلي کنټرول او نظارت واحد او د مالي شخړي حلولو کميټي باندي متمرکز کړي چيري چي پراخه قبوليت شتون لري.[437]

MCTF د افغانستان د لوی څارنوال دفتر د کورني کنټرول او نظارت اداري تحقيقي اداره ده.[438] د امريکا بهرنيو چارو وزارت په وينا، MCTF اوس هم تر ډيري کچي د تحقيق يوه ځواکمنه اداره ده، مګر لدي کبله چي ACU د فساد قضيي نه تعقيبوي، د دغي اداري د پرمختګ مخه نيسي.[439] په دغه ربع کي، د ټينګ ملاتړ ماموريت (RSM) هغه معلومات محرم کړي چي سيګار د MCTF په اړه د امريکا دفاع وزارت د نظر لپاره ورڅخه کار اخلي. هغه پوښتني چي سيګار د دغو هڅو په اړه کړي کيدای شي د دغه راپور په E ضميمه کي پيدا شي. سيګار د MCTF په اړه د امريکا دفاع وزارت د نظر په اړه په محرمه ضميمه کي راپور ورکوي.

## د فساد پر وړاندې د مبارزې د نظارت او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه (MEC)

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د فساد پرووړاندې مبارزې د نظارت او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه (MEC) د ور اداري او تخنیکي ظرفیت څرګندولو ته دوام ورکوي. په هرصورت، د بهرنیو چارو وزارت یادونه کوي چې MEC واک نلري د ضعیف یا مفسد کړنو روښانه کولو پرته نور ډیر څه وکړي.[440]

په دغه ربع کې، MEC د ځمکو د غصب او د درملو اړوند مسلو په اړه راپورونه خپاره کړي.

د MEC په وینا، په تیرو 10 کلونو کې له 240,000 څخه ډیره هکتاره ځمکه غصب شوې ده. که څه هم دغه تاریخي ریښې لري، مګر پراخ فساد، ناامني، د ځمکو د اداري د یوه متحد سیستم نشتون، د قانون کمزوری پلي کول، د جګړه مارانو پراخ شتون، د ځمکو د ثبت او سروې نشتون، او د مناسبو قانوني احکامو نشتون د دغې ستونزې په پراخوالي کې مهمه ونډه لوبولې ده. MEC دا هم موندلې چې د ټولو ځمکو یوازې 34% سروې او ثبت شوې ده. د ځمکو سروې او ثبت د ځمکو د غصب او د غاصبینو په پیژندنه کې ډیر اساسي ونډه لري.[441]

MEC موندلې چې د درملو د وارداتو په پروسه کې د وارداتو لوړه کچه او د نظارت او کشف کم ظرفیت د فساد لپاره سهولتونه برابروي. د عامې روغتیا وزارت د فارمسی د ریاست او وارد کوونکو اتحادیې په وینا، د افغانستان د درملو په وارد شوي مارکیت کې لږ تر لږه 50% غیر قانوني وارد شوي محصولات دي. د MEC په وینا، د وارداتو ټوله پروسه، د فارمسی د بهرنیو شرکتونو له ثبت څخه په لابراتوارونو کې د کیفیت کنټرول پورې، د فساد پر وړاندې ډیره کمزورې ده. د غیرقانوني درملو په وارداتو کې بوختیا ډیرې مالي ګټې شته. دا کار د ډیر قاچاق سبب شوی او یو صنعت یې منځ ته راوړی چې افغانستان ته د ټیټ کیفیت د درملو تولید او راوړلو لپاره کار کوي.[442]

## امنیتي خدمات

د امریکا دفاع وزارت په وینا، د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونه دواړه د روڼوالي او نظارت تعقیبولو لپاره اراده نلري او پایله یې په دواړو بنسټونو کې د حساب ورکولو نشتون دی.[443] په دغه ربع کې RSM هغه معلومات محرم کړي چې سیګار د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو په وزارتونو کې د فساد د راپور ورکولو لپاره ورڅخه کار اخیست. هغه پوښتنې چې د دغې مسلې په اړه سیګار راپورته کړي کیدای شي د دغه راپور په E ضمیمه کې وموندل شي. سیګار د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو په وزارتونو کې د فساد په اړه په محرمه ضمیمه کې راپور ورکوي.

## د دفاع وزارت

د امریکا دفاع وزار ت په وینا، په دغه ربع کې د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د اغیزمنې روڼوالي او حساب ورکولو پالیسیو او پروسو په اړه کم پرمختګ کړی. پداسې حال کې چې د روڼوالي، حساب ورکولو، او نظارت پروسې شتون لري، د دفاع وزارت د لوړ پوړو چارواکو په منځ کې د ډیر فساد کچې له کبله دغه پروسې نه پلي کیږي.[444]

د MOD عمومي پلټونکی (IG) د اړوند مناسب روزل شوي پرسونل په شتون کې ښې سرچینې لري. په هرصورت، د MOD IG اساسا د هغه سیاسي شبکې غړیو خونديی کولو باندې تمرکز کړی او د هغه زړو غړو لخوا جنايي چلند تورونو د تحقیقاتو مخه نیسي.[445]
د عمومي کارمندانو GS)IG) نهاد په ورته ډول کارمندان لري، او جوړښت کې یوځه پرمختګونه او د GS IG روزنه پلان شوي چې راتلونکی مؤثریت یې وده ومومي. داسي ملاحظه کیږي چې GS IG د فساد قضیو په رابرسیره کولو او راپور کولو کې مؤثر وي، مګر د GS IG د فساد سره مبارزې له معنی ډکې هڅو مخه د MOD مشرتابه لخوا نیول کیږي. د امریکا دفاع وزارت په وینا، GS IG د کابل په بیلابیلو قطعو کې د فساد ډیر ځانګړي تحقیقونه ترسره کړي دي او د افغانستان ملي اردو د قول اردوګانو د تفتیش لپاره هرکال د تفتیش یو پلان تعقیبوي. مګر کله چې تحقیقات جنایي شواهد رابرسیره او MOD ته د جنایي قضیې په حیث عدلي تعقیب لپاره راوړل شي، د MOD مشرتابه یې د تعقیب مخه ونیسي.[446]
که څه هم د افغانستان ملي اردو له شپږو قول اردوګانو څخه هر یوه د روڼوالي او حساب ورکولو په کمیټو (TACs) کې غړي ګمارلي دي، د TAC ټول غړي د قول اردوګانو د کارکوونکو غړي دي (مشري یې د قول اردو د قوماندان معاون کوي)، او د قول اردو د قوماندان په اړه هیڅ کله هم د خرابو معلومات راپور نه ورکوي. د TAC د نه خپلواکۍ له کبله، GS IG د TAC د نظر په اړه ارزونه کوي چې بې اغیزه دی.[447]

**د کورنیو چارو وزارت**
د DOD په وینا، په MOI کې د فساد په نښه کولو لپاره د MOI د فساد پروړاندې مبارزې نوښتونه کافي ندي. د کورنیو چارو وزیر د فساد پروړاندې مبارزې کار سره خپل ملاتړ څرګند کړی، مګر عموما دا اند شتون لري چې ترهغه وخت پورې اوسنی MOI IG پرځای وي محدود پرمختګ به پدې برخه کې وشي. د ترینګړي سهوې بلاک تیري کونکو ته تکثیر شوي متناسب جزا پلي کولو نه شتون پرځای پاتې کوي، دواړه کوچني او لوی، په مشرتابه کې د مورال نه شتون، او یو داسې دولتي سیستم چې د ملګرتیا او خپلوي پالني ائتلافونو څخه ډک وي د ډیری کلونو په اوږدو کې رامنځته شوی.[448]

# بشری حقوق

## کډوال او په هیواد کې دننه بیځایه کیدل

د ملګرو ملتونو د کډوالو لپاره عالي کمیشنری (UNHCR) د 2014 د دسمبر تر 17 پورې اټکل کړی، چې پدغه تیر جون کې په ګاونډي شمالي وزیرستان کې د پاکستان اردو د ډیرو عملیاتونو له کبله له 291,800 څخه زیات خلک له پاکستان څخه د افغانستان خوست او پکتیکا ولایتونو ته راغلي دي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت په وینا، ثبت او ارزونه روانه ده ترڅو د ټول نفوس شمیره څرګنده شي او اړتیاو ارزونه و شي.[449]

د امریکا بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې د کډوال په خوځښت نور ډیر زیاتوالی یا کموالی نشته او په دغه ربع کې په پاکستان او ایران کې هم نوي پرمختګونه نشته چې په افغان کډوالو اغیز ولري. UNHCR په اکتوبر او نومبر کې 2,421 افغان کډول ثبت کړي چې بیرته راغلي، دا د تیر ربع په پرتله چې 4,447 بیرته راغلي و. د 2014 په اوو لومړنیو میاشتو کې، د بیرته راغلو انفرادي کسانو شمیره 16,266 وه چې دا د 2013 د ورته وخت په پرتله چې 37,730 و 57% کم دي. [450]

په دسمبر کې د پاکستان په پیښور کې په ښوونځي باندې د افغان اصلیت پښتنو لخوا له برید څخه وروسته، چې د اردو په یوه ښوونځي کې یې 152 زده کوونکي او ښوونکي ووژل، د خیبر پښتونخوا والي غوښتنه وکړه چې هغه افغانان کډوال چې په دغه سیمه کې پاته دي د یوې میاشتې په ترڅ کې اړ شي ترڅو افغانستان ته بیرته ولاړ شي. [451] مګر د پاکستان فیدرال حکومت ویلي چې داسي کوم شواهد نشته چې افغان ثبت شوي کډوال په تروریزم کې لاس ولري او ثبت شوي کډوال به د هغوی ارادې پر وړاندې بیرته و نه لیږل شي. نږدې 1.5 میلیونه ثبت شوي افغان کډوال او نږدې 1 میلیونه نه ثبت شوي افغان کډوال په پاکستان کې ژوند کوي. [452]

د دسمبر تر 11 پورې، UNHCR په افغانستان له جګړې څخه اغیزمن شوي ټول 782,162 کورني بې ځایه شوي کسان (IDPs) ثبت کړي، او دا د سپتمبر تر 30 پورې په پرتله چې 612,148 و.

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د داخلي بېځایه شویو حقیقي شمیر کېدی شي خورا لوړ وي او تاییدول یې مشکل دي. UNHCR راپور ورکړی چې د IDPs لپاره د موخې 10 لوړ ولایتونه غزني، وردک، غور، هلمند، کنډز، بادغیس، کندهار، فراه، ننګرهار، او لوګر و. اصلي ولایتونه عین ولایتونه و چیرې چې بېځایه شوي ورته تللي. د بېځایه شویو ډیری یې ناامن کلیوال سیمې او قصبې پریښې او د خوندیتوب او دولتي خدماتو ترلاسه کولو لپاره د هماغه ولایت لوی قصبو او ښارونو ته کډن شوي. [453]

د امریکا بهرنیو چارو وزارت په وینا، د افغانستان د نوي حکومت د کابینې منځ ته راتلو له کبله د 2014 فبرورۍ د افغانستان IDP ملي پالیسی تطبیق ځنډیدلی دی. د امریکا بهرنیو چارو وزارت تر هغه وخته چې نوي وزیرانو په دندو پیل نه وي کړی، د افغانستان د کډوالو او بیرته ستنیدني وزارت او د افغانستان د حوادثو د مدیریت د ملي اداري لخوا د کوم نوښت پشمول د IDP د پالیسی عملي تطبیق تمه نلري. [454]

## جندر

په دسمبر کې، سیګار د افغانستان میرمنو لپاره د امریکا مرستو په اړه د پلټنې یو هر اړخیز راپور خپور کړ. که څه هم د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو او USAID له 2011 تر 2013 مالي کال پورې د افغانستان د میرمنو په درېځ کې د لاسته راوړنو او ښه والي راپور ورکړی، سیګار موندلي چې کوم هر اړخیزه ارزونه شتون نلري ترڅو دا تایید شي چې دغه لاسته راوړني د امریکا مشخصو هڅو مستقیمي پایلي وې. پردې برسیره، که څه هم اداري د پروګرام او پروژې په کچه د خپلو ډیریو انفرادي هڅو نظارت او ارزونه ترسره کوي، مګر هیڅ یوې اداري هم د اداري د ارزونې په کچه دغه معلومات ندي تنظیم کړي ترڅو دا وښيي چې دغو هڅو د افغانستان د میرمنو پر ژوند باندې اغیز کړی دی. د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو او USAID یوځای راپور ورکړی چې لږ تر لږه په 652 پروژو، پروګرامونو او نوښتونو کې یې 64.8 میلیونه امریکایي ډالر لګولي ترڅو له 2011 څخه تر 2013 مالي کال پورې د افغان میرمنو ملاتړ وکړي. [455]

سیګار دا هم موندلي چې د افغان میرمنو ګټو لپاره د ادارو لخوا د پروژو او پروګرامونو مسولیت غیرمنظم و. د بېلګې په توګه، د امریکا دفاع وزارت یو شمیر قوماندانی او د امریکا بهرنیو چارو وزارت یو شمیر اداري او دفترونه د افغانستان د میرنو په اړه د دغو وزارتونو د هڅو د تطبیق او تعقیب مسولیت لري. په پایله کې، د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو هیڅ یوه انفرادي دفتر نشو کولای ترڅو د افغانستان میرمنو لپاره د خپلو وزارتونو د هڅو پوره کچه وښیي. پردې برسیره، د USAID چارواکو سیګار ته ویلي چې که څه هم د جندر مساوات او د میرمنو ځواکمن کولو پالیسی موخې د هغوی په ټولو پروګرامونو کې ځای لري، مګر دا ممکنه نه وه ترڅو د اداري د مالي مدیریت په سیستم کې د جندر مسلو پر اساس مرستې تعقیب شي، او د هغوی تطبیق کوونکي ملګري هم د جندر مسلو پر اساس مرستې نه بیلوي. [456]

د USAID په وینا، "په افغانستان کې د جندر د اړیکو په اړه هغوی ته ډېر معلومات راځي. " په هرکال کې، د USAID کاري اداري د جندر مسلو په اړه راپور ورکوي. USAID دا راپورونه هم ورکړي چې دې اداري د جندر تحلیل مشخص 47 پروګرامونه هم تطبیق کړي ترڅو د پروژې ډیزاین ښه شي. USAID دا پلان هم لري ترڅو په لویې کچې دوې سروې ګانې هم ترسره کړي: د دیموګرافي او روغتیا سروې او اساس ته وده ورکړي ترڅو وکولای شي په ټول افغانستان کې د کورنیو په کچه ارښتناکه معلومات برابر کړي. USAID د ویډیو له لارې هم غونډې او خبري ترسره کوي ترڅو په ښه توګه د پروګرامونو غونډو او روزنو نظارت سره مرسته وکړي. [457]

د پلټنې په وینا، د ټولو دریو ادارو چارواکو راپور ورکړی چې که څه هم د پروژو، پروګرامونو او نوښتونو شمیره چې په مشخصه توګه د افغانستان میرمنو د ګټو لپاره ده له 2014 وروسته به ځواکمن شي، د افغانستان میرمنو د ملاتړ لپاره هڅې به دوام ومومي، او په ځینو حالتونو کې به د هغوی مرستې ډیرې شي. مګر، د امریکا حکومت مخ په کمیدو توان ترڅو د فعالیتونو نظارت ترسره کړي، د ادارو په کچه د ارزونو نشتون، او د هڅو د تطبیق پر وړاندې رواني ننګونې، د مشرانو او کانګرس لپاره به دا ستونزمن کار وي ترڅو پدې پوه شي او پریکړې وکړي چې په راتلونکي کې په ښه توګه د افغانستان له میرمنو څخه ملاتړ وکړي. [458]

په نومبر کې، د USAID ریس د ودې ملګرتیا د ښه اعلان شوي دویم پیل اعلان وکړی. [459] دغه اعلان د 2013 جولای د ودې ملګرتیا له اعلان څخه وروسته راغلی، چې موخه یې له 75,000 څخه د ډیرو افغان میرمنو سره مرسته ده ترڅو د پنځو کلونو په ترڅ کې د ټولنې په ټولو برخو کې، له سوداګرۍ تر اکادمیکي ساحې پورې د مشرۍ ونډه لاسته راوړي. [460] USAID دغه پروګرام ته 216 میلیونو امریکایي ډالرو ژمنه کړې ده او هیله لري ترڅو له د نړیوالې ټولنې له نورو مرستندویانو څخه هم 200 میلیونه امریکایي ډالر ټول کړي. [461] تر اوسه، USAID د ودې له څلورو څخه د یوې برخې (د میرمنو د مشرۍ پراختیا) لپاره یو قرارداد وړاندې کړی، چې اټکل شوی لګښت یې 42 میلیونه امریکایي ډالر دی. [462]

په اکتوبر کې، د افغانستان د عدلیې وزارت په مشرۍ د جنايي اجراتو قانون د اصلاحاتو کاري ګروپ (CLRW) پریکړه وکړه ترڅو تر یوې کچې د جزا د قانون په مسوده کې د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړلو قانون (EVAW) ته ځای ورکړي. EVAW د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي عملونه پشمول د فیزیکي تاوتریخوالی، جنسي تیری، د کوچنیانو نکاح، اجباري نکاح، کورني تاوتریخوالی، او د شخړو په بدل کې د میرمنو بدلول (چې د بد په نوم پیژندل کیږي) جرم ګڼي. قانون د دغو جرمونو لپاره د بند اوږد مهاله وخت وضع کړی. [463]




**د USAID رییس**، راجیو **شاه** په کابل کې خبري کوي ترڅو په رسمي بڼه د ملاتړ پروګرام پیل کړي (د ملي لومړیتوب په پروګرامونو کې د جندر مساواتو څخه ملاتړ). (د امریکا بهرنیو چارو وزارت عکس)

د EVAW قانون مسوده په 2008 کي جوړه شوې او د ولسمشر فرمان لخوا توشیح شوې؛ مګر په اساسي قانون کي د دغه قانون په اړه پوښتني شتون لري. د 2013 په مي کي، وروسته لدې چي د پارلمان ځینو سخت دریځو غړو دغه قانون غیر اسلامي وګاڼه، د پارلمان له رايي ورکولو پرته لرې کړای شو. د UNAMA د جنايي اجراتو د قانون د اصلاحاتو د کاري ګروپ په وینا، کیدای شي د جزا قانون په مسوده کې د EVAW د جزايي برخي شاملول د قانون د اعتبار په اړه اندیښني لري شي.[464]

JSSP د جزا په قانون کي د EVAW شاملولو احتمالي تاوان پیژندلی دی. د JSSP په وینا، کله چي د جزا قانونو مسوده بشپړه شي، په دغه قانون کي به یوه ماده وي چي د دغه نوي قانون د وضع کیدلو له نیتي سره به ټول قوانین فسخه شي. د ستندرد کارونو په وینا، د EVAW مشخصي مادې به په دغه ماده کي لکه څرنګه چي فسخه شوي وپیژندل شي، څکه چي د جزا نوی قانون به ورته مادې ولري. دا امکان شتون لري وړاندي تر دې چي د جزا قانون تایید شي، پارلمان به د EVAW مادې لرې کړي. په عین وخت کي، هغه ماده چي د EVAW مادې فسخه کوي کیدای شي پاته شي، او پایله به یې د EVAW له منځه وړل وي.[465]

په نومبر کي، د آکسفام مرستي غیر حکومتي سازمان یو راپور خپور کړی چي د سولي په راتلونکو خبرو کي یې د میرمنو ونډې په اړه اندیښنه ښودلې. دغه راپور موندلي چي د افغان میرمنو لپاره پر ډیرو لاسته راوړنو برسیره، حقیقي خطر شتون لري چي دغه لاسته راوړني به کمي شي. اکسفام ویلي چي د EVAW لخوا د پارلمان مخالفت، د بد ورکولو دوام، او په ولایتي شوراګانو کي د میرمنو لپاره د ورکړل شوي څوکیو کمیدل هغه نښې دي چي چلندونه سخت دریځ کیږي او په ټول هیواد کي د میرمنو حقونو لپاره ملاتړ کمیږي. پردې برسیره، اکسفام موندلي چي د یاغیانو له ډلو سره مذاکرو او د سولي خبرو د میرمنو له پوهي او نظر یا بوختیا پرته ترسره شوي دي. دغه راپور د افغانستان له حکومت او نړیوالي ټولني څخه غوښتنه کړې ترڅو د سولي پروسې په ټولو نوښتونو کي میرمنو ته د پام وړ برخه ورکړي او د میرمنو سازمانونو او د میرمنو د ظرفیت لوړولو لپاره ملاتړ وښیي ترڅو میرمني وکولای شي د لوړې کچې په مذاکرو کي برخه واخلي.[466]

# اقتصادي منځپانګې


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 147 |
| اقتصادي نقشه | 148 |
| بانکداري او ماليه | 155 |
| د متحده ایالاتو د اقتصادي ملاتړ ستراتیژي | 158 |
| د طبيعي سرچينو پراختيا | 159 |
| کرنه | 162 |
| اړين خدمتونه او پراختيا | 164 |
| ټرانسپورټيشن | 166 |
| زده کړه | 167 |
| روغتيا | 169 |

# اقتصادي او ټولنيزه پراختيا

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، د امريکا حکومت په افغانستان کې د حکومتوالي او اقتصادي او ټولنيزې پراختيا لپاره 30.6 مليارده امريکايي ډالر برابر کړي دي. د مختص شوي بسپنو ډيرى يې څلور لوى پروګرامونو او حسابونو ته ليږدول شوي، لکه څنګه چې په جدول 3.17 کې ښکاري. د دې بسپنو لپاره مختص شوي 23.2 مليارد ډالرو څخه، شاوخوا 20.3 مليارد ډالر منل شوي او 15.7 مليارد ډالر ورکړل شوي. دغه ټولې پراختيايي مرستې په 2014 مالي کال کې کمې شوې. تر ټولو لوى حساب، د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق (ESF)، د 2010 مالي کال له لوړې کچې څخه چې نږدې 3.35 مليارده امريکايي ډالر و په 2014 مالي کال کې 852 مليون امريکايي ډالرو ته رسيدلی.

**د عامه قانون 181-110 پر اړتيا برسيره، چې د فيدرال اداري بايد سيګار ته غوښتل شوي معلومات او مرسته برابر کړي، د امريکا بهرنيو چارو وزارت په دغه ربع کې د اقتصادي او ټولنيزې پراختيا په اړه د سيګار هيڅ پوښتنې ته ځواب نه‌دی ورکړی، او د سيګار د تعقيب هڅې يې هم په پام کې ندي نيولي.**

جدول 3.17

| **د 2014 دسمبر تر 31 پورې، د افغانستان پراختيا لپاره زياتيدونکي تخصيصات،** (مليونونه امريکايي ډالر) | | |
|---|---|---|
| **بوديجه** | **مسؤله اداره** | **اختصاص شوي** |
| ESF | USAID | $17.7 |
| CERP | د امريکا دفاع وزارت | 3.7 |
| TFBSO | د امريکا دفاع وزارت | 0.8 |
| AIF | د بهرنيو چارو وزارت/د امريکا دفاع وزارت | 1.0 |
| **ټولټال** | | **$23.2** |

يادونه: ESF = د اقتصادي ملاتړ صندوق؛ CERP = د قوماندان بيړني غبرګون پروګرام؛ TFBSO = د سوداګرۍ او ثبات عملياتو لپاره کاري ځواک؛ AIF = د افغانستان زيربنا فنډ.

سرچينه: د ب ضميمه وګورى

## مهمې پيښې

د افغانستان حکومت د 2014 په دسمبر کې راپور ورکړى چې هيواد په "مالي او ډاډ کړکيچ" کې دى چې پر عوايدو او ودې باندې "سخت" اقتصادي اغيز لري.[467] په دغه ربع کې د اقتصادي ودې ځنډ دوام کړى، تر ډيرې کچې دغه ځنډ د سياسي ليږد، دوامداره ياغيتوب، او د امريکا او ايتلاف د ځواکونو د کميدو له کبله و.[468] په دغه ربع کې د افغانستان په اقتصاد کې يو شمير نورې مسلې هم وې:

- د افغانستان مالي تشه ډيره شوې. د افغانستان په 1393 مالي کال (د 2013 دسمبر 21 – د 2014 دسمبر 20) کې کورني عوايد د ماليې وزارت د بوديجې تر ښنو 26% کم و، او د

1392 مالي تر ورته مودې 7.6% کم و. لګښتونه تر عوايدو ډېر زيات و، او د مرستندويانو مرسته پوره ندي ترڅو مالي تشه ډکه کړي.[469]

- د 2014 دسمبر په 4 د افغانستان او نړيوالي ټولني مرستندويانو چارواکو په لندن کې غونډه وکړه، ترڅو د راتلونکي لسيزې (2015–2024) لپاره د ټوکيو د حساب ورکولو ګډ کاري چوکاټ خپلي ګډې ژمني بيرته تاييد کړي. د افغانستان حکومت به د اصلاحاتو هڅو ته دوام ورکوي او د مرستندويانو مرستي به په بنه توګه د افغانستان له لومړيتوبونو سره عيار شي، او د مرستو ډېره برخه به د بوديجي پر اساس برابره شي.[470]
- افغانستان 1394 کال د بوديجي له تاييد څخه پرته پيل کړ.[471] ځای ناستي وزير په نومبر کې د 1394 کال د 8 مليارډو امريکايي ډالرو ملي بوديجه د پارلمان *مشرانو جرګې* ته وړاندې کړه.[472] مشرانو جرګې وړاندې تردې چې بوديجه ولسي جرګې ته وليږي کوم کار ندی کړی، ولسي جرګې ډېر ژر بوديجه رد کړه.[473]
- نړيوال بانک په دغه ربع کې د *2015 سوداګرۍ ترسره کولو* خپل راپور خپور کړی، او له 189 هيوادونو څخه يې افغانستان ته د سيمه ايزې سوداګرۍ د پيل او دوام د مناسب چاپيريال لپاره 183 درجه ورکړې. په 2014 کې افغانستان 164 درجه (له 189 څخه) وړې وه او په 2013 کې 168 درجه (له 185 څخه).[474]
- د افغانستان د استيناف او ستري محکمې د کابل بانک د 2010 په غلا کې د 12 کسانو، پشمول د تقلب د دوو اصلي مهندسينو په اړه د ابتداييه محکمې له حکم څخه ملاتړ وکړ. د بند اوږدې مودې وړاندې شوې، جريمې ډېرې شوي، د 19 نورو انفرادي کسانو او شرکتونو شتمنی ضبط شوې، او 16 نور کسان د تحقيق لپاره پيژندل شوي. په دغه ربع کې د پام وړ نغدې پيسې بيرته لاسته ندي راغلي.[475]
- د امريکا دفاع وزارت د سوداګرۍ او ثبات عملياتونو لپاره کاري ځواک (TFBSO) او د افغانستان لپاره د امريکا د سوداګرۍ وزارت د پانګوني او بيارغوني کاري ځواک صلاحيت ختم شو او د هغوی عملياتونه ودريدل.[476]

"افغانستان له اقتصادي کړکيچ سره مخامخ دی ځکه چې د ليږد پروسې پر اقتصاد او د اصلاحاتو پر پروسې باندې تر تمې ډېر اغز کړی. د خصوصي سکتور ډاډ کم شوی دی او مالي کړکيچ دوام لري، او حکومت نشي کولای ترڅو مناسب عوايد لاسته راوړي او مالي لومړيتوبونه پوره کړي."

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوريت، *پرخپل ځان تکيه کولو حقيقت: د اصلاحاتو او بيرته نوي ملګرتيا ژمني*، 12/2014.

## اقتصادي نقشه

د زياتيدونکو سياسي او امنيتي نامعلوماتياو له کبله د افغانستان کورني ناخالصو توليداتو (GDP) حقيقي وده، له ترياکو پرته، په تير کال کې ډيره کمه شوې، په 2013 کې له اټکل شوي 3–4% څخه په 2014 د نړيوال بانک په اټکل 1.5% ته کمه شوې. دا کموالی د پانګه والو او اخيستونکو د ډاډ کموالي سبب شوی، او تمه کيږي لږ دغه وضعيت لږ تر لږه د 2015 تر لومړي نيمی پورې دوام وکړي. لکه څرنګه چې بهرنی مستقيمه پانګونه له پخوا د کميدو په حال کې ده، دوامداره ناامني، بې ثباتي، او سيستماتيک فساد به لا هم په خصوصي پانګوني باندې منفي اغيز وکړي او وده به کمه کړي.[477]

په 2014 کې د قانوني اقتصاد ټولو سکتورونو، پشمول د خدماتو سکتور، چې د کورني ناخالصو توليداتو نيمی جوړوي؛ له ترياکو پرته کرنه، چې عموماً د ناخالصو کورني محصولاتو نږدې دريمه ده او په محصولاتو پورې اړه لري؛ او توليد او صنايع، چې د اقتصاد نوره برخه جوړوي، وده کمه شوې.[478]

## د افغانستان مالي کړکيچ

افغانستان په نړی کې تر ټولو د کورني عوايدو ټولولو ټيټه کچه لري، او د نړيوال وجهي صندق په وينا، له 2006 تر 2013 پورې په منځنۍ کچه د کورني ناخالصو توليداتو 9% و.[479] په دغه ربع کې، د بوديجي اټکلونو پر وړاندې د عوايدو ټولولو کميدل دوام کړی. د 1393 (2014) مالي کال په لومړنيو 10 مياشتو کې، ټول کورني عوايد، د مالياو او له مالياو پرته عوايد، او د ګمرکونو مالياو، د

مالیې وزارت نښې تر 450 ملیونو امریکایي ډالرو (26%-) ندي پوره کړي، او د 1392 مالي کال د ورته مودې لپاره نږدې 112 ملیونه امریکایي ډالر (7.6%-) کم شوي.[480]

د 1393 (2014) مالي کال په لومړنیو 10 میاشتو کې د افغانستان حکومت لګښتونه د 1392 مالي کال د ورته وخت په پرتله، 11% زیات شوي.[481] تمه کیږي ترڅو د 1393 (2014) کال په پرتله چې 27.3% و، په 1395 (2016) مالي کال کې د کورني ناخالصو تولیداتو تر 30.5% پورې لګښتونو ډیریدل دوام وکړي، او د نړیوال بانک په وینا په امنیت، خدماتو رسولو، د اړینې زیربنا جوړولو، او د عملیاتونو او ساتنې زیاتو لګښتونو له کبله، لګښتونه زیات شوي. نړیوال بانک په ټولیزه

شکل 3.29

**د عملیاتي او پرمختیایی بودیجې مخارجو سره د افغانستان پرتله شوي کورني عواید** (میلیونونه ډالر)




یادونه: تر دې وروستیو پورې، د افغانستان مالي کلونه د میلادي تقویم د کلونو اندازتاً د مارچ د 20 مې څخه د مارچ تر 20 مې وي. مالي کال 1388 د 20 مارچ 2009 نه تر 20 مارچ 2010 سره سمون خوري، او داسې نور. د 1391 مالي کال لپاره د نهه میاشتو معلومات افغان مالي کال کې د مودې بدلون ښیې. افغان مالي کال اوس له 21 دسمبر څخه تر 20 دسمبر پورې وي. FY 1393 یوازې لومړي لس میاشتې وړاندې کوي.

سرچینه: MOF، "د 1391 کلنی مالي راپور،" په 6/20/2013 تکثیر شوی؛ MOF، "د 1391 ملي بودیجه،" په 4/14/2014 تکثیر شوی؛ MOF، "د FY 1392 میاشتني مالي خبرونه، میاشت 12،" 2/14/2014؛ MOF، "د FY 1393 میاشتني مالي خبرونه، میاشت 10،" 12/8/2014؛ د افغانستان بانک، "افغانیو ته د انتخاب شوي اسعارو د بدلولو ورځنی نرخ،" 2/14/2014؛ د افغانستان بانک، "افغانیو ته د انتخاب شوي اسعارو د بدلولو ورځنی نرخ،" 11/10/2014.

**د تریاکو تولید د ناخالصو کورني تولیداتو (GDP) په شمیر کې نه حسابیږي، که څه هم دغه شمیرې په اقتصاد کې مهم ځای لري. د نړیوال بانک لخوا د تریاکو اقتصاد د فارم دروازو ارزښت د ناخالص کورني تولیداتو له 3.3% او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو دفتر لخوا 4% (853 ملیونه امریکایي ډالر) اټکل شوی. د نړیوال بانک لخوا د لوړ قیمت صادر شوي تریاک د GDP له 7–8% او د ملګرو ملتونو لخوا 15% محاسبه شوي.**

سرچینه: نړیوال بانک، د *افغانستان اسلامي جمهوریت، د ځانګړې ودې لارې، راپور شمیره:* 3/2014، *ACS8228*، مخونه 4، 27. UNODC، *د افغانستان د تریاکو سروې 2014*، 11/2014، مخونه. 6، 46؛ UNODC، *د افغانستان د تریاکو سروې 2013*، 12/2014، مخ 10.

توګه په 1393 مالي کال کې د نږدې 500 مليونو امريکايي ډالرو بوديجې د کموالي اټکل کړی و، او راپور يې ورکړی و چې افغانستان د مالي کړکيچ په لور روان دی.[482]

په منځ مهال کې، نړيوال وجهي صندوق (IMF) اټکل کړی و چې د افغانستان مالي تشه چې د بوديجې پر اساس او له بوديجې دباندې له اړتياو څخه جوړه شوې، په هر کال کې په منځنی کچه تر 2018 پورې 7.7 مليارده امريکايي ډالرو (د GDP 33%) ته ورسيږي.[483] دا به د افغانستان توان محدود کړي ترڅو د مرستندويانو له ډېر ملاتړ او زياتو عوايد ټولولو پرته، د اختياري خدماتو لګښت تاديه کړي.[484] مالي تشه لويه او د لويدو په حال کې ده، لکه څرنګه چې په دغه شکل 3.29 کې په تيره پاڼه کې ښودل شوې. د مرستندويانو مرستې دغه تشه کموي، مګر نه يې ډکوي.

## د 1393 (2014) مالي کال مالي تشې ډکولو لپاره د مرستندويانو بيړنۍ مرستې

په دغه ربع کې، امريکا له شرطونو پرته 100 — 75 مليونو امريکايي ډالر برابر کړي، دغه مرستې په تير کې د افغانستان له حکومت سره ژمنې شوې او د افغانستان د حکومت د 537 مليونو امريکايي ډالر د غوښتنې لپاره شوې ترڅو د افغانستان د 1393 مالي کال بوديجې پاته برخې کموالی حل کړي. افغانستان ويلي چې لدغو مرستو پرته حکومت به ونشي کولای ترڅو اړين خدمات برابر کړي او د ملکي کارکوونکو معاشونه تاديه کړي.[485] د امريکا پريکړه ترڅو اضافي 25 مليونه امريکايي ډالر آزاد کړي په هغه شرط وه چې لومړنی 75 مليونه امريکايي ډالر څرنګه لګول کيږي،[486] يعني د حقيقي بوديجې تاييدي او د IMF کارکوونکو لخوا د پروګرام نظارت رسمي تاسيسول ("د IMF مرستې پروګرام ختم شوی" د لا نورو معلوماتو لپاره دغه برخه وګورئ)، او د افغانستان د مالي معلومات مديريت سيستم (AFMIS)، او په ټول هيواد کې د حکومت د محاسبې سيستم ته په کابل کې د امريکا سفارت مهمو کارکوونکو ته لاس رسی.[487]

په دغه ربع کې د امريکا بهرنيو چارو وزارت د سيګار د رسمي معلوماتو غوښتنې ته ځواب ندی ورکړی، مګر سيګار ته اطلاع ورکړ شوې چې اضافي 25 مليونه امريکايي ډالر له پخوا ورکړل شوي، سره لدې چې ځای ناستي وزير زاخيلوال يووازې مبهم معلومات ورکړي "چې 75 مليونه امريکايي ډالر د بيرنيو اړتياو لپاره پشمول د ملکي کارکوونکو معاشونو او د مهمو عامه خدماتو لکه روزني او روغتيا دوامداره رسولو /تضمين لپاره لګول شوي؛"[488] او سره لدې چې د 1394 مالي کال بوديجه د پارلمان لخوا تاييد شوې نه وه؛ او د پروګرام نظارت لپاره هم د IMF کارکوونکو شتون ندرلود. مګر، د امريکا بهرنيو چارو وزارت يوه چارواکي ويلي چې د افغانستان حکومت په ليکلي بڼه ژمنه کړې وه ترڅو د سفارت کارکوونکي AFMIS ته لاس ولري، که څه هم د 2015 د جنوری تر 12 تر يوې کچې د لاس رسي په اړه خبرې رواني وې.[489]

په تير ربع کې، سيګار راپور ورکړی چې دا اداره باور لري چې د امريکا حکومت اداري بايد AFMIS ته د بشپړ لاس رسي لپاره د افغانستان په ماليې وزارت باندې فشار راوړي. له دغه پرته، امريکا نشي کولای په دې پوه شي چې د افغانستان حکومت راپورونه د کومو پيسو او پر څه باندې لګول شي او د کومې کچې پر اساس دي، او دا نشي تاييدولای چې د بوديجې تشه تر کومې کچې ده، او ډير کم معلومات لري ترڅو پر اساس يې خپل ځوابونه تيار کړي.[490] د بيلګې په توګه، کله چې پوښتنه وشوه چې د امريکا حکومت د افغانستان د بوديجې مالي تشه څومره کنې او دا شميره د کومو معلوماتو

"د وروستيو کلونو پر ډيرو پرمختګونو برسيره، د عوايدو معلومات اوس هم بې اعتباره دي. ... د افغانستان مالي روڼوالی به زيات شي که د پلټنې عالي بنسټونه د بوديجې او اړوندو وزارتونو پلټنې ترسره کړي."

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، *2014 د مالي روڼوالي راپور*، 1/14/2015.

پر اساس ده، USAID ويلي چې دغه پريکړه د نړيوال بانک او د IMF لخوا په عامه توګه د راپور ورکړ شوي له 400–600 مليونو امريکايي ډالرو پر اساس وه.[491]

د امريکا مرستي د نړيوال بانک لخوا اداره شوي د افغانستان بيارغوني وجهي صندق (ARTF) د روانو لګښتونو کړکی له لارې ورکړل شوي.[492] انګلستان 25 مليونه امريکايي ډالر؛ آستراليا 17.5 مليونه امريکايي ډالر؛ کاناډا 10 مليونه امريکايي ډالر برخه اخيستي؛ او تمه کيږي چې ناروې به يوه ناڅرګنده اندازه پيسي ژمنه وکړي. دغه اندازه مرستي تر اوسه د افغانستان د بوديجي تشې د ډکولو لپاره پوره ندي.[493]

## د 1394 مالي کال د بوديجي دريځ

افغانستان 1394 مالي کال (د 2014 دسمبر 21 – 2015 دسمبر 20) د بوديجي له تاييد څخه پرته پيل کړ.[494] د ماليي څای ناستي وزير زاخيلوان په نومبر کې د 1394 مالي کال لپاره د 8 مليارده امريکايي ډالرو ملي بوديجه مشرانو جرګې ته وړاندي کړه،[495] مشرانو جرګې له کومې پريکړې پرته بوديجه ولسي جرګې ته وليږله، چيرته چې ډير ژر رد شوه.[496] وړانديز شوې بوديجه چې تر 1393 مالي کال 7% ډيره ده، اټکل کوي چې کورني عوايد 2.3 مليارده امريکايي ډالر (د 1393 مالي کال د ټولولو په پرتله 25% زياتوالي)،[497] د 5.7 مليارده امريکايي ډالرو د مرستندويانو مرستي لاسته راوړل (د ټولي بوديجې 70%)، او د نږدې 73 مليونو امريکايي ډالرو د بوديجي کسر (د ټولي بوديجي 1%) دی.[498] د بوديجي دويمه مسوده د 2015 د جنورې په 7 پارلمان ته ليږل شوي، چې اټکل شوي عوايد يي يو څه تر نږدې 2.2 ملياردو امريکايي ډالرو کم کړي.[499]

دغه اټکلونه به په حقيقت بدل نشي څکه چې افغانستان په دوامداره توګه د بوديجي نښې ندي پوره کړي. د لا نورو معلوماتو لپاره د دغې برخي دغه پاڼي وګورۍ 148–150. نړيوال بانک د وړانديز شوي بوديجي د عوايدو اټکلونه "حرصناکه" ګڼلي او د اعتبار وړ پر اټکلونو باندي چې د مناسبو ګامونو لخوا يي ملاتړ وشي ټينګار کړی. نړيوال بانک تمه لري چې د لګښتونو پر محدوديتونو او د مرستندويانو پر بيړنی تمويل برسيره، د 1393 مالي کال تشه به شتون ولري او حکومت به پورونه پريږدي او د 1394 مالي کال نغدو پيسو ذخيره به يي لګولي وي، او نورو مالي سرچينو ته به اړتيا ولري.[500]

## د IMF مرستي پروګرام پای ته رسيدلی

د IMF د دريو کلونو 129 مليونو امريکايي ډالرو غزول شوي کريډيت آسانتيا (ECF) پور موافقه د 2014 په نومبر کې پای ته رسيدلی.[501] يوازې د 18.2 مليونه امريکايي ډالرو دوه توزيعات ترسره شوي: يو د ECF د تاييد په پيل کې، او بل د 2012 په جون کې د بورد له لومړنی ارزونې وروسته. د فعاليت د نښو نه پوره کيدلو، د اقتصادي ټکرونو پر وړاندي د غير مناسبو پاليسيو ځوابونو، او په جوړښتونو کې د اصلاحاتو د ځنډ له کبله، د بورد بله ارزونه نده ترسره شوي.[502]

د امريکا ماليي وزارت ويلي چې د IMF کارکوونکي باور لري چې د رسمي نوي پروګرام له پيليدو وړاندی د افغانستان حکومت بايد خپل اعتبار بيرته تاسيس کړي، ترڅو افغانستان ته اجازه ورکړي او پيسي پور واخلي، څکه چې افغانستان له ختم شوي ECF څخه کمزوری اطاعت کړی.[503] په عين وخت کې، د IMF ټيم په دغه ربع کې د حکومت له چاراواکو سره ليدلي ترڅو د بنسټيزو پاليسيو او جوړښت اصلاحاتو اجنډا باندي خبري وکړي چې کيدای شي د کارکوونکو د نهو مياشتو د نظارت پروګرام اساس جوړ کړي، يعنې دا به د IMF د کارکوونکو لپاره يوه موافقت نامه وي ترڅو د اقتصادي پروګرام له تطبيق څخه نظارت وکړي.[504]

**د دوامداره کريډيت آسانتيا (ECF):** د دريو کلونو پروګرام چې د افغانستان او نورو هيوادونو لپاره مالي مرسته برابروي، او د کمو عوايدو هيوادونو لپاره د منځنی وخت مرستي برابرولو لپاره د IMF اصلي وسيله ده. د ECF مالي مرستي عموما د داسي قرضو له لارې ورکول کيږي چې سود يي صفر سلنه وي.

*سرچينه: د سيګار پلټنه 16-14، د افغانستان بانکداري سکتور: د خصوصي بانکونو د تنظيمولو لپاره د مرکزي بانک ظرفيت اوس هم کمزوری دی، 1/2014.*

## د لندن په کنفرانس کې پر هغو اقتصادي مسلو چې خبري شوي

افغانستان د 2014 د دسمبر په 4، د لندن د مرستندویانو په کنفرانس کې د اصلاحاتو خپله اجنډا وړاندي کړه، چیرته چې افغان او د نړیوالي ټولني مرستندویو هیوادونو چاروا‌کو غونډه وکړه ترڅو د راتلونکي لسيزې (2015–2024) لپاره د ټوکیو د دوه اړخیز کاري چوکاټ خپلې ټولیزې ژمني یو ځل بیا تایید کړي. نړیوالي ټولني یوځل بیا ژمنه کړې ترڅو د تیرې لسيزې په کچه یا نږدې تر 2015 پورې 16 ملیارده امریکایي ډالر برابر کړي او تر 2017 پورې ملاتړ ته دوام ورکړي. د افغانستان حکومت ژمنه کړې ترڅو اصلاحاتو ته دوام ورکړي. مرستندویانو ژمنه کړې ترڅو خپلې مرستې د افغانستان له لومړیتوبونوسره په ښه توګه عیار کړي، او زیاته اندازه مرسته به د بودیجې پر اساس برابره شي. [505] دغه کنفرانس د دې لپاره نه و ترڅو پایله یې د مرستو نوي ژمني وي. [506]کومې نوي ژمني ندي شوي.

افغانستان پدې پوهیږي چې د نړیوال امنیتي معاونت د ځواکونو (ISAF) پر لګښتونو تکیه کول، د بهرنیو ځواکونو کمیدل او سیاسي دوامداره لیږد د دغه هیواد د اقتصادي فعالیتونو کمیدلو تر ټولو ستر محرکونه و. په راتلونکي کې، د افغانستان حکومت ژمنه کړې ترڅو امنیت او سیاسي ثبات ښه کړي (د اقتصادي پراختیا لپاره لمړني اساسات)، د فساد علتونو لپاره حل لار پیدا کړي، مالي دوام بیرته تاسیس کړي، خصوصي پانګونه زیاته کړي، او کارونه پیدا کړي. حکومت پلان لري ترڅو د دولت دوامداره عوایدو لپاره خپله بشپړه ستراتیژي د لوړ پوړو چاروا‌کو په کچه وروسته په دغه کال کې په تمه کیدونکي غونډه کې وړاندي کړي. [507]

## د افغانستان د سوداګرۍ د مقرراتي چاپیریال نړیواله درجه

نړیوال بانک په 189 اقتصادونو کې د کورنیو شرکتونو لپاره د سوداګرۍ د مقرراتو د *2015 د سوداګرۍ ترسره کولو* د راپور په ارزونه کې په ټولیزه توګه افغانستان ته 183 درجه ورکړې. پداسي حال کې چې افغانستان د سوداګرۍ په پیلولو کې لوړه درجه وړي، د ساختماني جوازونو، بریښنا اخیستلو، ملکیتونو ثبتولو، سرحدونو کې د سوداګرۍ، او قراردادونو پلي کولو کې په ښکاره توګه اخري درجه وړي. دغه هیواد د لږکیو د پانګه والو په خوندي کولو ډیر خراب هیواد ګڼل شوی، او دا تر یوې کچې د هیواد د شرکتونو د اداره کولو د مقرراتو او د حقوقي بنسټونو د کمزورۍ له کبله ده. [508]

## سوداګري

له 2006 څخه تر 2013 پورې د سوداګرۍ اړوند مالیې د افغانستان د ټولې مالیې د عوایدو 45% استازیتوب کړی. [509] که څه هم افغانستان په دوامدره توګه د سوداګرۍ لوی کسر درلود، د مرستندویانو مرستې لدې هیواد سره مرسته کوي ترڅو د GDP 4.1% روان حساب بیلانس وساتي. [510] لدې پرته، IMF اټکل کوي چې د افغانستان روان حساب بیلانس به د GDP 41% وي. [511]

د افغانستان حکومت اداري د سوداګرۍ دقیق معلومات نلري. د یوه اټکل پر اساس، کیدای شي معلومات یې تر 1 ملیارده امریکایي ډالرو پورې، د هیواد د GDP نږدې 4.8% پورې سم نه وي. [512]د راپورونو پر اساس د ننګرهار ولایت د ګمرک او په کندهار ولایت کې د سپین بولدک د ګمرک چاروا‌کي د خپلو مسولیتونو په ساحو کې د سوداګرۍ پر دقیقو معلوماتو نه پوهیږي،[513] چې کیدای شي د فساد یوه نښه وي. USAID د افغانستان د ګمرکونو له ادارو او د احصایې له مرکزي اداري سره کار کوي ترڅو د دواړو ادارو ترمنځ د اتومات سیستم له لارې د معلوماتو ټولولو او راپور ورکولو سره د احصایي توپیرونه کم کړي. [514]

د افغانستان او پاکستان د ترانزيت سوداګرۍ همغږۍ چارواکو پنځمه غونډه د 2015 د جنورۍ په 1–2 په اسلام آباد کې ترسره شوه، ترڅو د سوداګرۍ او تجارت پراخو اړيکو باندې خبرې وشي، او موخه يې د افغانستان او پاکستان سوداګرۍ موافقې (APTTA) لا نور ځواکمن کول و.[515] پاکستان د دوه اړخيز غوره والي سوداګرۍ موافقه وړاندې کړه، او افغانستان ويلي چې د پاکستان لپاره دوې ځانګړې اقتصادي ساحې تاسيسوي.[516] APTTA څکه مهمه ده چې پاکستان د افغانستان د سوداګرۍ تر ټولو لوی ملګری دی او د افغانستان لپاره دريو پاکستاني بندرونو ته او د چين او هندوستان سرحدونو ته لاس رسی برابروي.[517] په 2011 کې د موافقې له لاسليک کيدلو څخه د APTTA تطبيق جنجالي دی. دواړه هيوادونه په سرحدونو کې د ترانزيت او اجازې د ځنډونو په اړه شکايت کوي.[518] وروسته بيا د 2015 د جنورۍ په 3 د تاجکستان چارواکي د افغانستان او پاکستان له ملګرو سره يوځای شول، ترڅو د درې اړخيزې موافقې له لارې د سيمې پر اقتصادي او د سوداګرۍ د همکارۍ پر پراخيدلو باندې خبرې وکړي. د هغوی په راتلونکې غونډه کې چې د 2015 په مارچ کې پلان شوې، د موافقې مسوده به وړاندې شي.[519]

## صادرات

د IMF په وينا، له مخدره توکو پرته، له 2011 تر 2014، افغانستان په هر کال کې له 3.1 تر 3.3 مليارده امريکايي ډالرو توکي او خدمات صادر کړي.[520] نړيوال بانک ويلي چې افغانستان يوازې کمه شميره توليدات صادروي او د سوداګرۍ کم ملګري لري،[521] څکه نو د پيسو لاسته راوړلو لپاره پر کم توکو باندې ډيره تکيه کوي، او لدې کبله د بې ثباته قيمتونو او سوداګرۍ ټکرونو پر وړاندې ډير کمزوری دی.[522]

افغانستان تر توليداتو ډير مصرف لري او د سوداګرۍ وړ ډير کم صادرات لري، مګر USAID باور لري چې د سوداګرۍ په نړيوال سازمان کې (WTO) کې د افغانستان غړيتوب کيدای شي د افغانستان د صادراتو مهمو توکو، لکه د کرنيز توکو، قالينو او مرمرو پرتله کيدلو ګټې ډيرې کړي. مګر USAID ويلي چې د توليداتو محدوده کچه او هغه ناتوانی چې نشي کولای د نړيوال مارکيټ خونديتوب او کيفيت لپاره توليدات تصديق کړي، دا معنی لري چې د افغانستان د منځ راتلو ارزښت کړی لپاره د پرتله کيدلو تاوان لري.[523]

## واردات

IMF اټکل کوي چې له 8 مليارده امريکايي ډالرو څخه زيات د افغانستان د وارداتو ارزښت د رسمي مرستندويانو لخوا تاديه کيږي. د امريکا ماليې وزارت اټکل کړی چې د افغانستان د وارداتو حقيقي ظرفيت، د بهرنيانو شتون له ډيرې غوښتنې پرته، په هر کال کې د مخدره توکو له عوايدو پرته، له 2 مليارده څخه کمه ده. د امريکا ماليې وزارت ويلي چې د ډيرې کچې له بهرنۍ مرستې پرته، د وارداتو کچه به کمه شي، مګر اندازه به يې د بهرنيانو شتون په غوښتنې، د افغانستان د وارداتو اړتيا کله چې د بهرنيانو غوښتنې کمې شي، او د اړتيا وړ بهرنۍ مرستې کچه ترڅو مناسب اقتصادي فعاليت او وده وساتي، پورې اړه ولري. په حقيقت کې د وارداتو کمه کچه به په اقتصاد باندې ډير اغيز ونلري.[524]

## د عوایدو ټولولو له لاسه تللي فرصتونه

د افغانستان مالیې وزارت د 1393 مالي کال په لومړنیو 10 میاشتو کې 316 ملیون امریکایي ډالر د ګمرکونو مالیې ثبت کړي او د 1392 مالي کال په پرتله چې 398 ملیونه امریکایي ډالر و.[525] USAID ویلي چې په تیر کال کې د افغانستان د ځینو ګمرکونو فعالیتونه د مرستو محدودیتونو له کبله کم شوي. د بیلګې په توګه، د ایکسرې ماشینونه کار نه کوي او جوړیدو ته اړتیا لري، د ګمرکونو د معلوماتو اتومات سیستم ستندرد کولو هڅې بشپړې شوې ندي، او د افغانستان د ګمرکونو ملي اکادمي، چې د ګمرکونو افسران روزي، یوازې د سهار لخوا کار کوي.[526]

USAID ویلي چې د ګمرکونو د هغو عواید کچه چې د فساد له کبله له لاسه تللي معلومه نده او حقیقي اټکلونه نشته. مګر، د ګمرکونو د ورکو عوایدو ځیني احتمالي دلیلونه په سرحدونو کې د ګمرکونو کم تاسیسات، فساد، او د کارګو د قیمت معلومولو لپاره له بنو کارونو څخه د کار اخیستني نشتون دی. USAID سیګار ته دا هم ویلي چې نوی اتومات سیستم یوازې اوس په پروسه کې دي ترڅو د افغانستان ټولو ګمرکونو ته وغزول شي. USAID باور لري چې د حکومت لوړ پوړي چارواکي کولای شي د عوایدو کمیدلو ستونزه کمه کړي که هغوی د اصلاحاتو د بشپړ پروګرام د برخې په توګه د ګمرکونو د عصري اتومات سیستم پر جوړولو، نصبولو او کار اخیستني ټینګار وکړي.[527]

## د افغانستان د سوداګرۍ او عاید پروژه

| د پروژې موضوع | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 12/31/2014 پورې زیاتیدونکي توزیعات |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان سوداګري او عواید | 11/7/2013 | 11/6/2017 | $77,754,267 | $16,078,832 |

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 1/12/2015.

په دغه ربع کې د اقتصادي ودې لپاره د USAID لوړ لومړیتوب د افغانستان د سوداګرۍ او عوایدو (ATAR) پروژه ده، دا د سوداګرۍ آسانتیاو یو پروګرام چې د دغو لپاره ډیزاین شوی: (1) د سوداګرۍ د پالیسیو اصلاح کول، پشمول د WTO غړیتوب لپاره د افغانستان ملاتړ؛ (2) د حکومت د توان بنه کول او تنظیمول ترڅو د افغانستان ګمرکونو د بنسټونو او کارونو عصري کیدلو له لارې عواید تولید شي؛ او (3) د دوو اړخیزو او څو اړخیزو سوداګرۍ موافقو لپاره آسانتیاوې برابرول. په دغه ربع کې، د انګلستان د نړیوالې پراختیا اداره، چې له پخوا له افغانستان سره مرسته کوي ترڅو پر ارزښت وراضافه شوې مالیه (VAT) منځ ته راوړي، په دغه برخه کې له ATAR څخه مشرې په غاړه واخیستله.[528]

## د سوداګرۍ نړیوال سازمان غړیتوب مهال ویش تعدیل شوی

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزارت (MOCI) له WTO سره د غړیتوب مهال ویش د 2015 تر نیمې پورې تعدیل کړی. د حکومت د مشرتابه د لوړ پوړو بستونو تاییدی ځنډ ته په پام سره، کیدای شي دغه مهال ویش نور هم وغزول شي. MOCI د ولسمشر غني حکومت ته په تمه دی ترڅو وړاندې تر دې چې نوې لاربنوونې لاسته راوړي، د غړیتوب اوسنی پروسې او دریځ ارزونه بشپړه کړي. تر هغه وخته، MOCI په قانون باندې کار کوي او د امریکا د سوداګرۍ له استازي سره په پاته مسلو باندې کار کوي ترڅو ورته ډیر ژر د حل لار پیدا شي.[529]



د **EPAA** او **ATAR** له لومړني ملاتړ سره، د افغانستان سوداګرو په قزاقستان کې د منځنۍ آسيا د سوداګرۍ په غونډه کې برخه واخيستله. (د USAID تصوير)

WTO د افغانستان د غوښتنليک ټولګه باثباته ګڼي، مګر حکومت ته په تمه دی ترڅو د پای له بوختيا وړاندې بيرته کارونه پيل کړي. څکه چې د کاري اړخونو اخرنۍ غونډه د 2014 په مارچ کې وه، کيدای شي ټولګه بيا کتنې ته اړتيا ولري. راتلونکې غونډه، او کيدای شي د پای غونډه، د حکومت په غوښتنه د ناڅرګند وخت لپاره ځنډيدلې.[530] د افغانستان غړيتوب څو ځلې ځنډيدلی دی. په 2013 کې د لومړي ځل لپاره د غړيتوب لپاره تيار و.[531] کله چې دغه ترسره نه شو، تمه کيدله ترڅو د 2014 په پای کې د ټوکيو د دوه اړخيز حساب ورکولو کاري چوکاټ پر اساس غړيتوب لاسته راوړي.[532]

## بانکداري او ماليه

نړيوال بانک او IMF راپور ورکړی چې د افغانستان بانکداري او مالي سکتور د 2010 کابل بانک له توطيې وروسته بيرته ندی بنه شوی. دغه سکتور له غير مناسبو مقرراتو او نظارت، محدود بنسټيز ظرفيت، کمو پيسې، او د پيرودونکو له کم داډ څخه رنځ وړي.[533] ډيری افغانان پر بانکونو باندې داډ نلري، او دا غوره ګڼي ترڅو له کورنۍ او ملګرو څخه پيسې پور واخلي او وساتي، او د غير رسمي پيسو ليږلو له لارې، اعتماد يا وياړ پر ا ساس حوالې شبکو له لارې چې د پيسو يا ارزښت خدماتو ليږد برابروي، پيسې وليږي.[534] نړيوال بانک راپور ورکړی چې د افغانستان د بانکدارۍ په سيستم کې 2.65 مليونه کسان پيسې لري، مګر له نږدې 30 مليون نفوس څخه يوازې 100,000 پور اخيستونکي لري. او که څه هم کابل د افغانستان نږدې 10% نفوس لري، د پورونو 80% هلته ترسره کيږي.[535]

يو څو افغاني بانکونه له نړيوالو معيارونو سره سم کار کوي. د کابل بانک له توطيې وروسته د افغانستان د مهمو بانکونو پلټنې د "بانکدارۍ د حکومتوالۍ او عملياتونو په ټولو برخو کې سيستماتيک

**حواله:** غير رسمي سيستم چې د پيسو يا ورته ارزښت ليږل او لاسته راوړل تنظيموي، او د اوږدې مودې په ترڅ کې د سوداګرۍ او نغدو پيسو حسابونه تصفيه کوي.

**د پيسو يا ارزښت ليږلو خدمات:** هغه مالي خدمات چې نغدې پيسې، چکونه، او نور مالي وسيلې يا د ارزښت توکي مني. ورکړه د خبرو، پيغام، ليږد يا برخه اخيستنې تصفيه شبکې له لارې ترسره کيږي. دريمې ډلې ته په نهايي ورکړه کې د ډيری مينځګړو دخالت ته اړتيا وي او ممکن د تاديې نوې ميتودونه پکې شامل شي.

سرچينه: FATF، *د پيسو مينځلو او تروريستانو تمويل کې د حواله او نورو ورته خدماتو چمتو کونکو رول*، 10/2013، 9، 12 مخونه.

کمزوری رابرسیره کړي دي. [536]" د افغانستان له 12 بانکونو څخه اوه بانکونه کمزوري ګڼل کیږي او په ټولیزه توګه د بانکداری سکتور 51% شتمنی ساتي. [537]

## د پیسو مینځل

د امریکا بهرنیو چارو وزارت افغانستان د پیسو مینځلو د هغو مهمو هیوادونو په لست کې راوړي، چې مالي بنسټونه یې یا بوخت دي یا د ډېرو جرمي پیسو معاملو پر وړاندې کمزوري دي، چې دغه ټول "اوس هم د افغانستان د امنیت او پراختیا لپاره ډېر ګواښ جوړوي. " مخدره توکي، اداري فساد، او د قرارداد تقلب د هیواد د غیر قانوني او پیسو مینځلو عوایدو مهمې سرچینې دي. افغانستان د مدیریت او پلي کولو کمزوری یا نشتون رژیمونه، او د فساد سره د مبارزې لپاره کمزوري سیاسي اراده لري. [538]
د امریکا بهرنیو چارو وزارت خبرداری ورکړی چې که افغانستان ونشي کولای په کلکه توګه د پیسو مینځلو/تروریستانو تمویل ضد قوانین پلي کړي، بانکي سیستم به یې له نورې نړۍ څخه منزوي شي او وبه نشي کولای ترڅو مهم مالي خدمات برابر کړي. [539]

### د مالي عمل کاري ځواک

د 2014 په اکتوبر کې د دغه ځواک په وروستی عمومي غونډه کې، د حکومت ترمنځ د مالي عمل دندې ځواک (FATF) غوره کړل ترڅو افغانستان پخپل لست کې د هغه هیواد چې د پیسو مینځلو ضد/د تروریستانو مالي تمویل (AML/CFT) نړیوال اطاعت سند، چې د "خړ لست" په توګه هم پیژندل کیږي، په توګه وساتي. FATF په عامه توګه دغه پریکړه نده شرح کړې. [540]
که څه هم د امریکا ماليې وزارت مرسته کوي ترڅو په FATF کې افغانستان د برخه اخیستونکې په توګه ارزونه او نظارت وکړي، دغه وزارت سیګار ته ویلي چې ارزونې نه ترسره کوي او FATF ته راپورونه نه برابروي. او دا چې افغانستان د دې مستحق دی چې د تخنیکي ورتیا پراساس ټیټه درجه ورکړ شي یا په تور لست کې راوړل شي، او دا چې د ماليې وزارت په تیر کې د افغانستان د ALM/ CFT قوانینو په اړه اندیښنې حل شوي دي، د پوښتنو ځوابونه ندي ورکړي. د دې پرځای، د امریکا ماليې وزارت ویلي چې FATF له افغانستان څخه راضي و چې د AML/CFT خپل قوانین یې خپاره کړي او پریکړه یې کړې ده چې د CFT قوانین تر ډېرې کچې هغه اړین طرزالعملونه او حقوقي کاري چوکاټ تاسیسوي ترڅو د تروریستانو شتمني ضبط کړي. [541]
ځکه چې د AML/CFT په مدیریت کې یې کم پرمختګ کړی و، یا د FATF د 2014 جون غونډې ته نږدې یې قانون تایید کړی چې د پرمختګ ارزونې لپاره مناسب وخت شتون ندرلود، افغانستان د یوه کال لپاره په تور لست کې راتللو سره مخامخ و. [542] افغانستان د 2014 په فبروی کې د ټیټې کچې درجې "تور خړ" ته د هغو هیوادونو په لست کې راوړل شو چې کم پرمختګ یې کړی او له هغه وخته یې د خړ درجه ساتلې ده. په تور لست کې د افغانستان راتلل به د مرستندویانو له ټولنې سره د افغانستان اړیکې په منفي توګه اغیزمنې کړي او کیدای شي د ملګرو بانکونو نور حسابونه هم له لاسه ورکړي. [543]

## د کابل بانک په قضیه کې د محکمې حکم

د 2014 د نومبر په 11، د افغانستان د استیناف محکمې د پخواني رییس شیرخان فرنود او پخواني اجراییه رییس خلیل الله فیروزي، او د 10 نورو ټیټ پوړو کارکوونکو د کابل بانک د 2010 د کړکیچ په اړوند د جرمونو د جزا د ابتداییه محکمې له حکمونو څخه ملاتړ وکړ. فرنود او فیروزي ته د بند د اضافي مودې حکم شوی او د نوي تاوان ورکولو امر شوی، پداسې حال کې چې نورو کمې جرمې او جزاګانې لاسته راوړي، لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.18 کې ښودل شوي. اسناد ښيي چې محکمې دا حکم هم صادر کړی چې د 19 نورو انفرادي کسانو او شرکتونو شتمني دې تر هغه وخته ضبط شي ترڅو خپل پورونه تادیه کړي او 16 نور انفرادي کسان یې د تحقیق لپاره په لست کې راوړي. [544]

جدول 3.18

**د 2014 د نومبر تر 10 پورې د کابل بانک استیناف محکمې پریکړې**

| نوم (پېژندل شوي) | جرمونه/جزا | د تاوانونو حکم شوی (په ډالرو) |
|---|---|---|
| شیرخان (فرنود) | د پیسو مینځل، 5 کلونه بند؛ تقلب، 10 کلونه بند | $571,640,946.00 |
| خلیل الله (فیروزي) | د پیسو مینځل، 5 کلونه بند؛ تقلب، 10 کلونه بند | 333,807,873.36 |
| محمد طارق (میران) | د جرم د راپور نه ورکول، 1 کال بند | |
| کمال (کرور) | د جرم د راپور نه ورکول، 1 کال بند | |
| محبوب شاه (فروتن) | د جرم د راپور نه ورکول، 1 کال بند | |
| ظفرالله (فقیري) | د راپور نه ورکول، 6 میاشتو بند؛ له واکه ناوړه ګټه اخیستنه، بښنه | |
| شیر آقا (حلیم) | د راپور نه ورکول، 6 میاشتو بند؛ له واکه ناوړه ګټه اخیستنه، بښنه | |
| بسم الله | د راپور نه ورکول، 6 میاشتو بند؛ له واکه ناوړه ګټه اخیستنه، بښنه | |
| محمد عارف (سالک) | د راپور نه ورکول، 6 میاشتو بند؛ له واکه ناوړه ګټه اخیستنه، بښنه | |
| محمد قاسم (رحیم) | هیڅ؛ بښنه | |
| مصطفی (مسعودي) | راپور نه ورکول؛ له واکه ناوړه ګټه اخیستنه، بښنه | 415 |
| امین الله (خیر اندیش) | راپور نه ورکول؛ وخت تیر کړی | |

یادونه: د فرنود او فیروزي د تاوان په حکمونو کې ټکټاني او جریمې شاملې وي.

سرچینه: DOJ، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/5/2015؛ DAB، د افغانۍ پر وړاندې د غوره شوي اسعارو نرخونه، 11/10/2014.

کیدای شي د محکمې په قضاوت کې تخنیکي کمزوري شتون ولري، د راپورونو پر اساس محکمې له ناسم قانون څخه کار اخیستی، که څه هم د افغانستان له قانون سره مطابقت لري، مګر کیدای شي په بهر کې د پلي کیدلو وړ نه وي. دا چې تر کومې کچې به د لوی څارنوال دفتر قضاوت تعقیب کړي، وخت به ثابته کړي. د لوی څارنوال دفتر د پام وړ ظرفیت نلري ترڅو پخپله وکوالی شي د دوه اړخیزې حقوقي مرستې سند مسوده ولیکي، مګر د امریکا عدلیې وزارت ویلي که رسمي غوښتنه وشي، دا وزارت به مرسته وکړي. تخنیکي یا حقوقي مرسته به د افغانستان د لوړ پوړو چارواکو سیاسي اراده بدله، او لکه څرنګه چې په دغه ربع کې د کمو نغدو پیسو بیرته لاسته راوړل شهادت ورکوي، وبه نشي کولای ترڅو په فعاله توګه د بهر له بانکي حسابونو څخه غلا شوې شتمنې بیرته لاسته راوړي.[545] د راپورونو پر اساس زیاتیدونکي اندازه 178 ملیونه امریکايي ډالر دي، د 2014 په اپریل کې دغه اندازه 175.2 ملیونه امریکايي ډالر و.[546] احتمالي مدافعین اوس هم آزاد دي او محکمې ته ندي راوړل شوي، او د کابل بانک تصفیه، هغه اداره چې هڅه کوي ترڅو شتمنې او خراب پورونه بیرته لاسته راوړي، په دغه ربع کې بدله شوه.[547]

## د نوي کابل بانک خصوصي کیدل

د خصوصي کیدلو له څو کلونو ځنډېدنې وروسته، د ولسمشر غني لخوا د کابل بانک د خصوصي کیدلو یوه فرمان سره، د مالیې وزارت چارواکي غواړي ترڅو درې بانکونه، نوی کابل بانک، پښتني بانک، او ملي بانک په یوه واحد بانک کې سره یوځای کړي.[548] د مرکزي بانک رییس خبرداری ورکړی چې دغه بانک به د حکومت 100 ملیونو امریکايي ډالرو مرستې ته اړتیا ولري ترڅو په اغیزمنه توګه کار وکړي. ټول درې بانکونه عملیاتي تاوانونه لري. نوي کابل بانک له 46.8 تر 50 ملیونو امریکايي ډالرو تاوان کړی دی، او د راپورونو پر اساس 60 ملیونه نور امریکايي ډالر پوروړی دی، دا هغه مکلفیتونه دي چې هر احتمالي پیرودنکي ته به وسپارل شي.[549]

**وړاندې ترډې چې په 2010 کې نړېدو له منځه تللی و، کابل بانک د افغانستان تر ټولو لوی بانک و، او د حکومت په استازیتوب یې د حکومت ملکي کارکوونکو ډیرې معاشونه توزیع کول. د 935 ملیونو امریکايي ډالرو له 92% ډیر چې پدغه وخت کې پیژندل شوي و چې د بانک څخه غلا او بانک پورې تړلې 19 افرادو او شرکتونو ته تللې. د افغانستان مرکزي بانک، د افغانستان بانک، دا تاوانونه ورکړل چې په هغه وخت کې د افغانستان د GDP، 5–6% کیدله.**

سرچینه: د فساد پروړاندې مبارزې د نظارت او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه، *د کابل بانک په بحران کې د ځرګندو تحقیقاتو په اړه راپور*، 11/15/2012، مخونه 2، 9.

## د متحده ايالاتو د اقتصادي ملاتړ ستراتيژي

د امريکا او افغانستان ستراتيژيکي ملګرتيا موافقه او د ملکي اردو ستراتيژيک کاري چوکاټ، په افغانستان کې د امريکا ملکي پراختيايي مرستې لپاره وروستي سندونه دي. امريکا د ماموريت سرچينو له کلنۍ غوښتنې او عملياتي پلانونو څخه هم کار اخلي ترڅو د مرستې هڅو لپاره اساسي کاري چوکاټ او لومړيتوب برابر کړي. د متحده ايالاتو د کابل سفارت د هيواد لپاره يوه ګډه ستراتيژي جوړوي چې د بهرنۍ مرستې لومړيتوبونو له لارښوونې سره به مرسته وکړي.[550] د امريکا حکومت د همغږۍ په پلانونو کې دغه شامل دي: د وريښمو د نوي لار نوښت، د USAID د الماني موافقه، او د USAID/ افغانستان هيواد پراختيايي همکارۍ ستراتيژي.[551]

د امريکا بهرنيو چارو وزارت په وينا، USAID او د مرستو نور تطبيق کوونکي کيداى شي وغواړي خپلې ستراتيژګانې جوړې کړي.[552] د بېلګې په توګه، د امريکا دفاع وزارت ويلي چې د دې وزارت د قوماندان د بيړني غبرګون پروګرام (CERP) او د افغانستان د زيربنا وجهي صندق (AIF) پروژې تر ډيرې کچې لکه څرنګه چې په ساحو کې د قوماندانانو لخوا ارزونه کيږي د ساحې د وضعيتونو پر اساس ټاکل کيږي.[553] د امريکا اقتصادي ستراتيژګانې د څو ادارو په کچه د امنيت ملي شورا له لارې همغږې کيږي.[554]

د امريکا هڅې ترڅو د افغانستان پر مالي ثبات باندې، د دولت عوايدو، او اقتصادي ودې باندې د څواکونو کميدلو ډير اغيز کم کړي، او د دوامداره حل لارو لپاره ستراتيژيک کار وکړي،[555] تر ډيرې کچې له افغانستان سره مرسته نده کړې ترڅو د مالي کړکيچ مخه ونيسي يا خپل اقتصاد د اردو له شتون او مرستندويانو له مرستو څخه راوګرځوي.[556]

## د USAID پراختيايي مرسته

د اقتصادي ملاتړ له وجهي صندق (ESF) څخه ډيرې مرستې د USAID پراختيايي پروګرامونو ته ځي. دغه شکل 3.30 د سکتور پر اساس د USAID مرسته ښيي.

## د سوداګرۍ او ثبات عملياتونو لپاره کاري ځواک، او د افغانستان پانګونې او بيارغونې کاري ځواک صلاحيتونو د پاى نيټه

د امريکا دفاع وزارت د سوداګرۍ او ثبات عملياتونو لپاره کاري ځواک (TFBSO) د دې لپاره تاسيس شوى و ترڅو د اقتصادي ودې له لارې ثبات ته پرمختګ ورکړي. دغه ځواک پدې لټه کې و ترڅو ستراتيژيک فرصتونه و پيژني او جوړ کړي او د افغانستان خصوصي سکتور پراختيا ته لار پرانيزي ترڅو د اوږد مهاله اقتصادي ودې لپاره حالت برابر کړي. TFBSO د 2014 د دسمبر په 31 خپل پروګرامي عملياتونو پاى ته ورسول. هيڅ يو پروګرام يې د امريکا نورو ادارو ته ندى سپارل شوى، که څه هم د امريکا لخوا نور ملاتړ شوي پروګرامونه کيداى شي شتون ولري.[557] د 2014 د دسمبر تر 31 پورې د TFBSO ټول تخصيصات 815 مليونه امريکايي ډالر و.

### د سيګار څانګړې پروژه

سيګار د TFBSO د فعاليتونو ژوره ارزونه ترسره کوي. د معلوماتو او خبرتيا مکتوبونه له پخوا صادر شوي او مرکې ترسره شوې. د لا نورو معلوماتو لپاره د 2 برخې 45 پاڼه وګورئ.

شکل 3.30

**د 2014 د دسمبر تر 31 پورې د USAID د پرمختيا مرسته** (میلیونونه ډالر)




يادونه: شميرې محاسبه شوي دي. د زيربنا برنامو کې بريښنا او سړکونه شامل دي. د پروګرام ملاتړ پرژو کې کارمندانو لګښت، معاشات، د فعاليت ارزونه، د پايلو تعقيب، وزارتونو ته تخنيکي مرسته او د ARTF تمويل شامل دي. د کرنې پروګرامونو کې بديل پرمختيا شامل ده.

سرچينه: USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/12/2015.

د امريکا د سوداګرۍ وزارت د افغانستان د پانګونې او بيارغونې کارې ځواک هم د 2014 د دسمبر په 31 پای ته ورسيد.[558] دغه ځواک موخه دا وه ترڅو د مارکيټونو د حالتونو د ښه کولو له لارې له سوداګرۍ او پانګونې سره مرسته وکړي، او د 2012 مالي کال له مرستو څخه په کار اخيستنې سره يې د افغانستان حکومت شرکتونو ته تخنيکي مرسته او روزنه وړاندې کړه. له 2012 څخه، دغه کارې ځواک د سوداګرۍ آسانتياو لپاره د کنفرانسونو کوربتوب کړی، او د قالينو د صادراتو يو سازمان يې جوړ کړی، او د افغانستان سوداګرۍ لپاره يې يو مرکز تاسيس کړ.[559]

## د طبيعي سرچينو پراختيا

نړيوال بانک باور لري چې د افغانستان طبيعي سرچينو ته پراختيا ورکول کولای شي د بهرنی مرستي د کميدلو په حالت کې د افغانستان اقتصادي وده ځواکمنه کړي، که څه هم کانونو د هيواد په کورني ناخالصو توليداتو کې ډيره کمه برخه اخيستې ده.[560] مګر شک لري چې د زيربنا لپاره د مالي تمويل نشتون او د کمزورې مقرراتي او تقنيني کاري چوکاټ له کبله به کله د سکتور لخوا عوايد په حقيقت بدل شي.[561] که څه هم د افغانستان بوديجې د کانونو کلني عوايدو د 13.2 مليونه امريکايي ډالر اټکل کړی، افغانستان د 1393 مالي کال (2014) لومړۍ نيمايي کې يوازې 3.9 مليونه امريکايي ډالر امتيازونه او فيسونه لاسته راوړي.[562]

## د پانګه اچونې په وړاندې خنډونه

د نړيوال بانک په وينا، افغانستان د امنيت نشتون د پانګونې لپاره ټول نور خنډونه تر اغيز لاندې راوړي.[563] USAID ويلي چې د کانونو ساحې په لرو پرتو سيمو کې دي او ډيرې وختونو په هغو ځايونو کې موقعيت لري چې کيدای شي په مينونو او ناچاودل شوي مهماتو باندې ککړې وي. فساد، نه روزل شوې کارې ځواک، د کار کوونکو خونديتوب کارونو نشتون، او د استخراج ساده طريقې هم د خنډونو حقيقتونه دي.[564] د پانګونې د نورو خنډونو په اړه د جزيياتو خبرې کيدای شي د *امريکا کانګريس ته د سيګار د 2014 د اکتوبر ربع راپور* په 175–177 پانو کې پيدا شي.

### د سيګار پلټنه

د سيګار يوه روانه پلټنه پدې اړه کار کوي چې تر کومې کچې د TFBSO او USAID پروګرامونه خپلو موخو ته رسيدلي ترڅو د افغانستان استخراجي صنعت ته پراختيا ورکړي او که د افغانستان لپاره د يوه باثباته او د اوږد مهاله عوايدو منځ ته راوړلو لپاره د استخراجي عوايدو پر وړاندې کومه ننګونه وي.

په دغه ربع کې يوې مسلې ته تر يوې کچې د حل لار پيدا شوه. د پارلمان دواړو جرګو يو قانون تاييد کړ او د منرالونو قانون هغه برخه يې تعديل کړې چې له يوه شرکت څخه بل شرکت د ليسنسونو ليږد محدودوي، دغه د کانونو په ټولنه کې يو ستندرد کار دی. دغه قانون د 2015 د جنورۍ په 12 د توشيح په تمه و. [565]

په اوس وخت کې د لوګر په ولايت کې د عينک د مسو په کان کې د لرغونو آثارو په ساحه کې د لرغون پيژندني د تاوان کمولو د کارونو له دوام پرته د کيندني کوم کار نه ترسره کيږي. [566]په دغه ربع کې، د حکومت چارواکو ويلي چې د کان په شاوخوا کې د امنيت 86 پوستي جوړې شوې، چې د راپورونو پر اساس په دوامداره توګه تر بريد لاندې راځي. [567] د حاجيګک د خامي اوسپنې د امتياز (د 2011 په نومبر کې وړاندې شوی) قرارداد بدلون په اړه هم کوم راپور نشته. [568]نړيوال بانک راپور ورکړی چې د عينک او حاجيګک د انرژۍ اړوند پانګونو لپاره هم هيلي له منځه ځي. [569]

## د TFBSO لخوا د مرسته شوي دواطلبيو دريځ

له 2010 څخه، TFBSO د افغانستان د کانونو او پطروليم وزارت د يو شمير هايدروکاربن او منرالونو داوطلبيو لپاره حقوقي او مالي مرسته، د پروسي تخصص، د روڼوالي مشورتي خدمات، او نور ملاتړ برابر کړی. [570]دغو کارونو مرسته کړې ترڅو د قرارداد داوطلبيو ارزونه ترسره شي او پر قرارداد باندې مذاکره وشي. په دغه ربع کې د وزارت له کنټرول څخه دباندې د دليلونو لپاره ډيری قرادادونه نا لاسليک شوي پاته دي، لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.19 کې ښودل شوي.

## د معادنو پانګوونه او پراختيا د افغانستان د بقا لپاره

په دغه ربع کې، د USAID د افغانستان دوام لپاره د کانونو پانګوني او پراختيا (MIDAS) پروګرام، د پارلمان وکيلان او د وزارت چارواکي امريکا ته راوړل ترڅو هغوی د کانونو له عصري ټيکنالوجۍ، او د چاپيريال او د کارکوونکو خونديتوب ستندردونو سره آشنا شي. د MIDAS سلاکارانو د وزارت له چارواکو سره مرسته کړې ترڅو د منرالونو نوي قوانينو سره سم د مقرراتو وړانديز وکړي، د دواطلبيو ارزونه وکړي، او د قرارداد نظرونو ته ځواب ورکړي. [571]

د MIDAS سلاکارانو د افغانستان جيولوجيکي سروې سره هم د څو مياشتو سروې په ماموريت کې کار کړی ترڅو د سالنګ په دره کې په تانتالوم پسې وګرځي، هغه عنصر چې د ګڼو توکو جوړولو لپاره کارول کيږي او د بريښنايي ظرفيت لرونکو، اتمي دستګاو، الوتکو او د راکټونو په برخو کې ورڅخه کار اخيستل کيږي. د جيولوجيکي سروې ټيم د ساحې د توپوګرافي يوه نقشه جوړه کړه، د استخراج لپاره يې د برمې لومړنی کارونه پيل کړل، او په 2015 کې د MIDAS د برمې چمتو والي لپاره لارې وکيندلې. دوې ميرمنې، يو جيولوجست او يوه انجنير د ساحې په دغه کار کې برخه اخيستې، دغه له 30 کلونو زيات وروسته د لومړۍ ميرمنې برخه اخيستنه ده. [572]



**د MIDAS جيولوجستان** د سالنګ په دره کې د منرال سمپل ګوري. (د USAID تصوير)

جدول 3.19

**د TFBSO لخوا مرسته شوي داوطلبی**

| داوطلبی | ډول | نیټه | شرح | حالت |
|---|---|---|---|---|
| د انګوت د تیلو ساحه (د آمو دریاب د کاشکاري بلاک) | هایدروکاربن | د 2010 دسمبر – د 2011 جون | د نظر لومړنی ثبوت د دې لپاره دی ترڅو د تیلو او ګازو نړیوالو پانګوالو پام ر وګرځول شي. | تیل تولید شوي، د شپږو میاشتو قرارداد ختم شوی، راتلونکي داوطلب ته اجازه ورکوي ترڅو ساحه شامله کړي. |
| د آمو دریاب تیل | هایدروکاربن | د 2011 په مارچ کې اعلان شوی؛ قرارداد د 2011 په دسمبر کې لاسلیک شوی | اټکل شوی چې د حوزي دري بلاکونه نږدي 87 ملیونه بیرله خام تیل لري. قرارداد د چین پطرولیم ملي شرکت او د افغانستان وطن انرژي ته ورکړی شوی. | قرارداد دوام لري. ټول تولید: 314,000 بیرله؛ د دولت عواید: تر 11/2014 پوري 5.99 امریکايي ډالر. اضافي 53,000 بیرله او په 12/2014 کې د 0.5 ملیونو امریکايي ډالرو عواید تمه. |
| افغان – تاجک I برخه | هایدروکاربن | د 2012 په مارچ کې اعلان شوی؛ د 2013 په اکتوبر کې لاسلیک شوی | د افغان تاجک ساحي شپږ بلاکونه دواطلبی ته وړاندي شوي دوو داوطلبی لاسته راوړي؛ او هر یو یي اوس د استخراج تولید شریکولو قرارداد (EPSC) تر لاندي دی. | قراردادونه له مهال ویش سره سم دوام لري. |
| افغان – تاجک II برخه | هایدروکاربن | د 2014 په جنوری کې اعلان شوی؛ د 2014 په مارچ کې وړاندي شوی | د افغان تاجک ساحي پاته څلور بلاکونه داوطلبی ته وړاندي شوی. دریو داوطلبی لاسته راوړي؛ دوه نور په یوه کي تنظیم شوي. | د MOPM او غوره شوي داوطلب لخوا دوه EPSC پیل شوي؛ او د کابیني تایید لپاره لیږل شوي. |
| د آمو دریاب په ساحه کي د طوطي میدان بلاک | هایدروکاربن | د 2014 په جنوری کې اعلان شوی؛ د 2014 سپتمبر کې وړاندي شوی | د آمو دریاب په ساحه کي 1 بلاک. | له غوره شوي داوطلب سره مذاکري بشپړ شوي 10/27/2014. د څو وزارتونو کمیسیون (IMC) د مذاکرو شرطونه تایید کړي 11/5/2014. د IMC بیاکتني او ESPC تاییدی په تمه دی، او بیا کابیني ته وړاندي کیږي. |
| شیدا | منرال | د 2012 په نومبر کې وړاندي شوی | مس | قرارداد د MOPM او غوره شوي دواطلب لخوا پیل شوی. د کابیني تایید په تمه دی، مګر کیدای شي د MOPM لخوا د منرالونو نوي قانون څخه د اطاعت لپاره بیا کتني ته اړتیا ولري. |
| بدخشان | منرال | د 2012 په نومبر کې وړاندي شوی | سره زر | قرارداد د MOPM او غوره شوي دواطلب لخوا پیل شوی. د کابیني تایید په تمه دی، مګر کیدای شي د MOPM لخوا د منرالونو نوي قانون څخه د اطاعت لپاره بیا کتني ته اړتیا ولري. |
| بلخاب | منرال | د 2012 په نومبر کې وړاندي شوی | مس | قرارداد د MOPM او غوره شوي دواطلب لخوا پیل شوی. د کابیني تایید په تمه دی، مګر کیدای شي د MOPM لخوا د منرالونو نوي قانون څخه د اطاعت لپاره بیا کتني ته اړتیا ولري. |
| زرکشان | منرال | د 2012 په دسمبر کې وړاندي شوی | سره زر | قرارداد د MOPM او غوره شوي دواطلب لخوا پیل شوی. د کابیني تایید په تمه دی، مګر کیدای شي د MOPM لخوا د منرالونو نوي قانون څخه د اطاعت لپاره بیا کتني ته اړتیا ولري. |
| جبل السراج | منرال | د 2014 په فبروری کې وړاندي شوی | سمنټ | د قرارداد مزاکرات روان دي. |

یادونه: د استخراج او تولید شریکولو قراردادونه (EPSC): په غوره شوي ساحو کي د استخراج، پراختیا او تولید لپاره د یوه حکومت او سرچیني شرکت ترمنځ د مدیریت سندونه.

سرچینه: TFBSO، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 7/1/2014، 9/29/2014 او 12/29/2014؛ MOPM، "د زرکشان پروژې لپاره غوره شوی داوطلب،" 12/16/2012؛ MOPM، "10 دلیلونه ترڅو د افغانستان کانونو په سکتور کې پانګونه وشي،" لاس رسی 4/2/2014؛ GIROA، "د آمو دریاب تیلو قرارداد د روڼوالي او عدالت لوړې درجې څخه برخمن دی: له ولسمشر کرزي سره د امریکا او انګلستان سفیران په غونډه کې،" 6/23/2012؛ MOMP، "د افغانستان د هایدروکاربن په لومړنیو داوطلبیو کې د لومړني مستحق کیدلو لپاره غوښتني، " MOPM 2009، "د افغان تاجیک ساحي II برخه داوطلبي، د خپلواکي پروسي او روڼوالي ارزونه، د 2014 د جنوری 15 د اکتوبر 31، په عامه توګه وړاندي شوی راپور،" 11/15/2014.

## هایدروکاربن

د افغانستان هڅې ترڅو د خپلو تیلو او غازو زیرمو ته پراختیا ورکړي د امو دریا په ساحه او افغان – تاجک په ساحه کې، چې دواړه د افغانستان په شمال کې موقعیت لري کار کوي.[573] افغانستان یوازې په تیټه کچه د ډکولو فابریکې لري چې لومړنی تصفیه ترسره کوي او کولای شي یوازې په محدوده اندازه د خامو تیلو برخې تصفیه کړي او تر ډیرې کچې پر وارداتي تیلو باندې تکیه کوي.[574] دغه

هیواد هره ورځ له ترکمنستا، ازبکستان، روسیې، پاکستان او ایران څخه د تیلو 10,000 ټنه تولیدات واردوي.[575]

### د شبرغان پروګرامونه

د نړیوال بانک په وینا، شبرغان د وړیا ګازو درلودلو لپاره امکانات لري او کیدای شي له ازبکستان څخه له وارد شوي بریښنا سره سیالي وکړي.[576] په ساحه کې فعاله پروګرامونه لري؛ د USAID TFBSO پروګرامونه په دغه ربع کې پای ته رسیدلي.[577]

TFBSO 5 ملیونه امریکایي ډالر لګولي ترڅو د 2014 په مې کې د کاشغري تیلو او ګازو خدمات، د خصوصي شرکت لخوا پرمخ وړونکي د CNG په سټیشن تبدیلولو بشپړ کړي ترڅو له افغانستان سره مرسته وشي او د ګازو (CNG) صنعت ته پراختیا ورکړي. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د 2014 په نومبر کې د کاشغري CNG لیسنس وړاندې کړی.[578]

USAID د شبرغان له پروژې څخه ملاتړ کوي ترڅو له افغانستان سره مرسته وکړي د ګازو سرچینې وپیژني او اداره کړي ترڅو د دوو میکانیزمونوله لارو د بریښنا په تولید کې ورڅخه کار واخیستل شي: (1) د 90 ملیونو امریکایي ډالرو، د بودیجې پراساس د شبرغان د ګازو پراختیا پروژه (SGDP) ترڅو د آمو دریاب په ساحه کې څاګانې بیاورغوي او برمه کړي، او د ګازو د ټولولو او ګازو پروسس کولو فابریکه تمویل کړي؛ او (2) د 35 ملیونو امریکایي ډالرو، د کانونو او پطرولیم وزارت د ظرفیت لوړولو او تخنیکي مرستې لپاره، له بودیجې دباندې د شبرغان د ګازو تولید فعالیت (SGGA).[579]

په دغه ربع کې، د برمه کولو قراردادي، د ترکیي پطرولیم شرکت، د کانونو او پطرولیم وزارت ته اطلاع ورکړي چې دغه شرکت تر مهال ویش شاته دی او د 2015 تر مې پورې به برمه کول پیل نکړي، او دا به تر هغه څه چې په قرارداد کې لیکل شوي دوه چنده ډیر وخت وي. تر هغه وخته چې برمه کول پیلیږي توزیعات به ترسره نشي SGGA د افغانستان پطرولیم اداري لپاره د فسخه کیدلو اختیار یو قرارداد چمتو کړ او د قرارداد په یوې سپارښتنه کې راغلي ترڅو قرارداد فسخه کړي، مګر د افغانستان چارواکو پریکړه کړې ترڅو د ترکیي له قراردادي سره کارونو ته دوام ورکړي.[580]

### د پایپ لاین بیارغوني پروژه

TFBSO د افغانستان کانونو او پطرولیم وزارت او د افغانستان ګازو تصدی سره مرسته کړې ترڅو له شبرغانه تر مزارشریفه د 89.1 کیلومترو (55.4- میلو) د اوسني پایپ لاین ظرفیت او هغه ګاز چې پدې پایپ لاین کې تیریږي، کیفیت ښه کړي، او په شبرغان کې د ګازو پروسس کولو او کمپرس کولو تاسیسات جوړ کړي. TFBSO ویلي چې د بیارغوني کارونه 95% بشپړ شوي او پاته برخه کیدای شي له ملاتړ پرته د افغانستان د ګازو تصدی لخوا بشپړه شي. د کمپرس کولو تاسیسات بشپړ شوي، او د ګازو تهیه کول یې 125% زیات کړي، او د غوښتنې په صورت کې به نور هم شتون ولري. په دغه ربع کې د امین فابریکې په بریالیتوب سره د لومړي پړاو رسمي کیدلو چارې بشپړې کړې. دغه فابریکه به په کیمیاوي توګه د افغانستان طبیعي ګاز خواږه کړي، چې ډیر هایدروجن سلفاید او کاربن دای اوکساید لري. کیدای شي دغه فابریکه به هغه وخت کې په بشپړه توګه رسمي شي کله چې غوښتنه ډیریږي او د عملیاتونو او ساتنې لپاره یو شرکت راوړل شي. TFBSO د 2014 اکتوبر تر 9 پورې، د دغو څخو لپاره 33.7 ملیونه امریکایي ډالر ورکړل شوي.[581]

"په دغه ربع کې، دا ډیره روښانه شوې ده چې د MOPM-APA کارکوونکي د فکر کولو اړین مهارتونه، مالي قضاوت، یا هغه اراده نلري ترڅو له تخنیکي یا سوداګریز/مدیریت له نظره د پیچلي قراردادونو مدیریت وکړي. "

سرچینه: USAID، د شبرغان د ګازو تولید فعالیت میاشتنی راپور، د 2014 د نومبر 1 د نومبر تر 30، 12/7/2014.

### د سیګار د پلټنې خبرتیا مکتوب

په دغه ربع کې، سیګار د افغانستان په شمال کې د طبیعي ګازو په اړه چې TFBSO یې بیارغوني سره مرسته کړې، د امریکا دفاع وزارت ته د خبرتیا دوه مکتوبونه لیږلي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 19 وګورئ.

## کرنه

د نړیوال بانک په وینا، کرنه اوس هم د افغانستان وګړو د کار او ژوند اصلي سرچینه ده، او د ناخالص کورني تولیداتو 31% جوړوي، او د کاري ځواک نږدې 59% لپاره کارونه برابروي.[582] د 2002 مالي کال او 2013 مالي کال ترمنځ، USAID د کرنیز تولیداتو او مارکیټونو ته د لاس رسي لپاره نږدې 1.25 ملیارده امریکایي ډالر، او د کوکنارو کرنې د بدیلي پراختیا لپاره 1.38 ملیارده امریکایي

جدول 3.20

| د USAID کرنيز فعاله پروګرامونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د پروژې موضوع | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 12/31/2014 پورې زیاتیدونکي توزیعات |
| د بدیل معیشت اقتصادي هڅوونکي – شمال، لویديځ، او ختيځ (IDEA-NEW) | 3/2/2009 | 2/28/2015 | $159,878,589 | $148,292,490 |
| د طبیعي سرچینو د مدیریت له لارې د عواید او حکومتوالي ښه کول | 4/10/2010 | 12/31/2014 | 14,000,000 | 13,295,807 |
| د کرنې کریډیټ پراخول (ACE) | 7/15/2010 | 2/25/2015 | 75,175,296 | 70,801,590 |
| د کرهنې پراختیا بسپنه (ADF) | 7/18/2010 | 12/31/2014 | 74,407,662 | 54,000,000 |
| د افغانستان د کرنې فاکولتو ځواکمن کول (SAAF) | 3/25/2011 | 12/31/2016 | 7,824,209 | 6,023,503 |
| د وچکالی د پیل خبرتیا سیستم شبکه (FEWSNET) برخه III | 12/29/2011 | 12/28/2016 | 78,011,630 | 2,420,553 |
| د سیمه ایزي کرنې پراختیا پروګرام (RADP) - سویل | 10/7/2013 | 10/6/2018 | 125,075,172 | 16,663,146 |
| د سیمه ایزي کرنې پراختیا پروګرام (RADP) - شمال | 5/21/2014 | 5/20/2019 | 78,429,714 | 2,208,551 |
| د ظرفیت لوړولو او بدلون مدیریت پروګرام II | 7/10/2014 | 7/9/2017 | 19,999,989 | 1,926,142 |
| د کرنې پراختیا سیمه ایز پروګرام (RADP) - لویديځ | 8/10/2014 | 8/9/2019 | 69,973,376 | 1,031,829 |
| د افغانستان د کرنې پراختیا II پروژه (AAEP-II) | 10/1/2014 | 9/30/2017 | 19,814,702 | 311,697 |
| ډیجیټلي وصلول ترڅو په افغانستان کې د کرنې پراختیا ډیره شي (DIAAEA) | 11/30/2014 | 11/29/2015 | 391,000 | 0 |

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/12/2015.

ډالر مکلف کړي.[583] د USAID د بدیل پراختیا پروګرامونو لپاره خبرې د دغه ربع راپور په دغو پانو 111–115 کې موندلی شی.

په دغه ربع کې، USAID راپور ورکړی چې دغه اداره د کرنيز کریډیټ پراخولو (ACE) ته دوام ورکوي، او د امریکا د کرنې وزارت دوی هڅې، د افغانستان کرنيز دوام پروګرام (AAEP) او د ظرفیت لوړولو او بدلون مدیریت پروګرام (CBCMP) پر غاړه اخلي، چې موخه یې د افغانستان د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت (MAIL) ظرفیت لوړول دي.[584] د USAID د کرنې فعاله پروګرامونه په دغه جدول 3.20 کې په لست کې راغلي.

## کرنيز اعتبار لوړول

ACE د افغانستان کرنې پراختیا وجهي صندق (ADF) څخه ملاتړ کوي، چې د بانکونو، فارم دوکانونو، اجاره یي شرکتونو، او خواړو پروسس کوونکو له لارې د کرنې ارزښت تولی کړی ته کریډیټ برابروي. د دغه کریډیټ ډیری برخه بیا بزګرانو ته ورکول. ACE د تخنیکي مرستې یوه برخه ده چې د ADF پور ورکولو فعالیتونه اداره کوي او د MAIL ظرفیت لوړولو سره مرسته کوي.[585]

د USAID د ACE د وروستی ربع راپور (د 2014 جولای تر سپتمبر) ویلي چې ADF په دغه موده کې د 7.6 ملیونو امریکايي ډالرو نوي پورونه توزیع کړي. ټول تایید شوي پورونه 101 ملیونه امریکايي ډالر دي، لدغه څخه 56 ملیونه ورکړل شوي او 31 ملیونه بیرته تادیه شوي. د تاییدونو او توزیعاتو ترمنځ واټن د یوه لوی پور لاسته راوړلو پر ځای، پیرودونکو ته د څو ورو توزیعاتو، د پورونو ثبت د بیوروکراتیکو ځنډونو، او د تولیداتو د قیمت بدلونونو چې څومره پیسو ته اړتیا ده، له کبله دي. د پور اخیستونکو تولیزه شمیره د پروګرام تر نښې ډیره کمه ده. ACE په پیل کې ګمان کړی و ADF به د بانکونو د شبکې له لارې کار وکړي، مګر دغه کار ترسره نشو. پردې برسیره، په 2014 کې د پور ارزوني پروسه په منځنی کچه 11 میاشتې وخت نیولی. د ADF د تولګې خطر 3.58% ده او دا د غرب په مالي سکتور کې هم یو منل شوی نرخ دی.[586]

## اړین خدمتونه او پراختیا

له 2002 راهیسي، متحده ایالاتو د بیارغوني بسپنې چمتو کړي ترڅو په افغانستان کې بریښنا ډیره، سړکونه او پلونه جوړ، او روغتیا او تعلیم ته وده ورکړي. په دې برخه کې د متحده ایالاتو هغه هڅې روښانه کیږي چې بنسټیزو خدماتو د پیاوړتیا په برخه کې د دولت توان زیاتوي لکه بریښنا، ترانسپورت، روغتیا او تعلیم.

## انرژي

افغانستان د خپلې ټولې انرژۍ اړتیا نږدې 73% واردوي. د نړیوال بانک یوه خورا اخرني راپور په وینا، تمه کیږي چې نږدې راتلونکې کې د بریښنا واردول ډیر شي، دې راپور دا یادونه هم کړې چې په افغانستان کې بریښنا ته محدود لاسرسی د خصوصي سیکتور پرمختګ لپاره یو له خورا لوی خنډونو څخه دی.[587] دا هیواد د بریښنا رسوني په کتار کې د نړۍ ترټولو اخرنی هیواد دی، چې یوازې 25% افغانان بریښنا ته لاسرسی لري. له هغو کسانو څخه چې وصل دي، نږدې 75% په ښاري سیمو کې ژوند کوي،[588] مګر ښاري کورنۍ د ټول افغانستان د نفوس 37% جوړوي.[589]

له 2002 څخه تر 2014 پورې، تنها USAID نږدې 2.8 ملیارده امریکایي ډالر مکلف کړي، ترڅو په دغه سکتور کې جنراتورونه، فرعي سټیشنونه، او د بریښنا لیږد لینونه جوړ کړي او تخنیکي مرسته برابره کړي.[590] پردې برسیره، د امریکا دفاع وزارت د بریښنا پروژو لپاره د CERP له لارې نږدې 292 ملیونه امریکایي ډالره او د افغانستان د زیربنا وجهي صندق (AIF)، له لارې نږدې 1.1 ملیونه امریکایي ډالر، چې د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو لخوا په ګډه اداره کیږي، مرسته برابره کړې ده.[591]

د افغانستان د بریښنا دوه اصلي سیستمونه د شمال ختیځ بریښنا سیستم (NEPS) او د جنوب ختیځ بریښنا سیستم (SEPS) دي. لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.21 کې ښودل شوي، USAID درې پروژې لري ترڅو دواړه سیستمونه سره وصل کړي او د بریښنا رسولو اندازه زیاته کړي، شبرغان؛ د کندهار او هلمند د بریښنا پروژه، چې د کجکي اوبو له بند؛ او د بریښنا لیږد پراخوالي او وصلولو پروګرامو څخه جوړ شوی، او د ظرفیت لوړولو هغه برخه ده ترڅو له افغانستان سره مرسته وشي او دغه پانګوني وساتي.[592]

**NEPS:** د مرکزي آسیا له جمهوریتونو څخه بریښنا واردوي، ترڅو د کابل او د کابل شمال خوا ټولنو ته بریښنا برابره کړي.

**SEPS:** د بریښنا ډیری برخه د کجکي له بند او د کندهار په ښار کې د ډیزل له جنراتورونو څخه اخلي، ترڅو د هلمند او کندهار ساحو ته بریښنا برابره کړي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، *په افغانستان کې د سولې او ثبات د پرمختګ په اړه راپور*، 11/2013، د لاسرسي نیټه 12/29/2013.

## د کندهار-هلمند بریښنا پروژه

د کندهار او هلمند د بریښنا پروژې (KHPP) موخه دا ده ترڅو د کندهار او هلمند په ولایتونو کې د بریښنا اندازه او اعتبار ډیر کړي.[593] د دغې پروژې ټولې برخې ترل شوي، مګر د بلک او ویټیک شرکت سره د USAID د تخنیکي ملاتړ مرستې له یوه قرارداد پرته ترڅو د افغانستان بریښنا شرکت، د افغانستان بریښنا خدماتو ملي شرکت هڅو سره مرسته وکړي، او د کجکي له بند څخه د اوبو بریښنا اوږد مهاله دوام زیات کړي.[594] د امنیتي ګواښونو له کبله د توربین برخې له 2008 څخه په کجکي له نصب پرته پرتې دي.[595] د راپورونو پر اساس د هلمند ولایت د والي معاون ویلي چې حکومت د کجکي پر ولسوالی کنټرول نلري.[596]

**د کجکي د دریم توربین نصب او رسمي سپارل په 2013 له KHPP څخه کم شوی او د بودیجې پر اساس DABS ته د بشپړیدو لپاره سپارل شوی. د کجکي 2 برخه د 2014 دسمبر په 25 پیل شوې، کله چې DABS د امریکا د ساختماني چارو 77 قول اردو سره د توربین نصبولو قرارداد لاسلیک کړ.**

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/12/2015.

جدول 3.21

| د 2014 دسمبر تر 31 پورې، د USAID انرژۍ زيربنا فعالي پروژې | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د پروژې موضوع | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټكل شوی لګښت (په ډالرو) | مجموعي ورکړل شوي (په ډالرو) |
| د کندهار هلمند برېښنا پروژه (له بوديجې دباندې) | 12/9/2010 | 11/30/2015 | $226,600,000 | $222,800,000 |
| د شبرغان ګازو توليد فعاليتونه (له بوديجې دباندې) | 12/21/2011 | 3/31/2015 | 30,440,958 | 16,697,785 |
| د شبرغان ګازو توليد فعاليتونه (د بوديجې پر اساس) | 5/15/2012 | 4/30/2015 | 90,000,000 | 30,000,000 |
| د برېښنا ليرد پراختيا وصلول (د بوديجې پر اساس) | 1/1/2013 | 12/31/2016 | 340,000,000 | 11,400,000 |
| د برېښنا ليرد پراختيا وصلولو فعاليت (د افغانستان زيربنا وجهي صندق ته مرستي ليرل شوي) | 3/7/2013 | 3/6/2018 | 105,670,184 | N/A |
| د کندهار هلمند برېښنا پروژه (د بوديجې پر اساس) | 12/9/2013 | 2/28/2016 | 36,000,000 | 12,500,000 |
| د برېښنا ليرلو پراختيا وصلول (له بوديجې دباندې) | 2/1/2014 | 1/31/2015 | 1,700,000 | 443,845 |

سرچينه: USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/28/2014.

## د برېښنا د لیږد پراختیا او نښلوني پروګرام

د امريکا لخوا تمويل شوی د برېښنا غزولو او نصبولو (PTEC) پروګرام د دې لپاره ډيزاين شوی ترڅو د برېښنا توليد، ليږد، او توزيع سيستمونه ځواکمن او پراخ کړي، او پدغه پروګرام کې د کابل ترمنځ کندهار د NEPS له SEPS سره د برېښنا ليږد لينونو وصلولو تمويل هم شامل دی.[597] PTEC خصوصي کيدل او د ظرفيت لوړولو برخو موخه دا ده ترڅو تخنيکي او سوداګريز ضايعات کم کړي.[598] له ارغندي تر غزني د برېښنا ليږد لينونو او فرعي سټيشنونو، د NEPS او SEPS وصلول، چې په دغه ربع کې پيل شوی، له لومړنيو کارونو (د قراردادي استخدام، سروې او ډيزاين، او د توکو او تجهيزاتو له تدارکاتو) پرته، د PTEC پروژو ساختماني کارونه تر اوسه ندي پيل شوي.[599]

## د امريکا دفاع وزارت د زيربنا وجهي صندق پروګرامونه

په دغه ربع کې، د امريکا دفاع وزارت د انرژۍ سکتور د لومړيتوبونو يو شمير پروژو تطبيق ته دوام ورکړی ترڅو د 2011 تر 2014 مالي کلونو پورې د AIF له پيسو څخه په کار اخيستنې (د 2015 مالي کال د مرستو غوښتنه نده شوې، او نه هم تخصيص شوې) د NEPS او SEPS خپله برخه بشپړه کړي، لکه څرنګه چې په راتلونکې پاڼه کې په دغه جدول 3.22 کې ښودل شوي.[600] دواړه د انرژۍ او اوبو وزارت او د افغانستان برېښنا شرکت، به د دغو پروژو د ساتنې دوام، پشمول د کله چې دغه پروژې بشپړې شي او حکومت ته تسليم شي، د عملياتونو او ساتنې د لګښتونو مسوليت ولري. د امريکا دفاع وزارت کانګريس ته اطلاع ورکړي چې د ډيرو پيرودونکو له اساس څخه د زياتو عوايدو ټولول به مرسته وکړي ترڅو د اوږد مهاله دوام برابرولو لپاره برېښنا شرکت ورتيا زياته کړي.[601] مګر سيګار د افغانستان برېښنا شرکت د ظرفيت په اړه پوښتنې کړې او ويلي چې افغانستان هغه اړينې سرچينې نلري ترڅو د عملياتونو او ساتنې لګښتونه ورکړي.[602] نړيوال بانک ويلي چې د برېښنا شرکت تخنيکي او سودګريز تاوانونه اوس هم ډير دي.[603]

### د سيګار پلټنه

سيګار په دغه ربع کې يوه پلټنه پيل کړې چې د امريکا بهرنيو چارو وزارت د 2011 مالي کال د افغانستان د زيربنا وجهي صندق پروژو د بشپړولو په پرمختګ باندې، او دا چې دغو پروژو د زيربنا پر نورو لومړيتوبونو څومره اغيز کړی، او د ياغيتوب پر وړاندې د پلان شوي موخو او دوام ننګونو باندې پلټنه کوي. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 28 وګورئ.

جدول 3.22

**د 2014 دسمبر تر 31 پورې، د افغانستان زیربنا وجهي صندق فعاله پروژې**

| د AIF مالي کال | د AIF پروژه | شرح | اعلان شوي اندازه (ملیونونه ډالر) | مکلف شوي (ملیونونه ډالر) | مصرف شوي (ملیونونه ډالر) | حالت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مالي کال 2011 | د NEPS – SEPS وصلول، له ارغندي تر غزني | د برېښنا، برابرول، نصبول، آزموینه او رسمي سپارل | $56.7 | $56.7 | $0.0 | USAID ته سپارل شوې؛ مهال ویش سره سم |
| | د NEPS – SEPS وصلول، له ارغندي تر غزني | د فرعي سټیشن، برابرول، نصبول، آزموینه او رسمي سپارل | 48.0 | 48.0 | 0.0 | USAID ته سپارل شوې؛ مهال ویش سره سم |
| | NEPS - له ارغندي تر ګردیزه برخه I | د برېښنا لینونو نصبول او د فرعي سټیشنونو ساختماني کارونه | 93.7 | 51.9 | 7.6 | په ډیزاین کې؛ تر پلان وراندې (حقیقي 5% د پلان شوي 1% په پرتله) |
| مالي کال 2012 | SEPS - د کندهار له ښاره تر د دراني تر غلور لارې 2 مرحله | د برېښنا لینونو نصبول او بیارغونه او د فرعي سټیشنونو بیارغونه او ساختماني کارونه | 40.0 | 29.6 | 2.5 | ډیزاین/استخدام/ماین پاکي؛ مهال ویش سره سم |
| | NEPS - له ارغندي تر ګردیزه 2 برخه | د برېښنا لینونو نصبول او د فرعي سټیشنونو ساختماني کارونه | 69.2 | 67.2 | 9.5 | ډیزاین؛ مهال ویش سره سم (14% بشپړ شوی) |
| | NEPS - له چاریکاره تر پنجشیره 1 مرحله | د برېښنا لینونو نصبول او د فرعي سټیشنونو ساختماني کارونه | 38.0 | 37.8 | 4.3 | ډیزاین؛ مهال ویش سره سم (14% بشپړ شوی) |
| مالي کال 2013 | NEPS - له چاریکاره تر پنجشیره 2 مرحله | د برېښنا لینونو نصبول او د فرعي سټیشنونو ساختماني کارونه | 33.0 | 25.3 | 2.9 | ډیزاین؛ مهال ویش سره سم (14% بشپړ شوی) |
| | د SEPS بشپړیدو – 1 مرحله | د هلمند په ولایت کې د فرعي سټیشن ساختماني کارونه او د برېښنا لیږد لیونونو بیارغونه | 75.0 | 70.6 | 3.3 | ډیزاین/استخدام/ماین پاکي؛ مهال ویش سره سم |
| | له غزني تر کندهاره، د NEPS-SEPS وصلول | د برېښنا لینونو او پایو ډیزاین او نصبول؛ د فرعي سټیشنونو ساختماني کارونه. د NEPS-SEPS وصلولو د پای برخه. | 179.5 | 0.0 | 0.0 | د وړاندیز چمتو کولو لپاره؛ USAID ته سپارل شوی |
| مالي کال 2014 | د کندهار پلین حل | د کندهار په ښار کې د ډیزل جنراتورونو لپاره د تیلو برابرول | 20.0 | 8.0 | 0.0 | د پرمختګ په حال کې |
| | د SEPS بشپړیدل – 2 مرحله | د هلمند او کندهار په ولایتونو کې د برېښنا لیږد لینونو او فرعي سټیشنونو ساختماني کارونه او بیارغونه | 49.0 | 0.0 | 0.0 | د وړاندیز چمتو کولو لپاره ډیزاین USAID ته سپارل شوی |
| | NEPs - له ګردیزه تر خوسته | د برېښنا لیږد لینونو نصب او توزیع ډیزاین؛ د فرعي سټیشنونو ساختماني کارونه په NEPs کې د امریکا دفاع وزارت اخري برخه اخیستنه | 130.0 | 0.0 | 0.0 | له قرارداده وړاندې |

یادونه: د AIF ټولو پروژو ته به د افغانستان د انرژي او اوبو وزارت، د افغانستان برېښنا شرکت (DABS)، د افغانستان د برېښنا ملي خدمات، به دوام ورکړي. تر 11/30/2014 پورې مکلفیتونه او مصارف. تر 12/31/2014 پورې، ټول نور معلومات.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب 9/30/2013، 10/7/2014 او 1/2/2015؛ USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/20/2015.

## ټرانسپورټیشن

د افغانستان د ټرانسپورټیشن زیربنا نه شتون داخلي سوداګري، بهرنی تجارت او اقتصادي وده په شا تمبوي. نړیوال بانک ویلي چې د اقتصادي پراختیا لپاره د ټرانسپورټ سکتور جوړول اړین دي.[604] د افغانستان زیربنا کموالی د خدماتو او کرنې سکتورونه له ځنډ سره مخامخ کوي، چې په اوس وخت کې د ناخالص کورني تولیداتو ډیره برخه جوړوي.[605] د کانونو صنعت هم ځنډوي، چې د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې مرستندویان باور لري دغه عواید به د مخ پر کمیدو مرستو ځای ونیسي.[606] په دغه ربع کې، امریکا خپلو هڅو ته دوام ورکړی ترڅو له افغانستان سره مرسته وکړي، د وزارت ظرفیت لوړ کړي، او عملیاتونو او ساتنې ته دوام ورکړي.[607]

## سړکونه

پداسي حال کي چي امریکا په زیاتیدونکي توګه د سړکونو ساختماني کارونو، عملیاتونو او ساتني لپاره 2.36 ملیارده امریکایي ډالر برابر کړي دي، او په دغه کال کي به د عملیاتونو او ساتني هڅو لپاره نږدي 5 ملیونه امریکایي ډالر ولګوي، نړیوال بانک ویلي چي د افغانستان د سړکونو 85% په خراب حالت کي دي او وسایط نشي کولای له ډیریو دغو سړکونو څخه کار واخلي.[608] د USAID په وینا، افغانستان په اوس وخت کي په پوره اندازه عواید او تخنیکي وړتیا نلري ترڅو خپل سړکونو او لویي لارې وساتي؛ چیرته چي عواید شتون لري، فعالیتونه تطبیق شوي دي، که څه هم په کمزوري بڼه و.[609] پردې برسیره، د سړکونو یوې فعالي اداري نشتون، په ټول افغانستان کي تر ډیري کچي د سړکونو په زیربنا باندي اغیز کړی دی.[610] د USAID د سړکونو ساختماني کارونو او عملیاتونو او ساتني پروګرامونه د دغه جدول 3.23 په لست کي دي.

USAID د سړکونو سکتور د دوام پروژې (RSSP) له لارې، د عامه چارو وزارت سره خپلو مرستو ته دوام ورکوي ترڅو خپله تخنیکي وړتیا ډیره کړي او د سړکونو وجهي صندق، د سړکونو اداره، او د ترانسپورت انستیتوت تاسیس کړي، ترڅو دغه وزارت وکولای شي په ښه توګه د سړکونو زیربنا تمویل او وساتنه تمویل کړي. د RSSP د عملیاتونو او ساتني بیرني فعالیت په دغه ربع کي د افغانستان څلورو شرکتونو ته یو قرارداد وړاندي کړی، او لومړنی غونډه یې د 2014 په دسمبر کي ترسره شوي.[611] د RSSP د ټولو څلورو فعالیتونو د شرحي لپاره د *امریکا کانګریس ته د سیګار د 2014 د اکتوبر ربع په راپور* کي دغه 192–193 پاڼي وګورئ.

3.23 جدول

**د 2014 دسمبر تر 29 پوري، USAID د سړکونو فعاله ساختماني کارونه، عملیاتونه او ساتني پروګرام**

| د پروژې موضوع | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | مجموعي ورکړل شوي (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| د سرک سکتور دوام پروژه | 8/1/2014 | 8/1/2019 | $103,000,000 | $700,000 |
| د ګردیز او خوست سرک، IV مرحله | 6/26/2014 | 12/25/2015 | 31,963,736 | 6,561,385 |
| د سالنګ دهلیز ساتنه | 3/24/2013 | 3/30/2016 | 1,780,100 | 645,804 |

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 12/28/2014؛ USAID، د سیګار ارزوني ته ځواب، 1/12/2015.

## زده کړه

امریکا هڅه کوي ترڅو د زده کړي موادو د بیرنیو اړتیاو ته د ځواب ورکولو، ښوونځیو، ښوونکو زیاتوالي، او بالغو کسانو ته د سواد زده کړي فرصتونو ډیرولو، مسلکي کارونو، او ځوانانو ودی له لارې د کیفیت وړ زده کړي ته د افغانانو لاس رسی ډیر کړي.[612] د USAID د زده کړي روزني فعاله پروګرامونو بشپړ لست کیدای شي په دغه جدول 3.24 کي وموندل شي.

د زده کړې وزارت له EMIS څخه د وروستي تر ډيري کچې بشپړ شوي معلوماتو په وينا، په 1392 (2013) کې افغانستان د عمومي زده کړې ټول 13,858 (حکومتي) ښوونځي او 7.98 مليونه ثبت شوي زده کوونکي درلودل. له ثبت شوي زده کوونکو څخه، 6.26 مليونه د حاضر په توګه، او 1.36 مليونه د غير حاضر په توګه درجه بندي شوي. EMIS په هر وخت کې پرانيستي او تړل شوي ښوونځي، او نه هم د ښوونکو او زده کوونکو حاضري تعقيبوي. شميرې په خپلواکه توګه ندي تاييد شوي.

سرچينه: د معارف وزارت، د زده کړې مديريت معلوماتي سيستم (EMIS) لخوا توليد شوی راپور، د ملکيت او د پروګرام کال (1392) پراساس د ښوونځيو او زده کوونکو لنديز، لاس رسی 1/15/2015؛ د زده کړې وزارت، د زده کړې مديريت معلوماتي سيستم (EMIS) لخوا توليد شوی راپور، د ملکيت او د پروګرام کال (1391) پراساس د ښوونځيو او زده کوونکو لنديز، لاس رسی 1/15/2015؛ USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/30/2013؛ د زده کړې وزارت، د زده کړې ګډ سکتور ارزونه *2012*، 9/2013.

پدې ربع کې د USAID د ESF له لارې تمويل شوي د لومړيتوب تعليم پروګرامونو کې شامل دي:[613]

- اساسي زده کړه، زده کړه او روزنه (BELT)
- د BELT په ټولنه کې زده کړه (CBE)
- د افغانستان امريکايي پوهنتون يا AUAF
- د افغانستان پوهنتون ملاتړ او کاري ځواک پراختيا پروګرام (USWOP)
- د زده کړې کيفيت ښه والي پروژه (EQUIP)

USAID ويلي چې د نظارت سيستم ګامونه شتون لري ترڅو فعاليت، پشمول د هرې پروژې لپاره د فعاليت نظارت يو پلان چې نښې او موخې لري، اندازه کړي. د بيلګې په توګه، د BELT-CBE د اندازه کولو، نظارت او ارزوني پلانونه د پروګرام تر تطبيق وړاندې، د پراختيا په حال کې دي. AUAF هغې ټولنې چې کم عامه پوهاوی لاسته راوړي تعقيبوي؛ د بيلګې په توګه د 2014 اوړي زده کوونکو اداري 31% ميرمنې وې.[614]

جدول 3.24

**د USAID زده کړې فعال پروګرامونه**

| د پروژې موضوع | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 12/31/2014 پورې زياتيدونکي توزيعات (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د زده کړې بورسونو پروګرام | 8/21/2011 | 7/31/2017 | $7,384,665 | $6,235,469 |
| د اساسي زده کړې، سواد زده کړې، او تخنيکي او مسلکي زده کړې (BELT) نصاب کتابونه | 11/16/2011 | 12/31/2014 | 26,996,813 | 24,436,268 |
| د زده کړې لپاره نړيواله ملګرتيا | 10/11/2012 | 3/31/2015 | 2,500,000 | 909,973 |
| د افغانستان تخنيکي مسلکي انستيټيوت | 6/15/2013 | 6/14/2015 | 1,000,000 | 700,000 |
| د افغانستان امريکايي پوهنتون، د تخصصي پراختيا انستيټيوت | 8/1/2013 | 7/31/2018 | 40,000,000 | 10,717,446 |
| BELT - په ټولنه کې روزنه (CBE) | 10/29/2013 | 10/28/2017 | 56,000,000 | 0 |
| د افغانستان د پوهنتون ملاتړ او کاري ځواک پراختيا پروګرام | 1/1/2014 | 12/31/2018 | 91,927,769 | 8,295,625 |
| د زده کړې د پايلو ارزونه او په ټولنه کې د زده کړې ټولنيز اغيز | 1/1/2014 | 12/31/2017 | 2,799,228 | 414,494 |
| په افغانستان کې د زده کړې ځواکمن کول (SEA II) | 5/19/2014 | 5/18/2019 | 29,835,920 | 1,442,857 |
| اساسي زده کړې ته زيات لاس رسی او د جندر مساوات | 9/17/2014 | 9/16/2019 | 54,027,000 | 54,027,000 |

سرچينه: USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/12/2015.

USAID راپور ورکړی چې د امريکا حکومت په مرسته د 1 تر 6 ټولګي 34 مليونه د نصاب کتابونه چاپ شوي دي، او د BELT د نصاب کتابونو توزيع له لارې چې د 2011 په نومبر کې پيل شوي، د ابتداييه ښوونځيو 5.6 مليون زده کوونکو ته يې ګټه رسيدلې. پردې برسيره، 84,331 ښوونکي د EQUIP له لارې روزل شوي، چې USAID اټکل کړی په هر ټولګي کې په منځنۍ کچه د 35 زده کوونکو پر اساس د ابتداييه ښوونځيو 2.6 مليونو زده کوونکو ته يې ګټه رسيدلې.[615]

## د پوهنتون ملاتړ او کاري ځواک پراختيا پروګرام

د پوهنتون ملاتړ او کاري ځواک پراختيا پروګرام (USWDP) موخه دا ده ترڅو د لوړو زده کړو وزارت (MOHE) او 10 پوهنتونونو د مديريت ظرفيت ښه کړي. دغه پروګرام د لوړو زده کړو له وزارت سره مرسته کوي ترڅو د زده کوونکو لپاره د کيفيت وړ زده کړه او کاري فرصتونه برابر کړي. د پروګرام د فعاليت راپور چې په دغه ربع کې خپور شوی (د 2014 جولای تر سپتمبر تر پوښښ لاندې راوړي) ويلي چې د کار سکتور ارزونه ترسره شوې چې د ليسانس ډيپلوم پروګرامونو لپاره به لاربښوونه برابره کړي او د کار له مارکيټ سره به هغوی وصل کړي.[616]

د ربع راپور د پروګرام لپاره سختې ننګونې هم په لست کې راوړي: د ټولټاکنو اړوند امنيتي مسلې چې پر خوځښت باندې يې محدوديتونه وضع کړي و؛ د لوړو زده کړو وزارت کمزوری مديريت او کارونه؛ او د وزارتونو ترمنځ ستونزې او بيوروکراتيک خنډونه.[617]

## روغتيا

افغانستان له 2002 راهيسې د روغتيا شاخصونو کې پرمختګونه تجربه کړي، پدې سره د نړيوال بانک په وينا دا د ټيټ عايد هيوادونو کې له اوسطه ټيټ پاتې دی او په نړۍ کې د ماشوم مړينې ترټولو لويه کچه لري.[618] د عامې روغتيا وزارت (MOPH) سره د متحده ايالاتو مرسته کې د ظرفيت جوړونه، روزنه او د کيفيت ډاډګيرنه په مرکزي او نيمه ملي کچو کې په ځانګړي توګه سويل او ختيځ ولاياتو کې شامل ده، چيرې چې خدمات ترډيره شتون نلري.[619]

## د USAID مرسته

له 2002 مالي کال څخه تر 2013 مالي کال پورې، امريکا د افغانستان روغتيا سکتور لپاره له بوديجې دباندې ټولې مرستې 1.2 مليارده امريکايي ډالره وي. له 2014 مالي کال څخه تر 2018 مالي کال پورې، د USAID ټولې مرستې به 383 مليونه امريکايي ډالر وي.[620] د عامې روغتيا وزارت لپاره د بوديجې په مرستو کې د امريکا لخوا په تمويل شوې تاسيساتو کې د کارکوونکو معاشونه، توکي او تجهيزات، په خدمت کې روزنه، د تاسيساتو وړې بيارغونې، او نظارت او اداره شامله ده. له بوديجې څخه د باندې د مرستې په فعاليتونو کې د روغتيا سيستم ځواکمن کول، د خصوصي سکتور ګډون، او د درملو او بارداری مخې نيولو درمل شامل دي.[621]

د 2014 دسمبر تر 31 پورې، په 13 ولايتونو کې د روغتيا 641 تاسيساتو شتون درلود،[622] او USAID مرستې يې ملاتړ کوي، لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.25 کې ښودل شوې.[623]

## د سيګار پلټنه

په دغه ربع کې سيګار د امريکا د هڅو په اړه ترڅو د افغانستان لومړنی او منځنی روزنې سيستمونو ته لاس رسی او کيفيت يې ښه کړي، يوه پلټنه پيل کړې. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 29 وګورئ.

جدول 3.25

**د 2014 د دسمبر تر 31 پورې، د USAID لخوا تمويل شوي د روغتيا تاسيسات،**

| د روغتيا تاسيساتو ډول | د روغتيا فعاله تاسيساتو شمير |
|---|---|
| د روغتيا اساسي مرکز | 278 |
| د روغتيا هر اړخيز مرکز | 177 |
| د ولسوالۍ روغتون | 27 |
| ولايتي روغتون | 5 |
| د روغتيا فرعي مرکز | 144 |
| د بنديخانې روغتيا مرکز | 10 |

سرچينه: USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/12/2015.

## د USAID د روغتيا پروګرامونه

د USAID روغتيا فعاله پروګرامونه ټول 383.6 مليونه امريکايي ډالر لګښت لري، او په دغه جدول 3.26 کې په لست کې راغلي.

جدول 3.26

**د USAID د روغتيا فعاله پروګرامونه**

| د پروژې موضوع | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 12/31/2014 پورې زياتيدونکي توزيعات (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| د کوزن له منخه ورو فعاليتونه | 9/30/1996 | 9/30/2022 | $10,830,615 | $9,265,102 |
| [نوم پکي ندی راوړل شوی] | 9/29/2006 | 9/29/2015 | 35,000,000 | 3,750,000 |
| د روغتيا لپاره د ملګرتيا قراردادونه (PCH) | 7/20/2008 | 12/31/2015 | 259,663,247 | 194,326,384 |
| د تحويلی کری مديريت برابرولو لپاره ملګرتيا | 6/1/2009 | 9/26/2015 | 894,402 | 394,402 |
| د توبرکلوز ساحوي ملاتړ | 9/29/2010 | 9/28/2015 | 5,600,000 | 4,600,000 |
| رسول | 9/30/2010 | 9/29/2015 | 13,535,571 | 11,491,940 |
| د فارمسي سيستم تقويه کول | 8/28/2011 | 8/27/2015 | 24,499,936 | 17,146,374 |
| د روغتيايي پاليسيو پروژه يا HPP | 9/25/2011 | 1/31/2015 | 28,000,000 | 22,597,226 |
| د ښو سکتورنو طريقو له لارې د خوارو ښه کول | 11/7/2014 | 12/31/2017 | 5,610,012 | 0 |

سرچينه: USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/12/2015، USAID د سيګار ارزونې ته ځواب، 1/20/2015.

### د روغتيايي خدمتونو د مشارکت قرارداد

د روغتيا لپاره د ملګرتيا قرارداد (PCH) خدمات د 2015 د دسمبر تر 31 غزول شوي.[624] د کوربه هيواد د PCH قرارداد پروګرام د عامې روغتيا وزارت له هڅو څخه ملاتړ کوي ترڅو په 13 ولايتونو کې د روغتيايي خدماتو اساسي ټولګې او په پنځو ولايتونو کې د روغتون خدماتو اړيني ټولګې (EPHS) برابرې کړي. PCH څه دبره 6,000 روغتيايي پوستو او له 600 ډيرو مرکزونو کې د روغتيا پاملرنه ملاتړ کوي پشمول د روغتونو او روغتيا مرکزونو. او دغه پروګرام د ولايتونو په پنځو او يوه ملي روغتون کې د دريمې درجې روغتيايي پاملرنې خدمتونو ملاتړ هم کوي. پردې برسيره، PCH په ټولنو کې د دايو د روزنو پروګرام ملاتړ کوي، او د دې پروګرام موخه د مور او کوچنې د مړينې کموالی دی.[625]

USAID ويلي چې په دغه ربع کې د روغتيا خدماتو رسولو لپاره امنيت يو خنډ پاته شوی. د روغتيا يو شمير تاسيسات تړل شوي. د PCH ټول ولايتونه ناامنه ولسوالی لري چې رسيدل يې ستونزمن دي، څکه نو PCH په دغو ساحو کې د خپلو پروګرامونو نظارت او د راپورونو ارزونه د تيلفون له لارې کوي، او د ټولنې مشرانو څخه غوښتنه کوي ترڅو د روغتيا تاسيساتو مديريت وکړي. پردې برسيره، د دريم ګړي لخوا په شپږو ولايتونو کې د نظارت فعاليتونه بشپړ شوي، او د عامې روغتيا وزارت، د PCH تر لاربښونې لاندې، له يوې تطبيق کوونکې ملګرې NGO سره د کوربه هيواد د اوسنيو ټولو قراردادونو نه غزيدونکي اتو مياشتو قرارداد بشپړ کړی، چې 18 قراردادونه تر پوښښ لاندې راوړي. د PCH دغه برخه به د 2015 په جون کې ختمه شي.[626]

**د مشرتابه، مديريت او حکومتداري پروژه**

د LMG پروژه د عامې روغتيا او زده کړې له وزارت سره په مرکز او ولايتونو کې کار کوي ترڅو د حکومتوالی ظرفيت او حساب ورکول ښه کړي، او د افغانستان د روغتيا او زده کړې په سيستمونو کې د بوديجې پر اساس مرستې مديريت کولو سره مرسته کوي.[627]

په دغه ربع کې، USAID ويلي چې LMG د ټولنې پر اساس د ملي روغتيا ستراتيژۍ تعديل کړې، د قرارداد وړانديزونو ارزونه يې کړې، د روغتيا کارکوونکو لپاره يې د رزونې يو شمير ورکشاپونه ترسره کړي، او د ملي روغتيا څيړنې غونډه همغږې کړې، چيرته چې د دندو لايحه جوړه شوې، د څيړنې لومړيتوبونو باندې خبرې شوې، او د څيړنو نظارت سيستم تاسيس شوی.[628]

د بوديجې پر اساس د مرستو پيچلې او ځنډنې سپارل LMG د تمويل له نامعلومتيا سره مخامخ کړې، او د LMG د پروژو د دوام په اړه يې د عامې ورغتيا په وزارت او ملګرو کې ناهيلی او انديښنې راپورته کړې. پردې برسيره، USAID د عامې روغتيا په وزارت کې د سياسي مشرتابه په ټاکلو کې د دوامداره ځنډ له کبله د حساب ورکولو کموالې راپور ورکړی.[629]

# 4
# د نورو ادارو
# **څارنيز** فعاليتونه



# د نورو ادارو د نظارت فعالیتونو منځپانګې

د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه 176
د نظارت روان فعالیتونه 183

**تصویر په تیره پاڼه کې**
افغان سیمه ایزو پولیسو او افغان ملي امنیتي ځواکونو سرتیري په پکتیکا ولایت کې یوه غره ته خیژي ترڅو ګزمه سرته ورسوي او د یوه کلي د امنیت ناسته په لاره واچوي. (د بریدمل جارډ جیمن لخوا د دفاع وزارت عکس، د متحده ایالاتو اردو)

# د نورو ادارو څارنيز فعاليتونه

د سيګار قانوني مسوليت غوښتنه کوي چې د بيارغونيزو پروګرامونو په اداري کې د ستونزو په هکله دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو ته خبرتيا ورکړي، او د هر ربعي پای ته رسيدو سره تر 30 پورې د خپل څارنيزو کارونو او د متحده ايالاتو د بيارغونيزو هڅو په اړه يو رپوټ کانګريس ته وړاندې کړي. په هر ربع کې سيګار له نورو ادارو څخه د بشپړ شويو او روانو نظارت فعاليتو په اړه د معلوماتو غوښتنه کوی. دا برخه لاندې نوې کوني لري. د مکمل شوي راپورونو عام وګړو ته چمتو کاپياني د ادارو اړوند ويب پاڼو کې ځړول شوي.

توضيحات په هغه توګه دي لکه چې وړاندې شوي، او واړه بدلونونه لري ترڅو د دې راپور له نورو برخو سره مطابقت وساتل شي: د پوره نوم پر ځای د اختصار توري؛ ستندرد لويو ټکو کارول، د ربط نښه، د تنقيط علامه، غوره املاء، او د دريم کس پر ځای د لومړي کس کارول.

په افغانستان کې دغې اداري د نظارت فعاليتونه ترسره کوي او پايلې يې سيګار ته وړاندې کوي:

- د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر (DOD OIG)
- د امريکا بهرنيو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر (State OIG)
- د امريکا حکومت د حساب ورکولو دفتر (GAO)
- د متحده ايالاتو پوځ د پلټنې دفتر (USAAA)
- د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده ايالاتو اداري د عمومي مفتش دفتر (USAID OIG)

## د نظارت بشپړ شوي فعاليتونه

جدول 4.1 د بيارغوني کارونو په اړوند د نظارت د هغو پروژو لست دی چې پدې ربع کې برخه اخيستونکو ادارو د بشپړ شوي په توګه راپور ورکړي.

جدول 4.1

**د 2014 دسمبر 31 پورې د متحده اياﻻتو نورو ادارو پدې وروستيو کې د څار بشپړ شوي فعاليتونه**

| اداره | د راپور شميره | د خپريدو نيته | د پروژې موضوع |
|---|---|---|---|
| د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | DODIG-2015-047 | 12/19/2014 | د افغان ملي اردو لوژستيکي پايښت وړتيا رامنځته کولو لپاره د متحده اياﻻتو حکومت او ائتلاف د هڅو ارزونه |
| State OIG | AUD-MERO-15-02 | 11/30/2014 | د ترياکو او قانون پلي کولو چارو بيورو د افغانستان سره ترياکو ضد مبارزې مرستې پلټنه |
| State OIG | AUD-MERO-15-03 | 11/30/2014 | د نړيوال خونديتوب خدمتونو ډيپلوماتيک امنيت بيورو قرارداد کاري امر 10 – د کابل سفارت امنيتي ځواک، پلټنه |
| State OIG | AUD-MERO-15-14 | 11/30/2014 | په افغانستان کې د متحده اياﻻتو ماموريت ملاتړي قراردادونو لپاره د قرارداد تړلو پروسې پلټنه |
| GAO | GAO-15-114 | 11/21/2014 | د دفاع لوژستيک چارې: د ډيټا کيفيت کې د وړانديزونو او پرمختګونو غوره پوهاوي ته اړتيا ده ترڅو د کانټينر مديريت ننګوني حل شي |
| GAO | GAO-15-102 | 11/18/2014 | د انسانانو قاچاق: د لوړ خطر لرونکي چاپيريال کې د قراردادي بهرني کارکونکو د استعمال نظارت قوي کيدو ته اړتيا لري |
| GAO | GAO-15-45 | 11/18/2014 | بهر د اردو ساختماني چارې: د متحده اياﻻتو قراردادي ترجيح باندې مشاهدات |
| USAID | F-306-15-001-S | 10/30/2014 | له حکومت څخه حکومت ته د USAID/افغانستان مالي مديريت کنټرولونو بيا کتل |

سرچيني: DOD OIG، د سيګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 12/22/2014؛ State OIG، د سيګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 12/10/2014؛ GAO، د سيګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 12/11/2014؛ USAAA، د سيګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 12/31/2014؛ USAID OIG، د سيګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 12/8/2014.

## د متحده اياﻻتو دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر

پدې ربع کې، د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د افغانستان بيارغوني په اړه يو راپور خپور کړی.

### د افغان ملي اردو لوژستيکي پايښت وړتيا رامنځته کولو لپاره د متحده اياﻻتو حکومت او ائتلاف د هڅو ارزونه

(راپور لمبر DODIG-2015-047، د 2014 دسمبر په 19 خپور شوی)

DOD OIG موندلي پداسي حال کې چې افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) د محاربوي عملياتو پرمخ وړو وړتياوې ښودلي، د افغان ملي اردو (ANA) محاربوي ملاتړ خدماتو پراختيا سسته ده. د ANA لوژستيکي سيستم پراختيا، په ځانګړي توګه د قل اردو په کچه لوړ نهادونو کې، د پرمختګ په حال کې پاتي کار دی. د DOD OIG څارونکو په ځلور عمومي برخو کې توجه ته اړ مسلې پيژندلي:

- د ANA د پياوړي لوژستيکي پلان جوړولو وړتيا پرخول. ځانګړي مسايل منسوخ شوي و او د لوژستيک پاليسي او لارښود؛ د لوژستيکي اړتياو وړاندويني او رامنځته کولو لپاره د پراختيا په حال کې وړتيا؛ د روزل شوي ميخانيکانو ساتل؛ د راتلونکي قرارداد کولو تجربه؛ د لوژستيک روزني په برخه ای ډول غير متمرکزيت؛ او د معلوماتو مديريت سيستم ناکافي استعمال.
- د ANA د تجهيزاتو د دفع کولو پروسې. ځانګړي مسلې د نه ترميم کيدونکي تجهيزاتو بيرته ستنولو او دفع کولو تطبيق؛ د استعمال وړ اضافي تجهيزاتو، پرزو او نورو محلاتو بيرته ستنول؛ او د وسايط مديريت لپاره پلان جوړول و.

- د ANA لوژستيک سيسټم پراختيا ملاتړ لپاره د ائتلاف مشاورين ځانګړي مسلي د ائتلاف مادون کارمندانو ترمنځ د هڅو يووالی؛ د سمي تجربي او مهارت سره د لوژستيکي مشاورينو اړين شمير لاسته راوړل؛ او د 2014 وروسته مداوم قراردادي ملاتړ لپاره پلان جوړول و.
- د ANA مرکزي تحويلۍ ډيپو او سيمه ايز ملاتړ مرکزونو کي د ANA تجهيزاتو لوی پرزو لپاره د واکنده سټاک او مجاز لوړ ليستونو رامنځته کولو ته د ائتلاف ځواکونو د کافي سپيرپارټ پيلي مسله.

## د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر – د مينځني ختيځ سيمه ايز عمليات

د دي ربع په جريان کي، د بهرنيو چارو وزارت OIG د افغانستان بيارغوني پوري اړوند دري راپورونه خپاره کړل.

### د ترياکو او قانون پلي کولو چارو بيورو د افغانستان سره ترياکو ضد مبارزې مرستي پلټنه

(راپور لمبر AUD-MERO-15-02، د 2014 نومبر په 30 خپور شوی)

د دي پلټني راپور بشپړه شرح په کي موندلی شئ

### د نړيوال خونديتوب خدمتونو ديپلوماتيک امنيت بيورو قرارداد کاري امر 10 – د کابل سفارت امنيتي ځواک، پلټنه

(راپور لمبر AUD-MERO-15-03، د 2014 نومبر په 30 خپور شوی)

د دي پلټني راپور بشپړه شرح په کي موندلی شئ

### په افغانستان کي د متحده ايالاتو ماموريت ملاتړي قراردادونو لپاره د قرارداد تړلو پروسې پلټنه

(راپور لمبر AUD-MERO-15-14، د 2014 نومبر په 30 خپور شوی)

د دي پلټني راپور بشپړه شرح په کي موندلی شئ

## د امريکا حکومت د حساب ورکولو وزارت

پدې ربع کي DoS OIG د افغانستان د بيارغوني په اړه هيڅ راپور نه دي خپور کړی.

**د دفاع لوژستيک چارې: د ډيټا کيفيت کې د وړانديزونو او پرمختګونو غوره پوهاوي ته اړتيا ده ترڅو د کانټينر – مديريت ننګونې حل شي**

(راپور لمبر GAO-15-114، د 2014 نومبر په 21 خپور شوی)

په افغانستان او عراق کې د عملياتو وروستي کلونو راهيسې، د دفاع وزارت د متحده ايالاتو په مرکزي قوماندې (CENTCOM) کې د کانټينر مديريت پرمختګ هڅو د مسؤليت ساحو کې يا خو د موجود کانټيټر مديريت پايلسي او لارښود تازه کول يا نوی پاليسي او لارښود رامنځته کول شامل و. په هرصورت، وزارت مناسب ډاډ نشي ورکولی چې د CENTCOM د مسؤليت په برخه کې د کانټينر مديريت په ګوته کونکي ټول وړانديزونه لکه څنګه چې مناسب و د دفاع وزارت پاليسي يا لارښود کې مدغم شوي.

د دفاع وزارت چارواکو ځيني وړانديزونه چې د دفاع وزارت پلټنې ادارو او نورو نهادونو لخوا شوي مدغم کړي چې هدف يې د کانټينر مديريت پاليسي او لارښود ته وده ورکول و. د مثال په توګه، د 2012 په اګست کې د CENTCOM او متحده ايالاتو د ټرانسپورټيشن قوماندې قوماندانانو يو ګډ يادداشت تکثير کړ چې پکې د CENTCOM د مسؤليت په برخه کې د کانټينر مديريت لپاره د مشرتابه مسؤليت په ګوته شوی و چې دا د 2012 يوه ګډ لوژستيکي هييت راپور مستقيم پايله وه چې د کانټينر مديريت په اړه د مشر رهبرانو پوهې ډېرولو لپاره يې د سمون فعاليتونو وړانديز کړی و. په هرصورت، د دفاع وزارت د سمون فعاليتونو جامع ليست نه لري چې د وخت په اوږدو کې يې وړانديز شوی وي. د دا ډول ليست پرته، د دفاع وزارت نشي کولی مناسب ډاډ ورکړي چې ټول وړانديزونه لکه څنګه چې مناسب و په پاليسي او لارښود کې مدغم شوي دي. د مثال په توګه، د 95 سمون فعاليتونو څخه چې GAO د دفاع وزارت پلټنې ادارو او نورو نهادونو له راپورونو څخه پيژندلي چې د 2003 څخه تر 2013 پورې يې تکثير کړي، د دفاع وزارت چارواکو ونشو کولی د هغه ګامونو په اړه معلومات چمتو کړي چې د 40 سمون فعاليتونو لپاره يې اخيستي و.

له 2012 راهيسې، د دفاع وزارت ګامونه اخيستي چې په افغانستان کې د سوداګريز بار وړونکي ملکيت بار لرونکي کانټينرو بې وخته ستنيدو له امله پيښ شوي د بار وړونکي کانټينرو د توقيف فيس اداره او کم کړي، مګر د دې فيسونو اداره کولو او کمولو لپاره وړتيا يې د ناسم او غير مکمل ډيټا له امله محدود ده. په 2012 اګست کې، د دفاع وزارت هغه اړتياوې رامنځته کړې چې د يوه بار وړونکي کانټينر د رارسيدو په 15 ورځو کې: (1) د کانټينر لاسته راوړو رسيد بايد په تياتر کې د قطعي لخوا ثبت شي، (2) کانټينر بايد خالي شي، او (3) مسؤل بار وړونکی بايد خبر کړی شي چې کانټينر يې بيرته وړو ته چمتو دي. د دفاع وزارت دې اړتياو پوره کولو کې د پرمختګ نظارت کولو لپاره يو لړ تعقيبي قياسونه هم رامنځته کړل. په هرصورت، د توقيف فيس ډيرونکي کانټينرو موقعيت او شمير په اړه نا مکمل او ناسمي ډيټا د دفاع وزارت په افغانستان کې د کانټينرو لپاره د توقيف فيس اداره کولو او کمولو وړتيا مخه ونيوله. د مثال په توګه، د دفاع وزارت د کانټينر مديريت سيستم ډيټا او په 2013 کې د هرې مياشتې لپاره د بار وړونکي تحويلی ډيټا د GAO څېړنو وښودل چې د دفاع وزارت په افغانستان کې د بار وړونکي ملکيت کانټينرو تحويلی او لاسته راوړنې شاوخوا 16% د کانټينر مديريت سيستم کې ندي ثبت کړي.

د دفاع وزارت فاکتورونه په ګوته کړي يا طرزالعمل پورې اړوند ضعفونه، چې ممکن د نا مکمل او ناسمې ډيټا رامنځته کيدو کې برخه ولري؛ په هرصورت، دا ندي ارزول شوي چې تر کوم حد پورې

دې ضعفونو د ډېټا نا سم کيدو کې برخه اخيستې، د دې ضعفونو اساسي علتونه مشخص شي، يا د سمولو لپاره يې د سمون فعاليت پلان رامنځته شوی وي. د اصلي علتونو او سمون فعاليت پلان ارزولو پرته، دا به د دفاع وزارت لپاره مشکل وي چې مکمل او سمه ډېټا ولري، کوم چې په افغانستان کې او راتلونکي احتمالي عملياتو کې د کانتينرو لپاره د توقيف فيس کمولو او اداره کولو لپاره د دې وړتيا محدود کوي.

د دفاع وزارت د نړۍ په کچه محولاتو انتقال لپاره د دفاع وزارت يا سوداګريز باروړونکي کانتينري کاروي. د کانټينر مديريت له اوږدې مودې راهيسې يوه ننګونه ده. د دفاع وزارت له 2003 څخه تر 2012 پورې د کانتينرو له مجاز مودې ډېر وخت ساتلو لپاره د توقيف فيس کې شاوخوا 823 مليون ډالر ورکړي، اساس د CENTCOM سره عملياتو له امله، پشمول د افغانستان چيرې چې فيسونو لوړيدل دوام لري. GAO څخه غوښتل شوي و چې د کانټينر مديريت ننګونو او توقيف فيس راټولولو په نښه کولو لپاره د دفاع وزارت هڅو بياکتنه وکړي.

دا راپور ارزوي چې تر کوم حد پورې (1) د دفاع وزارت پاليسي او لارښود کې هغه وړانديزونه مدغم شوي چې د CENTCOM مسؤليت ساحه کې د کانټينر مديريت ننګوني په نښه کوي، او (2) د دفاع وزارت په افغانستان کې له 2012 راهيسې د کانتينرو لپاره د توقيف فيس اداره او کم کړی دی. GAO مخکيني د پلټنې راپورونو بياکتنه وکړه ترڅو د کانټينر مديريت وړانديزونه وپيژني؛ له 2010 څخه تر 2013 پورې ډېټا لکه د کانټينر ډول او ملکيت يې وڅېړه؛ او د دفاع وزارت چارواکو سره يې مرکه وکړه.

GAO وړانديز کوي چې د دفاع وزارت (1) د وړانديزونو يو ليست جوړ او پاليسي او لارښود کې مدغم کړي او (2) د طرزالعمل پورې اړوند ضعفونو لپاره اصلي علتونه وپيژني کوم چې د کانټينر ناسم او نامکمل ډېټا لامل کيږي او د سمون يو پلان رامنځته او عملي کړي. د دفاع وزارت لومړي وړانديز سره موافقه وکړه او دوهم وړانديز سره يې تر يوې کچې موافقه وکړه ځکه چې دې د هغه څه سره تر يوې برخې موافقت نه درلود چې GAO پرې وړانديز کړی و. GAO موافقه وکړه او وړانديز يې اصلاح کړ.

## د انسانانو: قاچاق د لوړ خطر لرونکي چاپيريال کې د قراردادي بهرني کارکونکو د استعمال نظارت قوي کيدو ته اړتيا لري

(راپور لمبر GAO-15-102، د 2014 نومبر په 18 خپور شوی)

د متحده ايالاتو حکومت ځيني قراردادونو کې د بهرني کارکونکو د ګمارنې فيس د تادياتو اداره کولو اوسنۍ پاليسي او لارښود ګمارنې پورې ترلې مجاز فيس برخې يا مقدار اړوند ادارو يا قراردادیانو ته روښانه لارښوونې نه چمتو کوي. GAO موندلې چې ځيني بهرني کارکونکي ـ هغه افراد چې د متحده ايالاتو يا کوربه هيواد اوسيدونکي نه دي ـ د دوی د دندو لپاره تاديه کولو راپور ورکړی. د ګمارنې دا ډول فيسونه کولی شي TIP پورې اړوند بيلابيل ناوړه ګټه پورته کوونې لامل شي، لکه پور پورې تړل. د مثال په توګه، د هغه قرارداد په بيلګه کې چې ترټولو ډېر شمير بهرني کارکونکي ګماري، GAO وموندل چې له 1,900 څخه ډيرو بهرني کار کونکو راپور ورکړی چې دوی د خپلو دندو لپاره فيس ورکوي، پشمول د ګمارنې ادارو چې د فرعي قراردادي لخوا کارول شوي.

د فرعي قراردادي په وينا، د احتمال له مخې دا فيسونه هغه په دنده ګمارونکي ته ورکړل شوي چې بهرني کار کونکو سره يې ټرانسپورټيشن کې مرسته کړې او بيا يې مخکې لدې چې په افغانستان

کې په قرارداد کارکولو لپاره وګمارل شي په دوبی کې ميشته کړي. د دفاع وزارت ځيني چارواکو چې GAO ورسره مرکه کړې ويلي چې دا ډول فيسونه ممکن مناسب وي. د دفاع وزارت، بهرنيو چارو وزارت، او USAID په مختلفو لارو د ګمارنې فيس په نښه کولو ځيني قراردادونو لپاره پاليسي او لارښود رامنځته کړی. په هرصورت، دا اداري نه مشخص کوي چې د ګمارنې فيس کومې برخې يا مقدار د مجاز په توګه ملاحظه شو، چې دا د اداري پاليسي او لارښود پلي کولو لپاره د قرار داد کونکو افسرانو او قراردادیانو وړتيا محدود کوي.

GAO وموندل چې د اداري نظارت، د فدرال اکتسابي مقرراتو او اداري لارښود لخوا غوښتل شوی، تل هغه پروسې په ځان کې نلري چې په ځانګړي ډول د TIP سره مبارزې ته د قراردادي هڅو نظارت وکړي. د GAO بيلګې کې د 11 څخه اوه قراردادونو لپاره، د دفاع وزارت او بهرنيو چارو وزارت د TIP سره مبارزې ته د نظارت ځانګړي پروسې درلودې. په پاتې څلور قراردادونو کې، ادارو د TIP ځانګړی نظارت ندی کړی، مګر پرځای يې د قراردادي چمتو شوي توکو او خدماتو باندې تمرکز کړی، لکه د ودانيو جوړول. سربيره پردې، د دفاع وزارت او بهرنيو چارو وزارت ځيني قرارداد کونکو چارواکو وويل چې دوی د TIP سره مبارزې لپاره اروند اکتساب پاليسی او لارښود څخه خبر نه و او په روښانه توګه د دوی په مسؤليتونو نه پوهيږي.

دواړه د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو اضافي روزنې رامنځته کړي ترڅو د قرارداد کولو چارواکو سره مرسته وکړي چې د TIP سره مبارزې کې دوی د خپل نظارت کولو مسؤليتونو څخه خبر شي. د TIP نظارت لپاره ځانګړي هڅو پرته، د صفر- زغم پاليسي پلي کولو او د TIP په اړه اندیښنو موندلو لپاره د ادارو وړتيا محدود ده.

د 1990 راهيسې، د متحده ايالاتو حکومت بهرني قراردادونو کې د بهرني کارکونکو څخه ناوړه ګټه پورته کووني تورونه شتون لري، پشمول د TIP تورونو. په 2002، متحده ايالاتو د متحده ايالاتو حکومت بهرني کارمندانو او قراردادیانو په اړه TIP باندې د صفر – زغم پاليسي خپله کړه او په 2007 کې يې د دې پاليسي په ټولو قراردادونو کې شاملولو اړتيا پيل کړه. دا ډول پاليسي مهمه ده ځکه چې حکومت په قراردادیانو تکيه کوي چې په هغه هيوادونو کې بهرني کارکونکي وګماري چيرې چې د بهرنيو چارو وزارت په وينا د ناوړه ګټه اخيستنې پروړاندې زيان ليدونکي وي.

GAO ته واک ورکړل شوی و چې د بهرني کارکونکو استعمال باندې راپور ورکړي. دا راپور (1) د بهرني کارکونکو د ګمارنې اداره کولو پاليسيانې او لارښود او هغه فيس چې دا کارکونکي يې ممکن د متحده ايالاتو بهرني قراردادونو کې د دندې لاسته راوړو لپاره ورکوي او (2) د TIP سره مبارزې ته د ادارو د قراردادي نظارت کولو هڅې ازموي. GAO د 11 قراردادونو غير عمومي کيدو وړ بيلګې بياکتنه وکړه چې د دفاع وزارت، بهرنيو چارو وزارت او USAID لخوا ورکړل شوي و، چې د 2013 مالي کال (FY) پای کې دې ادارو لخوا ورکړل شوي قراردادونو د راپور له مخې ټولو بهرني کارکونکو نږدې يو پر درې درلودونکي و. GAO پدې قراردادونو کې د کار فعاليتونو او څار فعاليتونو په اړه د ادرې چارواکو او قراردادیانو سره مرکه وکړه.

GAO وړانديز کوي چې اداري (1) د ګمارنې فيس لانور مشخص تعريف رامنځته کړي او (2) ډاډ وړاندې کړي چې د قرارداد نظارت کې TIP په ځانګړي توګه شامل دی. د دفاع وزارت لومړي وړانديز سره موافقه وکړه، پداسې حال کې چې د بهرنيو چارو وزارت او USAID يادونه وکړه نږدې راتلونکي مقررات به د ګمارنې ټولو فيسونو ممانعت وکړي. ادارو د دوهم وړانديز سره موافقه وکړه.

**بهر د اردو ساختماني چارې د متحده ايالاتو قراردادي ترجيح باندې مشاهدات**

(راپور لمبر GAO-15-45، د 2014 نومبر په 18 خپور شوی)

GAO وموندل چې د دفاع وزارت 2010 اکتوبر څخه تر 2014 میی پورې د متحده ایالاتو قراردادي ترجیح د اوسني قانون سره په مطابقت کې نده پلي کړې. د FY 2014 ټولیز تخصیصاتو قانون امر کوي چې د 1 ملیون ډالرو دېره ارزښت لرونکي د اردو ساختماني قراردادونه چې د عربي بحر، په پاسفیک کې د متحده ایالاتو خاورو او کواجیلین اتول سره پوله لرونکي هیوادونو کې موقعیت ولري، باید د متحده ایالاتو قراردادي ته ورکړل شي غیر لدې چې د دوی قیمت د متحده ایالاتو قراردادي قیمت څخه 20% لوړ وي د په مساوي ډول ځواب ویونکي او مسؤل داوطلبی سره. په هرصورت، د دفاع وزارت عربي خلیج سره پوله لرونکي هیوادونو کې ترجیح په ناسمه توګه پلي کړې، کوم چې د عربي بحر څخه د جغرافیه له پلوه جلا دي.

د دفاع وزارت چاراوکي خبر نه و چې قانون ترجیح د "عربي خلیج" څخه "عربي بحر" ته په 2002 کې بدل کړی او نو همدې لپاره يې د دفاع وزارت د اکتساب لارښود ندی تازه کړی.

په هرصورت د دفاع وزارت غوښتنلیک کې هغه جغرافیه ای ساحه شامل ده په کوم کې چې په عربي بحر او عربي خلیج کې د اردو اکثریت ساختماني چارې له 2010 اکتوبر څخه تر 2014 میی پورې پرمخ وړل شوي. GAO دا هم وموندل چې د نورو فاکتورونو له امله چې هغه هم ملاحظه شوي، لکه د قراردادي تجربه، ترجیح له FY 2011 راهیسي د احتمال له مخې د اردو ساختماني چارو قراردادونو لپاره د 35 ګمارنې پریکړو څخه یوازې دوه اغیزمنې کړې. د دفاع وزارت خپل لارښود د GAO بیاکتنې پرمهال تازه کړ، مګر دا بیا هم تاریخ تیر کیږي که چیرې د کانګریس کوم بیل نافذ شي، ځکه چې بیل به په FY 2015 کې ترجیح پورې اړوند موقعیتونه بدل کړي.

GAO دا هم وموندل چې د دفاع وزارت او بهرنیو چارو وزارت چاراواکو د CENTCOM مسؤلیت ساحو کې ټولو هیوادونو شاملولو ته د قانون پراخولو کې احتمالي ګټې او ستونزې پېژندلې دي. د مثال په توګه، د چاراوکو په وینا، د متحده ایالاتو شرکتونو سره د قرارداد کولو یوه احتمالي ګټه به د متحده ایالاتو قرارداد کولو او ساختماني طرزالعملونو سره غوره شناخت وي.

په هرصورت، دې چاراواکو GAO ته دا هم وویل چې د CENTCOM په ساحه کې 20 هیوادونه د دوی داخلي ظرفیتونو، اقتصادونو او ستراتیژیک اندیښنو له پلوه په پراخه کچه توپیر لري. نو د همدې لپاره، پراخول ممکن په ځینې موقعیتونو کې د متحده ایالاتو ځانګړې پالیسي اهدافو سره په تضاد کې پرمخ لاړ شي.

د 1980 راهیسي، کانګریس په ځینې بهرني هیوادونو کې د اردو ساختماني چارو قراردادونو لپاره د متحده ایالاتو قراردادیانو لپاره د ترجیح واک ورکړی دی. د FY 2014 لپاره مجموعي تخصیصاتو قانون په ګډ توضیحي بیان کې، کانګریس واک ورکړی چې GAO هغه هیوادونو ته د دې ترجیح پراخولو احتمالي ګټې او ستونزې وازموي چې د CENTCOM د مسؤلیت په ساحه کې رازي.

دا راپور (1) ارزوي چې تر کوم حد پورې د دفاع وزارت د اردو ساختماني پروژې د متحده ایالاتو قراردادي ترجیح سره په مطابقت کې ورکړې او (2) د CENTCOM ټولو هیوادونو شاملولو ته د متحده ایالاتو قراردادي ترجیح پراخولو احتمالي ګټو او ستونزو باندې د دفاع وزارت او بهرنیو چارو وزارت چاراواکو نظرونه شرح کړي.

د دې ازمولو لپاره چې تر کوم حد پورې د دفاع وزارت قراردادونه د متحده ایالاتو قراردادي ترجیح سره په مطابقت کې ورکړې، GAO د ترجیح سره مخ له 2010 څخه تر 2014 میی پورې ورکړل شوي قراردادونو پورې اړوند معلومات څیړلي ترڅو مشخص کړي چې ایا د دفاع وزارت ترجیح پلي کړې او ایا ترجیح د قرارداد ورکولو باندې اغیزه کړې. د ترجیح پراخولو احتمالي ګټو او ستونزو پیژندلو لپاره، GAO د دې مسلې په اړه پوهه لرونکي چارواکو سره مرکه کړې.

GAO پدې راپور کې وړاندیزونه نه کوي. د دفاع وزارت او بهرنیو چارو وزارت د دې راپور پیښ لیک بیاکتنه ترسره کړې مګر کوم نظر یې ورباندې ندی وړاندې کړی.

## د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره

پدې ربع کې USAAA د افغانستان بیارغوني پورې اړوند هیڅ یوه پلټنه نده بشپړه کړې.

## د نړیوالي پراختیا لپاره د متحده ایالاتو ادارې د عمومي پلټونکي دفتر

پدې ربع کې USAID OIG د بیارغوني فعالیتونو پورې اړوند یوه پلټنه خپره کړې.

### له حکومت څخه حکومت ته د USAID/افغانستان مالي مدیریت کنټرولونو بیا کتل

(راپور لمبر F-306-15-001-S، د 2014 اکتوبر په 30 خپور شوی)

*د موخې ارزونه:*

ایا د مالي مدیریت کنټرولونه د USAID/افغانستان مالي مدیریت له حکومت څخه حکومت ته مرستې د ډیزاین سره تړلي او په مؤثر ډول عمل کوي؟

OIG پایله کړي چې USAID/افغانستان د وخت په اوږدو کې خپل د مالي مدیریت کنټرولونو پلي کولو ته وده ورکړې؛ په هرصورت، ډیزاین او مؤثریت کې یې ځینې ضعفونه اوس هم شتون لري. مالي پلټنو پورې اړوند دا مسلې چې نه و ترسره شوې، په افغان تدارکاتي سیستم کې د خطرونو کمولو لپاره ټاکل شوی غیر مؤثر کنټرول، د افغان دولت ناسم تعریف شوي تمې، د محاسبې ځینې لیږدونې ناوخته ثبت شوې وې، او د ماموریت کارمندان چې د خپلو مسؤلیتونو په اړه په روښانه ډول نه پوهیدل.

د دې مسایلو په نښه کولو ته راپور شپږ وړاندیزونه شامل کړي.

## د نظارت روان فعاليتونه

تر دسمبر 31، 2014 پورې برخه اخيستونکي ادارو د افغانستان بيارغونې پورې اړوند د نظارت 19 روان فعاليتونه راپور کړي. دغه څارنيز فعاليتونه په جدول 4.2 کې په لاندې ډول يادولای شو:

جدول 4.2

**د 2014 دسمبر 31 پورې د متحده اياالتو نورو ادارو د څار روان فعاليتونه**

| اداره | د پروژې شميره | د پيل نيټه | د پروژې موضوع |
|---|---|---|---|
| د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2015-D000AU-0099.000 | 12/9/2014 | د احتمالي پېښې له پاره قرار داد کول: د 2015 اصلاح لپاره تازه کاري چوکاټ |
| د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2015-D000FL-0026.000 | 10/24/2014 | د افغانستان امنيتي ځواکونو فنډ ته د دفاع وزارت د افغانستان ملي اردو وجهی صندوق مرستو پرمخ وړو ازمول |
| د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2014-D000JB-0219.000 | 9/4/2014 | د پانګو حساب ورکوونې لپاره د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د داخلي کنټرول پلټنه |
| د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2014-D000JB-0213.000 | 8/14/2014 | پر قرارداد کولو د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د کنټرولونو پلټنه |
| د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2014-D00SPO-0129.001 | 7/2/2014 | د مهماتو، چاوديدونکي توکو او سونګ توکو مديريت او حساب ورکوونې لپاره د افغان ملي امنيتي ځواکونو پاليسو، پروسو او طرزالعملونو د کفايت ارزونه |
| د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2014-D000RE-0141.000 | 4/7/2014 | په افغانستان او عراق کې د اردو ساختماني پروژو په اړه لنډ راپور |
| د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2014-D00SPO-0129.000 | 3/6/2014 | د امريکا او ايتلاف هڅې ترڅو د افغانستان ملي پوليسو د لوژستيک ساتنې دوام ته پراختيا ورکړ شي، ارزونه |
| د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2013-D00SPO-0181.000 | 6/13/2013 | د دفاع وزارت څخه بهرنيو چارو وزارت ته د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په ملاتړ د امنيتي همکارۍ او مرستي فعاليتونو د ليږد لپاره د متحده اياالتو حکومت د هڅو ارزونه |
| د امريکا بهرنيو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر | 14AUD034 | 2/11/2014 | د امريکا بهرنيو چارو وزارت د مرستو افسر د استازو انتخاب، ګمارلو، روزنې، او نظارت مسوليتونو پلټنه |
| GAO | 351991 | 11/21/2014 | په جګړه ايز چاپيريال کې د اردو ساختماني چارې |
| GAO | 121248 | 9/17/2014 | د دفاع وزارت لخوا استعمال لپاره په خصوصي توګه رامنځته شوي توکي |
| GAO | 321034 | 7/23/2014 | د متحده اياالتو کابل سفارت کې ساختماني هڅې برخه II |
| GAO | 351951 | 7/16/2014 | د اردو او مرين (بحري ځواکونو) غزول شوي تجهيزاتو بيانتظيم ژمنې لګښتونه او اړتياوې |
| GAO | 351952 | 7/16/2014 | په افغانستان کې د سايټونو، بيسونو او کتارونو خوندي کولو هڅې او په ماموريت هرډول اغيزې |
| GAO | 321031 | 7/9/2014 | په بهر کې د ډيپلوماتيک ميشته کيدنې او نور نرم اهدافو خوندي کول |
| GAO | 121228 | 6/25/2014 | د قراردادونو له لارې د پاس تصديق |
| GAO | 351917 | 4/11/2014 | په بيړنيو عملياتونو کې د قراردادیانو تعقيبولو لپاره سيستمونه |
| GAO | 100003 | 2/13/2014 | د سيمه ايزو کارکوونکو پر وړاندې د ګواښونو کمول |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | FF101014 | 8/26/2014 | د افغانستان په اوږدو کې د خپلو پروګرامونو د نظارت او ارزونې لپاره د USAID/افغانستان ستراتيژۍ پلټنه |

سرچينې: DOD OIG، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/22/2014؛ State OIG، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/10/2014؛ GAO، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/11/2014؛ USAAA، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/31/2014؛ USAID OIG، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/8/2014.

## د متحده اياالتو دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر

د امريکا دفاع وزارت په بهر کې د خپلو بيړنيو عملياتونو (OCO) ترسره کولو لپاره اوس هم له ډيرو ننګونو سره مخامخ ده. د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د دغو ننګونو او لوړ خطرونو پر اساس لمړيتوبونه پيژندلي دي. د FY 2015 لپاره د DOD OIG څار د لاسته راوړنې او قرارداد کولو پر نظارت او څار برخو تمرکز کوي چې د افغانستان امنيتي ځواکونو د روزنې، تجهيزولو او پايښت ملاتړ کوي. د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د دې وزارت د هڅو ترڅو د افغانستان امنيتي ځواکونو ته روزنه ورکړي او تجهيز کړي هم ارزونې ترسره کولو ته دوام ورکوي.

DOD OIG د سویل لویدیزې اسیا ګډ پلان کونکی ګروپ مشري وکړه، کوم چې د څار فعالیتونو پورې اړوند د فدرال او DOD OCO همغږي کولو او بې شخړې کولو کې مرسته کوي. DOD OIG، د سیګار سره په کار کې بوخت په بیله بیا د مل عمومي مفتشینو او دفاع د څار ټولني غړو په افغانستان کې بوخت د څار ټولنې لپاره د FY 2015 ستراتیژیک څار پلان نهایی کړی او په 2014 کې یې د سویل لویدیزې اسیا لپاره د FY 2015 جامع څار پلان تکثر کړی.
د FY 2015 پلان رامنځته کولو یوه کلیدي برخه په افغانستان کې د ځواک بیا بنه کول/د عملیاتو پرشا تګ دی.

د DOD OIG د OEF اړوند روان څار د ملکیت حساب ورکوونه په ګوته کوي؛ نادرست تادیات؛ د قرارداد مدیریت او اداره کول پشمول د ساختماني پروژو؛ د لیږد پلان کول؛ په افغانستان کې لوژستیکي توزیع؛ او د افغان امنیتي ځواکونو لپاره په تمویل د اکتساب پلان جوړول او کنټرولونه.

### د احتمالي پیښې له پاره قرار داد کول: د 2015 اصلاح لپاره تازه کاري چوکاټ

(پروژه لمبر D2015-D000AU-0099.000، د 2014 نومبر په 9 پیل شوې)
DOD OIG احتمالي عملیاتو پورې اړوند قرارداد مسلو باندې د دفاع وزارت ساحوي قوماندانانو او د قرارداد مدیرانو ته معلومات چمتو کوي چې د دفاع وزارت عمومي مفتش له 2012 اپریل 1 څخه تر 2014 دسمبر 31 پورې پیژندلي او راپور یې ورکړی. DOD OIG به د معلوماتو او استعمال لپاره یې یو لنډ راپور تکثیر کړي.

### د افغانستان امنیتي ځواکونو فنډ ته د دفاع وزارت د افغانستان ملي اردو وجهی صندوق مرستو پرمخ وړو ازمول

(پروژه لمبر D2015-D000FL-0026.000، د 2014 اکتوبر په 24 پیل شوې)
د دفاع وزیر (ممیز) دفتر لاندې معاون ممیز (برنامه/بودیجه) د دې ازموني غوښتنه کړې. معاون ممیز ادعا کړې چې د پروژو لپاره د 2014 جون تر 30 پورې لاسته راوړل شوې او مصرف شوې، د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) د ANA وجهي صندوق څخه افغان امنیتي ځواکونو فنډ ته په FY 2013 کې یا وروسته ټولې مرستې د هرڅه په پام کې نیولو سره په روښانه توګه وړاندې شوې. DOD OIG مشخص کوي چې ایا معاون ممیز د ناټو ANA وجهي صندوق مرستو څخه لاسته راوړنې او مصارف په روښانه توګه وړاندې کړې. سربیره پردې، DOD OIG به د مالي راپور ورکولو باندې داخلي کنټرولونه او د قوانینو او مقرراتو سره اجابت بیاکتنه وکړي څکه چې دا د DOD OIG ښکیلتیا موخې سره تړاو لري. د DOD OIG مسولیت دا دی چې د خپلو معایناتو په اساس خپل نظر وړاندې کړي.

### د پانګې حساب ورکوونې لپاره د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د داخلي کنټرول پلټنه

(پروژه لمبر D2014-D000JB-0219.000، د 2014 سپتمبر په 4 پیل شوې)
DOD OIG دا پلټنه د قانوني اړتیا په ځواب کې پرمخ وړي. DOD OIG مشخص کوي چې آیا د امنیتي لیږد ګډه قومانده – افغانستان (CSTC-A) او د GIROA دفاع او کورنیو چارو وزارتونه د وسایطو او ودانیو لپاره د پانګو حساب ورکوونې په مؤثر ډول اداره کولو کې کنټرولونه لري.
په ځانګړې توګه، DOD OIG به د اعانه شوي پانګو شتون تاییدولو، د ساتنې او بدلون عملیاتو اړتیاو وړاندوینې او د پانګې بیا ډکولو لپاره د اړتیاو پیژندلو لپاره پالیسیو او طرزالعملونو کفایت وڅیړي.

**پر قرارداد کولو د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د کنټرولونو پلټنه**

(پروژه لمبر D2014-D000JB-0213.000، د 2014 اګست په 14 پيل شوې)

DOD OIG دا پلټنه د قانوني اړتيا په ځواب کې پرمخ وړي. DOD OIG مشخص کوي چې آيا CSTC-A او د GIROA دفاع او کورنيو چارو وزارتونو د قرارداد مديريت پروسو باندې مؤثر کنټرولونه رامنځته کړي.

**د مهماتو، چاوديدونکي توکو او سونګ توکو مديريت او حساب ورکوونې لپاره د افغان ملي امنيتي ځواکونو پاليسو، پروسو او طرزالعملونو د کفايت ارزونه**

(پروژه لمبر D2014-D00SPO-0129.001، د 2014 جولای په 2 پيل شوې)

د دې کار لپاره تعقيبي بياکتنې غوښتنه شوې، DOD OIG د سونګ توکو (د کلاس III بلک) او کنوانسيوني مهماتو او چاوديدونکي توکو (کلاس V) د مديريت او حساب ورکوونې لپاره د افغان ملي امنيتي ځواکونو د پاليسيو او طرزالعملونو کفايت يا بسيا ارزونه ترسره کوې. په ځانګړي توګه DOD OIG به د لاندې مواردو بياکتنه ترسره کړي:

- د تدارکاتو، ترلاسه کولو، حساب ورکوونې، او د مهماتو او سونګ توکو مصرف لپاره د مقرراتو او طرزالعملونو اړوند د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو سره د ايساف امنيت مرستندويه دفتر اړيکه
- په ملي او سيمه ايزو قوماندو کې د مهماتو، چاوديدونکي توکو او سونګ توکو لپاره د تکثير شوي حساب ورکوونې طرزالعملونو او داخلي کنټرولونو سره د ANSF اجابت
- د ANSF مهمات، چاوديدونکي توکي او سونګ توکو توزيع او حساب ورکوونې سيستمونه د پام وړ تشو او ضرر ليدنو لپاره
- د امنيتي تشو او ضرر ليدنې لپاره د مهماتو، چاوديدونکي توکو او سونګ توکو لپاره د ANSF زيرمه کولو اسانتياوې

**په افغانستان او عراق کې د اردو ساختماني پروژو په اړه لنډ راپور**

(پروژه لمبر D000RE-041.000، د 2014 اپريل په 7 پيل شوې)

د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر په افغانستان او عراق کې د اردو ساختماني پروژو په اړه ځانګړې دوامداره ستونزې په هغې پلټنې کې موندلې چې راپور يې د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر، د اردو د پلټنې ادارې، او د هوايي ځواکونو د پلټنې ادارې لخوا خپور شوی.

**د امريکا او ايتلاف هڅې ترڅو د افغانستان ملي پوليسو د لوژستيک ساتني دوام ته پراختيا ورکړ شي، ارزونه**

(پروژه لمبر D2014-D00SPO-0129.000، د 2014 مارچ په 6 پيل شوی)

د امريکا دفاع وزارت په افغانستان کي د امريکا او ايتلاف ځواکونو لخوا د افغانستان ملي پوليسو د لوژستيک، اړتياو، او ساتني جوړ شوي سيستمونو د پلان کولو او ترسره کولو ارزونه کوي. په ځانګړي توګه، د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر پلان لري ترڅو دغه ارزوني وکړي:

- آيا د امريکا او ايتلاف موخي، پلانونه، او لارښووني او سرچيني پوره دي ترڅو د لوژستيک، اړتيا توکو، او ساتني سيستمونو ته په بريا سره پراختيا ورکړي او په 2014 کي يې د افغانستان ملي پوليسو ته وسپاري
- امريکا او ايتلاف پلان لري ترڅو د افغانستان ملي پوليسو د لوژستيک او ساتني پروسي د افغانانو مشرى ته وسپاري او د اړتيا توکو په سپارلو کي د ځنډ اغيز کم کړي
- آيا د امريکا او ايتلاف پلانونو او سرچيني به په بريا سره د افغانستان ملي پوليسو لوژستيک، اړتيا توکو، او ساتني سيستمونو د دوام ملاتړ وکړي او له 2014 وروسته پراختيا ته دوام ورکړي.

**د دفاع وزارت څخه بهرنيو چارو وزارت ته د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په ملاتړ د امنيتي همکارۍ او مرستي فعاليتونو د ليږد لپاره د متحده ايالاتو حکومت د هڅو ارزونه**

(پروژه لمبر 2013-D00SPO-0181.000، د 2013 جون په 13 پيل شوی)

د امريکا دفاع وزارت د هغو پلانونو او فعاليتونو ارزونه کوي چي تر اوسه ترسره شوي يا بشپړ شوي ترڅو په افغانستان کي د امنيت همکارۍ او مرستي فعاليتونه د امريکا له دفاع وزارت څخه د امريکا بهرنيو چارو وزارت صلاحيت ته وسپارل شي، او ترڅو د امنيتي همکاريو د اوسنی لارښووني او امنيتي مرستي د مقرراتو پر اساس چي کيدای شي اړوند وي، هغي سپارښتني وړاندي کړي ترڅو د امريکا بهرنيو چارو وزارت ته د دغو دندو سپارل آسانه يا ښه کړي. د دې فعاليتونو ځانګړي موخي دا دي ترڅو دا وګوري چي آيا:

- د متحده ايالاتو د حکومت موخي، اهداف، پلانونه او لارښودونه د دې لپاره کافي دي چي په افغانستان کي د امنيتي مرستي فعاليتونه د دفاع وزارت CSTC-A څخه د بهرنيو چارو وزارت په چوکاټ کي د امنيتي تعاون اداري ته وسپارل شي.
- د امريکا ځواکونو لخوا رواني هڅي ترڅو د افغانستان جمهوري حکومت ته امنيتي مرسته برابره کړي تر ډيري کچي په افغانستان کي د امريکا ځواکونو (USFOR-A) د کمولو تطبيق او د نړيوالي امنيتي همکارۍ له ځواک (ISAF) او د آيساف له ګډي قوماندانۍ (IJC) څخه د ناټو تر صلاحيت لاندې يوې سازماني قوماندانۍ ته د سپارلو له کبله اغيزمني شوي

## د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر – د مینځني ختیځ سیمه ایز عملیات

د بهرنیو چارو وزارت OIG د افغانستان بیارغوني پورې اړوند یوه روانه پروژه پدې ربع کې لري.

### د امریکا بهرنیو چارو وزارت د مرستو افسر د استازو انتخاب، ګمارلو، روزنې، او نظارت مسولیتونو پلټنه

(پروژه لمبر 14AUD034، د 2014 فبروري په 11 پیل شوې)

موخه: ترڅو دا وکتل شي چې تر کومې کچې د وزارت د مرستې افسر استازې انتخاب شوې، ګمارل شوي، او روزل شوي ترڅو په بریالیتوب سره د مرستو ټاکل شوي اداري کارونه او د نظارت مسولیتونه ترسره کړي.

## د امریکا حکومت د حساب ورکولو وزارت

GAO پدې ربعه کې افغانستان بیارغوني پورې اړوند نهه رواني پروژې لري

### په جګړه ایز چاپیریال کې د اردو ساختماني چارې

(پروژه لمبر 351991، د 2014 نومبر په 21 پیل شوې)

پلټنه به و ارزوي: (1) هغه پروسې چې د دفاع وزارت چارواکو په عراق او افغانستان کې د اردو ساختماني چارو په اړه پریکړو کولو لپاره کارولې، د دې مشخص کولو لپاره طرزالعملونو شاملولو لپاره چې ایا جوړښت یې باید دایمي یا لنډمهاله وي؛ (2) په عراق او افغانستان کې د اردو ساختماني چارو په اړه شوي پریکړو پورې تړلې لګښتونه، د تمویل سرچینو شاملولو لپاره؛ (3) د عراق او افغانستان تجربو پراساس د جګړې عملیاتو پرمهال د اردو ساختماني چارو په اړه د وزارت زده کړل شوي درسونه؛ او (4) په جګړه ایز چاپیریال کې د اردو ساختماني چارو په پورې اړوند نورې مسلې چې ممکن د پلټنې په جریان کې رامخته شي.

### د دفاع وزارت لخوا استعمال لپاره په خصوصي توګه رامنځته شوي توکي

(پروژه لمبر 121248، د 2014 سپتمبر په 17 پیل شوې)

د FY 2011 ملي دفاع واکمنی قانون د یوې سیار برنامې اجازه ورکړه چې پراساس یې د دفاع وزارت کولی شو د ساده او اغیزمن اکتساب پروسو په کارولو سره هغه توکي لاسته راوړي چې د دفاع غیر سنتي قراردادیانو جوړ کړي. د دفاع وزارت برنامه پلي کوله او د سیارې برنامې لاندې ورکړل شوي هرقرارداد باندې معلوماتو سره کانګریس ته راپور وسپاري. کلیدي پوښتنې:
(1) د دفاع وزارت لخوا سیاره برنامه څنګه پلي شوې؟ (2) تر کوم حد پورې سیارې برنامې د دفاع وزارت وړ کړې چې هغه توکي لاسته راوړي چې دې وزارت ته به د بلې لارې موجود نه و؟
(3) تر کوم حد پورې سیارې برنامې د دفاع وزارت سره چټک عملیاتي اړتیاو پوره کولو کې مرسته کړې؟ (4) د دفاع وزارت څنګه ډاډ ترلاسه کړی چې د سیارې برنامې له لارې لاسته راوړل شوي توکو سم او مناسب نرخونه درلودل؟

### د متحده ايالاتو کابل سفارت کې ساختماني هڅې برخه II

(پروژه لمبر 321034، د 2014 جولای په 23 پيل شوی)

په 2009 کې د بهرنيو چارو وزارت د شاوخوا 700 مليون ډالرو دوه قراردادونه د متحده ايالاتو کابل، افغانستان سفارت کې د ميشته کيدنې او دفتر اضافي ودانيو جوړولو لپاره ورکړي. د امريکا بهرنيو چارو وزارت اوس لومړی قرارداد پای ته رسولی او د دويم قرارداد اندازه، ارزښت او مهال ويش يې غزولی. کليدي پوښتنې: (1) له 2009 څخه د امريکا د کابل د نوي سفارت په تاسيساتو کې د امريکا بهرنيو چارو وزارت کوم پرمختګونه کړي دي، کوم عوامل د کومې اندازې، لګښت، او مهال ويش په بدلونونو کې برخه لري؟ (2) تر کومې کچې اوسنی پراختيا له اټکل شوي اړتيا سره برابره ده؟

### د اردو او مرين (بحري ځواکونو) غزول شوي تجهيزاتو بياتنظيم ژمنې لګښتونه او اړتياوې

(پروژه لمبر 351951، د 2014 جولای په 23 پيل شوی)

لکه څنګه چې تجهيزات افغانستان څخه بيرته ستانه شوي، د اردو او مرين ځواکونه د څو کلونو او ډيری مليارد ډالرو هڅې سره مخ دي ترڅو دا تجهيزات محاربې ته چمتو حالت ته بيرته وګرځوي، دا د بياتنظيم په توګه پيژندل کيږي. د کانګرس د دفاع کميټې پدې اړه انديښنه لري چې د بيرته جوړولو مسوليت به څومره لګښت ولري، او د حکومت د حساب ورکولو له دفتر څخه يې غوښتنه کړې ترڅو پدې اړه تحقيق وکړي او راپور ورکړي. موخې: (1) اردو او د بحري ځواکونو قول اردو د بيرته جوړولو د اټکل په مسوليتونو کې تر کومې د بيرته جوړولو له دوامداره تعريف څخه کار اخلي.
(2) د اردو او د بحري ځواکونو د بيرته جوړولو د اټکلونو په مسوليت کې د لګښتونو شامل ډولونه.
(3) د اردو او بحري ځواکونو د ټولو اټکلونو د جوړولو بو تحليل، ترڅو پدغو کې د پلان شوي سرچينې مرستې شاملې شي. (4) کومه بله مسله چې د حکومت حساب ورکولو دفتر يې مناسبه ګڼي.

### په افغانستان کې د سايټونو، بيسونو او کتارونو خوندي کولو هڅې او په ماموريت هرډول اغيزې

(پروژه لمبر 351952، د 2014 جولای په 16 پيل شوی)

په افغانستان کې د دفاع وزارت لوژستيک قراردادیانو د کتار امنيت، د دفاع وزارت ځينې بيسونو کې د چاپيريال امنيت، او د USAID پلې کونکي ملګرو لپاره د ساحو امنيت د افغان دولت يوه دولتي شرکت، افغان عامه محافظت ځواک (APPF) لخوا چمتو کيده. په 2014 فبروري کې افغان دولت پريکړه وکړه چې APPF به منحل کړي. کليدي پوښتنې: تر کوم حد پورې: (1) د APPF منحل کولو پريکړه د امريکا دفاع وزارت وټلو باندې اغيز کوي؟ (2) ايا د دفاع وزارت د پرسونل محافظت لپاره APPF کاروي؟

### په بهر کې د ديپلوماتيک ميشته کيدنې او نور نرم اهدافو خوندي کول

(پروژه لمبر 321031، د 2014 جولای په 9 پيل شوی)

د بهر په ديپلوماتيکې تاسيساتو کې د امريکا ګمارل شوي کارکوونکي اوس هم د خپل خونديتوب او امنيت له ګواښ سره، پشمول د پدې ورستي کلونو کې د لوړ خطر په موقعيتونو کې د ډيرو بريدونو له خطر سره مخامخ دي. په ځانګړي توګه د دې پرسونل او کورنيو لخوا يې کارول کيدونکي استوګنې،

تفريحي ودانی او ښوونځي ممکن "نرم اهداف" وي. کليدي پوښتنې: (1) څنګه State په بهر کې د ماموريت په مشری کې استوګنو او نور نرم اهدافو ته پېښيدونکي ګواښونه او خطرات اداره کوي؟ (2) تر کومې کچې د امريکا بهرنيو چارو وزارت د استوګن ځايونو او نور کمزور نښو لپاره د امنيت ستندردونه د دغو تاسيساتو پر وړاندې د ګواښونو او خطرونو لپاره د حل لارې لري. (3) تر کومې کچې د استوګن ځايونو او کمزورو نښو لپاره د امريکا بهرنيو چارو وزارت پاليسی او طرزالعملونه د امنيت کمزوری لپاره، که شتون ولري، د حل لارې لري.

## د قراردادونو له لارې د پاس تصديق

(پروژه لمبر 121228، د 2014 جون په 25 پيل شوې)

د فدرال لاسته راوړني قانون د ستر قراردادیانو څخه غواړي چې حکومت خبر کړي که چيرې دوی په خپلو پروپوزلونو کې د کار ټولټال لګښت له 70% ډيره برخه فرعي قراردادي ته ګماري د دوی په وړانديز شوي قرارداد کولو ترتيب کې اضافه شوی ارزښت شرح کړي. د FY 2013 لپاره د ملي دفاع واکمنۍ قانون 802 برخي د دفاع وزارت، بهرنيو چارو وزارت او USAID ته لارښود کړی چې د فرعي قرارداد کولو دې ډول کچې په اړه خبريدو پرمهال د بديل قرارداد کولو ترتيباتو ملاحظه کولو لپاره د قرارداد کولو افسرانو اړ ايستلو ته پاليسی تکثير کړي او د دوی پريکړې لپاره اساسات مستند کړي. پوښتنه: تر کوم حد پورې دې ادارو د اړين پاليسی بدلونونه پلي کړي؟

## په احتمالي چاپيريالونو کې د قراردادیانو تعقيب لپاره کارول شوي سيستمونه

(پروژه لمبر 351917، د 2014 اپريل په 11 پيل شوې)

په FY 2013، کانګريس د دفاع وزارت، بهرنيو چارو وزارت او USAID ته واک ورکړ چې د متحده اياالتو څخه بهر راتلونکي جګړو لپاره چې محاربوي عمليات پکې شامل وي د قرارداد ملاتړ کې ډيټا راټولولو په اړه لارښود تکثير کړي. کليدي پوښتنې: (1) ادارې د قراردادیانو او هرسيستم پايداره ساتلو ته اړين سرچينو اداره کولو لپاره کوم سيستمونه کاروي؟ (2) تر کوم حد پورې د کار وړ دي، د موافق معلوماتو معيارونه کاروي، او قانوني اړتياو سره سمون لري؟ (3) تر کوم حد پورې سيستمونه په احتمالي ساحو کې د قراردادیانو اداره کولو لپاره پرسونل ته لازمي معلومات چمتو کوي؟ (4) ادارې کوم ګامونه اخلي چې د قراردادیانو اداره کولو لپاره د دوی د وړتياو ډيرولو لپاره دغه سيستمونه باور وړاندې کړي؟

## د سيمه ايزو کارکوونکو پر وړاندې د ګواښونو کمول

(پروژه لمبر 100003، د 2014 فبروري په 13 پيل شوې)

د امريکا ادارو له 44,000 څخه ډير سيمه ايز ګمارل شوي کارکوونکي (LES) د بهرني خدمت وګړي او د امريکا وګړي،د ټولې نړی په کچه په څه د باندې 270 پوستونو کې ګمارلي دي. پدې پوستونو کې LES د امريکا د شتون مهمه برخه ده، چې ډيری وختونه يو لړ پروګرامي، امنيتي، د نظارت، ساتنې او نورې دندې سرته رسوي. مګر، له امريکا سره د هغوی تړاو له کبله، کيدای شي LES د ځوروني، ګواښ او مرګ ګواښونو سره مخامخ شي. LES ته ګواښونه په ځانګړي توګه په هغو هيوادونو کې لکه افغانستان، عراق، پاکستان، او يمن کې ډير دي چيرته چې تروريستي شبکې او تاوتريخوالي افراطي ډلې فعال شتون لري. دا ډول ګواښونه کيدای شي د امريکا لخوا د ګمارنې او ساتنې هڅې له خنډ سره مخامخ کړي.

د حکومت حساب ورکولو له دفتر څخه غوښتنه شوې ترڅو د هغو LES لپاره چې د لوړ خطر په پوستونو کې کار کوي د ګوابښونو کمولو لپاره د امریکا حکومت د هڅو نظارت او معلوماتو شریکولو بیا کتنه وکړي. کلیدي پوښتنې: (1) د هغو ګوابښونو ډول او کچه څه ده چې LES د تروریسي شبکو او نورو افراطي ډلو لخوا، په شمول د ګوابښونو او بریدونو شمیره ورسره مخامخ دي؟ (2) تر کومې کچې د امریکا ادارو هغه میکانیزمونه تاسیس کړي ترڅو د LES پر وړاندې په اغیزمنه او پر وخت باندې د ګوابښونو په اړه معلومات ټول کړي او توزیع کړي؟ (3) کوم ګامونه، که وي، د امریکا ادارو اخیستي ترڅو د لوړ خطر په پوستونو کې د LES پر وړاندې ګواښ کم کړي او د دغو ګوابښونو پروړاندې د کمولو لپاره کوم خنډونه شتون لري؟ (4) د لوړ خطر په پوستونو کې دغو ګوابښونو او بریدونو څرنګه د LES په استخدامولو او ساتلو اغیز کړی دی؟

## د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره

پدې ربع کې USAAA د افغانستان بیارغونې پورې اړوند هیڅ رواني پلټنې نه درلودې.

## د نړیوالي پراختیا لپاره د متحده ایالاتو ادارې د عمومي پلټونکي دفتر

پدې ربع کې، د USAID د عمومي مفتش دفتر د بیارغونې نوښتونو په اړه یوه رواني پلټنې لري.

### د USAID/افغانستان د افغانستان په اوږدو کې د خپلو برنامو نظارت او ارزولو لپاره ستراتیژۍ پلټنه

(پروژه لمبر FF101014، د 2014 اګست په 26 پیل شوی)

*د پلټنې موخه:*

- آیا د USAID/افغانستان د نظارت او ارزونې ستراتیژي په افغانستان کې د USAID پروګرام فعالیتونو باندې مؤثر پوښښ وړاندې کوي؟

# ضميمې او د پايليکونو منځپانګې


| | |
|---|---|
| ضميمه A | 194 |
| ضميمه B | 198 |
| ضميمه C | 200 |
| ضميمه D | 205 |
| ضميمه E | 211 |
| ضميمه F | 217 |
| ضميمه G | 219 |
| پايليکونه | 225 |


**د سيګار رسمي ټاپه**

د سيګار رسمي ټاپه د متحده ایالاتو او افغانستان تر منځ د همغږۍ د هڅو
استازيتوب کوي څو د بيا رغوني د فعاليتونو لپاره حساب ورکونه او نظارت برابر کړي. د ټاپې د مرکز په پورتنۍ برخه کې عبارت په درى دى
او مانا يې "سيګار" دی. د مهر د مرکز په لاندنۍ اړخ کې چې کومه اصطلاح ده هغه په پښتو ژبه ده او ورته معنې لري.

# ضمیمې
# او پایلیکونه

# ضميمه A

## قانوني غوښتنو ته
## د راپور متقابل مراجعه

دا ضميمه د دې راپور مخونه د سيګار لاندې ورکوونکي قانون اړتياو پورې تړلې او درې مياشتني راپور ورکوونې ته متقابل رجعت دی، د ملي دفاع واکمنی قانون د 2008 مالي کال لپاره، 1229 §، Pub. L. 110-181 (جدول A.1).

جدول A.1

| د عامه قانون برخه | د سيګار توانمنوونکي ژبه | د سيګار عمل | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| مقصد | | | |
| برخه 1229(a)(3) | د دا ډول پروګرامونو او عملياتو د اداري پورې اړوندو ستونزو او نيمګړتياو په اړه د امريکا د بهرنيو چارو او دفاع وزيرانو ته په خپلواک او هدفمند ډول د پوره معلوماتو ورکول او په بشپړ ډول د هغوی باخبره ساتل او د اصلاحي فعاليتونو د اړتيا او پرمختګ په اړه هغوی ته معلومات ورکول. | روان؛ درې مياشتنی راپورونه | بشپړ راپور |
| نظارت کول | | | |
| برخه 1229(e)(1) | عمومي مفتش بايد نيغ په نيغه<br>د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير ته راپور ورکړي<br>او د هغوی تر | عمومي څارني لاندې وي | بشپړ راپور |
| مسووليتونه | | | |
| برخه 1229(f)(1) | د افغانستان د بيارغوني څارنه—<br>دا به د عمومي مفتش وظيفه وي چې د هغو پيسو چې اختصاص شوي او يا په بله معنی په ا فغانستان کې د بيا رغوني لپاره په لاس ورکړل شوي، او د هغو پروګرامونو، عملياتو او قراردادونو هم چې د دې بسپنو په کارولو سره ترسره شوي، د چلند، سمبالولو او لګښتونو څارنه وکړي او د کنترول او تفتيش او تحقيقاتو انسجام يې وکړي، د (A) څخه تر (G) لاندې فرعي برخو په شمول. | د تخصيص شوي/<br>موجود فنډونو بياکتنه<br><br>د هغو پروګرامونو، عملياتو،<br>قراردادونو بياکتنه چې<br>اختصاص شوي/<br>موجود فنډونه کاروي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(1)(A) | د داسي بوديجو د مکلفيت او لګښت د حساب کتاب نظارت | د اختصاص شويو موجود بوديجو د<br>مکلفيتونه او لګښتونو کتنه | د سيګار نظارت<br>بوديجې |
| برخه 1229(f)(1)(B) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسې بوديجو لخوا تمويل شوي وي | د بيا رغوني د هغو فعاليتونو کتنه چې<br>د اختصاصونو او مرستو لخوا تمويل<br>شوي وي | د سيګار نظارت |
| برخه 1229(f)(1)(C) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسي بوديجو لخوا تمويل شوي وي | د هغو قراردادونو کتنه چې اختصاص<br>شوي او موجودي بوديجې کاروي | يادونه 1 |
| برخه 1229(f)(1)(D) | د رياستونو، ادارو، او د متحده ايالاتو د سازمانونو، او شخصي او غيردولتي سازمانونو ترمنځ د داسي بوديجو او ورسره تړلي معلوماتو د لېږدولو نظارت او کتنه | د اختصاص شويو موجود بوديجو د<br>داخلي او خارجي لېږد کتنه | ضميمه B |

*په راتلونکې پاڼه کې دوام لري*

جدول A.1 (دوام لري)

| د عامه قانون برخه | د سیګار توانمنوونکي ژبه | د سیګار عمل | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| **د سیګار درې میاشتنی راپور اړتیاو ته متقابل ارجاع د PUB پر اساس. L. 110-181، § 1229** | | | |
| برخه 1229(E)(1)(f) | د داسي بسپنو د کارولو ثبتونو (ریکارډ) سمبالتیا د دې لپاره چې په راتلونکي کې د داسي بسپنې/[و]پلټنې او تحقیقات اسان کړي | د پلټنې تاریخچې سمبالول | د سیګار نظارت<br>ضمیمه C<br>ضمیمه D |
| برخه 1229(F)(1)(f) | د افغانستان ترون او د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ په تطبیقولو کې د افغانستان د دولت او نورو مرستندویه هیوادونو سره د متحده ایالاتو د ارتباط د اغېزمنتیا نظارت او کتنه | نظارت او بیاکتنه<br>څرنګه چې تشریح شوي | پلټنې |
| برخه 1229(G)(1)(f) | د ډېرو تادیو تحقیق لکه د دوه ځل تادیو یا دوه ځل بیل او کوم احتمالي غیراخلاقي یا غیرقانوني اعمالو د فدرالي کارمندانو، قراردادیانو یا اړوند نهادونو په واسطه، او د دا ډول راپورونو راجع کول لکه څنګه چې اړین وي، د عدلیې وزارت ته ترڅو د اضافي تحقیقاتو، تعقیب او فنډونو بیرته لاسته راوړني یا جبران څخه اطمینان لاسته راشي. | د تحقیقاتو ترسره کول او راپور کول څرنګه چې تشریح شوي دي | تحقیقات |
| برخه 1229(f)(2) | د نظارت پوري اړوند نوري دندي-<br>عمومي مفتش باید داسي سیستمونه، کړنلارې، او کنترولونه جوړ، سمبال او تر نظارت لاندې وساتي چې عمومي مفتش یې د(1) پاراګراف لاندې د وظیفو د ترسره کولو لپاره مناسب ګڼي | د سیستمونو، پروسیژرونو، او کنترولونو جوړول، سمبالول او نظارت کول | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(3) | د عمومي مفتش د 1978 کال د لایحې په اساس د عمومي مفتش دندي -<br>سربیره پر دې، . . .عمومي مفتش باید د عمومي مفتش د 1978 قانون لاندې د عمومي مفتشینو وظیفې او مسوولیتونه هم ولري | هغه وظیفې چې د عمومي مفتش په قانون کې مشخص شوي دي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(4) | د هڅو همغږی کول —<br>عمومي مفتش باید خپل کارونه د لاندې کسانو سره همغږی او د دوی همکاري ترلاسه کړي: (A) د دفاع وزارت عمومي مفتش، (B) د بهرنیو چارو وزارت عمومي مفتش، او (C) د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري عمومي مفتش | د امریکا دفاع وزارت، DoS او USAID<br>عمومي مفتشینو<br>سره همغږي | د نورو ادارو نظارت |
| فدرالي ملاتړ او نوري سرچیني | | | |
| برخه 1229(h)(5)(A) | د فدرالي ادارو څخه د مرستي غوښتنه کول—<br>که چیرته عمومي مفتش د فیدرالي حکومت د هر وزارت، اداري، یا موسسي څخه د مرستي او معلوماتو غوښتنه وکړي، نو د اړوندي اداري مشر په هغه صورت کې چې د عمومي مفتش غوښتنه د حاکمو قوانینو په خلاف نه وي، مسولیت لري چې یاده مرسته یا معلومات ورته چمتو کړي | د غوښتل شوي ملاتړ تمه | بشپړ راپور |

*په راتلونکي پاڼه کې دوام لري*

جدول A.1 (دوام لري)

| د سيګار درې مياشتني راپور اړتياو ته متقابل ارجاع د PUB پر اساس. 181-110 .L، § 1229 | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سيګار توانمنوونکې ژبه** | **د سيګار عمل** | **د راپور برخه** |
| برخه 1229(h)(5)(B) | د مسترد شوو مرستو په اړه راپور ورکول —<br>هرکله چې د عمومي مفتش په واسطه معلومات يا مرسته وغوښتل شي، د عمومي مفتش قضاوت سره سم دي، که په نامناسب ډول رد يا چمتو نه کړی شي، نو عمومي مفتش بايد پېښې د بهرنيو چارو وزير يا دفاع وزير ته راپور کړي، څنګه چې مناسب وي، او پرته د ځنډ څخه د کانګريس اړوند کميټې ته. | راپور نه دی ورکړل شوی | N/A |
| راپورونه | | | |
| برخه 1229(i)(1) | درې مياشتني راپورونه—<br>د هر مالي کال د دريو مياشتو د پای ته رسيدو څخه تر 30 ورځو پورې، عمومي مفتش بايد د کانګريس اړوندو کميټو ته يو راپور وړاندې کړي چې د دغې دورې، او تر کومه حده چې امکان لري د مخکينې ورته راپور د وخت څخه د دې رپوټ تر مودې پورې په دې مهال کې د عمومي مفتش او د هغه د فعاليتونو د هغو پروګرامونو او عملياتو لاندې چې بوديجه او پيسې د افغانستان د بيا رغونې لپاره ورکړل شوې وي لنډيز وړاندې کړي. په افغانستان کې د بيارغونې په اړه د ټولو منل شوو، لګول شوو او عايداتو په ګډون بايد د اړوندې مودې په اړه په هر راپور کې ذکر شوي وي، او بايد د لاندې ټکو درلودونکې وي- | راپور - د هر کال د درې مياشتو د پای ته رسيدو څخه 30 ورځې وروسته<br><br>د عمومي مفتش د فعاليتونو لنډيز وړاندې کوي<br><br>او د ژمنه شوې مرستو، لګښتونو او عايداتو په اړه تفصيلي معلومات ورکوي | بشپړ راپور<br>ضميمه B |
| برخه 1229(i)(1)(A) | د اختصاص شويو/مرسته کې ورکړ شويو بوديجو مکلفيتونه او لګښتونه | د اختصاص شويو/مرسته کې ورکړ شويو بوديجو مکلفيتونه او لګښتونه | ضميمه B |
| برخه 1229(i)(1)(B) | د هغو لګښتونو يو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب چې تر دې نېټې د افغانستان په بيا رغونه کې لګول شوي، د امريکا دفاع وزارت، د بهرنيو چارو وزارت، او د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې، تر کومه چې تطبيقېدونکې وي، د هرې پروژې او پروګرام د بشپړولو د لګښتونو د يو اټکل سره ملګرې. | د لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب د هرې پروژې يا پروګرام د نالګول شويو بوديجو ليست جوړول | بوديجې<br>يادونه 1 |
| برخه 1229(i)(1)(C) | هغه عايدات چې د متحده ايالاتو حکومت د کومې ادارې يا وزارت يو پروګرام ته د فنډ برابرولو په موخه د بهرنيو ملتونو يا نړيوالو موسسو لخوا چمتو شوي دي، او<br>د دغو عايداتو ژمنې يا مصارف | د مرستندويه ادارو د بوديجو عايدات، مسووليتونه، او لګښتونه | تمويل |
| برخه 1229(i)(1)(D) | د هغو بوديجو سره تړلي يا شامل عايدات چې هغو پروګرامونو او پروژو ته د بهرنيو نيول شويو يا کنګل شويو شتمنيو څخه ورکړل شوي وي د کومو بوديجې چې د متحده ايالاتو د کوم رياست يا ادارې لخوا ورکړل شوې وي، او د داسې عايداتو هر ډول مسووليتونه او يا لګښتونه | د نيول شويو يا کنګل شويو شتمنيو د بوديجو عايدات، مسووليتونه او لګښتونه | بوديجې |
| برخه 1229(i)(1)(E) | د هغو ادارو يا سازمانونو فعاليتي لګښتونه چې اختصاص شوې پيسې ترلاسه کوي او يا په بله توګه د افغانستان د بيا رغونې لپاره ورکړل شوې وي | د هغو ادارو يا کوم سازمان فعاليتي لګښتونه چې اختصاص شوې بوديجې ترلاسه کوي | بوديجې<br>ضميمه B |

*په راتلونکې پاڼه کې دوام لري*

جدول A.1 (دوام لري)

**د سيګار درې مياشتني راپور اړتياو ته متقابل ارجاع د PUB پر اساس. L. 110-181، § 1229**

